# د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس

(حقوقي - جزایي - تعاملي)

م . ابراهیم عطایي

د پښتو ټولنې د څېړنو د مرکز

۱۳۵۷

Download from: aghalibrary.com



م . ابراهیم عطایی

* * *

د۱۳۵۷ کال دثور پرتمین وگړنی انقلاب دهر اړخیزو پرمختیاوو لپاره لار پرانسته چی له هغو څخه یوه زموږ په ولسی کلتورکی د علمی څیړنو مسئله ده .

د کلتوری اړیکو په کړی کی دټولنی حقوقی برخه د نورو څیړنو شمزۍ ده

اوهر څومره چی په دغه برخه کی ترعلمی لیك لار لاندی څیړنه وشی هماغو مره سوری څیړنی هم له خیالی اوایډ یالیستی بیلاری څخه ژغور تیا مومی .

*

دپښتی انځور :
د محمد روحانی رؤیا

a02

د پښتو څېړنو او د خپرونو پر له پسې اومره «۳»

# د پښتنی قبیلو د حقوقی-جزایی- تعاملی اصطلاحاتو قاموس

تولو نه، څېړنه او لیکنه

د

م ، ابراهیم عطایی

د عبدالهادی هاند په زیار او اهتمام

خپرو نکی

د افغا نستان د علومو اکا ډ می

د پښتو څیړنو نړیوال مرکز

۱۳۵۷ (۱۹۷۸)

ao3

# یادښت

د ښځو د تېرنو نړیواله ورځې ویاړۍ چې د ملي وګړني اوښتون په بسرلي ول کې ځېله د ریمه خپرونه د کړانو هېوادوالو او ښتومینانو په مخکې ږدي. تېرولس د ښځې نادر ی رژیم په خپل نیمه پېړیز پېر کې تروسي وسی داهاند دراود چې د نورو بې ګچه ناخوالو په لړ کې افغاني ټولنه د یوې لاسکتوي (مستعمرې) غوندې له هر راز فرهنګي ودې او پرمختګ څخه لرې وساتي او په خورا بېشرمۍ له تاریخي څواك سره دغري ووهي. دغه ناړامي دوروستني کورډاګي ګوډاګي «داود» په څو کلن پېر کې بیا دې ټکټه رسېدلې وه چې چا به ګر د سره د پښتون، بلوڅ ، تاجك، ازبك، مغول، هزاره، پراچي، اورمړ ، نورستاني اوبد خشاني ... نوم هو سره اخستلای نشو. هم پرې پښتونواله پده لګېده او هم مغولواله ، نوله دې کېله به یې مطبوعاتي سانسورچیانو ترې سرې کرښې راچا پېروله او لکه د پهدل ویهو (تابوګانو) غوندې یې د دامې ټولو ملت نومېرونکو (مشخصوونکو) نومه ونو د خپرېدو مخه نیوله په دې پلمه چې دا په هېواد کې د بېلابېلو ملتونو نوشتوالي جوتوی او له دې سره زموږ ملي یووالي ته وته (صدمه) رسوي.

دغه راز نا دوده او احمقانه سانسور د افغانستان په دغه کم پنځه کاله د ډیرو ځوانو افغانی ژبپوهانو، ټولنپوهانو، وګړپوهانو او تاریخپوهانو د هر راز څیړنو او لیکنو د خپرونی مخه نیولې وه او د هغه استعداد وړونکی او علم دښمنی تش په نامه جمهوریت تالی څښتوبې پرخولو او قلمو پوستخیز پنډیز لګولی و.

په دې کار سره داودی سانسورچیانو په خپل اند ګرم هم نه و، ځکه دوی د خپل بادار غوندی په هیڅ یوه افغانی تیر او پرګنې پوری ځانونه نه تړل او پښتیا هم دوی دومره د خپلو ارتجاعی او امپریالستی لا رښوونو په پالوالی (وفاداری) کی ټینګ وو چی نه یوازې په «پښتون»، «تاجک» یا «مغول» او «اوزبک» شرمیدل، بلکی د «افغانی» له عمومی نامه یې هم کرکه راتله او له آره یې ځان یوسړبانده «ساواری افغانی» پوهګانه.

دادی زموږ ځوان وګړنی انقلابی دولت د خپلو بازو (وظیفو) په بنیادی کرښو کی د افغان اولس پرېیلابیلو تیرنی او ژبنی واقعیتونو باندی رڼا واچوله او هر راز کلتوری ځبیښناک یې له دوده لویدلی او سطرود اعلان کړ. نو پدنه یوازې د پښتون، تاجک اوزبک... نومونه نه سانسوریږی، بلکه د غه هریوه تیرته په دیوالځینی افغان ولس په دننه د خپل جلا او ځانګړی ملیت د را ژوندی کولو کابو ور کول کیږی.

په همدغه دادنه او هڅونه د دغی علمی منځی له موخو سره سم د ځه کتور فولکوریک قاموس و راندی کوو او له خپل تکړه فولکورپوست (ابراهیم عطایی) څخه چی دغه څیړنه یې د اوږدو زیارونو ببره ده، د زړه له کومی مننه څرګند وو.

ارزالی دی وی زموږ دوګړ واکی نظام ملی او فرهنګی هڅی

پوهندوی دوکتور مجاور احمد «زیار»
د پښتو څیړنو دنړ یوا لسې مننځی مشر

# سریزه

## ۱ـ دا قاموس

دپښتنو دقبیلوی حقوقی تعاملاتو دا قاموس چی دګرانو لوستونکو د استفادې دپاره وړاندی کیږی دڅو اړخیزو اړتیاو پربنایې ، دوړاندی کولو ضرورت محسوس و .

دپښتنی ټولنی دکلتور په بیلو بیلو برخو کی څېړنی ، د یوه عمده کار په حیث دڅیړونکو او پوهانو له خوا پیل شوی دی اوددې کار ارزښت له دوه پلوه ارزیابی کیږی:

لومړی زموږ دټولنی دکلتور په باب د پېژندنی ساحه پراخیږی او دبلی خوا به دې برخه کی زموږ کلتوری مواد دبشر پېژندنی دڅېړنی دپاره خورا زیات ارزښت او اهمیت لری .

دپښتنی کلتور دنورو موسسو په جمله کی دقبیلې عرفی قضایی موسسه دڅېړنی وړ مواد لری چی دهغو راټولونه دډیرو مهمو کارونو څخه شمېرل کیږی .

دپښتنی قبیلې دغه عرفی قضایی موسسه چی دقبیلې نظام اداره کوی پر یو لړ دائمی احکامو بناده چی هغه دتعامل په ساحه کی دلرغونو زمانو څخه راپاتی شوی اوقبول شوی دی .

دغه کوډونه چی دقبیلې ټولنیز مناسبات یې ترڅپل نفوذلاندی نیولی دی ، ریښې یې دقبیلوی ژوند سره جوخت تړلی دی او په هره اندازه چی زموږ دپېژندنی قدرت په دې ساحه کی پراخیږی په هغه اندازه به مو دپښتنی قبیلوی ټولنی په باب دمعرفت



a06

قدرت پیاوړی کیږي .

دپښتنو د کلتور ساحه دڅېړنې دپاره خورا ډېره پراخه ده، کېدای شي چې په هره برخه کې یې د اصطلاحاتو بېل بېل قاموسونه جوړ شي چې دا کار به په خپل فرصت کې وشي، ما په خپل نوبت د پښتنې کلتور په برخه کې یوازې دحقوقي تعاملاتو په برخه کار کړی دی او دا قاموس که څه هم د حجم د لحاظه وړوکی دی خو دا کار دژورې څېړنې او زیار له کبله زما دڅو کالو دزحمت ثمره ده .

زموږ پوهنمېړ محترم سوڅېړونکو لیکوالو دڅو کالو راپه دېخوا د دغې موادو د راټولولو کار شروع کړی دی خو دغه مواد په پاشلي ډول خپاره شوي دي چې داستفادې څخه خالي نه دي، ولی څرنګه چې د دغو موادو راټولول او په کره ډول د هغو وړاندې کول د پوهنې عملي کار مستلزم وه نو ما ته د فرصت د پښتنو په بېلوبېلو سیمو لکه کندهار، ننګرهار، پکتیا او هلمند کې دفرهنګي مامور یتو نوبه ترڅ کې میسر شو چې په مرتب ډول پر دغه برخه کار وکړم او ددغه کارېوه برخه ددغه قاموس په ډول وړاندې کړم.

## ۳- د قاموس په تدوین کې زما د کار طریقه

---

هغه اصطلاحات چې په دې قاموس کې د الف وباپه ردیف سره راوړل شوي دي د پښتنې قبیلوي روابطو په حقوقي ساحه کې مروج دي او په عامه اصطلاح دجرګې دسیستم سره اړه لري .

ددغه قاموس د ټولو تعاملي اصطلاحاتو په راټولونه کې ما تر خپله توانه پورې تر یو خاص ترتیب لاندې زیار ایستلی دی .



a07

هغه کلمات چې مې د نورو لیکوالو په تحقیقي مقالو کې لیدلي او را اخیستي
مې دي نو یو ځل مې بیا په سیمه کې د باصلاحیتو سپین ږیرو ( ۱ ) سره تر مشورې
لاندې ایښې ، کله چې پوره ډاډه کړه شوې ده نو بیا مې قاموس ته داخل کړې دي.

یو شمېر نور اصطلاحات چې مې په قبیلوي نرخ له یو څو کسانو څخه اورېدلي
دي نو د یوه سړي په خوله مې قناعت نه دی کړی، بلکه د بېلو بېلو کسانو سره مې
هغه تر مباحثې لاندې نیولي دي او چې ښه ډاډه کړه شوي دي نو بیا مې
په لست کې نیولي دي .

بنا پر زما دا کار په هغسې چې د دې ډول تحقیقي کار طریقه ده انجام شوی
نه وی ، د دې علت د وخت او وسایلو محدودیت ، خو بیا هم دا خبره د یادولو وړ
بولم چې په پښتني ټولنه کې د مدني انکشاف چټکې د قبیلوي موسسا تو د چټکې
محوې زمینه برابروي، نو د وخت او وسایلو د انتظار د افرصت له منځه وړي چې موږ د
قبیلې په حقوقي موسسه کې هغه مواد چې نن په لاس راوړو سبا یې هم پیدا کړو .

دا زما تر پاملرنې لاندې خبره ده چې حتی په دریو څلورو کالو کې په هغو
سیمو کې چې د غه قبیلوي روابط د خپلو حقوقي موسساتو سره موجود وه د سړک او دولتي
اداري په ورتلو یې ډېر څرګند بدلون موندلی دی .

په پښتني ټولنه کې نوره نو قبیله د مټلاشي کېدو په حال کې ده او په دې
ترڅ کې تر ټولو لومړۍ د قبیلې قضایي موسسه (د جرګې سیستم) خپل قبیلوي رنګ
بدلوي او ګوره ونه یې له رواج څخه لوېږي .

---

(۱) د با صلاحیته سپین ږیري څخه مې مرا د هغه کسان دي چې په ولسي
نرخ پوهیږي او په جرګه کې د غړو بصلاحیت لري .



aco 8

په دې کې شک نشته چې اوس هم د دغه سیستم ډیر ارکان له منځه تللي دي او باقي

پاته به یې هم په نږدې راتلونکې وخت کې د تاریخ جزو ګرځي .

نو که په هره سویه دا کار ما کړی وي او باید ووایم چې ډېر څوک اوس کوي د کتنې

څخه به خالي نه وي ، فقط کوچنۍ فرصت څخه باید ګټه استفاده وشي .

زما ډېره نوې ارزو داده چې دا کار یو مقدمه وګڼل شي او دا مکانات به چو کاټ

کې د نورو څوانو څېړونکو پوهانو له خوا پسې تعقیب شي .

## ۳ ـ د پښتنو د قبیلوي کلتور ساحه

د حقوقي تعاملاتو په دې وړو کې قاموس کې چې کوم اصطلاحات راوړل شوي

دي هغه د ټولو پښتني سیمو په قبیلو کې تر هغه ځایه تسلط لري چې هلته د قبیلې

موسسه په خپل شکل او ماهیت موجوده وي .

د پښتنو د قبیلوي کلتور ساحه د مدني روابطو د پراختیا تر اغېزو لاندې ورځ تر بلې

محدوده کېږي ، او دغه محدودیت تر هغه وړاندې په قبیلوي روابطو کې د قبیلې د جرګې

په سیستم کې وینو .

په لوېدیځو سیمو کې چې د دولت اداري مؤسسات د نسبتاً پخوا څخه فعال

شوي دي نو د قبیلوي نظام عرفي قضایي موسسه کمزورې شوې او کودونه یې له

رواجه لوېدلي او اصطلاحات یې هم له حافظې څخه وتلي دي .

په حقیقت کې هم مساله دغه ډول ده ، خو بیا هم نسبت لوېدیځې خواته

د قبیلې موسسه کاملاً له منځه نه ده تللې او د حقوقي تعاملاتو برخه یې پوخه لري .

ولې هر څه چې د پښتني سیمو منځنۍ برخه ده دلته تر دغو د واړو برخو د قبیلې موسسه

په خپل کمیت او کیفیت باقي پاته ده . ځکه دلته د یوې خواطبیعي شرایط د دغې

مناسباتو په بقا کې اغېزه ناک واقع شوي دي او د بلې خوا څخه د پښتنې قبیلو ډېر اولني او سیدنځا یونه دلته وه، نو ځکه ډېر لوی کلتوري میراثونه په کښې خوندي شوي دي .

د پښتنې قبیلو د کلتور ساحه د بېلو بېلو عواملو په اثر د سترو تولنیزو بدلونونو په معرض کې واقع ده ، د غه جریانات حکم کوي چې په هر څومره چټکۍ ممکن وي باید د پښتنو د قبیلوي کلتور هغه مواد چې له زوال سره مخامخ دي راټول کړل شي څو د هېرې له چپاو څخه خوندي شي .

## ۴ ـ د پښتنې قبیلو د حقوقي تعاملاتو یوه لویه ساتندویه سیمه

د اسیمه چې د سلیمان د غره لړۍ په لمن کې را کښېباسي، د قبیلوي کلتور د څېړنې دپاره یوه په زړه پورې منبع ګڼل شوې ده .

په دغه سیمه کې قبیلوي موسسات نسبت ختیځې او لوېدیځې خوا ته پوره ژوندي پاتې دي . د قبیلوي نظام عرفي قضايي موسسه د خپلو کوډ ونو سره چې دلته څېړونو په ډېرو مواردو کې د لرغونې آریانا د تولنیز تاریخ یوه داسې مهمه مرحله پیدا کولای شو چې مشابهات یې د پښتنو په حاضره قبیله کې خورا زیات دي ، لکه د پښتنو د ژبې د پره لرغونې لهجه ونیځی (۱) چې په دغو لړیو کې کشف شوه نو د عرف او عاداتو په برخه کې هم اولني دودونه په همدغه سیمه کې پرخپل اولني حال پاته دي

د د غود ودونو څخه هغه چې د ډېري علمي څېړنې د پاره لوی ارزښت ځای لري هغه د د غو د ودونو څخه د حقوقي تعاملاتو برخه ده .

---

(۱) ونیځی لهجه چې ترینو یې هم بولی د پښتو ژبې د غربي لهجې یوه ښځوا نۍ ځانګه ده چې د کوټې خوا ته ویله کېږي . د ونیځی سیمه د زیارت او لورلاي ترمنځ پرته ده .



٩١٥

په دغه سیمه کې چې د پښتني قبیلې نظام پایښت سوند لي اوټن موږته د قبیلوي تعاملاتو حقوقي اصطلاحات په خپل رنګ کې وړاندې کوي د پروني نړۍ د کلتور د پېژندنې لارې یې لیدلې دي.

(رګ وېد) او (اوېستا) د دغې سیمې حدود په ډېره صفا یې را ښيي. یوناني مورخین د هغه یادونه کوي، چېنايي ګرزېدونکي غېرونکي هوه (هیوان تسنګ) دا سیمه لیدلې او عربي مورخینو وجغرافیا نګارانو د هغې یادونه کړې ده.

د پښتني قبیلو د مهاجرت د مبدأ په حیث یاده شوې او د پښتنو د قبیلوي اسنامې د فولکلور زیاته برخه اړه پورې لري.

په دغه سیمه کې د پېګانه کلتور پر ضد د قبیلوي روایاتو په ساحه کې په ملي صبغه جنبشونه راپورته شوي دي، چې مشهور یې روښاني جنبش وچې د قبیلوي تعامل د یو ستر حقوقي اصل (ورش) پر دفاع او د پېګانه تسلط پر ضد یې مذهبي او نظامي مبارزه او یا کاله جارې وساتله.

هغه اصطلاحات چې په تعاملي ساحه کې له ډېر پخوا څخه دلته موجود دي د دې حقوقي قاموس زیاته برخه تشکیلوي، زه د پورتنیو ټکو پر بنا د یو سحک په حیث ورته قایل شوی یم.

## ۵- د قبیلوي تعاملاتو پر حقوقي موسسه لنډه څېړنه

قبیلوي ټولنه یوه ورله ټوله او مرسوزه ټولنه ده، چې د طبیعي شرایطو محدودیت پوښنه قشرېږ جوړ کړې وي چې هغه تمدنوي تیوریو نفوذ د دوامداره مشکل سره مخامخ شوی وي.

قبیلوي فردګان د قبیلې نه شلېدونکي جزونه او د تفکر طرز یې پردې خبره ټینګ

ولاړوی چې هر کله د دې رابطه د قبیلې سره قطع شي، نو د ژوند سره بې هم اړه یکې شلیږي.

دا قبیلوی فرد او قبیلوی ټولنه د خپلو مناسباتو په جوړښت کې په یو لړ تعاملاتو سره تړلی شوی وی، چې هغه د قبیلوی نظام اداره تشکیلوی. د غه اداره نو د قبیلوی قانون (نرخ) پر مدار خپل حرکت جاری ساتی.

قبیله په بشری ټولنیز تاریخ کې خورا لیری او په سور واکې نظام کې لا زیږیدلې وې خو وخت په وخت یې د مادی شرایطو د بدلون په غیږ کې بیل بیل پړاونه راو هلی دی.

قبیله د پخوانی اولنی روابطو پالونکې موسسه ده، چې د هدویت د دورو میراث یې بایدو بولو او په هره اندازه چې مدنیت خپه پرراوهی په هغه اندازه یې فرعی موسسات لوړی پیکه کیږی او بیا له منځه ځی.

د قبیلې دورانهدلو کار لوړی د هغې په اداری سیستم کې شروع کیږی او څرنګه چې د قبیلې په څنګ کې مدنی موسسی منځ ته راځی نو د غه قبیلوی موسسی هغه ته خپل ځای ورپریږدی.

په دغو ټولنیز وموسسو کې یوه او ډیره مهمه د قبیلې حقوقی موسسه ده، چې په دغه لوی بدلون کې لوړی خپل نفوذ بایلی او بیا یې مقررات د افرادو د ذهن څخه وزی.

قبیلوی جرګې موجود ی وی، خو فیصلې د دولتی قضا په مهر اعتبار موسی چې د غه جریان ورو ورو د قبیلې د قانون حدود مغشوش کړی او بیا یې له صلاحیته وغورځوی.

څرنګه چې هېښتنی قبیله د تمدن له دغسی فشار او تصادم سره مخا مخ ده نو ورو ورو یې د قبیلوی تعاملاتو حقوقی ساحه محدوده کیږی او ئن تردیره ځا یه په دغه موسسه کې رخنې جوړی شوی دی.

د پښتنی اقوامو او قبیلو په لویدیځو سیمو کې د جرګې او مرکې سیستم په ډیر و



a 12

ساده او محدودو مسایلو کې پاتې کیږي او دا کېږو هغو اصطلاحاتو سره چې د منځنیو سیمو (وزیرستان ، پکتیا او کاکړستان) خلک ورسره اشنا دي دوی ورسره نااشنا شوي دي .

په ختیځه پښتونخوا کې هم مدني مرکزونو ته نژدې پرتې قبیلې نسبت هغو قبیلو ته چې طبعي شرایط یې دقبیلوي ژوند په ټینګښت کې اغیزه ناک واقع شوي دي دقبیلوي نرخ (قانون) نفوذ یې ډیر کم شویدی .

کوم حقوقي تعاملي اصطلاحات چې د پښتني قبیلې په ساحه کې مسلط رواج لري او په دې قاموس کې را یوځای شوي دي موږته د پښتني قبیلوي نظام دحقوقي جوړښت په باب معلومات راکوي او کولای شو چې ددغو تعاملاتو په څېړنه د پښتنو دلومړني او اولني ټولنې دمناسباتو د پېژندنې په مورد کې دغه ارزښتمن مواد دلویو علمي څېړنو دمبادیو په حیث تراستفادې لاندې ونیسو .

## ٦ـ د قاموس د اصطلاحاتو د پېژندنې کیلي

---

ددې له پاره چې دقاموس دلوستونکو ذهن دقاموس دمندرجو اصطلاحاتو دښه درك سره اشنا شي نودلته به هغه مهم اصطلاحات چې دقبیلوي عرفي قانون دهلې بندي حکم لري دځینې منځنی ارتباط له مخې په اوډلې ډول کښېږدو او خوبوې خبرې ته باید زیاته پاملرنه وساتل شي، هغه داچې کله دبوې اصطلاح سره دمدني قوانینو مروج قضایي اصطلاحات راوړل کېږي نو دامعنی باید وانه خیستل شي چې دقبیلې په سنتي ټولنه کې داشخاصو او وظایفو موقفونه دمدني اوصنعتي ټولنې په شان درسمیت په چوکاټ کې ځای شوي دی .

مثلاً کله چې د(نرخي) داصطلاح په مقابل کې د(قانوني مفتي) کلمه راوړو نو داحرف دمثال په ساحه کې دیوه مشابه موقف په ډول یادشوي د ی.

یوبل مثال راوړو:



٨١٧

د(سپین ږیری) اصطلاح راوړواو په مقابل کې یې لیکوچې د مرکې (عرفي، قضايي، محکمې) غړیتو دلته ذ هن باید له دووخطاو څخه راوګرزول شی!

لومړی دا چې هر سپین ږیری د مرکې غړی نه دی، بلکه په بالقوه ډول د مرکې د غړیتوب صلاحیت لري. داچې په بالفعل ډول یو سپین ږیری د مرکې غړی کیږي دا په قبیله کې دده د مادي شرایطو د قدرت تابع خبره ده.

دوهم د قبیلې د عرفي قانون د اصطلاحاتو مفا هیم باید په ټوله د قبیلې د سنتي ټولنې په چوکاټ کې وفهمول شي، نه داچې هو به هو یې د مد نی او صنعتي ټولنې د مدونو قوانینو سره په مقایسه کښیږدو او د یوه خاص نظم په ارزښت ورته قایل شو. که دا سې کاروشي نو ددې سره به دا حکم هم ملګری وي چې سوږ ګوا کې قبیلوي ټولنه تائید ؤ او قوانین یې د ټولنې د مترقي ارزښتونو د رلوونکي بولو. په دا سې حال کې چې دا هیڅکله منطقي خبره نه ده، څو مره چې د سنتي او صنعتي ټولنې تر منځ په عیني او ذهني شرایطو کې توپیر موجود دی، په هغه توپیر دې، قضايي او قانوني موسسه کې هم شته.

قبیله یوه بسیطه سنتي ټولنه ده او تعاملات یې هم د هغو مرساده او بسیط دی، خو په عین بسیط والي کې یې مفاهیم یو څه مرموز هم دي. دا مطلب د هغه (سپین ږیری) د اصطلاحي کلمې په یوه بل مثال کې یو څه واضح کوو. پورته مو وویل چې سپین ږیری بالقوه د مرکې د غړیتوب صلاحیت لري. اوس نو د غسې یو مشابه کرکتر موږ د مدني قانون په قضايي ساحه کې باید د قضا د وظیفې له پاره یو کاندید فرض کړو او که دا کار وکړو نو غلطي به مو کړې وي، ځکه شکلاً که دا فرضیه درسته وي خو په ماهیت کې ډېر توپیر لري.

سپین ږیری په قبیله کې دټولو قبیلوی منتونودساتنې وظیفه په بالقوه ډول پرغاړه لری او دا کارد ده دموقف دنفوذ په ساحه کې کیږی، په داسی حال کې چې دمدنی ټولنی دقضایی کدر کاانديد په یوه محدوده ساحه اود خپل مسلك په چوکاټ کې دبالقوه نفوذ اغیزه درلود لی شی .

اوس نوموړ دقبیلوی ټولنی دسپین ږیری معادل چې پرصنعتی اومدنی ټولنه نفوذ ساتی باید پیدا کړودا نو هغه ( gate keeper )دی چې با لفعل دخپل کاردپاره مشخصه وظیفه نه لری خو نفوذ یې په سنتی ټولنه کې داسی دی لکه دسپین ږیرونفوذ په ( ګیټ کیپر ) کې .

(ګیټ کیپر) یعنی دروازه وان یونوم دی چې د یوه تیپ له پاره سوسیالوجستانو تاکلی دی اود موقف په برخه کې نو دا خبره غټ ځای لری ، چې یو ګیټ کیپر درروازه وان په یوه تاکلی صنعتی ټولنه کې دخپل موقف دجبر په حکم د خپلی ټوانی د ټولو کمی او کیفی جریانو نو ساتندوی دی .

دپورتنی څیړنی څخه نوموړ په مقایسوی ډول دا نتیجه راباسو چې دسنتی قبیلوی ټولنی سپین ږیری دمدنی او صنعتی ټولنی ددوو عنصروسره مشابه موقف لری، په یوه ساحه کې دی دمدنی ټولنی دقضایی کدرد کاند یوحیثیت لری او په بله ساحه کې دصنعتی ټولنی د(ګیټ کیپر) سره مشا به موقف لری .

مطلب داچې دقبیلوی ټولنی ټول حقوقی تعاملات ، کرکترونه او موقفونه دمفاهیمو په لحاظ داسی ژور واقع دی چې فهم یې هغه وخت پوره میسر کیږی چې هغه په خپله دسنتی ټولنی په چوکاټ کې وکتل شی نه د مدنی ټولنی سره .

د هو په هــو مــقــا یســی او پــــر تلـــه کــو لـــو د لا ر ی

دادی دلته هغه یو شمېر اصطلاحات چې دقبیلوی‌ټولنې دعرفی نظام قضائیه موسسه پرجوړه شوی‌ده ، په‌لنډه توګه ورواو په‌مقابل کې یې دمدنی حقوقو اصطلاحات ایږدو :

پښتو : دقبیلوی‌ټولو قضایاو د حل لار .

نرخ : قبیلوی قانون (دوه مهم نرخونه درز ملک نرخ اود احمدزونرخ چې په یوه پراخه ساحه کی رواج لری) .

پوروړی : مجرم .

تاوان : د پور جبیره .

ناغه او شرم : دتاوان دتاد یې دوې لارې .

ننواتې : عذر او دناغې د تا دیې د پاره ځان سپارل .

مرکه : قبیلوی‌قضایی محکمه .

سپین : برائت‌ذمه‌( د هر قبیلوی‌سړی طبعی موقف ) .

تور : متهم .

پرېکړه : فیصله .

نرخی ،جرګه‌مار ، تولګر : دقبیلوی قانون (نرخ ) قضایی مفتی .

سپین‌ږیری : دعرفی قضایی محکمې (مرکې ) غړی .

پر : سلامت .

مخ روڼی : برائت .

سرپری کول : قسم (اوسره‌پرېکول،دری‌نیم‌سره‌پریکول،دوه‌دوله‌قسمونه‌دی).

سپین سرو نه : شاهدان .



u16

سازورکول : د قتل په مساله کې د مقتول ورثې ته دیت .

سپلګه : هغه تضمین چې مرکه یې د دعوی د دواړو خواو څخه اخلي، تر څو د مرکې فیصلې ته تن ورکړي.

نه کونه : د ټولو غلاو د جزا ثابت معیار ، هر شی چې غلا شي نو د غله څخه دچنده تاوان اخیستل کیږي .

ورټه : قصاص په مساوي طریقه .

تخم (دت په فتحه) : هریوه مرکه قناعت نه کول او بله مرکه غوښتل . (دوه وار تخم کیدای شي لکه مرافعه غوښتل او تمیز غوښتل )

اربکی : قبیلوي پولیس چې د مرکې د فیصلو د تطبیق څارنه کوي.

جوره : په نرخ د دعوې د طرفینو موافقه .

رنګه : پرمتنازع فیها مساله د مرکه والو ترمنځ د اختلاف نظر په وجه د فیصلې نه صادریدل.

مسخ توري : هغه مجرم چې نه یې نشواتی قبلیږي او نه یې مرکه دا پریدای شي ( دا مجرم زاني — په ښځه تورشوي سړی دی )

تیږه : متارکه.

داوه هغه عمده اصطلاحات چې هریو یې په خپل چوکاټ کې یو شمېر نور اصطلاحات احتوا کوي او دلته د قبیلوي قضایي سیسټم دهغه نبدي په شکل وړاندې شول . د دې کار څخه اساسي هدف دادی چې پورتني چوکاټ د قاموس د اصطلاحاتو سره دپښتونې پهلارکی د یوې کیلي کار ورکړي.

ابراهیم (عطایي )

# الف

## آر

هغه څوك چې كومې پېغلې ته سر كه‌و كړي او د پېغلې پلار ور كه‌و نه منې او څو واره تكرار شي، خو ونه منل شي، نو دا مثال هلك د نجلۍ د كور ترمخ تېك وكړي او د انجلۍ نو بيا بل چاته نه وركول كيږي پرده يې كاږه يږي بدي هم جوړيږي، دې ته آروا يي(۱) آرد عزت په معنا هم راځي. داچې وايي (دآره مې څه‌نه ورته ويل) معنا چې د خپل عزت په خاطر مې هم څه‌نه ورته ويل. آرد كرني په معنا هم راغلي دي او د (آرين) په كلمه كې دآر مفهوم پروت دي.

---

(۱) ولس مجله، د كوټې خپرونه ۱۹۶۳ كال

## اتام

اتام دوډی ده، اتام مقدس دی، په اتام قسم هم کیږي . وایی (اول اتام بیا کلام) قبیلوي سړي چی دچا ډوډی وخوري پرذمه ددوستی یوه وجیبه اخلی . داچی وایي اتام ترکلام دمخه دي مفهوم یی دادی چی پراتام یو ځای کېدل یودبل په مقابل کی په اخلاقی وجیبو مکلفیت پیدا کیږي ، اوصمیمیت منځ ته راځی . یوقبیلوي سړی په دې اخلاقی اصل پوره پابندي لري چی داتام پاس وساتی ، او هغه څوك چی دغسی پاس نه ساتی، هغه په قبیله کی عزت هم نه لري .

## اتڼ

اتڼ ګډه نڅاده، خو په قومی جګړه کی ځوانان داتڼ په ډول وجګړې ته ځی . کله چی چغه وشی، هرڅوك مکلف دی چی داتڼ کړی ته داخل شی اوقومی جګړې ته ولاړ شی .

اتڼ په هغه خاص مفهوم چی په پښتنو کي رواج لري په نوروواسونو کی بی مثال نه لیدل کیږي . په نورو ځای کی یواځی دخوښی اوسرور په مجلسونو کی اتڼ کېږي چی په اوپدیخ کی (دانس) ورته وایی، خو په پښتنو کی سربیره پردغه مفهوم دجګړې په وخت کی هم اتڼ کیږي . په ختیځو قبیلو کی (نڅا) اوپه منځنو قبیلو کی (ګډا) هم ویل

کیږي. دزیارت دسیمی کاکړان یې لوبه Lwaba — اودهرنایی سپین
ترینان یې لبه Laba هم بولی. *

خوداهغه اتڼ یا رقص دی چې یوازې دخوښۍ په وخت کې کیږي . په
لویدیځو پښتنی قبیلو کې اتڼ درزم اوبزم په دواړو حالو کې رواج
لري . — په کاکړو — شیرانو اودسلیمان دغره په نورو کې د(ګډه امی)
په نامه هم یو اتڼ شته چې نارینه او ښځې په ګډه برخه په کښې
اخلی . اتڼ دهوې ملی عنعنوي لوبې په حیث رواج لری .

## احمد زی پور

احمدزي یوه قبیله ده چې دسلیمانخېل دخېل بلل کیږي. دد ې قبیلې
سرکه ډېره درنه بلل کیږي اوفیصله یې نه ماتېدونکې ده .

ددغې قبیلې پورهم دغومره سخت دی. په پښتنې قبیلو کې داپه حقوقي
ساحه کې یومجدي قبیله ده او دسرکې دروندوالی یې دقضاوت پوخوالی
ښیي اوکه بدي ورسره وشی ، نودخپل پور پرېښوونکې هم نه ده . په
عامه اصلاح کې وایی چې داحمدزی پورنردی، معنا داچې احمدزي
کوم وخت پرچا پور ولري نودنرخ دتولو مقرراتو سره دهغه پرېښوونکي
نه دي، خو په پوراخیستلو کې یو ګام هم چپ نه ایږدي او پور په

* وګوری : دسیال کاکړ فولکلوری سوغات ۱۳ مخ .

حساب اخلي .

## اربکی

قومي سپاهي ته اربکي وايي * ،(په پکتيا کي) اربکي هغه موظف سړی دی چې دجرګې فيصلې دتطبيق په صحنه کې څاري او که څوك دقومي فيصلې څخه سرو غړي اربکي مجا زات ورکوي . دغه مجازات تود مجرم د کورسو تحل دي . اربکي دسير دامر تابع دي ، اربکي په قبيله کې خاص مصؤنيت لري او څوك نه شي کولای چې هغه ته زيان ورسوي او که کوم څوك دغه کار وکړي هغه ته سخته سزا ور کول کيږي .

اربکي په جنوبي قبيلو کې تر داوروستيو نژدې وختونو پورې په قومي چارو کې وظيفه دارو .

اربکي ديولرغوني قبيلوي عرف دبقاياوڅخه دي، په اربابي قبيله کې د غسې قبيلوي سپا يې د جګړې پــه و خت کــې پــه قبيلـوی جګړو کې دټولګيو مشر اوپه عادی حـال کې به يې امنساتی .

## ارتينـه

ارتينه (ماندينه) ده. په حقوقي لحاظ ارتينه تر ميړه کښته موقف لري.

---

* محلي قبيلې يې رابکي Rbakay بولي .

دا کلمه دتابعاو کمزوره‌دپاره‌هم استعمالیږی ـ مثلاً وایی: (پلانکی مې ارتینه هم نه‌ده) . په‌لغوي لحاظ دښځې معنی هم لري . دارتینې کلمه په ټولو پښتنو کی دماندینې په مفهوم اختصاص کیږي، خو په لویدیځو قبیلو کی زیاتره دا کلمه دتوهین په مورد کی استعمالیږي په ختیځو قبیلو کی دار تینې کلمه په عام ډول دماندینې د کلمې په عوض استعمالیږي او ماندینه زیاتره دتوهین په‌مورد کی استعمالیږی .

## اسیل – (اصیل)

په قبیلوي اشرافیت کی اسیل دعربی د(اصیل) مفهوم ورکوي ، هغه سړی یا قبیله چی اسیل وبلل شی نو، پر نورو تفوق لري .

په متل کی وایی :

«اسیل خطانه لري ـ کم اسل (اصل) وفانه لري»

د دې‌متل مفهوم‌د دغی کلمې مفهوم‌ډیر ښه‌څرګندوي . هغه‌خلك‌یا قبیله چی ځانونه اسیل بولی نودوی نوردځان کفونه بولی او په دود اودستورکی ځان ترې بیلوي . په قبیلوي جګړوکی غالبه قبیله‌چی‌پر نوروقبیلو نفوذ حاصل کړي ، ځانونه اسیل بولی . دا اصیل‌والی‌البته په میراثی شکل‌وروستیو نسلونو ته پا تیږي ، خو کله‌چی‌ځواني قدرت بې پای ته ورسیږی نوبیادوی ته داسیلو په سترګه نه کتل کیږی،

خو دوی خپل ځانونه اسیل بولی . د غه قبیلوي خوی او احساس تر ختیځو او جنوبی قبیلو په لویدیځو قبیلو کی ډېر لیدل کیږی .

## اشر

په قبیله کی عمومی کارونه په ګډه کولو ته اشر وایی .ځینی خلك دا کلمه دعربی دحشر څخه راوتلې بولی،ولی دا کلمه پوره آریایی کلمه ده . په اشر کی د کلی ټول ځوانان نارینه ګډون کوي او په ځینوسیمو کی چی سړی اشرته نه ځی ،نوخپل یو د کار بابار حیوان ورلیږی . په اشر کی برخه نه اخیستل ځانته ناغه لري او دغسی سړی تر منت او ملامتی لاندي هم وي . عمومی کارونه لکه دویالې جوړول،د کاریزونو پاکول ، او داوبو ناروتو جوړول او داسی نور کارونه په اشر کیږي . اشر دلرغونو قبیلو یو اقتصادي ګډ فعالیت و . په هغه وخت کی چی دقبیلې ټول فعالیت ګډو نو ځکې به هم په اشر کرل کېدې اودغه ګډ کارتولیدبه هم ګډ ویشل کېدی. په ځینو قبیلو کی چی دنفوذساحې تشکیل شوی وی ،هلته دقبیلې دمشر کارونه په اشر کیږي او هغه یوازې د کار پر وخت ډوډی باید اشر بانو ته ور کړي .

## اشر بانی

هغه سړي چی داشر اداره تا کل کیږي،اشربانی بلل کیږي . په عامو

خلمتونو کې برخه اخیستونکي ته اشربانی ویل کیږي . کوم حیوان چې دسړی په عوض اشرته لیږل کیږي، هغه اشربانی بولی. هغه اشرچې د ټول کلي د کلي ګټې دپاره کیږي نو اشربانی خپله ونډه د کوره و رسره وړي . خو که اشر دقبیلې دمشر یاخان دپاره کېدی نو هغه په اشربانو ته ونډه ور کوي . اشربانی بایدد کاروسایل لکه یوم، کلنګ اوداسی نور شیان د کوره ورسره یوسی . خو کله چې دا اشردخان اومشرد پاره وي ، نو په وسایلو کې هغه مرسته ورسره کوي .

## اکا

اکاته کاکا هم وایی، اکادپلار وروره ته ویل کیږي، خو په عامه اصطلاح هرمشر سړی چې دپلارپه عمروي، اکابلل کیږي .

اکابالعموم وصی کیږي ،نو ځکه په میراث کې دډیري مداخلې وا ك لري . ځرنګه چې په دغسی حق کې ډیره بې انصافی کوي نو ورا ره ته اکا دښمن بلل کیږي. ختیځی اوجنو بی قبیلې اکاته تره وایی اوتره همدغه د اکامفهوم افاده کوي . کله چې یوسړی مړی اوځوا ن زوی ونه لري، دده دمال اصلی وارث اوداولادو وصی اکاد ی، اکادقبیلوي عرف سره سم لومړی دو رور کونده کوي او که دا کا ر ونه کړي نودا هم په قبیله کې یوعیب دی اوقبیلوي عزت ته زیان رسوي .

## انعام خواره

دشیخ ملي دمځکو بش چې په ما منده کې وشو او دي و بش د پاره د مغلو په وخت کې بیا د انگلیسانو د تسلط په وخت کې دما تېدو کوښښ وشو، خو سامنده و دغه عنعنه پرې نه ښووله او مځکې به په تا کلو وختونو کې سره ویشل کېدلې ، ولې یوشمېر خلکو ته چې د حکومت له خوا په دایمي ډول دلته مځکې ورکول شوي هغه انعام خواره وبلل شوه . (۱) دا هغه جاګیرونه وه چې د عمومي ویش د سیستم د ورانېدلو له پاره د یوه لوی غرض له مخې حکومت خپلو طرفدارانو ته ورکول ، خو په عکس العمل کې قبیلو داخلك په کرکه کتل او دانعام خورونوم په خپله د ا ښیې چې دوی د یوه نا مشروع خدمت په مقابل کې دا انعام اخستې و .

## اوپره

دنورو قبیلو هغه خلك چې د کومې قبیلې سره اوسي او د غې قبیلې په کلي کې مځکې ونه لري، اوپره بلل کیږي . اوپره ته د کم اصل په سترگه نه کتل کیږي، یعنې قبیلوي هویت یې معلوم وي، خو د یوې نوې قبیلې په انګړ کې اوسي او د مځکې خاوندان نه وي .

غالباً چې دا کلمه په قبیلوي روابطو کې هغه مهال منځ ته راغلې ده چې کوچیتوب په زراعت بدل شوي دي، ځکه په کوچي قبیلو کې د اوپره

(۱) کابل مجله د ۱۳۴۹ کال ۱۱ – ۱۲ گڼه ۴۵ مخ.

کلمه نه اوړ بدل کېږي .

اوېړه خلك اکثره د نورو بزګري او مزدوري کوي . د دوی څخه چې د قوم پوښتنه کېږي مخ کی له دې چې خپله اصله قبیله وښيي، وا يي چې: اوېړه يو . د اوېړه کلمه نو د متکلم مطلب د مخاطب وذهن ته ژر ور ولی چې و هغه قبیلو ي اقلیت ته منسوب دي، چې مځکه نه لري .

## اوجره

څوك چې كلا لري، هغه به اوجره هم لري . اوجره د میلمه او مجلس له پاره خاص ځاي دي . په اوجره کی د کار او روزګار د پاره تصمیمونه هم نیول کېږي . د خانانو په اوجرو کی د ټنګک ټکو ر مجلسونه هم جوړېږي. اوجره د هر ډول تیري څخه مصئونه ده ، که یو ډیر غټ مجرم او قاتل هم د چا اوجر ی ته راشي مدعیان بې په اوجره کی کارنه شي په د راوولای . که د اوجر ی د خاوند د ز وی او ورور قاتل هم اوجري ته ورننوزي، نو مصئون دي . او تر هغه وخته پوري چې دلته وي څوك څه نه ورته وا یی . په او جره کی د کښېنستلو په ادا بو کی دا شا مله خبره ده چې مشر د مشر پر ځاي کښېني او کشر د کشر پر ځاي . خود اوجري خاوند اوږ ته کښېني او ځاي بې د اوجري په پاي کی معلوم وي .

## اور

اور مقدس دی او په اورلوره (سوګند) کېږي. دا اوروژلو اصطلاح د قلبي د تباه کېدلو مفهوم ور کوي.

په لرغونو قبیلو کې چې په چپاوي یرغل نه کېدل، نو د پرلوی زیان دا وچې او ربه بې ورسره کړ. دا وروژ لو پېښه ډېره درنه وه، ځکه په قبیلوي عرف کې یو چا نه دا ور رکول هم پر بدشګون نیول کېږي نو کله چې به بې او روو ژل شونود آورا ګې سره به مخامخ شول. د تاتو بی په معنی سره د «اوربل» کلمې رواج هم له دغه مفهوم سره بې اړیکې نه دی.

په پښتنی قبیله کې اورته په درنه سترګه ګوري، پر هغه ځای چې اوربل شوی وي، هلته سپینا زي کول لویه ګناه ګڼي. اور د خبر تیاله پاره هم د یوې وسیلې په حیث استعما لیږي، مثلاً د کلی پر سر بډیو ه لوړ ځای همېشه لرګي ایښ دي او یوسړي هم شا و خوا لا ري څا ري، که خطر پېښېږي نو هغه دغه لر ګیو ته اور وراچوي او په دې ډول د قبیلې او کلی خلك خبر یږي.

## اوه سره پر پکول

دسړي (قتل) او محکمی په دعوه کې متکرته اوه قسمه ورکول کېږي. دا او د قسمه به هغه کسان اخلی چې دمنکر سره یې د ورمېړوینه شریکه وي، دې ته اوه سره پرېکول وایی. کله چې یو سړي د بل په محکمه

دعوه، کړي د هغه مساله مرکې ته لوېږي او مرکه د منکر څخه داوه سره پر پکو لولوړه غواړي . په اوه سره کې تره او تر بروته شامل دي، اوکیدای شي‌چي د پلر پنی تور هغه غړی چي‌دوینې‌په‌رابطه خپلوي ورسره ولري په شاهدي کی تېر کړي . په‌دغسی‌اوړه کی‌پخوته‌دای نه ور کول کېږي .

## ایسار

یوسړی‌په‌محاصره کی نیولوته‌ایساروابی، کله‌چی یوسړی خپل‌مدعی په لار کی راو ګرزوي‌دې ته ایسارول‌وایی خو که‌بې‌موجبه کوم‌څوک دا کاروکړي هغه‌ته په قبیلوي‌حقوقی تعامالاتو کی‌ناغه متوجه کېږي،

## اپل

اپل درام ،تا بع او منقا دمفهوم ور کوی اودیا غی ضد کلمه‌د ه،چی غا لباً تر کی ریښه لري . کله‌چی دوې قبیلې په جګړه سره اخته شي نو قوی‌قبیله چی کمز وری قبیله ما ته کړی‌او ماته شوې قبیله‌د زورورې قبیلې شرایط ورسره ومنی نواپل‌شوي بې بولی.داپل کلمه په محد وده ساحه کی هم‌ا ستعما لیږي کله چی په قبیله کی یو سړی د قبیلی دمنا فعو پرضد حرکتوله کوی نو وایی چی‌دابایه اپل شی ،یعنی مخه پی را وګرزول شی.په‌متل کی وایی چی(په وطن کی اپل او سه،په غره کی یاغی )

## ایلچی

ایلچی هغه قومي نماینده دی چې د دوو قبیلو ترمنځ د یوې کلي قبیلې له خوا د مفاهمې د پاره موظف کیږي.

ایلچي مصونیت لري ، متل : « ایلچي لره نه بند شته نه زندان » ایلچي ته په سپکه سترګه کتل هم یو جرم دی او باید د ایلچي شرموړ کړي کنه ایلچي حق لري چې پر هغه د پړې دعوه وکړي . داسې پېښه شوې ده چې د دښمنې قبیلې ایلچي مقابلې قبیلې ته ورغلی وي او هلته د دغې قبیلې یو سړي د ایلچي سپکه کړې وي نو ایلچي په دغه دښمنه قبیله کې په دغه سړي د پړې دعوه کړې وي او د دښمنې قبیلې مرکې خپل سړی په تاوان مکلف کړی وي .

# ب

## بایېړی

پر کومه ټاکلې فیصله چې زیاتوب راشی، هغه بایېړی بلل کیږي. داکلمه اکثراً دولور په مرحله کې استعمالیږي. مثلاً ولور او دوادہ خرڅ بوډول فیصله شوی وی، خودروستہ دناوې له خوا پرولور اوخرڅ زیاتوب وغوښتل شی، دغه غوښتنې ته بایېړی وا یی. په قبیلوي تعاملاتو کې چې هرچا کومه ژاغه کښېښول شی اوهغه بې تاد په کړي، نو که

مقابل طرف ديوخه نور زياتوب غوښتنه کوي دې‌ته هم بابېري وايي.

استاد پوهاند رشاد په خپل ياد داشت کي چي‌پردغه ليکنه‌بې ليکلي دي وايي چي: «بابېري دناروغي راګرزېد لو ته هم وايي»

## بانډه

د کلي څخه‌دباندي‌ابادي موقتي او سېدځاى او کوچنى کلي‌چي په لوى کلي اړه ولري،بانډه بلل کيږي.

داوړي (دوبى) دتېرولو ځاى ته هم بانډه ويل کيږي. دا اصطلاح په ختيځو قبيلو کي ده اوپه لويديځو قبيلو کي دبانډې د کلمې سره اشنايي نشته. په بانډه کي دمرکې اوجرګې‌ځاى هموي. په بانډه کي که وني ولاړې وي نوميوه يې دټولو مشترکه‌ده او په يوه سړي اړه نه لري. دبانډې له پاره کارد ټولو ګډه وظيفه ده استفاده، همګډه ختي کيږي. د بانډې اوسېد ونکي ته بانډه وال ويل کيږي.

## باور

باور(اعتماد)دى،په مرکه‌او جرګه کي‌مخصوصاً چي دوالګ مرکه وي،دمدعى عليه څخه باور غوښتل کيږي.

باور دخولې‌قول دى،په‌دې‌معنا چي طرفين به‌لساناًخپل باور ځرګندوي. ترکله چي‌دغسى باورنه وي ځرګندشوى‌مرکه‌هم نه‌دا بريږي.بوقبيلوي

سړی په باور کی ډېر صادق وي . داچی وې ویل چی زما باوردی، نوبیا بې باوروي. خو کله چی باوربې خام شی نوبیا خپل دباور شرم هم غواړی اوده دباور څخه بده استفاده یو ناروا عمل بولی .

## بټیاری

داښې وان ته بټیاري وایی .

بټی داښې دی او بټیاری داښې وان دی . بټیاري هم په قبیلوي اشرافیت کی کښته مقام لري .

په متل کی وایی : «چی موربې بټیاری وي، زوي بې نه فتح خان کیږي» بټیاران هم په قبیلوي ټولنه کی د جولا او آهنګر په کتار کی راځی او دوی دقبیلې داصلی خلکو سره کفونه بلل کیږي . په قبیلوي ټولنه کی کیدلای شی چی یودقبیلې اصلی سړی دبټیاری ښځی سره یوځای شی، خود قبیلې ښځه وبټیاري ته نه شی واده کېدلای قبیلوي اشرافیت هغه قبیلوي سړی چی د پلارله خوااصلی قبیلې ته منسوب وي، خو مور بې بټیاری هم خام بولی . *

## بـد

بد د نیک ضد دی، بد د جرم نوم دی، بد یو عمومی عنوان دی چی مختلف

* د مجمع ا لفنون په ۲۷۳ مخ کی کښلی دي ؟

جرایم ترهغه لاندی کته گوري کیږي، یو چاته که څه خبره کول بیا ترقتل او دبل پرناموس د تجاوز ترحده پوري تړوله د بد په جمله کې راځي، خو بیا هم دبدودجرم نوعیت په نرخ کې پور، تاشه او شرم اري. هغه سړي چې بد شهرت پیدا کړي په عامه اصطلاح کې (بدو) ورته ویل کیږي .

په قبیله کې هغه سړی چې دبد، وارنه ورېږدي یعنې انتقام اخلي غیرتمن بلل کیږي خو که پربد وښه کوي نو نیک سړی ورته ویل کیږي وائی دبد وېه مقابل کې نیکي باید په داسي حال کې وکړی چې دانتقام قدرت ولري .

## بـدرگه

په قبیلوي ژوند انه کې دمصؤنیت له پاره یو سړی باندله چې د کوم چاسره مؤظفه کیږي، هغه بدرگه بولی .

بوبدی دار سړی که کوم بیطرفه کلی یاقبیلې له خوابدرگه له ځان سره ولري نود ښمن یې کارنه په اري او که تاوان وروړ سوي نوداد بدرگې خاوند پرځان بولي .

متل دی: «سل کسه هند وان وه بدرگه یې لا هم غو ښته»

په تیرا کې دا پریدیود اتو قبیلو ترمنځ دادود ډېر د رواند دی په، دغو

قبیلو کې که کوم چا د غو قبیلو په بیگا نه سړی بدرگه کړی وي نو که هغه سړي ته چې په بدرگۍ کې وي مالي زیان ور ورسېږي په بدرگه چې بې اخیستی وي هغه قبیله به یې تاوان ور کوي .

که کوم څوك په بدرگه کې وي او خپل مدعي یې مړ کړی نو هغه سړی او قبیله به قاتل تعقیبوي او خپل تاوان به ځنې اخلي .

بدرگه د دوسره وخت د پاره چلېږي چې د هغې قبیلې د خاورې څخه مجرم نه وي وتلی، د پل وخت د پاره هغه سابقه بدرگه اهمیت نه لري، د وباره که بیا هم ضرورت ور ته پېښ شي بیا به بدرگه اخلي او د بدرگۍ په مقابل کې بدرگه کونکي ته یو الحی یو پسه یا د لاری د تنگ‌ا جوره ور کوي، مگر دغه شی جبري نه دی ( ۱ )

## بدل

د تاوان په مقابل کې تادیې ته بدل ویل کېږي .

په قبیله کې که څوك د جرم مرتکب وی نو هغه یو بدل هم پر غاړه اخلي. دا بدل به یا مرکه او جرگه د مجرم په غاړه ایږدی او یا به

( ۱ ) پښتنا نه دوهم ټوك ۹۸ مخ ( د قبایلو د ریاست خپرونه )
د پښتنانه پاچا شیرشاه سوری له خوا چې په رباطونو کې د مسافرانو د خدمت له پاره څو کسه مقرر شوی و، هغه ته بې بتیاران بلل - د بتیار ښځه بتیا ری به د مسافرانو له پاره ډوډی پخوله . (رشاد)

دغه څوك چې زيان ور رسېدلى وي پخپله بدل اخلي .

د مړي بدل په سړي دى، خو كه په ننواتي او جرګه فيصله وشي نو كېداى شي چې په بدل كې نورڅه و منل شي. په لويه پښتو قبيلو كې دې ته بدله هم وايي او د بدلې نه اخستل د بې غيرتۍ په جمله كې راځي.

مونټسټوارټ الفنسټون انګليسي څېړونكى سياسي مامور چې د نونسمې پېړۍ په لومړۍ لسيزه كې د پښتنو قبيلې كتلې دي نود بدل په باب په خپل كتاب (د كابل سلطنت) كې داسې وايي :

« د پښتونولۍ له مخې د هرسړي حق او وظيفه ده چې خپله بدله پخپله واخلي سره له دې چې شريعت او حكومت د شخصي بدل په ضد پروپاګند كوي، خو د خلكو په نظر خپله بدله پخپله اخستل د پښتونولۍ له مخې قانوني بڼه لري . كه چېرې يو سړى خپله بد له ژرنه شي اخستلاى دغه سړى ترڅو پورې مدې د خپلې بدلې د اخستلو انتظار باسي. د يو پښتون له پاره د بدل نه اخستل د سپكاوي او پېغور خبر ده . په ځينو برخو د هغه د خپلوانو وظيفه ده چې د كورنۍ په نوم بدل واخلي. همداشان په ځينو مسالو كې د هغه ټوله قبيله د هغه سره د بدل په اخستلو كې مرسته كوي . په ځينو قبيلو كې د بدل اخستلو څخه مخ كې منځګړيتوب نه پربښوول كېږي»(۱)

## بدن

بدن د( ټبر ) په شان يوټا كلى ترون دي چې بالعموم د ځنګلونو د ساتنې

---

(۱)د وږمې مجله د ۱۳۵٦ كال دوهمه ګڼه ۷۳ مخ .

له پاره منځ ته راځي.

په تېرا کې د بدن په طريقه ځنګلونه ساتل کېږي. په بدن کې دا معلومه ده، چې که څوك په ځنګل کې د کوم چا پرته ټك بريد وکړي لرګي يې يوسي يا حيوانات ورايله کړي با يد د بدن په حکم د هغه تاوان ورکړي. دا کلمه په ځدرانو کې په بدون تلفظ کيږي، خو استا د پوهاند رشاد پردې ايکنه په يادداشت کې داسې ليکلي دي:

«دا کلمه ما ته بدون ايسي»

## بدي

بدي دښمنۍ ده، دښمندار سړي ته بدي دار سړی هم ويل کيږي. بدي په فردي لحاظ ځانته مقررات لري، خو قبيله هم په بدي کې راځي. او قبيله د قبيلې سره بدي درلودلی شي. بدي د تر بګنۍ سره نژدې مفهوم لري، خو تر تربګنۍ په پراخ مفهوم استعماليږي: (د بدي دې مبارك شه!) يوه خطرنا که او د بدۍ د اعلان خبره ده، کله چې د دو کسو يا د دوو پلرينو يا د دوو قبيلو ترمنځ اختلاف او نقاضت وروستی حد ته ورسيږي، يو طرف و بل طرف ته په پورتنيو کلماتو د بدی خبر ورکوي او تر دې وروسته نو هره خوا پر ځان پام کوي او د خطر څخه د ځان ژغورنې ملاحظات ساتي.

## بدرانه

بدرانه د خلات (خلعت) يو بل نوم دی. هغه سرکه چيانچې د بو ې

تاکلی بیتی پهباب فیصله وکړي اود امرکه دمدعی او مدعی علیه لهخواوسنل شی نودچرګی غړوته چی کوم څهورکوي ،هغهپښتانه بولی.
اکثره دپښتانی کلمه پههغهځای کی استعمالیږي چی د فیصلې په باب دمرکه چیانو طرفدار ي قوي طرف ته وي اونور بې مجبو رآو منی، نو دخلاټ پر ځای دپښتانی کلمه وایی .
دپټي یعنی رشوت کلمههم دپښتانی کلمې ته نژدې والی ښيی چی داهم باید د غسی مفهوم ورکړي .

## برخه (بخره)

برخه یوه حصهده اوبرخهدحق پهمفهوم راځی، هرسړی چی پهقبیله کی ژوند کوي دبرخی خاوند دی . دابرخه په اقتصادي او حقوقی ساحه کی ځانته مفاهیم لري .
دشیخ ملی دفترچی دمځکو دویش قبیلوي قانون بلل کیږي، دبرخی پراصل ولاړدی.

د اکلمهدعمومی کار پر وخت دمرستی اندازه هم ښيی اود هرچابرخه معلومه ده، کنا یتاً د ایمان په مفهوم هم یاد یږي او کلمهچی په قبیله کی یونبك سړی سر ښی نووا یی چی دلو یی برخی سړ ی ولاړ .
یعنی دایمانسړی سړیشو. برخه دوډلو یهمفهوم را ځی .

## پرمته

پرمته دګروسره نژدې مفهوم افاده کوي . دمرکې دفیصلې د منلو له پاره دمرکې داعتماد په منظور دواړه طرفه باید د دعوی په اندازه پیسې یاجنس ومرکې ته ورکړي، چې کله فیصله وشی هغه باید ومنل شی ، کنه پرمته یې سوځي. په پرمته کی باالعموم توپک ډېر رواج لري، کله چی فیصله وشی نو که کوم طرف هغه ونه مني، پرمته یې ومقابل طرف ته ورکوي یایې مرکه چپان ساتي (دسلامت پرمته نه ورکول کیږي).

دا په نرخ کی د پرنسیپ په حیث قبوله شوې ده، چې دسلامت (پړ) پرمته نه ورکوي . پرمته یوډول تضمین دی چی په ټولو پښتني قبیلو کی دمرکې پروخت اخیستل کیږي. په ځینو موارد وکی د یوه سړی په زوره بیولو ته هم پرمته ویل کیږي .

## پرېد

هجوم ته پرېد ویل کیږي . په قبیله کی د هرچا تلک معلوم دی ا پردغه تلک چی تېری وشی، هغه پرېد بلل کیږي .

پرېد کول یوجرمی حرکت دی، دا که د یوه فرد له خوا وشی یا د قبیلې په رابطه د یوشمېر خلکو دخوا اجراشی ، مجازات یې په قبیلوي نرخ کی ټاکلي دي اود مراتبو دسلسلې په تعقیب یې جرګه دا پرېکړې او د پرېد

د عمل کولو په باب پرېکړه کېږي . برید د (تېري) شدېده مرحله
د او بالعموم په مسلح ډول کېږي .

استاد پوهاند رشاد پر دغه لیکنه په یاد داشت کې لیکلې دي :
«برید د تېك (سرحد) معنا هم لري» *

## بښل (بخښل)

بخښنه (عفو) د قبیلوي سړي منل شوی حق دی. فرد یا یوه ډله کولای شي چې د دوی پر حقوقو تېري کونکي وبخښي، دې ته (بخښل) وايي . داسې بښل بالعموم د قتل په موضوع کې زیاتره عملي کېږي او د ښځې په باب د تېري په ټولو مسایلو کې ښښنه په ندرت هم نه لیدل کېږي او که څوك دغه کار وکړي نو په قبیله کې د بې غیرتۍ په نامه خپل موقف بایلي .

بښل یا (ښښنه) د قتل په مساله کې په سهمندو کې یو د هغو څلورو حقوقو څخه دی (۱) چې د مقتول خواوې پر قاتل لري . درې نور یې (نیکه، کښېنده او سوره) دي، چې هر یو به په خپل ردیف کې تشریح شي.

---

(۱) — پښتانه لومړی جلد - ۱۳۷ مخ (د قبایلو د مستقل ریاست خپرونه)

* د خوست سر بېګك ویلي دي :

که زه خطا د غیر مورونو کړ وکړی دي نه
د ښېمه ورځ یوم واخلي بیا پردي وغې بربدېده
بریدېده = بربدونه

## بلندره

پهګډه يو کارکول (بلندره) ده، چې د (اشر) مفهوم هم ورکوي، خو يا اعموم د جګړې په وخت کې د ګډ هجوم معنا ځنې اخيستل کېږي.

د (اورګون) په خروټو او ننګلو کې د يوې کورنۍ د دسته جمعي وژلو تصميم چې د يوې ډلې له خوا په ګډه نيول شوی وی (بلندره) يې بولي. بلندره په ځنګلي سيمو کې رواج ري.

د ځنګليانو څخه د يوې سيمې د ها کوالو ګډکار هم بلندره بولي.

پوهاند رشاد ليکلي دي:

«بلندره د بلنې له مادې څخه د ميلمستيا معنا هم لري» *

## بلوسول

يو څوك تيري ته تحريکول، بلوسول بلل کېږي. که يو څوك کوم سړی بلوسې ته تحريك کړي دا ديو جرم مرتکب ګرځي او په قوسي نرخ کې مجازات لري. په ځينو وختونو کې مطلق تري ته بلوسول وايي.

مثلاً وايي: (کور د بلوسې څخه په امان دی) د دې خبرې معنا دا ده چې کور مصئون دی او څوك د تيري حق نه په کښې لري. هغه څوك چې د مر کې او جرګې پر پرېکړه نور بلوسي دا يو غټ تيری دی او که کوم څوك د غسې کار وکړي غټه نا غه ځنې اخيستل کېږي. که يوه

* وګورئ: پښتو قاموس ۱/۱۰۱ مخ ـ پښتو ژبه ـ ۳/۲۷۳ مخ.

قبیله دېلی قبیلې په مقابل کی تخریبی کارونه کوي او هغه د بوې درېمې قبیلې له خوا تحریك شوي وي نووایي چی، داخېل د هابل خېل له خوا پلوسیدلی دي .

## پنـــد

پند د مانع مفهوم ورکوي اوپه تعاملي اړیکو کی هغه مما نعت دي چی پر بدي واکول شی او روغه د وام و مومی .

پند د (تیږي، ډبري، کانی) دا پښتو ولو مفهوم ته نږدې معنا لري چی متارکه پرېښا کیږي. په خدرانو کی (پند) او (تیګه یا تیږه) دواړه شته اودا سې معلومیږي چی تیګه د اوږو مسایلو له پاره او پند د ورکو بدیو د مخ نیوي له پاره د مرکې له خوا ایښو و ل کیږي .

ما ته دین محمد خدراڼ وویل چی په خدرانو کی (تیګه) او پند دواړه شته .خو محمد هاشم علی خېل وویل چی په پکتیا کی (البته په غلجی قبیلو کی) تیګه نشته، هم د غه یواځی (پند) دي چی په عامه اصطلاحی مکالمه کی ځای لري .

## پند و ن ( پند و ړ )

پندته کرلاڼي (کرلانی) قبیلې (پندوڼ یا پند وړ) وا یی او غلجی قبیلې هغه پند تلفظ کوي ، خو مفهوم یې کاملاً یو شی دی .

## بنډار

په لويديځه خوا کې مجلس ته بنډار وايي. عموماً د بزم محفل بنډار دی، خوښه او رګونو کې د قومي تړون له پاره غونډې ته بنډار بولي ((يخپله دغه قومي تړون هم بنډار بلل کيږي (١))) په لويديځه خوا کې دا کلمه په بانډار هم تلفظ کيږي او هغه سړي چې په دغسې مجالسو او محافلو کې ګډون کوي 'بانډاري' بلل کيږي. غالباً چې دا به د (بانډې) د کلمې سره هم رابطه ولري، ځکه په بانډو کې دغسې بنډارونه جوړيږي، يعنې د بانډې مجلس بانډار دی. په هغو قبيلو کې چې بنډار د قومي تړون په مفهوم اخلي، نو کله چې يو سړی قومي غونډې ته روان وي وايي، بانډار ته ځم. په داسې حال کې چې په لويديځه سيمه کې داسې وايي نو دا مفهوم ځنې اخستل کيږي، چې د تنګ تکور مجلس ته روان دی.

## بوچه

بوچه د پزې پرې کولو ته وايي، که څوک د چا پزه پرې کړي هغه بايد د ټاکلي نرخ سره تاوان ورکړي.

د (احمدزي) په نرخ کې پزه د نيم خون تاوان لري، که دغه جرم د کوم قاتل له خوا او روسته تر وژلو پر بوچاا جراشي، هغه د پوره خون تاوان

(١) د فولکلور مجله لومړی کال، لومړۍ ګڼه ٣٣ مخ.

پر غاړه اخلی (۱) دا ښساله دښځي اونړیه حق کی یوشان دی .

خو په ځینو نورو قبیلو کی په خاص ډول چي دموښی نرخ پالی، که یو ځوك د پر دی ښځی پړه پرې کړي ، نو د انه یوا ځی یو پورپر غاړه اخلی ، بلکه دښځی خپلوانو ته د هغو دپی حرمتی په وجه شرم هم بایدور کړي .

په ځینو قبیلو کی بوچی ته سنجي یا (سونجی ) هم وایی ، خو عامه یې دغه بوچه ده .

په یو شمیر قبیلو کی بوچ هغه دی چی غوړونه یې پر ې شوي وي او نادځیو انا تـه پـه بـر خـه کـې و یـل کیـږي .

که یو ځوك دبل چادغوایی غوږونه پری کړی نو وایی چی زما غو یی بې بوچ کړی دی . په دې متل کی چی وا یی :

(بوچ داختره خلاص دی) هم دغه مفهوم پروت دی ، ځکه بوچ هغه پسه دي چی غوږونه نه لري او داختر دقربانی پسه باید غوږونه ولري.

## بو نډی

بو نډی هغه پېغله ده ، چی پر یو چا اد عا وکړي چی په هده سترګه یې واته وکتل . دپیغلی دا دعا طرف ملزم و ژنی اودا پیغله به بیاد مرګ تر ګړیه د پلار پر کورناسته وي او که یې ورکوي ، ولور یې په کا م ا په

(۱) بوچه ـ سالنامه کابل ۱۳۱۸ ، مقاله پژ واك، ۱۳۵ مخ .

اری، نه د هغې په پلار او ورور پوری . (۱)

„د ادعا د طرف سړی څکه ئا بت ملزم ګڼل کیږی چې ښځه هیڅکله د خپله شرمه د اسې ادعا پرچا نه شی کولای ترڅو مجبوره نه شی » .

هغه ښځه چې بو ڼدی کیږی، اکثره د پلار په کور پاتیږی ، ځکه بل څوك که یې غواړی نو د اشهرت ورسره ملګری وی چې بو ڼدی ښځه بې غوښتې ده او دا هم په قبیله کی یو عیب د ی چې حتی هغې ښځې ته چې د ده سره ترو اده پخوا یو چا په بد نظر کتلی وی ، ښه نو ر دې ده ته و رپا د یږی.

اکثره د غسی بو ڼدی ښځې وروسته تر هغه چې دا دعا د طرف له سړی څخه خپل وار و اخلی یا په خپله خا نو نه و ژ نی او یا د خپلو ا نو له خوا وژل کیږی .

**بو نګه**

د مجرم ( په خاص ډول قاتل ) د معرفی کولو اطلاع ته بونګه ویل کیږی د غه کار چې د کوم سړ ی له خوا د یوې تادیې په صورت کی وشی، د غه تاد یه هم بونګه بولی . په خینو سوارد و کی د یو چا څخه چې په نا حقه پیسې وا خستل شی ، هغه هم بونګه بولی . مثلا وایې :(د پلانکی یوه بونګه

(۱) پښتانه ۱ جلد ۱۳۷ مخ (د قبایلو د مستقل ریاست خپرونه )

ترغوړشوې وه ، چې بوړلانګی یې دغلاانس ونیوی )
پوهاند استاد رشاد پر دې لیکنه دا یادداشت زیات کړ یدی .
« دبنډیانو قدیمه ـ دغلاشوی مال بدل هم بونګه بولی » *

## بیټه

میزی یا میزي خېل دځدراڼ دقبیلې څخه بلل کیږی، خودوی ځانونه دبیټنی اولاد بولی .

بیټه دټنی او ټیلو وروردی چې د کرلاڼ زوی بلل کیږی .

په او بو پښو کی ( میزی ) د ځد را ڼ ا و منګل سره د بیټنی ا و ټیلو په حساب پوځای کیږي(میزي) چې په (میزایي ) هم تلفظ کیږي د بوې خوا دځدراڼ دقبیلې ښاخ دی اودبلی خوادبیټنی په حسا ب ځا ن مستقل خېل بولی اودځدراڼ اومنګل سره مساوي دریږی .

## بیر غ

بیرغ قومی جنډه ی ده .هر قوم ځانته بیرغ لري اودیوې قبیلې د خېلونو حساب هم په بیرغو نو کیږي .

وا یې ایږیدي تواه (۸ ) بیرغه دي بیرغ دلویو قبیلوی جګړوپه وخت

---

*وګوری: پښتوقاموس ۱ ر ۱۲۷ - ظفراللغات م ۵ ۱ — پښتوژبه ۳ ر ۳ ۶ ۲ مخ .

کې رااېستل کېږي . په اېر يد هو کې چې کله ډېره درنه جرګه کېږي نو تور بيرغو نه هم ورسره را وباسي اوترتورو بير غونولاندي چې کومه جرګه وشي دهغې پرېکړه په قطعي ډول له ما تېد ووځي .

(اوريدلي مې دي چې داتور بيرغونه اميرامان الله خان دوی ته ور کړي دي دننګرهار دپخواني والي د سليما نخېل په حواله .)*

## بپلگه

دغلا شوي مال څخه که يو شي دکوم چا کره پيد اشي دا بپلګه يلل کيزي او د بپلګې په استنا د هغه سړی غل، يا د غله ملګری بلل کېږي. دغله مال ته ځای ور کول تاوان لري او که يوسړی عذ رو کړي چې زه بې خبره يم او داسال په پته زما په کور کې پيداشوي دی دغسې عذرد قبول مورد هم نه لري په هغه پېښه کې چې په سر که کې تر بحث لا ندي نيول کيږي نود هغه سړي څخه چې ور بل چا بي ادعا کړې وي لومړی دا پوښتنه کېږي چې : «بپلګه لري ؟ او بپلګه يې څه شی دی؟» دبپلګې په مخ دا تهام ثبوت کېږي .

* خراساني ابومسلم چې په ۱۲۹ ه ق کال په خراسان کې داموی خلافت پرضد دجنګ اعلان و کړ، تور بيرغ يې ودراوه تردغه تور بيرغ لاندی جنګيالي راټول سول اوداموی خلافت يې ړنګ کړ - دعباسيا نو په خلافت کې هم دبيرغ رنګ تور و .

داسير عبدالرحمان خان او اميرحبيب الله خا ن په وختو کې دافغانستان بيرغ تور رنګ درلود .(رشاد)

## بې وسه

هغه سړی چې د دعوی توان، نه لري د غسې سړي سره خپل خپل او خپل ځانه مرسته کوي .

څرنګه چې قبیلوي غرور هر سړی د خپل د حق مد افع بولي نو بې وسه شی ته څه په دې نظر هم نه کتل کیږي او د قبیلې په شرا یطو کې که د غسې څوک پیدا هم شي نو په کښته نظر کتل کېږي. هغه څوک چې په خپلخانه کې بې وسه شي نود ورو ستي سړي پرځای د ریږي همد ا رنګه خپل او قبیلې چې بې وسه شي هم د غسې مو قف پیدا کوي .

بې وسه سړی اکثرآ د خپلخانې څخه ځي او قبیلې چې بې وسه شي د اصلي ځای څخه بلې سیمې ته مها جرت کوي .

# پ

## پټکی

پټکی یا پګړی د(دستار) معنا ورکوی ، خو په اصطلاح کی دناریتوب علامه ده .

پټکی او شمله یومفهوم لری او دغیرت علامه هم ګڼل کیږی .

اکه دښځی ټکری چی داحترام وړ دی،نو دنارینه پټکی ته هم باید درناوی وشی .

وایی، متل: (پټکی اوټکری ساری دی) ددې معنا داده چې ښځه او نارینه پوشان او سره برابر دي .

پټکې هغه تحفه هم ده چې مرکه‌چیانوته‌ورکول کېږي،دمرکې

په پای کی د دعوی دواړي خواوي چی کوم سوغات مرکه چیانو ته ورکوي، بالعموم هغه پټکی بولی .

## پچه

پچی ته هسک هم ویل کیږی ، * په قبیله کی چی کوم څه ویشل کیږي نو برخی جوړي شی او بیا د دې د پاره چی د ټولو قناعت حاصل شوي وي پچه پراچول کیږی. د پاچول د سر کلاتو په (مامندو) کی چی د (ویش) په سیستم سخکی سره بداوي نو کله چی برخی سره وټاکل شی بیا پچه پراچو ل کیږي. مالداران چی هم څو کسه په گډه مالونه لری نو د مکول (دوړی پرېکول) پروخت چی وړی کوټه شی نو برخی په پچه معلوموي. په لویدیځه خوا کی تر اوسه چی د چانوم په عسکری کی راووځي وایی، پچه یې را ختلې ده .

په لیرو کلیو کی چی ملایان خواران وی ، نو د کډو په ــه د غو شو برخی په پچه ویشی .

---

* په پښتو ژبه کي خسنی (خسړی) او غوری هم د پچی معنا لري، قمبر علی خان ویلي دي :

ملائک د غم له خوانده خبر نه دي
دغه غوری په نامه د آدم وخوت

## پرخره سورول

یو مجرم سړی ته مجازات ورکول په عامه اصطلاح د خره سورول وایي.

په خاص ډول څوك چې د بل چا ناموس ته په سپکه و ګوري نو د غسې سړی که بې جرم ډېر دروند وي وژل کېږي او که سپك وي داسې سزا ور کول کېږي چې د هغه شرم ډېر زيات وي د غسې سزا ته پرخره سو رول وايي.

عملاً هم په ځينو قبيلو کې مجرم پرخره سوروي او مخ یې ورتوروي، په ځينو سيمو کې يې پر مخ خټې ور موږي.

د مسجد او زيارت د شيانو غله ته بالعموم د غه مجازات ورکول کېږي. د غسې سزاد قبيلې يوه اصلي غړي ته ډيره کمه ور کول کېږي، اکثراً هغه اقليتونو ته لکه ډم، جو لا، ترکا ڼ، اهنګر او نور چې د دوی سره اوسي که کوم جرم و کړي د خره سورولو سزاور کوي.

## پرده

د ښځې جامه هم پرده ده. کله کله د پړونی مفهوم هم ورکوي او کله بیا د(شرم) معادل مفهوم افا ده کوي.

مثلاً یو مجرم چې د جرم په مقابل (پور) د(شرم) ترعنوان لاندې

تاوان به کړي . کله کله داسي هم وايي چي پرده يې ور کړه .

د يوچا عيب پر ملا کول د پردې ځيرل بولي او دا اصطلاح د پره عامه ده چي وايي: (ژوند په پرده کي ښه دی اوسرګه هم د پردې سره ښه دی) کله چي د پردې د کلمې څخه وړاندی د مرګ کلمه راشي نو (مرګ پرده) يې بولي او دا يوه بله خاصه اصطلاح ده او دا مفهوم څرګندوي چي د رسوايي څخه وژغورل شو او مرګ يې پرده شو .

## پر میلمه د ږزی تاوان

که يو څوك د يو چاپر ميلمه ږزه وکړي نو د دې ږزی څخه که هغه زخمي شي او ږزه هم عمداً شوې وي دوه چنده پور ا خيستل کيږي ، که سهواً ږزه شوي وي يو سلو پنځوس روپۍ پور لري . که له دغې ږزې څخه ميلمه مړ شي دوه چنده خون به ور کوي او پر دې سر بېره د کور به د کور د شرم په نامه به کور بيته هم يو تا کلي مبلغ ور کوي . که د کور به ملعی د کور به دوژلو له پاره راغلی وي او په خطا کي ميلمه په ږزه مړ کي نو په داسي صورت کي کور به د پور څخه خلاص دی او د ميلمه پور به و پښتو نکي ور کوي . په دې ډول پېښه کي کور به د ميلمه پر قاتل د شرم حق نه لري، بلکه پخپله به هم يو څه پيسي د ميلمه کورني ته د شرم په نامه ور کوي.

## پرهار

پرهار زخم ته وایي. پرهار پر دوه ډوله دی، چې یوه ته یې (سپین) او بل ته یې (تور) وایي.

(سپین) هغه پرهار دی چې د بدن ښکاره برخه وي، لکه سټرګه، پزه، غوږ او داسې نور او (تور) هغه پرهار دې چې د بدن پټې برخې او غړي ونیسي.

د (سپین) پرهار برخه تر (تور) په تاوان کې زیات قیمت لري. دې مقررې ته زیاتره د موسی په نوخ کې پاملرنه کیږي. د تپ او پرهار حکم یو دی، خو پرهار په لویدیځو سیمو کې هغه زخم ته هم وایي، چې د ناروغۍ څخه پریوچا را پورته شوی وي.

## پرېکړه

پرېکړه د فیصلې مفهوم ورکوي. د دوو مدعي خواو ترمنځ چې مرکه او جرګه فیصله وکړي او دواړې خواوې په قانع شي، دې ته نو پرېکړه وایي.

د پرېکړې څخه مخه اړول تاوان لري. کوم څوک په لویو پرېکړو کې چې قومي رنګ ولري د غسې کار وکړي نو اکثراً یې سزا د کور سوځل وي. په کوچنیو پېښو کې د پرېکړې نه قبلول یوالحې د پرمتې په نه ورکولو

سره فیصله کېږي . د نرخ حکم دا دی چې هره پرېکړه په څرګند ډول د واړو خواو ته اعلان شي .

کله کله اوبې پرېکړې د قبیلې په عمومي محضر کې اعلانېږي چې ټول د قبیلې غړي په خبر شي .

## پړ

پړ ( ملامت ) دی . هر سړی چې جرم وکړي او پړ ا ثبات شي ، پړ دی. پړ مجبور دي، چې خپل مقابل خواته تاوان او ( شرم ) ور کړي پړ ته (پیغور) هم په نصیب کېږي. نو دا ځای دی چې پښتانه متل کوي :

« په سلو وهلی ښه دی، نه په یوه پړ . »

( پړ ) د جرم په نوعیت سره مجازات وینی . په لویو پېښو کې پړ د غټ تاوان په تادیه مجبور دی او په کوچنیو پېښو کې پړ د (شرم) په ورکړه مکلف کېږي . د پړ خبره هم نه اورېدل کېږي . نرخ وهر پړ ته حق ور کوي ، چې پر یوه مرکه بله راوغواړي، خو که هغې مرکې د لومړۍ مرکې فیصله تائید کړه نو پړ به سر بېره د لومړۍ پرېکړې په فیصله ، مقابلې خواته تاوان ور کوي، او جرګې ته به هم ناغه ور کوي .

## پړونی

پړونی دا پوړنی او ټکری یو مفهوم لري او په مجازي ډول د ښځې مفهوم ور کوي.

پرونی په پښتنو کی مقدس دی ، وایی چی په قافله کی بەښځه وەنوغله یەنه ورنژ دي کېدل او د ایي دپرونی درناوی و .

په کومه پېښه کی چی ښځه دشفاعت د پا ره پښه کښېږ دی نو وایی چی دپرونی په روی بي مدعی وباخښه اوداد غیرت نخښه هم ده، یا وایی چی په پرونی کی بي وروباخښه یعنی هغه مجرم ته بي بخښنه وکړه .

د (وربندا ري پرونی) خاصه اصطلاح ده، یعنی دورور دناموس سا تنه دهر سړی فر یضه ده . ترپرونی لاندي کېدل دبي غیرتی نخښه ده .

مثلاً وا یي: (پلانکی ترپرو نی لاندی پټ شو .)

(پرونی پراچول) معناداچی دهادر ترحمایت لاندي بي ونیوی، دغسی پناه چی څوك واخلی موقت امن ور کول کېږی .

## پړی پەغاړه کی اچول ·

پړی په غاړه کی اچول د( وا ښه پەخوله نیول )سره یوشان عمل دی.

کله چی پەقبیله کی کوم سړی لوی جرم وکړی نوهغه څوك چی پرده پورلری دهغه ځخه دبرپه ډار کی وی، نومجرم پړی پەغا ړه کی واچوی او هغه تەورځی .

دادبخښنی غوښتنی لەپاره یوعمل دی . کله کله دا عمل یعنی ، پړی پەغاړداچولوعمل پەخو له کی دو اښونیولو سره یوځای اجرا کېږی.

کوم څوك چې دغوسره تنزل وکړی ، هغه حتماً بخښل کیږی،
خوپه ند رت سره دا کار کیږی او څوك دې ته نه حاضر یږی چې
دوسره ټیټوالی قبول کړی .

## پزه پر پکړه

پزه پر پکړه په (سپین پرهار) کې راځی . کوم څوك چې د چا پزه
پر پکړی ، هغه به تاوان ورکوی .

د احمدزیو په نرخ کې پزه د (نیم خون) تاوان لری ، خوکه د یوسړی
تروژلو وروسته د هغه پزه هم پرې شی ، په دې ډول تود پوره خون په تاد یه
مکلف کیږی . په لویدیځه خوا کې دغه سړی ته پزپرپکړی وایی . د اد
(بوچی) او (سونجی) سره یوشان حکم لری.

## پسه

په هر ننوا تې کې پسه ضروری شرط دی چې ننواتیان به یې له
ځان سره بیا یی .

په مړ که ، جرګه او خیرا ت کې حتماً پسونه حلا لیږی .

چیری چې د ننوا تي او جرګې نوم ا خیستل کیږی هلته حتماً
پسه هم ځای لری .

هغه پسه چې دنړواتې سره بیول کېږي دختیځې خوا پښتانه قبایل یې د(لوښي) په نامه هم یادوي .

(لوښي یې ور و ستلی و )، دامفهوم افاده کوي چې پسه یې و رو ستلی و .

د پښتنې قبیلو خلك مېلمه ته پسه حلا لوي، کاکړان او ځینې نورې قبیلې چې میلمه ته پسه حلال کړي نوپه د وړې کې لومړی د پسه پوځ شوی سرد مېلمه مخ ته ا یږدی ،بیا نوره ډوډی راوړي .

## پسه حلالول

کله چې په قبیله کې کوم سړی د بلې قبیلې له سړي یا کورنۍ سره په بدی اخته شي نو په خپل خپل یا په ګوندی کې د خپل خپل پر کورنۍ پسه حلالوي او په دې ډ و ل د هغو څخه سر سته یا سینه غواړي. دغه عمل ته پسه حلالول وایي .

د پسه حلالولو رسم داسې پرځای کیږي،چې سر سته غو ښتو نکې پسه له ځا ن سره بیا یي او د هغه چا د کلا په دروازه کې د پسه پرغاړه چاړه کشوي،چې سر سته یا سیله ځنې غواړي .ددغه کورن ځا وند چې پسه یې پردرګاه حلال شوی وي دغه پسه پخوی او خپل

د پلرینی او خپلخانې خلك را غواړی او بیا د مرسته غوښتو نکی سره د سرستی پرا سکا نا تو ږغیږی .

## پښن

پښن کلیوال آهنګر دی .

په قبیلاوی ا شرافیت کی دپښ مو قف دروند نه د ی اوپه در نه ستر ګه نه ورته کتل کیږی .

پښ دترګاڼ ، ډم او چیچګر په کته ګوری کی راځی .

د کلی په هرواد ه کی چی دناوی پلا رد زوم څخه ولورا خلی نو د ساما د قبا او دنجار د د روازې په ډول پښن ته هم یا ید بوخه ورکړی‌چی دا (ځنځیر) بولی اوځنځر نه ورکول‌د بې غیر تی‌نخښه‌ده .

پښن ا کثراً اجنبی‌قبیلو ته منسوب و ی اوپښان په خپل‌منځ کی ود ونه اودودونه اري،نورچی ځا نونه اصل بولی په ځان‌یی نه ګڼوی دسر کلانو د (مامندو) په و یش کی پښا ن هم سیری خواره دی چی مځکی بې نه تبدلیږی .

## پښتو

پښتو ژبه‌ده اوپه‌مجازی ډول‌ربښتیا اوحقیقت ته‌هم‌پښتووایی .

پښتو د پښتنو د قبیلوي تعاملاتو د قانون نوم هم دی او نارخ ته هم پښتو ویل کېږي. مثلاً په یوه ټاکلې قضیه کې وایي چې:

«په شریعت یې را سره کوې، که په پښتو؟»

یوڅاڼه د (بې پښتو) خطاب کول د راانده ښکنځل دی چې د یو ډېر الزام هم منځ ته راوړي. په ځینو موارد و کې وعدې او قول ته پښتو ویل کېږي، (ژبه، خوله، ګایه) هم د پښتو مفهوم لري. په عمومي ډول پښتو د پښتنو د ټولو ښو اخلاقو او سجایاو مجموعې ته هم ویل کېږي، چې د تقدس په سترګه کتل کېږي او هر قبیلوي سړی کوښښ کوي چې د پښتو صفات په ځان کې ځرګند او په نورو یې ومني.

## پښتونولي – پښتونواله

پښتونولي او پښتونواله په دوو لهجو کې دا سې کلمې دي چې یو خاص او وسیع مفهوم لري او د پښتنو ټول عرف، عادات، عرفي تعاملات او ټوله مناسبات په ځان کې رانغاړي. پښتونولي یا پښتونواله د ټولو پښتنو یوه ځانګړې خصوصیت دی. په ختیځه خوا کې پښتونولي او په لویدیځو سیمو کې پښتونواله د قبیلې د ټولو اجتماعي، اقتصادي، سیاسي او کلتوري خصوصیاتو یو چوکاټ دی.

د طبعي شرایطو په لحاظ د پښتنو بیلا بیلې قومونې که په د و د او

دستور کې بوخه ټوپهر سره واري ، خود پښتونولي د پښتونوالي مفهوم هرځای یو شی دی . د پښتونولي په حکم یو سړی تر خپل ژوند تیر یږي ، خو داپرځای نه معنی چې د پښتونولي څخه دې وا یستل شي . مېړانه ، سپلمه پالنه عزیز ګڼلوی ، غیر ت ، دوطن دود اودستور ته وفاداري ، د دښمن سره ددښمنی ، د دوست سره دوستی ، خپل حق اود بل حق پېژندل اونا سو س داری د پښتونولي د پرغټ او په هر لحیز ټول دمنلو وړ احکام دي .

## پښېمانه

ډېرېدو نادم ته پښېمانه وا یي .

هغه مجرم چې پښېمانه ، یعنی نادم وی نو یا بخښل کېږي او یا یې مجازات سپک تیا کل کیږی .

دغه کلمه کله کله د منکر په مفهوم هم راځی . یعنی هغه څوك چې پرخپل جرم منکروی . پر دغسی منکر که کله اثبات وشی ، نو مجازات یې نسبتاً د رونډتیا کل کیږی . کله چې پښېمانه د منکر په مفهوم راشی نو د قبیلوی دعوو په وخت کی قسم هم ورته کېږی . وا یی : ( د پښېمانه سترګی سرې وي . ) په دې ته اوجرګه کی چې کله دمنکر په یا ب شکا ر ه د لا یل نه وي خودا معلومه وي چې د جرم فاعل دغه منکروي ، نو وایی : ( سترګی یې سرې دي ، هغه هم د پښېمانی علامه ده . )

## بګړه

بګړه په پکتیا کې د (په ګډه) په مفهوم راځي او هغه کارته وایي، چې په ګډه اجرا کېږي. ښاغلي پژواك د ۱۳۰۸ کال په کالنۍ کې د بګړه په پښتنو منګلو کې هغه مدهش چپا وا وژلو ته منسوب عمل بللی دی چې په د ښمنۍ کې به د بوې کور اې نر، ښځه حتی واړه او سپین ږیري ټول له وژل کېدل.

په دغه مفهوم کې د (میراتی) یو شدید شکل باید ورته ووایو، ولې اوس دغه اصطلاح حتی په ژبه کې لا هم نشته، بلکه بګړه ګډه کارته وایي.

وایي: په وزیرستان کې د بګړې عمل تر دانږدې وختونو پورې اجرا کېدې، خو اوس چندانې د دغه عمل نوم نه لیدل کیږي.

## پلرینه

په یوه‌خېل کې په یوه پلار (پښه) سره شریک واحده پلرینه ده.

په پلرینه سره شریک هر یو د پلرینې د بل غړي د ننګې په ساتلو مکلف دی او د ترېور په نامه یادېږي.

په قبیله کې لومړی حساب د پلرینې څخه راپیل کیږي، څو تر خېل او ټبر پورې رسیږي.

په پلرینه کې د میراث د انتقال مساله ډېره مهمه ده، خو دا کار

همېشه د نرخ تر حساب لاندې وي . کله چې په پلرینه کې یو سړی مړ شي نو که یې زوی، وورو او یا نژدې تربورنه د ولود، میراث یې پلرینې ته وېشل کېږي . که په پلرینه کې یو سړی د بېګانه پلرینې له خوا ووژل شي، نو د قاتل تعقیب او د وار اخیستل د ټولې پلرینې وظیفه ده. که دغه لازم بخښل کېږي ، یا روغه ورسره کېږي، نو دا هم باید د پلرینې په مصلحت وشي .

## پلو

د پورنۍ څنډه پلو بلل کېږي .

پلو د (ټکري) مفهوم هم ورکوي ، خو په عامه اصطلاح کې د ښځې شفاعت ته وایي . کله چې په یوه پېښه کې ښځه شفاعت وکړي، نو وایي چې : (پلو یې ته راغی.) په دې ډول نو عفو او بخښنه کېږي .

کله چې یو سړی مدعیانو پسې را اخیستی وي، نو که ښځه خپل څادر پرو غورزوي ، مدعیان بیا حق نه لري چې پر هغه تېری وکړي، وایي: (پلو یې پرو غورزاوه .) که چېرې پر دې سربېره تېری پرو کړي، هغه به د پلو د بې احترامۍ تاغه ورکوي .

## پنا

یو څوک په خپل حمایت کې نیولو ته پنا وایي . که یو مجرم او تورهم

بوچاته پناور وړي، هغه به حتماً پنا ورکوي. دېر محله داسې پېښه شوې ده، چې يو قاتل د بوې کورنۍ سړی ووژلی وي او په ناپاسۍ کې بې د قاتل په کورنۍ کې پنا اخيستې وي، په دغه وخت کې هم هغوی پنا ورکوی او په برابرو شرايطو د کورنۍ دغړو سره اوسي، خو که تر کور و ورځی نوله پنا غوښته و ځی او که ووژل شي نو دبدل تر قانون لاندې پورته لري. په بېلو بېلو قبيلو کې په بېل بېل ډول د پنا دود رواج لري. په ځينو قبيلو کې پناور وړونکي د کور دښځې پلوغوټه کوی او په دې ډول حما يت حاصلوي.

يوالځی کوم چاته چې پنا نه ورکول کېږي، هغه مخ توری دی، چې په ښځه تور شوی وي. هغه څوك چې په بوه کورنۍ کې بې پنا اخيستې وي، که د دښمنانو له خوا د پنا په وخت کې ووېشتل شي او ووژل شي داسې حکم لري، لکه د پناور گوونکی د کور يو غړی چې بې په قتل رسولی وي.

## پور

په لغوي معنا پور قرض دی، خو کله چې د تعاملي حقوقو او قوانينو په برخه کې استعمال شي، نو (تاوان) ته نژدې مفهوم افاده کوی. کوم څوك چې دجرم مرتکب گرځی هغه پرخپله ذمه يو پورا خلی،

متل: (پوردبدو برخه ده.)

په دغه متل کې د پور مفهوم د بريښه ځای شوی دی، هرڅوک چې د بدو (جرم) مرتکب ګرځي، هغه بوپور پرغاړه اخلي .

متل : (پور په ورکړه خلا صيږي)

متل : (پور چې ځنډنی شي، جنګنی شي)

په پورتنيو دواړو متلونو کې د پور مفهوم ځای شوی دی، او په حقوقي ساحه کې يې حد ود ټاکلی ځای لري .

## پوره په پوره

په يوه ټاکلې قضيه کې چې جرګه فيصله وکړي او قضيه همداسې وي، چې دواړه طرفه يو پر بل مساوي پور واري او ناغه په مساوي ډول پر دواړو خوا وکښېښول شي، دې ته پوره په پوره وايي .

مثلاً دواړو طرفو يو په بل کې په مساوي شمېر مړي سره کړي وي او جرګه دواړه طرفه په دې مکلف کړي، چې په مساوي ډول يو و بل ته سپينځې سره ورکړي او دوستي سره وکړي ، دې ته نو پوره په پوره وايي .

په يوه بله قضيه کې چې داسې قتل پېښ شي چې دواړه جنګړي يو ګښې سره شي يا د بديځي او نور په جنګه کې دواړه سره شي دا هم پوره په پوره بولي .

## په قبر کې څملاستل

د بخښنې غوښتنې یو عمل دی. کله چې یو څوک په ناپاسې بل څوک مړ کړي، نو داسې په داسې حال کې چې څوک ورته متوجه نه شي هغه مهال چې مقتول په قبر کې کښېږدي، دی ناڅاپه راځي او په دغه قبر کې څملي او په دې عمل سره د مقتول ورثه مجبوره ده هغه وبخښي. په قبر کې څملاستل د (کټ پښه نیول) له عمل سره یوشان کار دی. کله کله چې عمداً قتل شوی وي هم قاتل د بخښنې له پاره په قبر کې د څملاستلو عمل پرځای کوي. په دغسې وخت کې د مقتول خوا ډېره پاملرنه کوي، چې قاتل ته دغسې فرصت په لاس ورنه شي.

## پېغله

بلوغ ته رسېدلې نجلۍ چې مېړه یې نه وي کړي، پېغله بلل کېږي. پېغله د مېړه حق لري، خو د دغه انتخاب د دې په واک کې نه دی، بلکه دا یې د پلار او مشرانو کار دی.

پېغله (پېغ) یا (تاوه) کولای شي، خو د اسې کار که په روغه سره خاتمه ونه مومي د لویو بدیو پیلامه ګرځي او مړي پرې کېږي. پېغله (بونډۍ) کېدلای شي، خو په دغسې حالت کې به یا خپل تواله ژوند د پلار پر کور تېروي، یا که مېړه ته ورکول شي واده به یې په کام

اړه لري. تر هغه وخته پورې چې يوه پښتنه مېرمنې كېږي دا ډېره آزادي

لري ، خو كه خېره پرېيداشوه، يعنې يابونډې شوه ياټك پروشوه، نو ددې

آزادي كاملاً له منځه ځي .

## پېغور

په قبيلوي مناسباتو كې پېغور قبلول د مېړانې منافي عمل دى . هرسړى

چې د قبيلې د مقرراتو څخه تېرى كوي ، هغه ته پېغور په نصيب كېږي.

پېغور د پېړ (سلامت) برخه ده . د يو سړي چې پېغور په برخه شي ، هغه

د وطنه وځي او كه پاته هم وي، نو كه د غه پېغور يوځل ورپه ياد كړي

ډېره سخته مقابله ورسره كوي . پېغور د يوه نسل څخه بل نسل ته هم

انتقال كوي ، يعنې دلسم نيكه د پېړې پېغور لسم لمسي ته وركول

كېږي . په خاص ډول هغه پېغور ډېر بد بلل كېږي چې په قبيلوي

ژنګه كې د بې غيرتۍ څخه ورپېښ شوى وي .

# ت

## تاوان

په قبیله کې چې څوک د جرم مرتکب کیږي، هغه په خپل جرم سره د یو بو رپړ خپله ذمه اخلي. د دغه پور په مقابل کې د جرم په ټاکلي تناسب د ټاکلي نرخ له مخې د تاوان په ورکولو مکلف ګڼل کیږي.

د پور جبیره تاوان دی، یا په واضح عبارت پوریو الزام دی او تاوان د هغه جبیره ده. ناغه او شرم د تاوان دوه حده دي، چې هر یو د جرم د نوعیت په حدودو کې نرخ ټاکلی وي. کله کله چې نرخ د غه حد ټاکلی نه وي، نو جرګه او مرکه صلاحیت لري چې په خپله یې وټاکي. د غه نوي ټاکنې ته هم نرخ وایي او که د بو طرف د قبول مورد ونه ګرځي

نو د کوږ نرخ حکم پرې کوي .

## تخم (۱)

دمرکې په فیصله نه قناعت او د یلې مرکې یا جرګې غوښتنه تخم بلل کیږي دا اصطلاح د پکتیا په ځدرانو کې ده .

یوسړی تر درو مرکو پورې حق لري او کولای شي چې د تخم له حق څخه استفاده وکړي او تر هغه وروسته به دوروستنۍ مرکې فیصله جبراً مني . په دې ډول د تخم جرګه لویه او درنه وي . د تخم په جرګه کې چې د کیږې ږغ نه وي شوی ، نو که دوهمه مرکه د لومړۍ مرکې تائید وکړي یا د مدعي حق په جانب وبلل شي یو طرف ته هم نا غه یا شرم نه متوجه کیږي ، خو که د تخم جرګه د کیږې د غږ په نامه را غوښتل شوې وه نو ناغه او شرم ملزم طرف ته تکیه کیږي .

## تربګنۍ

په پلرینه کې د تربرو ترمنځ رقابت ته تربګني وايي . تربګني کله کله ډېره پراخه ساحه په ځان را کښېباسي او قبیلې د قبیلې سره په تربګنیو کې درېږي .

دلوید یځی خوا پښتانه قبایل د تربګنۍ پر ځای د تربور ګلوی

(۱) (دت په فتحه)

اصطلاح راوړي . ځنې قبيلې دارغونو زمانو څخه خپل ترمنځ تربګنی لري اودهغو عوامل دومره لرغوني وي چې حتی ددوي په یاد هم نه وي، خوپه تربګنی سره اخته وي . دځینو قبیلو ترمنځ دتربګنی منشا او ډیر و لرغونوافسانو ته رسیږي چې مشرانو یې کشرانو ته وایي اوپه دې ډول د بدی تخم همیشه پکښې زرغون وي .

هغه قبیلې چې په پوله او پټی سره شریکی وي دهغو ترمنځ دغسې تربګنی زیا تې وي. کوچنی قبیلې د تربګنیو په بر خه کی د هیڅ په حساب کی دي اوچندانې تربګني نه لري .

## تر بو ر

د کاکا زوی تربور دی . په قبیله او پښه کی دیوې لړی خلک سره تربرونه دي . هغه چې میراث یې سره وړل کیږي، هغه تربور بلل کیږي.

په قبیلوي ژوند کی دتربور سره رقابت عام عمل دی، خود دی پر ځای تربور دتربور ننګ کوی . وایی:(تربور سربور دی) خوپه بل ځای کی بیا دامی وایي،متل : بدتربورپه بده ورځ په کاریږي .

دتربور له کلمې سره دتربور ګلو ی اصطلا ح هم ماګري کیږي،چې په ختیځو قبیلو کی تر بګنی ورته وایي . تربور په پلر ینه کی په میراث شریك عنصر دی او په پلر ینه کی لوی سیا ل ګڼل کیږي .

## ترکاڼ

ترکاڼ (نجار) هغه سړی دی چې د لرګو څخه وړ، کړکۍ او نور د لرګو شیان جوړوي.

ترکاڼ ترډېره وروسته موقف لري او په قبیلوي اشرافیت کې بې مقام تیټ دی، ترکاڼي هر سړی نه کوي بلکه، په قبیله کې د نورو لیري قبیلو څخه چې خوک ورغلي وي نو بې د پلار او نیکه د څه کسب وي ترکاڼي کوي.

ترکاڼ په واده کې د زوم په طرف کې د (دروازې) په نامه یوه برخه هم لري، چې بایدورته تادیه شي. په یوسفزو کې ترکاڼان په (وېش) کې د سېري خوړو په جمله کې راځي چې مځکې بې نه وېشل کېږي.

## ترله

د کاکړو کالو ترله ده. په قبیله کې هره په عمر برابره ښځه د نارینه سره ترله ده.

په کاکړو کې د ترلې اصطلاح خورا ډېره ده. او هر سړی خپل د غیرت ثبوت هغه وخت پوره کولای شي چې ترله بې ومني.

د کاکړو په فولکلور کې ترله خوراغټ او لوی افسانوي ځای لري. ترلې د ترېور د غیرت اوننګې په نامه خاص شعر لري چې هغه

ته کاکړي غاړي هموايي ، بوه کاکړه ټراله شيرجان نومی غازي چی فرنگی يې وژلی و ، داسی ستا يې :

ترله دی نه کوي ارمان ـ پرنگی کوندېه کړه شير جان
شيرجان چی دې بهانسی ته بيوی پوې کاکړی ترلې داغاړه وويله :
شيرجان يو دی خودبې يوسی ـــ سرداري دې د ټرلوسی

## ټرور

ټرورد پلارخورده . هره مشرمېنځه په پلرينه اوقبيله کی د ټرور په نامه ياديږي . دمور وخورته هم ټرور وايي ، متل : (ټرور نيمه مور) .

دلويد يځی خوا پښتانه د ټرور کلمه چندان نه استعمالوي اودايوا ځی د ختيځی اوجنوبی خواد پښتنو مصطلحه کلمه ده .

## ټره

کاکا ټره دی ، چی په لويد يځه خواکی اکاورته وايي . د ټره او وراره په منځ کی جوړه چندان نه کيږی او په عامه اصطلاح کی ټره دوراره په حق کی تېږی کوونکی بلل کيږی . په خاص ډول د ميراث دويش پروخت .

متل : (خدای خبر دی چی ټره کاپر دی .)

کنايتاً هرسشرسړی چی د پلار پرځای وی ، ټره بلل کيږی . ټره دورور

ترسرګړ ورو ستهٔ د هغه وارثاو اولادته د وصیت په حیث ځای نیسی ، د ا تو دمتوفی په وصیت او غوښتنه هم اړه نه لری ، بلکه که هغه هم یو بل څوك ونیاکی نه قبلیږي او دا پر حق تیری بولی . تره دوروړ د کورنۍ واکدار دی او دورور په مال کی هم د هر ډول تصرف حق لری .

## تړم

دګډ کار له پاره تصمیم نیولو ته تړوابی . مثلاً دخو کورنیو ترمنځ د کښت پروخت چه ګډ کار کیږی وایی ، چی (دوی تړسره کړی دی) . یا په ګډه دا تصمیم نیسی چی یو د بل د کښت څخه به حیوانات لیری سا تل کیږی دا هم تړ دی . غالباً چی دا کلمه به د تړلو څخه اخیستل شوې وي ، یعنی د بل د مال څخه خپل حیوانات تړل . همدا رنګه دا کلمه د تړون د کلمې یو مخفف شکل هم معلومیږي ، خو تر تړون په محدود ه ساحه کی د استعمال ځای لری . دا یوا ځی د پکتیا د قبیلو یوه اصطلاحی کلمه ده .

## تړون

تړون یو قومی تعهد دی ، چی په دایمی او موقتی ډول تړل کیږی . بوشمیر خپلونه چی نژدې سره واقع وي ، په مختلفو موارد و کی تړون سره کوي .

تړون د تړ سره دا توپیر لري ، چی تړ اکثراً د ګډ کار په ساحه کی تر سره کیږي او تړون په قومی او قبیلوی مسایلو کی یواځی د ی مثلاً :

(خرسین )او(سید کی )چی د (وزیرو) سره تړدي اوسي، نودوزیرو سره یو تړون لري . چي خپلي متنازع فیها مسلي په روغه اوخبروسره حل کوي.

تړون په ارغونوقبیلو کی هم وجی مثالونه یې په امریکا یی هندی قبیلو کی خورا د پر لیدل کیږي . د تړون د پر مترقی شکل چی په قبیلوي ساحه کی سو ههٔ د هغو خپلو نو ترمنځ تړ و ن و چی د میرو یس نیکه د ( مانجي ) او دا حمد شاه بابا د (جوغي) ا ډینو ولو په وخت کی د کندهار په ( شېرسرخ ) کی وشو .

تړ ون لکه د تړ سره چی تو پیر لری، نود گوند سره هم تو پیرلری. چی د ابه د گو ند په رد یف کی شرح شی .

## تله

تله تر ا زودی او ترازو د عدل مفهوم ور کوی. په قبیلوي تعاملاتو کی تله دتول اونرخ په مفهو م راځی .

متل: ( تله دچا سخ ا و ځټ نه گو ري ). داچی وایی،(دنرخ په تله دي را سره معلوم مه که ) مطلب د ا دی چی د قا نون په عدا لت یې را سر ه معلوم مه که .

په سر که کی کله کله دا کلمه ا ستعما لیږي.چی وا یی :

(په د رند تله دي وتاله ) یعنی د روند نرخ دي پر وچلا و ه .

تله دعد الت په مفهوم په تو لو پښتنی سیمو کی مروجه اصطلاح ده .

(په تله برابره بر یکړه) هغه فیصله بلل کیږي، چې په تام عدالت سره صادره شوې وي. تله د (تول) سره لږ دې مفهوم لري او (تول) د نرخ په مفهوم هم راځي.

## توپك

توپك وسله ده، خو په قبیلوي ساحه کې ډېر نقدس لري. د توپك سپکوالی هم ناغه لري. په توپك قسم کیږي، توپك په برمته کې اېښول کیږي، هرسړی باید ځانته توپك ولري. کله چې نرکوچنی وزیږي، نو ډزې ورپسې کوي، هغه دادی چې دده ډېر وتلی دځای سرته دده په نامه یو توپك خړ وی او دا توپك نود کورنۍ نازولی توپك وي. کله چې یوسړی ډېر عمر ته ورسي او بنځه یې دپلار ږېر کوروی، نوخپلوان یې د توپك سره نکاح ورتړي او خپل کورته یې راولي. په قبیلوي لښکر کې حساب دسړو او توپك برسر کیږي.

## تور

تور تهمت ته وایي. کوم څوك چې د جرم مرتکب شي، نو مجرم ته تور وایي. تور تر ډېره قیب لاندې وي او کولای شي چې دغوا تي په وسیله جرګه جوړه کړي او متا بل طرف ته په ناغه ور کولو سره بیرته خان سپین کړي. په ځینو قبیلو کې تورته پناور کول، د تورپه جرم کې اشتراك

کولو ته هم وايي ، خو قبيلوی عرف چاته اجازه نه ورکوی چې کوم تور د چا کورته پنا يوسی او د بشمنانو بې د پنا په کورکی ووژنی يا تاوان ورورسوي. هر ستهم تور دی، خو که تورپه لا حقه دمخ کلمه ورسره ملکرې شی، نو په اصطلاح کی تورمخی (زانی) دی ، چې ننوات او پنايې نه قبليږي او بايد سمدستی ووژل شی .

## تورته د پنا ورکوونکی ليږه

که کوم تور (مجرم) دسپين (خپلوانو) کره ځان پنا کړي، نو هغه کولای شی چې تردوو کالو پوري هغه وساتی ، خودوه کاله وروسته بايد د غه تور له خپل کوره وشړی او که دا کار ونه کړی، نو د تورد مدعی د خپلوانو له خوا د پناه ورکوونکو کورسوځل کيږی او مال بې تالا کيږي . په دغه دوه کالهموده کی هغه خوک چې تور ته بې پناور کړې وي ، بايد د سپين والی له پاره بې زيار و باسی او که پردغه کارموفق نه شی او تورته نور هم ځای ورکوی، نو دا معلوميږي چې دی د تورسره يو لاس دی . تور د پنا په موده کی بايد د کوره ونه وځی ، کنه وژل کيږي .

## تورسرې

تورسرې د ښځې مفهوم لري . په ځينو قبيلوي پښتو کی چې تورسرې

په ننواتي ولېږل شي، نو دښمن هم بخښل کېږي. کنايتاً هره ښځه تورسرې بلل کېږي. دا نوم ترهغه وخته پورې ددې ماګرې دی، چې سرېې سپينېږي او ترهغه وروسته، نو بيا سپين سرې بلل کېږي.

کوم څوك چې په ننواتي کې تورسرې لېږي، دا د قبيلوي مناسباتو په کړی کې يو روا عمل دی، خو د قبيلوي غرور څخه ډېر ليرې ګڼل کېږي او په مشکل يو څوك حاضرېږي، چې د دعوی له پاره خپلې تورسرې د مدعي کره ولېږي. چېرې چې تورسرې په ننواتي ورشي، نو دا هم د دوه پښتانه دپاره لوی عيب دی، چې هغه جواب کړي. که څه هم دښمن يې هرڅو مره لوی زيان رسولی وي، بيايې هم ننواتي مني.

## تور ګوند

د سپين ګوند په مقابل کې دخپلونوډله ده، په کرلا ړي يا کرلانړي قبيلو کې (منګل، ځاځي، منډوزي - څمکني، مقبل) او په غلجي قبيلو کې (توتاخېل، خروټي، اندړ، نوزي او سهاك) د تورګوند غړي دي. په مروتو کې (عيسک خېل او غزني خېل) د تورګوند غړي دي. په ګوندي حساب کې هروخت چې قبيلوي مسايل منځ ته راشي، د هرګوند قبيلې د خپل ګوند په اړخ کې درېږي. تورګوند په خپل ګوندي حساب کې لوی او ورې مرکې لري او وخت په وخت يې جوړوي او خپله پخواني رابطه د سپين ګوند په مقابل کې ټينګه ساتي.

## توره

توره هم وسله ده او د غيرت په مفهوم هم استعمالېږي . د توري خاوند د باغيرته او جنګيالي مفهوم ورکوي.

توره مقدسه ده او سپکوالی يې ناغه لري . په توره قسم کېږي او کله چې کوم سړي ښځه غوښتې وي او بې مساعدوي، نو کورنۍ يې کولای شي چې د ناوي نکاح له توري سره وتړي ، بيا يې خپل کورته راولي . کله چې يو سړی د ننګ کار وکړي، نو وايي: ( توره يې وکړه). په جګړه کې غيرت ښوول هم توره بلل کېږي . ښځانه وايي:(توره د تيکي مه باسه ، که دې وايستله، بيا يې نو سره وتيکې ته اچوه) د توري پوښ ته تيکی ويل کېږي او توره په کور کې لوړه ځړول کېږي .

## توره او سپينه

د دوو خپلو نو يا کورنيو تر منځ پر يوه متنازع فيها مساله خبري معلومولو ته توره او سپينه وايي.

مثلاً وايي: ( جلات د جمال سره توره او سپينه وکړه )

د مېلمه پالنې په برخه کې دا اصلاح هغه وخت استعمالېږي ، چې کوم په بدې اخته سړی د چا کره مېلمه شي او پياد دښمن له خوا د هغه په کور کې زيان ورورسېږي، نو کوربه د مېلمه د دښمن سره توره وسپنه کوي.

## تورپان

تورپان تورزنگه خلک دي، چې د پښتنو په ټبو لوسیمو کې ګرځنده ژوند لري . دوی هم د قبیلوي ژوندانه په اشرافیت کې، کښته مقام لري او د نورو کښتو اقليتو نو لکه د جټانو په شان خپل ترمنځ دودونه، مناسبات او خاص دستورلري . تورپان پربود ه ګانو خپل کوروته نقلوي . کوروته یې مخصوصې خېمې دي او د کورساما ن یې ډېر مختصر دی . په دوی کې یوه ډله، چې د کندهار دارغنداب د حوزو څخه، د کابل ترحوزو پورې د کال په موسمو نو کې ګرځي. د( خرېد لاټو) په نامه یادېږي . دوی اکثره خره خرڅوي، خود اخرڅلاوپه تبادله کوي ، لکه خرپه غوابد لول ، غوابه میږو په لول ، اوداسې نور . یوه برخه تورپان د هلمند او هریرود د حوزوتر منځ په ګرځنده ډول ژوند تېروي .

## تول

تول د( وزن) معنالري، خود قبیلو په عرفی حقوقی تعا مل کې د قانون مفهوم ور کوي .

تول د نرخ پر ځای هم استعمالېږي . په ډول کې چې هغه کسان چې د قبیلوي نرخ یعنی (قانو ن) څخه خبر وي، هغه نر خیا ن او لي .

همدارنګه په همدغه مفهوم، کله چې د تول په لغت استعمال شي ، نو دغه نرخیان پیا (تولګر) بولي .

## تولګر

تولګر او نرخي یو مفهوم ور کوي . تولګر د جرګې هغه غړی دی چې په تول (قانون) پوه وي. د نرخي او تولګر تر منځ دا توپیر یو څه لیدل کیږي، چې د کو چنیو پیښوله پاره د مرکې غړي تولګر بلل کیږي ، خو په لویه مرکه او جرګه کې د نرخي کلمه استعمالیږي . لکه په نرخي کې چې دا ضرور نه ده چې هغه با ید دیو قشري نفوذ خاوند وي ، بلکه د قبیلې یو غړ یب سړی هم نرخي کېد ای شي ، خو په دې شرط چې د نرخ په تولو رموزاتو به بلد وي. همدغه رنګه تولګر هم دغسې دی . هغه څوک تولګر کېدا ی شي چې د مرکې او جرګې مقررات ورته معلوم وي.

## توېغ

توېغ د تاوان په نامه هم یادیږي ، خو په عام ډول هغه مصرف ته توېغ ویل کیږي ، چې د مرکې د خرڅ له پاره را ټول شوی وي، مثلاً وایي : «پلانکي دا سې توېغ ور کړ، چې مرکه چیانو بې لاسونه په غوړو پریولل». دغه توېغ د پلرېنې د ټولو په وندې جوړ یږي او که یو سړی مصرف و کړي، هغه ته خرڅ وايي ، چې دا اصطلاح په ځدرانو کې ده. په ځدرانی سیمو

کې کله کله مرکې اوجرګې مياشتې ونيسي او ددعوی دوارې خواوې دتو يغ په مسابقه يو د بل سره وياسي. هغه مرکه چيان چې ډيرعمر پريکړه نه کوي او تويغونه خوري، په قوم کې په تويغ خورو شهرت مومي، نو ځکه ځينې مصلح مرکه چيان دد عوې خلك وتويغ ته نه پريږدي.(۱)

## تېري

تېري د(تجاوز) معناور کوي. هغه سړی چې تېری کوونکی وي پر (ملامت) دي، او د قبيلوي تعاملي حقوقو په وړاندې د تاوان (جريمې) وړ او لايق دی . په قبيله کې د هر چا حد د (تك) په نامه معلوم دی او د غه تك د هر دول پلوسې څخه په امان بلل شوی دی. که کوم څوك پر هغه پلوسه کوي، نودي د تيري مرتکب ګڼل کيږي اودنرخ په وړ اندې بو تاوان په ذمه اخلي . دقبيلو ترمنځ هم تك معلوم دي او پردغه تك چاته د تيري حق نشته . په عامه اصطلاح کې يو تجاوز سړی یا قبيله چې د نورو پرحق تيري کوي، تيري کوونکي بلل کيږي .د تيري ژغمل په قبيلوي اخلاقو کې دبې غيرتي نخښه د ه . دځان او قبيلې دتك ساتنه د هر سړي وظيفه ده او پرتك د تيري کوونکي سره بايد مقابله وشي.

---

(۱) د کندز د آژانس د نماينده ، بها غلي دين محمد ځدراڼ يا د اښت .

## تیږه

تیږه، د پره یا کاڼي تول له یو مفهوم لري. تیږه یوه متار که ده چې د قبیلې د مشرانو خوا وو ترمنځ ترسره کیږي .

په ځینو ځایو نو کې دغه تیږه یا تیګه د جرګې د قانون په مفهوم هم راځي، مثلاً وايي:

د ( احمدزي تیګه د پره درنه ده ) (( د عیسی په تیګه یا د موسی په تیګه یې را سره معلوم سوی؟ )) .

د جرګې د فیصلې معل شوي قرار تیږه ده، چې تضمین یې په ( ارمته ) سره شوي وي. لکه په سرکه کې چې (بندیانو ندوڼ) دمتار-کې یاد سر کې د قرار په مفهوم راځي، نو په جرګه کې بیا دغه مفهوم د تیږې په نامه یادیږي .

تیږه دوه ډوله ده، یوه یې دایمي او بله یې موقتي ده. موقتي تیګه حتی د درو ورځو له پاره هم ایښوول کیږي او کیداى شي چې دا موقتي تیږه په دایمي تیږه بدله شي . شینواری د نرخ سلسله سرا تب ته ( سواد سنګ ) وايي .

## تیږه ماتوونکی

هغه څوک چې د تیږي د مقررا تو مخالفت وکړي ، تیږه ماتووونکي

پلل کېږي، په خاص ډول هغه وخت چې د قبیلو ترمنځ د جګړې
څخه وروسته جرګې تېږه ایښې وي، نو که کوم څوک د هغه فیصلې
پر ضد تېری وکړي مجازات یې ډېر دروند وي او په لومړي سر کې
باید کور وسوځل شي. دغسې سړی د قبیلې څخه په رټلو (شړلو)
هم محکوم کېږي. د نښتې په تېږه کې هم یوه خوا په اخول سرنه شي
کولای چې تېږه ماته کړي، بلکه باید د مقابلې خوا په موافقه ماتوي
او یا هغه نېټه چې ټاکل شوې وي، په پوره کېدو یې تېږه ماتېږي.
هغه قبیلې چې د تېږې مراعات نه کوي تېږې ماتوونکي خپلو-
نه پلل کېږي او دا پوره شهرت دی.

# ټ

## ټاپی

ټاپی دوخت او موسم په معنا راځي .

په جرګه او مرکه کې د پيښې وخت ته ټاپی وايي، ټاپی د جرايمو په وقوع کې د يادوني وړ ځای لري. مثلاً د پسرلي په ټاپی کې د بوچاملوانو (حيواناتو) ته زيان رسول تر هغه زيات تاوان لري ، چې په مني کې زيان ور ورسول شي .

پسرلی او مني د قبيلوي کوچيانو د تګ او کوچ وخت دی، په دغسې ټاپی کې لاري بايد مصؤنې وي او له هغې کبله کوښښ کيږي، چې په خاص ډول د لاري امنيت وساتل شي ، نو ځکه هغه کسان چې په دغه موسم کې لارې نيسي، مجازات يې نسبت نورو وختونو ته درونده وي.

ټاپی په ناروغی کې هم د تبې د ناروغه د خولې شپې ته وايي .

## ټبر

دخپلونومجموعه ټبربولی او دایوتړا کلیواحد دی،چی دقبیلې په انکشاف کی منځ ته راغلی وي .

ټبر یوه قبیلوي اتحاد یه ده،اولکه په زوړواقوامواوقبایلو کی چی دخاصو شرایطو په زیږنده منځ ته راغلی، نوپه پښتنی قبیله کی هم دغه واحد دغسی پیدا شوی دی .ټبر دجرګې دجوړېدو صلاحوت لري،چی په هغه کی دخپلونومشران ګډون کوي، په پښتنی قبیله کی ابدالی (درانی)، غلجی او کر لاڼي (کرلانی) لوی ټبرونه دي .

ټبریوقبیلوي واحد دی،چی ترخپل پورته کړی جوړوي او کله چی قبیله دخپل څخه پورته خواته انکشاف وکړي، نودټبر واحد زیږي او دټبر دزیږېدلو سره ، ددولت موسسه خپله لومړنی طلوع کوي. په یونان کی هغه مهال چی د(کنفدریسی) واحدمنځ ته را غی، نوددولت موسسه هم ورسره ملګرې وه .

په پښتنی قبیله کی ټبریوځه وختی لا پیداشوي و،خو په اتلسمه پیړی کی دټبرونو داتحادبې په جوړښت سره یولوی قیام (دمیرویس قیام) او داحمد شاهی دولت تشکل، منځ ته راغی . دادوه لوی کارونه دهغو جرګو په ترڅ کی علمی شوه، چی دټبرونو نماینده ګانو ګډون پکښی کړی و.

په اريايي ټولنه کې د(سابها) او(سمتې) جرګې هم د ټبرونو د نمايندګانو څخه جوړې شوې وې، خو څرنګه چې اريايان يو ګرځنده بهير و، ځکه د ټبر واحدې په دغسې ګښت کې استقرار نه پيدا کاوه، نو د دولت موسسه پکښې جوړه نه شوه.

که څه هم ټبريو ثابت قبيلوي واحد دی، خو په عامه مکالمه کې دغه اصطلاح کله د خپل او کله د ملت سره هم يادېږي، مثلاً وايي: پښتون ټبر، يا وايي د بارکزو ټبر د کندهار خواته زيات دي.

## ټپ

ټپ زخم دی. ټپ په توراوسپين وېشل کېږي، تور هغه ټپ دی چې د بدن په پټه خوا کې وي او سپين هغه ټپ دی، چې د بدن په څرګنده اوښکاره خوا کې وي، مثلاً: ځګر، ورنونه او زس په پټه خوا کې دي، خوږزه، خوله، غوږونه او لاسونه په سپينه خوا کې دي. ټپ د خپل محل او د هغه په لحاظ تاوان لري، چې د نرخ په چوکاټ کې ورته ټاکل کېږي. مثلاً: هغه ټپ چې د غابښ لګولو څخه پيداشي، د هغه ټپ سره توپير لري چې د ږېري د وار څخه پيداشوی وي، همدارنګه د چړې، توري او توپک ټپ هريو ځانته مقررات لري په ځينو قبيلو کې هغه ټپ چې په څرګنده خوا کې وي يعنې د (سپين) تابع وي، هغه نسبت د بدن

دټپ خواټپ ته چې په (ټور) اصطلاح کیږي زیات تاوان لري .
دټپ دتاوان معیا رونه داحمد زیو په نرخ کې پوره څرګند دي .

## ټک

ټک دحدپه معنا راځي . په قبیله کې دهرخېل ټک معلوم دی څوک چې پردغه حد تېری کوي، نوتاوان پرذمه اخلی .

دټک دړناوی دقبیلې د هر سړي ذمه واري ده ، کله چې پر ټک یرید وشی، نودخېل ټوله غړي باید مسلح حاضرشی او دهغه دفاع وکړي.

په عامه اصطلاح کې پرټک تېری ، پر حقوقو دتجا و ز په مفهوم هم راځی . ټک دور شومره هم یادیږي . ورشو (چراګا ه ) دهري قبیلې څغې معلومه ده او په هغه سرحد کې چې ددغې کرښې هره خواچې په کرښه سره معلومه شوې وي دټا کلی قبیلې ټک بلل کیږي. دټک څخه تېری تاوان لري او کومه خواچې داتېری وکړي، پړه یالل کیږي .

## ټکري

ټکري دپړ ونی معنا ورکوی او مجازاً د ښځې په مفهوم راځی .
دټکري احترام اودرناوی پرهرچافرض دی .
وایی ( ټکری ا وپټکی) ساري دی ، د ا د قبیلې قانون د ی یعنی

ښځه اونارینه په حقوقو کی برابراو یو شی دي. کوم څوک چې د ښځی پرحقوقو تیری وکړي هغه د ټکری پرحق د تیری کوونکی په نامه یادیږي.

په مرکه اوجرګه کی چې کله ښځه د یوچا شفاعت وکړي، د هغه احترام باید وشی او که په بې احترامۍ یې جواب ورکول شی د ټکري شرم یې ورکوی. که ښځه پر هرڅومره ګناه کار سړي ټکری وغوړوي، نوتر کله چې ټکری پرپروت وی، څوك یې دوژلوحق نه لري، که نه د ټکري شرم به ادا کوی.

## ټکری اخیستل

ټکری اخیستل یو تعاملی حق دی، خو په دې شرط چې مابعد مراتب یې په ننواتی سره سرته ورسیږي.

کوم سړی چې د بې میړه پیغلی ټکري واخلی، هغه باید ننواتی د پیغلی پلارته ورکړي او هغه ولور هم باید تادیه کړي، چې د پیغلی پلاریې ټاکی. په دې ځای کی ټکری اخیستونکی حق نه اری چې د هر څومره هغه ولور څخه چې د پیغلی پلاریې ټاکی ننه وکړي او که دا کاروکړي، نودی مجرم دی اوبیا باید د بدی تاوان ته تیارشی.

په عامه اصطلاح کی ټکری اخیستل د وغ کولو سره چې د کندهار

او هلمند په خاکو کی ناره ورته وایی څه توپیر نه لري .صرف ناره په عمومی‌دول دښځی له خوا پرنرېغ کول دي، خوپه ختیځو قبیلو کی نارینه‌چی هم پر ښځه ږغ وکړي او ووایی چی دازماده ، په د ې برخه کی هم‌مقررات هغسی دي، لکه په‌ږغ کولو کی چی پرځای کیږي. تکری‌اخیستل دتیك کولو سره هم مشابه عمل دی، ځکه په هغه کی هم داخبره پرته ده چی یونارینه پرپښغله ږغ کوي، چی دازما ده .

که کوم څوك دسړوښی ښځی تکری واخلی؛ نودایو د روند شرم لري او په پخه طریقه به‌تنواتی هم پرځای کوي . ددامی عمل‌مقابله اکثراً په مرګ او وژلو کیږي .

## تیك کول

تیك کول‌دتکري‌اخیستلو په‌شان‌یوعمل‌دی. کوم څوك چی پرپښغله تیك وکړي معنایی داده ، چی داده ښځه سوه . دلته‌خسر خیلوته‌باید تنواتی ولیږل شی او هغه ولور باید تادیه‌شی ،چی‌خسر خیلو هرڅومره تاکلی وي .

تیك کول دتکري اخیستلو اوږغ کولو سره یوشانته مفهوم ورکوي . داعمل داسی اجرا کیږي، چی کله پښغله ښځه د کور څخه یوه کارته وتـ وي، د هغی پرسرتو یك ونیسی او تیك وکړی. کله دنجلی د کور

سره ټګ وکړي او داسې هم کېږي چې بېخي ټګ ونه کړي او د خلکو په مخ کې ووايي چې د پلانکي لور يا خور زما ده. دې ته هم ټګ وايي .

د ټګ کولو په باب هم نرخ هغه دی چې لومړی به د ښځې پلار ته سرکه او ننواتي ورليږي او بيا به هرڅومره واور چې هغه ټاکلي وي هغه ته تاديه کوي، که له دغو کارونو څخه يو ونه کړي او ولور هم ونه مني، دا نو د بدي په نيت يو کار بولي او د ښځې پلار او ورور او د قبيلې ټوله نږدې ټبر بروته مکلف دي، چې د شرم ساتلو په دود د هغه سړي سره سمه سله وکړي. په دغسې کارکې بالعموم ټګ کوونکی وژل کېږي .

که تر دغه انکار وروسته د شرايطو منلو ته حاضر شي، نو هلته بيا مجبور دی چې هم سرکه وليږي، هم ننواتي وکړي او هم د شرم په نامه يو څه تاديه کړي .

که په دې لار کې قتل پېښ شي، نو د پورتنيو مراتبو څخه علاوه به د(سورې) په نامه ښځه هم د ښځې په پلرګنې کې ورکوي .

## تېښته

وايي چې د کرلاڼ نيکه د درو زامنو څخه يو تېښه وه، چې د محمد راڼ نيکه بلل کېږي .

کله چې کومه پېښه په لویه ساحه کې پېښه شي، نو د (پېټي، ټپې او ټېلو) په حساب بېل بېل خېلونه سره یو ځای کېږي او یو د بل مېله کوي. ښاغلی حکم خان چې د خوست دی او په قبیلوي روابطو کې د معلوماتو خاوند دی را ته وویل: چې «اوس د ټپې حساب چندان نه پالل کېږي، خو کله چې د ګونډي په برخه کې د پېټي او ټېلو حساب راشي، نو هلته د ټپې په رابطه د کرلاني دادرې پلاره سره یو ځای کېږي. په لویو جرګو او مرکو کې د ټپې پلار یو نماینده لري او هغه د ټپې د داخل څخه ټاکل کېږي» .

## ټېلو

ټېلو هم د کرلاڼ یا کرلاڼي نیکه زوی او د ټپې ورور. (ټېلو) د منګل نیکه بلل کېږي .

په ټېلو کې هم د ټپې په شان خېلونه یو د بل په طرفدارۍ دربږي. د لته هم د جرګې او مرکې پروخت د ټېلو له پاره د ټپې او پېټي په اړخ کې ځای ورکول کېږي. په ګونډي رابطه کې هم دادرې پلاره یوه لړۍ جوړوي. د منګلو بېل بېل خېلونه او پلرونه چې خپل تر منځ هر څو مره اختلافات لري، خو د ننګې پر ځای د ټېلو په رابطه سره دربږي. د خوست حکم خان چې د سرحداتو مامور دی په دې یادابښت کې وایي: چې «د ټېلو حساب اوس چندان نشته، خو په ترمنځه کې د ګونډي او جرګې پروخت د پېټي، ټپې او ټېلو حساب په ډېره پاملرنه پالل کېږي .

ج

## جرګه

قومي غونډه چې د فیصلې صلاحیت لري او حکم یې د منلو وړ وي .

په عام ډول د جرګې اصطلاح پر هره هغه غونډه کیږي کوم چې د قبیلوي مسالو د حل له پاره جوړیږي . دلته د جرګې او سر کې مفهوم بودی ، خو په خاص ډول جرګه هغه لویه غونډه ده چې په هغه کې د خیلونو مشران راټولیږي او دلویو قومي مسایلو په باب فیصلې کوي .

په جرګه کې ملایان (مذهبي پیشوایان) د ( سپین ږیریانو ) په نامه ګډون کوي او د خیر دعا د دوی کار دی .

نر ښیان چې د جرګې په قوانینو پوهوي هم ګډون کوي . جرګه په خاصو ځایونو کې او بالعموم پر مشهورو زیارتونو کیږي .

جرګه په ښکاره جوړیږي او پرسیره د جرګې پر جرګه والو نور عام خلك هم په یوه داسې فاصله کې کښیني چې د جرګې خبرې اوري .

په دغه وخت کې که څوك نظم خرابوي، د هغه له پاره د قبیلوي قوانینو مطابق ټاکلې جزاوې شته .

کله چې د جرګې په باب د متخاصمو طرفینو څخه یوه طرف ته د زیان خبره تکیه کیږي، نو هغه طرف خپل عدم رضایت د ډېرو په تکولو څرګندوي. دغه کار هم ښه نه ایدل کیږي او د جرګې د نظم د خرابوالي باعث یې بوالی، خو څرنګه چې په عنعنوي ډول دا رسم پاته دی، نو اوس هم ځای ځای او کله کله ایدل کیږي، خو په ښه سترګه نه کتل کیږي.

په هر مهم وخت کې جرګه جوړیږي او فیصله یې ټولو ته د منلو وړ ده.

جرګه یا د قبیلو تر منځ د تخاصم په صورت کې د روغې له پاره جوړیږي یا د یوه مهم کار له پاره د خپلو نو د اتحاد او تصمیم په غرض دایریږي.

د پښتنو د قبیلوي اتحاد یې د جوړښت په مرحله کې دوې لویې جرګې ډېر لوی نوم لري، چې یوه د ایراني تسلط د خاتمې له پاره د (مانجې جرګه) وه، چې په هغه کې د یولوی شمېر پښتنو او بلوڅو خپلونو مشرانو ګډون کړی وه او (میرویس) خان یې د (ګرګین) پر ضد کودتا ته مامور کړ. دوهم د کندهار په (شیر سرخ) کې د احمد شاه باباد انتخاب جرګه وه، چې د یولوی شمېر خپلونو مشرانو ګډون په کښې کړی و.

د مرکې مره د جرګې توپیر دا دی چې مرکه په وړو او کوچنیو مسایلو کې دایریږي او جرګه د لویو او مهمو مسایلو د حل له پاره جوړیږي. په جرګه کې د بیلو بیلو خپلونو مشران ګډون کوي او په مرکه کې د یوه خپل د بیلو بیلو پښو یا خپلخانو مشران راټولیږي.

د جرګې د فیصلو څخه تېری ډېر سخت مجازات لري او په لومړي سر کې یې کور سیځل کیږي.

جرګه یوه لویه باصلاحیته غونډه ده چې د ښېل د واحدونو صلاحیت لرونکی مشران پکښې راټولېږي او د دوی ګډ تصمیم په یوه پراخه ساحه کې تر تطبیق لاندې راځي.

په آریایي قبیلو کې همدغه راز جرګې وې او کله چې دوی د آریانا په آبادو ځمکو کې د رمو او کوچ بارګډه په مځکه (کښت و کر) بوختې شول، نو په قبیله کې د یوه لوی انکشاف سره (جانا) سبخ ته راغله، او (جاناپادا) د ټېر مشر په جنګي کوټ کې کښېنوست. په دغه مرحله کې دوی دوې جرګې پیدا کړې چې یوه (سابها) او بله یې (سمتي) وه. په دې جرګو کې په یوه کې عوام او په بله کې خواص راټولېدل.

د خېلونو یوې ټاکلې مجموعې ته چې په نسبي رابطه سره تړلې وي "ټبر" وایي. او په هغو لویو جرګو کې چې د لویو تصمیمونو له پاره جوړې شوې د ی د ټبر ونو نمایندګان ورتلل.

د جرګې غړي د سپین ږیري په نامه یاد ېږي او مشر هم ورته وایي. جرګه خاص مشرنه لري، بلکه غړي یې په مساوي شرایطو سره کښېني.

په جرګه ځای کې چې د جرګې غړي راټولېږي، نو غونډه په دایروي شکل جوړوي چې د پورته او کښته امتیاز پکښې رانه شي. د هغو مسالو پر وخت چې عمومي تصمیم نیول کیږي کېدای شي چې جرګه پټه جوړه شي په دغسې وخت کې د جرګې سیلانیان جرګې ته ورنږدې کېدای نه شي.

او که کوم څوك ددغه کار مرتکب وګرځي، دوسخت سجازات ورکوي په سجا زا توکی بېدو یري اوبرېت د خريلو څخه نيولې، تر کور سو ځلو اوحتی وژلو پوري عمليات شا سل دي .

په جرګه کی د تصميم د نيولو پروخت په مالګه، توره او قرآن شريف هم قسم سره کيږی، او دا مراسم داسی اجرا کيږی چی توله پرد غودرو شيانو لاس ايږدی او تصميم ته دوفاداری کلمات له خولې راباسی .

که د جرګې هغه غړي چی د پټی جرګې په تصميم نيولو کی يې برخه اخيستې وي او بيا د جرګې پټ راز ښکاره کړي هغه ته هم د ډيري خريلو ، کور سيځلو او وژلو سجازات ورکول کيږی .

د جرګې د جوړيدو له پاره هره قبيله جلا ځای لري او دا ځای تقدس هم لری او په ځينو ځايونو کی ډيرغ هم پرځول کيږي . د جرګې ځای سر خلاصی وي او په عمومی ډول دا ځای پر داك جوړ شوی وي چی د جرګې د نندارې له پاره د قبيلې توله خلك د هغه پرشاوخوا را تولېږي.

## جګړه

د مرګ تپ اوژوبلی عمل که د دوو کسوترمنځ پيښ شی او که د ډيرو ترمنځ واقع شی جګړه بلل کيږي .

جګړه يوخاصمانه عمل دی چی د ښمنی منځ ته راوړي او په ه د غسی

صحنه کې د دوستۍ بیرته اعاده جرګې او مرکې غواړي .

په قبیلوي جګړو کې د عمل شدت یا لکل زیاتوي او د مخنیوي له پاره یې سپین ږیکیان توري کتموي پرسرفیسې یا قرآنونه پرسرفیسې او د جګړې د ګرته و رتنو زی او په دې ډول جګړه په موقت ډول بندوي څو مرکه چیان د جوړې او روغې فرصت پیدا کړي . په دې ښې مرکه چیان یا جرګه وال ډېره (تیږه) ایږدي او دغه تیږه، نو یا موقتي وي یا دایمي . په دې ډول جګړه پای ته رسیږي .

## جمات

د اسلامي عبادت ځای ته جمات وایي، ځرنګه چې جمات ته قبیلوي خلک په تقدس قایل دي، نو اکثره کوچنۍ مرکې او جوړې په جمات کې کیږي. کله چې مرکه په جمات کې دایریږي، نو د خیرات له پاره د یو پسه یا وز کړي غاړې هم د جمات په دوره کې پرېکړي او د جمات د دروازې پر چار چوب د وینو یو څاڅکی وکړي څو د دغه خیرات په برکت د دوی جوړه او روغه منځ ته راشي .

کله کله بیا د مرکې د پرېکړې څخه وروسته دا خیرات کیږي، البته په دې صورت کې دا د شکر خیرات وي چې په جمات کې کیږي .

جمات د قبیلې د خلکو ترمنځ د اطلاعاتو د مبادلې ځای هم دی د مازدیګر

او ماښام د لمونځونو د وخت ترمنځ کلیو ال خلک جمات ته راتو لیږي او هلته دیواویل له احوال څخه خبر ېږي .

## جمع (جمه)

د محدرانو په اصطلاح کې جمع یا (جمه) د جوړې او روغې تو لنې ته وایې . هغه تو لنه چې د پر یکړې په منظور جوړ ېږي هغه جمع بو لی . جمع د جرگې او سر کې په مفهوم هم اخلی ، خو دا کلمه محلی رنگ لری او هر څه چې جرگه او سر که ده هغه عمومی کلمه ده چې د پښتنې قبیلو په ټولو سیمو کې رواج لري . په لوید یځو قبیلو کې د غسې سر کې یا جمع ته مجلس وایی . جمه یا جمع د متخاصمو خواو په غو ښتنه جوړ ېږي او زیاتره مذهبی نماینده هم پکښې شامل وي . په عمومی ډول د جمع څخه دا مفهوم ډېر اخیستل کیږ ي چې د جرگې یا مر کې لوړ ني مقا مات برابر شی . د مر کې او جرگې غو نډې ته د جمع نوم ور کول شوی دی . دا کلمه (د دري خیل عبدالله خان) څخه او ریدل شوې او اخیسته شوي دي

## جوړه

د روغې مفهوم ور کوي . په عمومی ډول کله چې دو ې خوا وي د مر کې په پریکړه قناعت و کړي دې ته جوړه وایي .

په دې ځا ی کې جوړه او روغه دا توپیر لر ي ، چې جوړه د مر کې په

پرېکړه قناعت دي او روغه د جرګې په جوړه قناعت ته وايي .

لکه د مرکې او جرګې ترمنځ چې د مفهوم کوم تو پیر موجود دي ، نو د جوړې او روغې ترمنځ هم د غومره توپیر شته .

کېدای شي چې د جرګې په پرېکړه هم جوړه وبلل شي او د مرکې په پرېکړه قناعت روغه بولی ، خو دا یې ورو ستي اشکال دي او داسې مفاهیم د تعاملی قوانینو د رواج له ضعف څخه د محل په لحاظ استعمال ته تغیر ور کوي .

## جولا

جولا کلیوال اودونکی (اوبدونکی ) دی .

په قبیلوي ساحه کی د جولا موقف د پښ او چڅګر سره یوشی دی .

د قبیلې عام خلك د جولاګانو سره دواده دوستی نه کوي .

د جت او جولا نوم یوځای یاد یږي . جولاګا ن خپل ترمنځ ځا نته دود او دستور لري . استاد پوهاند رشاد وایی : چې ځینی پښتانه یې *(د ور

*خوشال خان ویلی دي :

چې د هر دو ړیې ښوا وبدو ته هوس کاندي

د زربفتو هنر چیری د ی آسا ن

په پکتیا او د سپین غره په خوګیانو کی دا کلمه اوس هم رواج لری ، ځینی کسان وایی دو ډخاص کمبلی اودونکی ته ویل کیږی ه ( رشاد)

هم بولی) .

نوموړی دامتل هم راته یاداښت کړی دی : «جولا شوی نه یې، پیا ایچې غلا کوې» جولاګان هم دبلې سیمې دقبیلو څخه وي او رنګونه یې هم دقبیلو دخلکو سره توپیر لري ، په قبیلوي اشرافیت کې د ا د یو قبیلوي سړي پر شان تېری ګڼل کیږی ، چې هغه ته دجولا خطاب وشي .

جولاګان خامتا اویي او دهلمند په (تاګرش) کې د کیږد ی د پاره تاګی اودل ددوی کاردی . ددوی سره په پښتو کې جرګه اوسرکه نه کیږي .

# چ

## چپاول

چپاو او چپاول د واړه ناڅاپي حملې ته وايي. کله چې د دوو خپلو نو ترمنځ بدي وي، نو د چپاول مرحله يې هغه ده چې نهايت د ښمنۍ ته ورسېږي .

چپاول ته په نرخ کې په ډېره بده سترګه کتل کېږي او دا کلمه اکثره د خارجي يرغلګرو له خوا يا د هغوی پر ضد د دغه عمل د انجام په وخت کې استعمالېږي .

## چپه پا تا

چپه پاتا یوه ډېره لویه شړاده . داعمل د یوه لرغوني دود میراث بلل کېږي په لرغونو قبیلو کې چې به په قبیله کې یو بد سړی پیدا شو، نو دقبیلې څخه د هغه دطر دولو له پاره به په سرکه او جرګه کې داتصمیم نیول کېدی . دلویو قبیلو په ساحه کې که یو بداغامه کهول یا پېښه هم دقبیلې له چوکاټ څخه ایستل کېدله ، نودا تصمیم به په جرګه کې نیول کېدی . دغه چپه پاتا چې اوس د شړا په مفهوم اخیستل کېږي د یو سړي یا کورنۍ دشړلو او طردولو په مفهوم هم راځي .

په ځینو قبیلو کې چې په جرګه یا سرکه کې دغه ډول تصمیم نیول کېږي ، نودوی راتو لېږي او دتصمیم تراعلان وروسته ، ددعا په شان لاسونه چپه نیسي او یو مشر چې اکثراً ملاوي، دغه تصمیم ووایي او بیالاسونه پر ږ یرو تېر کړي او په دې ډول هغه تنا کلی سړی یا کورنۍ وشړل شي .

## چچګر

دچچو نو او غلبیلونو جوړوونکي او خر څوونکي چچګر بلل کېږي . چچګر هم یو کاسب دی او د کلي دغنمو اودانو پا کولو له پاره عمده وسایل تهیه کوي' خوقبیلوی اشرافیت هغه ته په لوړ نظر نه ګوري

چچگران په لویدیځه خوا کی اکثراً چتیان وی.
خوشحال ختک دچچگر په باب د اسی وایی :

مه خوشحال وای مه ختك وای مه خانی وای
چچ په لاس وای مسلی وای خوځوانی وای

. چچگران هم د چتيانو په شان د اصیلو قبیلو کفو نه بلل کیږی او د وی خپل تر منځ دود او دستور لری . د د وی پیښو ته هم جرگه نه جوړیږی او که زیان ورو رسیږی د قبیلې کفوه یې و رجبیره کوی ، خو که یو کوچنی تیزی څنی ، شی نو وژل کیږی اوقتل یې پور هم نه لری ، خوداسی وضع په ندرت پیښیږی .

## چړی

چړي دمسجد (جمات) خادم دی . چړي دملا سرستیال هم وي . دجرگې او سرکې پروخت چړی دجمات په ور کی دریږی اودخیرات په وېشلو کی دسرکه والو سره مرسته کوي .
داستاد پوهاند رشا د یاداښت :

«چړي دطالبانو او ملا یا نو له پاره ډوډ ی هم تولوی ، د غه ډوډی چی په دروېزه یې تولوی چړ بلل کیږی . » *

---

* چالره په تخت کېږدی غوری د پلاوونو چاته په کوخه کی برخه ور کاندی له چړه

(جناب کاکا خیل)

دغه ړوندي ته په لویدیځه خوا پښتنو کې توك وايي. په کلي کې که څوك مړ وي، نو دعا مو خلکو د خبر تیاله پاره چړی په کورونو گرځي او خلك خبروي. کېدای شي چې یو چړی طالب شي او بیا ملا ځني جوړ شي کله کله چړیان د ژوند تر پایه د چړیتوب په حال کې پاتېږي. په عامه عقیده کې وايي چې چړیان، په دې جهان کې جماعت پاکوي په هغه بل جهان کې به دوی د جنت خادمان وي.

## چغه

چغه د ډول هغه ډنگولو ته وايي چې د خطر پر وخت وهل کېږي.

چغه چې کله وشي (یعنې د خطر ډول چې ودنگېږي) هر څوك مکلف دی چې لومړی ځان تر کوره ورسوي او خپله وسله را واخلي او بیا د چغې ځای ته را شي.

د چغې پر ځای د ډول وهل کېږي او پر ډاله اتڼ راخپوروي، دغه کسان چې راځي په اتڼ کښېوزي، څو په دغه اتڼ کې د جگړې خواته وخوځیږي.

کوم څوك چې د چغې ځای ته حاضر نه شي پر هغه ناغه اوړي او په مهمو وختونو کې دغه جرم دومره دروند وي، چې حتی کور یې هم سوځل کیږي.

متل دی،چی وایی :(دغیمی شپې چغه به څه نه وي!) دامتل پخپله داښيي چی چغه همېشه د خطر پروخت وهل کېږي .

په هغو قبیلو کی چی قبیلوي دود اودستوربې پرلرغونی حال پاته وي ،دچغې دول په داسی هنر وهل کیږي ،چی هرڅوك د واقعې او پېښې نوع هم درکولای شي ،مثلاً هغه دول چی پرقبیله یا کلي دچپاو دراتګ خبر اعلانوی دهغه دول سره توپیرلری چی دسېل یا اور دخطر اعلان کوي .

دوی په فوري حال کی دچغې داوریدلو سره په دې پو هیږي چی توپك را واخلی ،که یوم .

دچغې په اوریدلو سره هغه کسان چی د پرژر ځان دول ته رسوی ننګیالی بلل کیږي ، خو کوم کسان چی تال اوتېل کوی او ناوخته حاضریږي ،هغوی ته په سپکه ستر ګه کتل کېږي اوسجازات ورکول کیږي . دچغې اصطلاح په ختیځو او د جنوبي سیمو په قبیلو کی شته، او په لویدیځو قبیلو کی ناره کیږي . په ځینوقبیلو کی سرناوهل کېږي.

## چورۍ

کاکړان (چورۍ) پېغلی ته وایی .

په ولسی نرخ کی چی دپېغلی له پاره کوم حقوق اومقررات شته،

هغه دچوړی له پاره هم شته .

داد نازنوم دی او هغه پېغله چې ډېره مجلسی او غزلخوانه وی، هغې ته چوړی وېل کېږي . په کور کی دچوړی ساتل د پلارله پاره عیب دی، یعنی کله چې ښځه دچوړی حال ته ورسېږي بایدمېړه ته ور کول شی . چوړی نجونی پخپله هم ځان ته مړونه تا کلا ی شي او دا یوا زنی امتیاز دی، چې کا کړي پېغلی ته په نصیب د ی چې مور اوپلارته دخپل راتلونکی مېړه په باب مصلحت ور کو لای شی .

چوړی نجونی په میلو اوودونو کی خوشحالی جوړوي او وایی:
هلته چې چوړی وي، نوهلته غم نه وي .

# څ

## څړ

څړ د لغت د معنا په لحاظ دري له (چراګاه) سره برابره کلمه ده او څړ ځای (چراګاه) ته وایی. خو په اصطلاح کې هغه پړې او لرګي دي چې سر کښېنه غو یې په تړل کیږي. په عامه اصطلاح کې کله چې په قبیله کې یو ډېر سخت ماجرا جو په سړی پیداشی، نو تعقیبوونکو ته بې وایي چې، په څړیې وتړي.

پر خپل سرد بوچاله خوا بل سړی تر ځړلاندې نیول، د تدري په جمله کې راځي. که څوك داسې کار کوي، هغه د ولسي نرخ له مخې مجرم بلل کیږي او د تاوان او ناغې په ورکړه مکلف کیږي. هغه کسان

چې دڅړ وظیفه دقیبلې دمشرانو په امر پر ځای کوي ، او که ترڅړ لاندې سړی و وژل شي تاوان نه لري او و رته بې دڅړ دوظیفه اجرا کو ونکی څخه بدله نه شي اخیستلای .

## څړ ځای

څړ ځای د (څړواو ) له پاره اوړ شوده . په څړ ځایو نو کې د هرقوم خپل تیك معلوم دی . که څوك د بل پرڅړ ځای تیری کوي ، هغه په نرخ کې یو پور پر غاړه اخلی .

داڅړ ځایونه د پخوا څخه معلوم دي ، ولی تراوسه لا هم په څړ ځایونو کې شخړی او لښکر کښی کله کله کیږی .

په بدی کې کله کله د څړ ځایونو د وراندو کار هم کیږي ، خود غسی زیان ته په ډیره بده سترګه کتل کیږي . په هغو څړ ځایونو کې چې غټ وابښه کوي ، نو هغه چې وچ شی په ژمی د مالونو خوراك وی . په بدی کې د غسی څړ ځای ته که اور ورا چول کیږی ، نو دا یو ډیر سخت تاوان اري . دا کار که په سهوه شوی وي نو تاوان نه لري ، خو مرتکب یې ترټل کیږی .

## څړه

هغه مجر د خوا ری کښ چې دمزد وری له پاره له ملك څخه

وزي ، ځړه بلل کیږي. داد غزني او کندهار ترمنځ د پښتنو اصطلاح ده. * د غه کسان چې دمزد وری له پاره له ملکه وزي خپل وطن خراسان بولی او د وی هم د خراسانیانو په نامه یادیږي .

څرنګه چې ځړه همیشه دمزد وری دخوا دمالونو اوپیسو سره راځی ، او که د هغه لاریو ل کیږی نه یو ازې د عمل مرتکب ته د غله په سترګه کتل کیږي ، بلکه په قبیله کی د عامه امنیت په لحاظ بیره و ځړه ته دغلا دمال ترور کړي د د غسی غله پ یره هم ورخر بل کیږی.

هغه قبیلې چې ځړګا ن بې نو رو سیمو ته د خوار ی د پاره ځی، قبیلو ي قدرت یې ډیر ټیټ وي اودغسی ګار دقبیلوي اشرافیت منافی هم بلل کیږي .

---

* «ځړه» په لغت کی هغه سړی ته هم ویل کیږی چې ماندینه ونه لري، بې باروبنې سړ ره هم ځړه بولی. عبدالقا در خا ن ختک و یلي دي :

ته به ځر نګ په دا هو مره شتاب دروم

دغه لاره دځړه د یکه تا ز ده

ځړه دخالص اوفقط معنا هم لري، رحمان با با ویلی دي:

لوی اسمان توره تبی شه هلک لمر ځړه انواردی

ځړه دګو ښې او یوالې (یو ازی ) معناهم لری (رشاد ) .

## ځلور گوتې

دچړې ، خنجر اوتوري (تېغ) په تپ کې دزخم معيار ځلور گوتي دی. که تر هغه کم وي لږ پوراو که زيات وی ډ بړپوره په نرخ کې تاکل کيږی .

کېداى شي چې يوسړى پرداسې ځاى تپ واخلى چې هغه محرم وى اوښکاره کول يې شرم وى ، نو په دغسې وخت کې تپ ترځلور وگو تو زيا ت گڼل کيږی . که څه هم کم وي ، خو په دې لحاظ چې دشرم ځاى يې زخمى کړى وى ، نوهغه ته لوړ معيار نيول کيږی.

ديدن په پيلوپيلو برخو کې دځلور گو تو زخم ته بيل بيل تاوانونه تاکل کيږی او په تعاملی نرخ کې داهره برخه تاکلی ځاى لری .

## ځلو ېښتې

دا کلمه دځنګلوتو دساتنې په برخه کې دقبيلوى مقرراتو يو اصطلاح ده. ځنګل دقبيلې شتمنى ده اوساتنه يې هم په ټولو اړه لری. کله چې د پردېو له خوا پر ځنګل بر يد و شى ، نو د (مير) په لار ښوونه يوه ډله چې شمېر يې تر پنځلس تنو زيات وى ، موظفه کيږی ، چې د تيري کوونکو مخه ونيسى . دغې ډلې ته ځلويښتې وايی . دغه خلك په داسې حال کې چې مسلح وى ، سهار تر لما نځه دمخه په يوه تاکلی ځاى کې تو ليږی

ا و ترلما ځه وروسته دځنګل خوا ته حرکت کوي .

کوم کسان چې په ځلویښتي کې وټاکل شي او ولاړنه شي نو ناغه په ورکوي. دغه ناغه تردوو سوو افغانیو پورې رسیږي (۱)

دغه عمل ددباندنیو ښېرونکو پاملرنه جلب کړې ده او دځلویښتې په نامه یې راوړی، خو صحیح شکل ځلویښتي ده .

## ځلی

ځلی دقبر شنختې ته وایي ، خو دقبیلوي تملاملاتو په برخه کې ځلی دهغې ناديې وښبر ګېدوته وایي، چې لومړی يې د(ساز) په نامه اخیستې وي او وروسته دغه ساز مسترد کړي او د(وار) په نامه خپل انتقام (غچ) ته چمتوشي.

کله چې داسې وا ورو (پلانکی ځلی ورکړ) ، نوددې معنا داده چې، هغه ساز چې يې دجوړې په وخت کې اخیستی وهغه يې مسترد کړ.

او په دې پسې نومدعي په دې پوهیږي چې تربرید لاندې دی. کله بیا دمدعي څخه دوار اخیستلو وروسته ځلی ورکول کېږي، خوداشکل یې ډېر لږ پېښیږي او که یې ورهم کړي، نوېره ورا وړې او تاوان يې برذمه درنېږي .

(۱) دفولکلور مجله، د ۳۰۲ ، کال دوهم اود ريمه ګڼه ٦ ٥ مخ.

## ځلی ړنګول

کله چې د دوو داسې متخاصمو خواو ترمنځ جوړه وشي چې په پخوا-
کې د واړو خواو یو په بل کې مړي سره کړي وي، نو داسې جوړې ته
ځلی ړنګول وایي .

د ځلی ړنګول اصطلاح په خاص ډول هغه وخت استعمالیږي چې،
د دوو خواو ترمنځ مکرر قتلونه سره شوي وي .

ځلی د قبر شنختې ته وایي او کله چې د ړنګولو کلمه ورسره یو ځای
شي ،نو دا مفهوم افاده کوي چې نور به یو د بله نه سره وژني .

د ځلی ړنګولو عملیه د پسو نوا و خیرا تونو په بدرګه کیږي . په
ډېرو موارد و کې د ځلی د ړنګولو سره د غه د واړي خواوي یو و بل ته د دوستۍ د
ټینګولو له پاره ښځې هم په نکاح سره ورکوي .

## ځلی ورکول

ځلی ورکول د ځلی سره یو مفهوم لري او هغه عمل دی چې د مړي
ساز (دیت) بیرته مسترد شي . د غه کار پخوا په ارخ کې ډیر رواج و،
خو اوس ترخیانو د غه رسم ډېر بدګڼلی او که کوم ځوك دا کار کوي
نا غه پرا یږدي .

په هغه وخت کې چې یو ځوك ساز ورکړي او روغه وشي ، نو د

دمقتول ورثه بیاد قاتل پرخوادتیري حق نه لري، ځو که یې سازمسترد کړ، نو بیا خپل واراخیستلای شي. ځو که یې دځلی ورکولوعملیه اجرا کوله، نو دا په تاوان کی دروند والی راولی. په‌عام ډول دځلی ورکولو عملیه کله کله د امی هم کیږي، چی یوڅوك دخپل واراخیستلوتوان نه‌لري اوځلی‌اخلی، ځو کله‌چی‌یې‌توان پیدا شی‌نوبیاځلی‌بیرته ورکوي اوخپل واراخلی.

## څوری

څوری‌ډوډی ده، په خاص‌ډول‌دشپانه ډوډی څوری بلل کیږي. کله چی‌لیږکر کښی کیږي، نو هغه‌ګډه‌ډوډی چی په شلاوونه‌تیاریږي، هغه ته‌هم څوری وایی.

په جګړه کی څوری دیځوله خوابر ابر یوي اودجګړې‌ډګرته‌یې وړو ړي.

دقبیلوي‌تعامل‌سره‌سم هغه‌څوك چی‌څوری‌رسوي، نودجګړې‌په‌ډګر کی مصؤنیت‌لري. دانو که نارینه‌و هم‌دغه‌مصؤنیت‌لري. خوپه بنځوقطعی کار نه لري.

که په جګړه کی‌پرڅوري‌رسوونکی تیری وشی نو کله چی روغه کیږي هغه خوا چی څوری‌رسوونکی یې ضایع شوی وي دمقا بلی خوا څخه دتاوان اخیستلو حق لري.

څوری‌رسوونکی چی د جګړې په ډګر کی ګرځي ،نوترڅوچی‌دوی خپل کا ر خلاصوي‌ډزي هم بند یوي.

# خ

## خان

دقبیلې مشر خان بولی . خان دجرګې اوسر کې غړی و ي ا و په ځینو وختونو کی پخپله هم امر کوي اود قبیلې نور غړي به یې اجرا کوي. خان د کلا اوستړخوان خاوند وي او اُو جره هم لري . غیر تمن خا ن ته د شملې خا وند وایی .

په هغوځایونو کی چی اولسی تعا ملات په پخوانی بڼه قو ي پاته وي، هلته(میر) داقتدار مرجع وي ،خوپه کومو سیمو کی چی د اتعاملات یوڅه سست شوي وي ، نوخان اوخانی په قوت کی وي . د پښتنو په لویدیځه اوختیځه خوا قبایلو کی خان دقبیلو دمشر دصفت نوم دی .

خانی یوه داقتدارموسسه ده چی دقبیلې دمشرتر ادا ره لاندې وي، د غه مشرته خان ویل کیږي .

په اولنیو قبیلو کی چی دشخصی ملکیت شرا یط پوره نه وه ورته برابر شوي ، دغسی مشر به په جرگه کی ټاکل کیږی ، خووروسته دغه مشري عمري اوبیا پسی میراثی شوه . په قبیلوي هغسی ژوند کی چی نسبی اتکا یې پر محکه تکیه شوې وي،دخانی موسسه په د پرصلاحیت کارکوي . دخان صلاحیت دهغه په ملکیت اوسرو کی کل اختیاره وي. خان دقبیلې نورخلک دخان اوخپل ملکیت دساتنی له پاره دعز بزا نو په نامه ساتی .

خان یوه منگولي کلمه ده اودمنگولی تها جماتو سره دغه د مشری عنوان دمنگولیا څخه ترچین ، خرا سان ، هندوستان اوخوارزم پوری په ټولهسیمه کی خپورشو .

دادمشری لقب چی دمنگولي تهاجماتو له دورې څخه پښتني قبیلو ته ورسیدلی او ورو ورویې ځای ونیوی .

پښتنې قبیلې چی په گرځنده حالت کی دیوې سیمی څخه بلی سیمی ته سره تیریدل ی ، نوپر نوبو محکو چی به یې اړول ، هغه به یې دمشرتراد ا رې لاندي ابادولاه . دغه مشر دشرایطو په ایجاب باید دپر سرتیر هم وای

او داد ماجرا جوی روحیې ، د غه عنوان ته لا ربرابره کړه .

ددغسې قبیلوي خانیودماجراجو یانو داعیا اومثا لونه دپښتو په شفا هې کیسو کې خوراډېردي . دادمخان او درخا نۍ کیسه دقبیلوي خانیو ډېر ښه تصویر وړا ندي کوي .

په دغه کیسه کې دخاني موسسه اودهغې سره دعرف اوعاداتو په برخه کې قضایي عرفي روابط هم تشریح کېږي

دقبیلوي خانیوسیالی ، رقابتونه ، اوحقوقي تعاملات په دغه کیسه کې په صفایي تصویر شوی دی .

په پښتنې قبیله کې خان دعرض مرجع ده ، هغه جرګه یا مرکه را - غواړي . په ځینو سیمو کې چې اقتصادي قدرت یې زیات شوی وي خان دمرکې خرڅ هم پخپله ورکوي ، په دغسې قبیلو کې خا ن پرجرګه او مرکه خپل نفوذ هم ساتي اودغه عمل پخپله دجرګې دصلا حیت په محدودیت اودعمر په اندازه والی کې اغېزه لري .

کله چې خان دملک تر عنوان لا ندي راشي ، نودادخاني دوروستي ساختلو وخت وي ، ځکه په ملکي کې دی ددولتي ادا رې دیورابط وظیفه دا ر په حیث موقف نیسي .

د(میر ' اوا ربکي سیستم ) چې ترخا نۍ پخوا نی مر حله بنیي په (پور کوټي ، منګلو ځدرانو) اودجنوبي سیمو په ډېر وقبیلو کې تر دا نژد ې

وختهپوري و .د هم‌دغه‌سیستم په‌ارخ کی‌خان راوزېږېدی‌ه،دی‌او هغه سیرچی په جرگه انتخابېدی‌ه‌دمطلق مشرپه حیث خان و بلل شو .

مغولی دربا ر ونو که په چین کی وه که په هند کی،د غه لقب دقبیلې‌مشر انو ته په‌دولتی اعتبارورکاوه‌اونورختیځود ربا ر ونوهم د هغو په‌تقلیددا کاررواج کړ .

ددولتی لقب‌خاوند( خان) دځپلی کتمه گوری په‌تناسب‌د ربارته د جگړې پروخت قومی لښکربرابراوه.دخانانوپرسر یولوی‌خان هم مقررېدی چی هغه ته به یې (خان خا نا ن) وایه .

د پښتنوپه‌ټولو قبیلو کی‌مشرته‌خان‌وایی ،یوازی په هغو محد ود و قبیلو کی چی قبیلوي حالت یې پراولئي حال دی د(میر) یا (مشر ) په نامه یادیږي .

دخان‌دموقف‌اوقبیلوي‌صلاحیت‌دحدودوپه‌باب‌الفونستون‌داسی‌وایی:

«دخانی قدرت په سځکه ، دقبیلې په‌فزیکی قوت اوددربارسر ه په وفا داری‌ولاړ دی. ترهغه‌وخته چی ددربارسره‌دخان‌وفاداري‌وي‌دی ددربار په حمایت کی دی ،خو کله چی یې دغه وفاداري‌لږشی، نودر با رد هغه رقیب‌چی سیا ل ترېورېږ وي ورته راپورته کوی په‌ځینوځا یو نو کی خان د پاچاله‌خوا اوپه ځینو سیمو کی داولس‌له‌خواټاکل کیږی،

خوپه دېدوارو صورتونو کې د مشرتوب له پاره عمر ، تجربې او کړ کتر ته ارزښت ورکول کېږي . کله چې خان مړشي د هغه زامن او وروڼه زيار باسي چې په قبيله کې د خان له پاره گوند ونه پيدا کړي او د کانديد په وخت کې هر يو د يا رته وفاداري ښکاره کوي او وزيرانو ته بډي او رشوتونه ورکوي . کله چې يو کانديد کامياب شي ، نو نا کام کانديد د يو رقيب په حيث د هغه په وړاندې دريږي او د هغه پر ضد په دربار کې دسيسې ورته کوي ، کله چې نا کام کانديد تخر يبونه کوي ، نو د کامياب کانديد د قبيلې هغه برخه چې له ده څخه خپه وي د نا کام کانديد په ملا تړ دريږي او په دې ډول هغه له پښو غورځوي .

خان د مالياتو د راټولو لو ، عسکري خد مت ته د افرادو د ور کولو او د اشان د نورو و ظيفو سره د غير مستقيم عا يدا تو په و جه ډېر نفو ذ پيدا کوي» ( ۱ )

---

( ۱ ) دوږ مې مجله ۱۳۵٦ کال دوهمه گڼه ۷۲ مخ — ا لفو نستو ن (د کابل سلطنت ) د کتاب ليکوال چې په ۱۸۰۹ م کال کې يې د مدوزی شاه شجاع سره (د پېښور ترون ) لاسليک کړ يو معتبر انگلسي مؤرخ او سياسي مامور و . ده په خپل کتاب کې د پښتنو د قبيلو ی جوړښت په تر خ کې د خاني موسسه هم څېړلې ده او د خان موقف او صلاحيت يې په يو ه ښا کلي چو کاټ کې ښوو لی دی .

## خبره

خبره دقول او وعدې په معنا راځی او دژبې سره یو مفهوم لری . وایی چی (دمیړهخبره یوه وي) . خبره او دکاکړا نو (ګایه) تقریباً سره نژدې مفهوم لری .

په ځینوموادرد و کی خبره او خوله هم یو مفهوم افاده کوی. کوم سړی چی دخپل قول اوعهد څخه ګرځی ، نو دهغه پهحق کی ویل کېږی چی داسړی پرخپله خبره نه درېږی یادخپلی خبری څخه ګرځی، دخبری سره کله کله دپخې کلمه هم راځی مثلاً (دپلانکی خبره پخه ده) یعنی پرخپل قول اوعهد ولاړ دی .

بده خبره دښکنځلو او ناخوالو په معنا هم راځی مثلاً وایی:«دتوري ټپ جوړېږی،خو دبدې خبری ټپ نه جوړېږی»

## ختاوه

ختاوه دګردېز لویدیځ خواته دشپږ کیلومتری په فاصله واقع ده (۱) چی احمدز ي پکښې اوسی .داځای په ټولو احمدزو کی شهرت لری .

(۱) پښاغلی محترم عبدالرحمن پژواك پهیوه مقاله کی چی د ۱۳۱۸ په کالنی کی یې خپره کړې ده ختاوه د کند هار په ارغسان کی بولی . ولی ختاوه همدغه دګردیز داحمدزو ختاوه ده .

کله‌چی په‌خورا لیری ځای کی احمدزي په‌بدي اخته شی، نووایی: چی د (ختاوې څخه یې پرراوډنگوه) یعنی هلته خبرور کړی چی عزیزان راشی. داسی معلومیږی چی ختاوه د احمدزو یوعمده سرکزدی. وایی چی داحمدزو نیکه (احمد بابا) اصلاً دختاوې و. په ختاوه کی یوازی احمدزي اوسی او په احمدزو کی چی کله درنه جرگه جوړیږی ،نوهغه هم په ختاوه کی کیږی .

## خلات، خالوت، خلوت

خلات، خالوت او خلوت درې سره یوه کلمه ده،چی په بیلو بیلو لهجو سره ویل کیږی .

کله چی په یوه متنازع فیها مساله کی سرکه‌چیان په‌پریکړه بریالی شی او دواړه خواوی قناعت په وکړی،نودتحفې په ډول سرکه چیانو ته یوڅه ورکوی چی هغه خلات ، خالوت یاخلوت بولی .

د خلات یا خالوت دا تادیه دلسو روپو څخه‌تر لسوزرو روپوپوري وي او کله کله جنس هم ورکول کیږي .

دغه خلات ، خالوت‌یاخلوت هغی تادیې ته‌هم ویل کیږي چی دولور په شان دزوم له خوا دناوي ماماته‌ورکول کیږي

د پکتیا په‌ټولو قبیلو کی ماما دوریرې په ورکولو کی د خلات

حق لري او که ورته ورنه کول شي، هغه کولای شي چي ښځه راو وګرځوي. *

## خوله

خوله دخبري او ژبي سره يو مفهوم لري. وايي (خوله يې راسره کړې ده) يعني وعده يې راسره کړې ده. *

دخولې څخه ګرځېدل دمېړانې طريقه نه ده. څوك چي خوله کوي بيا نه تړې ګرځي. دخولې سره لکه دژبي او خبري سره چي دښه او بد کلمات ملګري کيږي هم راځي. مثلاً وايي: (پلانکی دبدي خولې خاوند دی)

(په سرکه او جرګه کي بايد خوله سمه وښوروي) يعني سمې خبري وکړي.

په مجازي ډول خوله دخبرو معنا هم ورکوي، مثلاً وايي:

(پلانکي په سرکه کي خوله نه ښوروله) يعني خبرې يې نه کولې.

(ياپې خوله چاپکه چاپکه ښوروله) يعني، ژر ژر يې خبرې کولې.

---

* خلات هغو بخښني جامو ته هم ويل کيږي چي داميرانو له خوا چاته وبخښل شي. محمد ګلاب ننګرهاری ويلي دي:

دمغلو خلات واغونده سر دارشه | خمرو شر دخان و بېړنه هوښيا رشه

د مغلو د پاچهي په دورو کي خلاتونه په دريو درجو ويشلي و، لومړۍ درجه خلات شپږتوکه، دوهمه درجه پنځه توکه او دريمه درجه خلات درې توکه وو (رشاد)

دخولې دپوروړ دو دمرکې یادونه چې کیږی، نومعنایې دا ده چې څه مرکه‌چې دواړي خواوی‌خبری‌یکښې کولای شی .

## خوله کړول

څه بې وسه‌سړی چې په بدي اخته شی او دبدی‌توان‌ونه لری ، نودمرستی‌د پاره‌د خپل خپل اوقبیلې‌نوروته‌مراجعه کوی ، د ې‌ته نو خوله کړول وایی .

کله‌چی کوم څوك دغسې کاروکړي‌نووایی‌چی‌خوله یې کړه کړه. څوك‌چی خوله کړه کړي د څه سره حتماًمرسته کیږي اووایی :

(پلاڼکی خوله کړه کړه اوخپل کام هې په‌پله ود رپدی)

په عام ډول خوله کړول دقبیلوي‌غرور څخه‌لیری کا ربلل کیږي، نوځکه‌داسې کارپه‌ندرت کیږی‌او که څوك‌داسې کار کوي‌د هغه له‌قبیلوي عزت‌څخه هم کمی‌راځی. د هر ځاله چی‌چا خوله کړه کړې وی نو هغه په خپل کار کی بریا لی شوی هم‌نه وي .

## خوله ماتول

دواك په مرکه کی چې کله مرکه چیان‌پامرکزن کومه‌فیصله وکړی،نودفیصلې(پریکړی) ابلاغ‌ته خوله‌ماتول وایی.ددغی‌پریکړي څخه یوه خواهم مخ نه شی گرځولی او وایی، چې خوله یې ماته‌ده.

کله چې خوله ماته‌شی،یعنی‌دواك دمرکې غړي خپله پرېکره‌واوروی، نو په دغه تاکلې قضیه کی بیابوه خواهم دشکایت‌حق نه‌لری اوبله مرکه هم نه پرجوړ یږی .

کله کله چې مرکه داسې پرېکړه وکړی‌چې دواړو خواوته د منلو وړنه وی ، نو کېدای شی چې بله مرکه پرراوغواړي . په‌دغسې مورد کی نووایی چې ، مرکه یې دخولې ماتېدو ته پرې نه ښووله . په عامه اصطلاح کی وایی،چې خوله یوځل ماته‌شی بیا باید ونه‌ښوری ، یعنی دمرکې پرېکړه بیا بد ومنل شی .

## خون

خون قتل نفس دی،چې په اکثرو ځایونو کی مړینه‌ورته وایی . خون‌دقتل په‌وخت کی د(دیت) یوه‌تاکلې‌اندازه هم ده ، چې‌تر خپا ن دغه په قرار دقاتل پرذمه دمقتول دیت تاکی .

خون‌دداغې یوه تاکلې اندازه‌هم‌ده‌چې‌دژوبلی‌پروخت‌استعمالیږی . دمثال په ډول، که یوځوك دچایوغوږ پرېکړی ،نودنیم‌خون‌پورپرذمه اخلی‌او که‌دواړه غوږونه‌یې پرېکړي، نوپوره‌خون باید تادیه کړی . ددې‌جملې‌څخه‌دټولو اندامو له پاره دخون‌په مقرره‌نرخ موجود دی .

## خوږه

خې دمراتبي او سټې په شان یوشدید عمل دی، چې په وزیرو کې رواج لري. په خې کې د کورنارینه وژل کیږي او دا کار په ډیره بې رحمۍ سره کیږي.

دخې عمل پخوا خورا ډېر و، خو اوس بې سخه بنده شوې ده. خې په یوه خېل کې نه سره کیږي، بلکه خېلو نه چې په بدې سره اخته شې، نو دخې عمل اجرا کیږي.

په کیسو کې هغه قبیلې معلومې نه وې چې خې پرشوې وې او پرچا چې خې شوې وې نوری دوستی قبیلې مرسته ورسره کوی. وایی چې پر چا خې شوې وی، نو که یې پرمینه یونازو کړې هم ترخې وروسته وزیږي هغه به هم وار اخلی او په (دوړو) کې بوه خې شوې وه چې پنځه ویشت کاله وروسته دد غې کورنۍ یوه ځوان، دځوانو بنځو په ملګری پرهغه قبیله خې و کړه چې ددوی خلک یې وروژلی وه.

## خیرات

خیرات دلغوي معنا له لحاظه دصدقې مفهوم ورکوي، خو په تعامل کې دخوښۍ دفدیې په ډول دغوایې او پسه حلالولو ته خیرات وایی او دا کار نه یوازې په نیکوورځو کې دمذهبي عنعنې مطابق کیږي، بلکه

دجرګې اومرکې پروخت د غوایې اوپسو نو حلا اوته هم خیرات

ویل کېږی .

وایی چې خیرات ، ر دېلادی. یعنی دآفاتودمخ نیوی له پاره خیرات

یوه وسیله ده .

کله کله جرګه دخیرات فیصله کوی، هغه د'سې چې ناروغی داو

چکالی پابل آفت پېښېں شوی وي، نو ملاد قبلې مشرانو ته دخیرات

توصیه وکړی.او هغوی جرګه جوړ کړي اوپه دغه جرګه کې د خیرات

تصمیم ونیول شی اودخیرات خرڅ په ښلاوند راتول شی .

## خېل

په پښتنی قبیله کی خېل یواتنو ګرا،یك واحدی جی دقبیلې مجور

پلل کیږي . خېل دصلاحیت دواك مرجع ده ، چی تصمیمونه یې په

جرګه پوري اړه لري اوجرګه هم دخېل دتنا کلو غړو څخه جوړیږی .

خېل دپښومجموعه ده ، پښې د کهولونو او کورنیوڅخه جوړیږی.

لکه دپښو دمجموعي اواویوتصمیمونو له پاره چی مرجع ده، نو په لوړه

خواکې دتبر په کړی کې بیا دیو غړي حیثیت لري .

د خېل چوکاټ اوموقف ترهرڅه وړاندي دجرګې په صلاحیت کې

پوره معلومیږی .دخېل جرګه دپښې ترجرګې په لوی صلاحیت جوړیږي،

همدارنګه د ټبر په جرګه کې بیا خېل د یو غړي په حیث را په اري .

د خېل قبیلوي جوړښت په آریا یي ټولنه کې چې د پښتنې قبیلې سور بلل کېږي، په جرګه کې پوره ځرګندو. د خپلو نو نمایندګانو په جرګه کې ګډون کاوه او د تصمیمونو په نیولو کې یې ټاټې را یې د رلوده ، خو د (کاسټ) سیستم چې کله وزیږېدی ، نو قبیلوي اشرافیت د کاسټ تابع شو. په کاسټ کې هم د (بر همن ، کشتري ، اوویسیا) تر منځ رابطه وه او تصمیمونه یې په ګډه نیول . یوازې ځلورمه طبقه (شودرا) د صلاحیت څخه خارج او دمال په جمله کې وبلل شوه .

په پښتنې ټولنې قبیله کې خېل د قبیلې یو ټیټ واحد دی ، چې د عزیز ګلوی Kinship بنا پر ولاړه ده .

خېل د (زي) سره یو مفهوم لري ، خو دغه نومونه په عامه محاوره کې د پښتو او قوم له پلوه هم استعمالېږي ، ولې د یوا تنوګرافیك واحد په حیث خېل د (زي) سره مساوي ځای لري .

د جنوبي سیمو په قبیلو کې د (خېل) کلمه او په لوېدیځو قبیلو کې د (زي) کلمه د دغه قبیلوي واحد د اصلي نامه په ضمیمه را ځي .

په هغو قبیلو کې چې د قبیلې د نامه په ضمیمه یې خېل او زي نه وي را غلي ، د هغو په لاندې نیو کړیو (پښو کی) بیا د خېل او زي لاحقه را غلې وي.

عمد ارتکه د (خېل) په لا ندی پښتو کی د ښځې د اصلی نا مه په ضمیمه،زي هم راځی . او ډلو یډ یځی خواد قبیلو د(زي) دواحد په ډېرو کی د (خېل) د کلمې لا حقه ډ پره لیدل کېږی .

داد خېل صلا حیت دی چی یو مجرم سړی د قبیلې څخه و رټی (وشړی ) اوداهم دخېل صلا حیت دی چی د بلی قبیلې سړی په خپل خېل کی وسئی . دا کار د خېل دجر گې په تصمیم عملی کېږي .

دخېل قبیلو ي موقف مو ږ ته ترهر څه دمخه د هغه د جر گې په صلا حیت کی را څر گند یږی .

د

## د احمدزي نرخ

احمدزي يوه مشهوره قبيله ده چې دغلجي په ټبر کې راځي او ګونډ يې سپين دی .

داحمدزي تيره او نرخ ډېر درونددی ، يعنې هېڅکله يې نه ماتيږي.
ځکه د احمدزي پورچې ثابت دی، نرخ يې هم ثابت مقررات لري هغه جنجالونه او پرله پسې لانجې يا نه حلېدونکې پېښې چې بل چيري نه حل کيږي، نو وايي چې د احمدزي نرخ راسره وکه. د احمدزي نرخ نو د معناچې د نرخ ثابت مقررات لري او هر هرڅه کې يې پامرکه ياجرګه نه شي جوړېدای.
احمدزي قبيله د پکتيا د ولايت د مرکز ګرديز په شا وخوا کې د زرملې

څخه ترمیم کوم پوری اوسي . همدارنګه په اوګراودننګرهار د حصارك په ولسوالۍ کې هم استوګه لري.

په قبیلوي لحاظ احمدزي د سلیمانخېل یوښاخ دی، خود و مره پراخه بابي مونډلې دهچي دن په مستقل ډول یو خپل ورته ول کېدای شي.

په شفوي ترتیب دوی د جرګې او مرکې یوه باصلاحیته مرجع ده وایي چې د دوی نیکه ( احمدبابا) ته پلار دعا کړې وه چې مشر که دي درنه وي . نو همدا وجه ده چې نن د احمدزي نرخ د پردروندا ونه ماتېدونکي دی . د دغې قبیلې نرخیان د نورو قبیلوو مرکو ته هم بلل کېږي او په مستقل ډول د دوی په نرخ نوری قبیلې هم پرېکړې کوي .

کله چې یو ملا یا محلي قبیلوي قضیه پېښه وی نو وایي چې د احمدزي په نرخ یې فیصله کړی. د احمدزي نرخ ثابت مقررات لري او دقوانینو ازغ فيها سایلو له پاره یې نرخ سوادلري .

د احمدزي نرخ د عیسی او موسی د نرخ (د اهر یو د نامه په ردیف په قاموس کې راغلی دی) په نامه یادیږی ود اهر یو بې خاننه مقرره لري. په دغو دوو نرخونو کې د موسی تر نرخ د عیسی نرخ درونه دی او دېر رواج هم د عیسی نرخ لري .

د عیسی د نرخ په باب استاد عبدالرحمن پژواك د ۸ ۱۳ په کالني کې مفصله مقاله خپره کړې ده. هلته دغه استاد د انظریه هم یاده کړې ده چې

دعیسی نوم د حصې څخه اخستل شوی دی. څرنګه چې دعیسی او موسی په باب یو فولکلور موجود دی، نو دهغه څخه دا نظر پیدا شوی دی چې عیسی به د حصه وه او وروسته په عیسی شوی وي .

په داسې حال کې چې عیسی حصه ویل شي ، نو دموسی له پاره به څه و ویل شي ؟ .

داستاد پژواک نظر درست دی ، چې دا هم دغه نوم ونه وه لکه اوس چې پادچهري په خودا باید هرزیاته شي چې که یې څواني ریښه پیدا کیږي ، نو باید په آریایي میتولوژي کې موضوع و پلټل شي .

داحمدزي نرخ په ټولو ځایونو کې یو شان دی او درنه جرګه چې جوړوي، هغه په خټاوه کې وي. خټاوه دګردیز د ښار او لویدیځ ته پر لنډه فاصله واقع یو ځای دی او احمدزي وايي چې د وی د خټاوې څخه او رو سیمو ته تللي دي .

## داړه

دسته جمعي هجوم ته داړه ویل کیږي .

په قبیلوي ژوند کې داړه وهل رواج لري ، خو بیا هم دغلو چپاو ته داړه و یل کیږي . داړه د سړیتوب او ژوبلې سره ملګري وي .

داړه او چپاو سره لږ دي مفهوم لري ، خو چپاو د لښکر کښي په دول پر یوه قبیله یا کلي حمله ده . او داړه د غلا په منظور پر کلي باندې هجوم دی .

داړه بالعموم دښمنۍ و ته لار پیدا کوي ، څو کله کله چې د لارو امنیت خراب شي ، نو دوړنځی هم داړه وهل کیږي . د داړې د ډلې غړي ته داړه مار ویل کیږي او د کتابي په ډول هغه چاته هم داړه ماړ ویل کیږي چې ډېر بد وي .

داړه د عامه مصلحت څخه د باندي کارده اود قبیلې د ټولو ګډه وظیفه ده چې کوم ځای داړه و هل کیږي ، د مخ نیوي له پاره یې په وسله وال ډول مخه ونیسي .

## د بدرګې د مخ نیوي تاوان

په بدرګه چې څوک د کوم تورن د روان وي ، که د تور د مدعي له خوا د بدرګې مخه ونیول شي باید یو پېښه او دروې سوه روپۍ تاوان ورکړي او د داکار تر درې واره پورې په عیني شکل تاوان لري ، څو که تر درې واره زیات شو ، بیا تاوان نه لري .

په دې صورت کې باید داتور بله لار په مخه واخلي او بله بدرګه ځانته پیدا کړي . دامې پېښه په لویو مدعا و کې منځ ته راځي .

کله کله چې د لارو امنیت سم نه وي ، نو خلک په هغو لارو کې چې د قبیلې په ټک کې واقع وي د دغې قبیلې څخه بدرګه ورسره اخلي تر څو محفوظ تېرشي ، بدرګه اخیستل یو څه د کمزورۍ احساس هم ښیي . په پښتو متل کې وایي : ( ځلوېښت کسه هندوان وه ، بدرګه یې لا هم غوښته . )

د بدرګې مخ نیوی چې د بدامنۍ په لحاظ وي ، مجازات یې کورسو ځل دي .

## د بدن دغړو تاوان

داحمدزیو دعیسی خېلودڅرخ له مخې دبدن دغړو دپرېکولو اوټپ
پور په لاندې دول تاکل کیږي . (۱)
سترګه : يوه یې نیم خون دوې یې یو پوره خون
پزه : نیم خون
غوږ : یو غوږ نیم خون د وه غوږه یو پوره خون
ژبه : یو ره خون
شونډي : يوه یادواړې شونډي يوخون
غابونه : هرغابس ديوه خون لسمه
بنې : یو بنه چې له بند څخه پرې شوې وي نیم خون او دواړې
بنې یوخون
لاسونه : يولاس نيم خون دواړه لاسونه پوره يوخون
ګوتې : دپښو اولاسونو ګوتې توپير نه سره لرې اوهره يوه په حساب
کې را ځې .
دتناسل آله : دنارينه دتناسل آله که قطع شي يوخون او که پسله
مرګه قطع شي دوه خونه تاوان لرې .
داپه عادي دول چې کوم څوك په جګړه کې ټپي شي پورېې تاکل

شوی دی ، خو که د تمپ په عمل کی د بدنامی له پاره کار شوی وي، نو هلته د یوه‌ړی د شخصی عزت مساله هم ورسره مطرح کیږی .

کله چی د انسان نفس ووتی یعنی مړ شو بیا هغه مضمون دی او که په مړینه یې اندامونه بېل شی یا تمپ پکښې وشي، نو سر بېره پرتا کلی پور د مړی وورثې ته به د شرم په نامه هم پوښه ورکوی .

د مړی مسله کول ډېر دروند تاوان لری او د دغه عمل کوونکی ته د هر اندام پرسر دوه چنده پورتا کل کیږی .

د ښځې د تې پرېکول پوخون لری او دوه تې پرېکول دوه خونه لری، د دغه خون د تادیې سره به شرم هم ورکوی .

## د بیرغونو سپارل

کله چی دیوې مهمې پېښې پروخت بېل بېل خېلونه سره راټول شی، نو د انتظام له پاره د یو خېل مشر د ټولو د مشر په حیث وټا کی .

څرنګه چی هر خېل ځانته بیرغ لری ، نو کله چی دا نور خېلونه د یوه خېل مشر خپل مشر وټاکی، نو وا بی چی د پلانکی خېل مشر ته بیرغونه وسپارل شوه .

د بیرغونو سپارل د امعنالری چی د دغه مشری په مشری قبول کړی دی ، دا کار په سوقت ډول کیږی او کله چی جګړه پای ته ورسیږی د هر خېل مشر

خپله مشري بېرته اخلي. هغه مشر چې د جګړې په وخت کې پېرغونه ورسپارل شوي وي د جګړې په پای کې د هر پېرغ داحترام له پاره دهري قبيلې مشرته يوه فديه ورکوي .

## د پلار پر کور د نامزدې د حاملدارۍ تاوان

که يو څوك د خپلې نامزادي سره چې نکاح يې تړل شوې وي ، خو کورته يې نه وي راوستلې يو ځاى شي او له دغه عمل څخه ښځه حامله شي ، نو دغه سړى به خپلو خسرخېلو ته سربېره پرولور يوه (سپين پا پښې) هم ورکوي .

البته سپين پا پښې هغه پېغله ده چې بېله د نکاح ودوله د مېړه کورته بوتلل شي يعنې د واده خرڅ او مصرف ته ايجاب نوي . د کوم چاناوې چې د پلار پر کور حامله شي دادبې غيرتۍ نښه هم ده او اکثراً دبې وسه خلکو يا هغو کسانو چې په بدۍ يا مسافرۍ مصروف وي ښځې مې د پلار پر کور حاملې کېږي . داد خسر له پاره هم يو پېغور دى او د پېغور دازالې له پاره زوم مکلفوي چې يوه سپين پا پښې ښځه د خسر خېلو څخه ويوه سړي ته ورکړي .

## د پلوغوته کول

کله چې يو سړى بدي وکړي ، نو که يو بل کهول ته ور شي او

دغه کهول د ښځي پلو غو ته کړي دا سړی د دغه کور په حما یت کی واقع کیږي او بیا څوك حق نه لري چی هغه په د غه کو رکی تعقیب کړي .

داد پښاور ور لورسم دی او که دغه تعقیب شوی سړی د پلو غو ته کولو د عمل څخه ورو سته بیا هم د مد عیا نو له خوا په د غه کور کی ضرر وویني ، د دغه کهول او کو رنی غړي حق لري چی د پښا ور ورو نکی له مد عیا نو څخه ژا غه وا خلی .

د پلو غو ته کو ل کله عملاً په د غه تر تیب کوي چی د کو ر د ښځی پلو غو ته کړ ي ، څو کله کله بوا ژی پر هغې ږ غ کوی چی ما پنا در ته را وړي ده دا هم د پلو غوته کولو مفهو م لری . پلو چی غوته کوي د کور د مشر ی پلو به غو ته کوي ا ود ا ښځه د غه سړي ته د یوې حامی مور حیثیت پید ا کوي .

## په خپل نا مه په ز و ر ه کور ته بیول

یو ه ښځه چی د کوم چا په نامه وی او خسر یې نه ور کوي هغه حق لري چی خپله ښځه په پټه یا جګړ ه خپل کو رته را ولی ، خو ور و سته به خسر ته ننواتې کوي ا و خسر بې هم مجبور دی چی دغه ننوا تې به مني .

د دغه دود ډېر لرغوني او څرګند شکل د ادم خان په کیسه کې ېروت دی. وايي چې کله ادم خان خپله ښځه (توتیا) د بازیدخان له کوره په جګړه را وسته، نو بيا يې د توتیا پلر ګټی ته ننواتي ولېږ ی.

ادم خان د جمعې په شپه یو آس، یو مریی او څه روپۍ را واخیستلې او د خسر خپلو کره راغی دا ننواتی هغوهم ومنیٔ.

که دغه ننواتي خسر خپل ونه منې، نو هغه یوه پېره پرذمه اخلی او داد نوي د ښځې بیلا مدګرځی.

## د توپك ناغه

که څوك توپك خرڅ کړي او بیا پښېمانه شی، نو داد توپك سپکوالی بولي او دغه کار ناغه هم بلري. پښېمانه سړی به (۱۲۰۰) افغانی د توپك د سپکوالي د ناغې په نامه د توپك اصلی خاوند ته ورکوي بیایه توپك ور مسترد وي.

توپك سر بېره پردې چې وسله ده، تقدس هم لری او که څوك د يو بل چا توپك ته سپکنځل وکړي د اهم پرعزت تېری دی او د دغه کار په مقابل کې به د توپك شرم هم ورکوي.

د توپك غلا د تاوان په لحاظ نورو غلاوو څخه توپیرلري، که يو چا د بل

سړي توپك غلا کړ اوورځخه پیدا شوءنودی په دتوپك د ورکړ ي ځخه سربېره دتوپك دناغې، دتوپك دشرم په نامه هم د توپك خاوند ته پوځه ورکوي .

## د تورو بیرغونو جرگه

دتورو بیرغونوجرگه په اپرېدیو کی رواج لري اوداجرگه ډېره درنه او دستر صلا حیت لرونکې ده .

دتورو بیرغونو جرگه په مهمو وختونو کی جوړیږي اود جرگې تصمیم باید دټولو له خوا هوبه هو اجراشي .

لکه دتورو بیرغونو جرگه چی څومره درنه ده ، نودجرگې دپر یکړي ځخه خلاف عمل هم دغومره په شدت سجازات گیږي .

داجرگه بالعموم هغه وخت جوړیږي چی ددبا نډ ي چپاوا و یر غل خطر موجود وي .

دننگرهار پخوانی والي ښاغلی محمدگل مامانخېل راته وویل: چی داتور بیرغونه امیرامان الله خان دوی ته ورکړي دي .

دبیرغ تور رنگ ډېر لرغونی دی اوداسلام په زمانه کی هم بیرغونه توروه . ابومسلم هم توربیرغ استعمالاوه. په بیرغ کی توررنگ مقدس هم بلل شوی دی . دغسی توربیرغونه تقدس هم لري ،نو ځکه ترد غو

پیر غونولاندي جرگه باید ډیره درنه وي .

دتورو پیرغونو جرگه دلویوتصمیمونود نیولو له پاره جوړیږي او دانګلیسی استعمار دپرغلونوپه وخت کی دد ې جرگې جوړ ېد ل ډیر رواج وه اوهرمحل چی به ترتورو پیرغونو لاندي جرگه وشوه ، نو د دوی غوښتنه به حتماً منل کیده .

دخیبرپه پیښو کی چی به کله انګلیسانو واوریدل چی اپریدیو دتورو پیرغونوجرگه وکړه، نوښه پوهیدل چی ددوی تصمیم نه ماتیدونکی دی.

دتورو پیرغونو په جرگه کی چی تصمیم ونیول شي فیصله یوازی داوی چی یابه هدف ته رسیږی او یا به ټوله مري. په دغسی قاطعیت په نوروقبیلو کی جرگه نشته اودایوازنی جرگه ده چی تراوسه لا پاته ده .

## دتوری شپی چغه

دتوري شپې چغه دنیمی شپې دناری سره څه توپیر نه لري.

داچغه هم هغه په خاص آهنگ د ډول د رزاده چی دخلکودخبرېدوله پاره وهل کیږي اوداکاردیوې مهمی پیښی پروخت ترسره کیږي .په دې کی که پرکلی ددښمن هجوم اوبرید وي،یاسېل راروان وي اویاځنګل اوراخیستی وي داچغه کیږي . ددې چغی سره سم دقبیلې هرازدمکه فـ دی چی دوسلې سره سم ځان دچغی ځای ته ورسوي . هغه کسان چی اېپروا

پاته‌شي، ډېره د زنه ناغه پرابو دي او که‌عذر ولري، نوعذر يې او رېد ل کيږي. دا‌چغه د ډول په‌اواز کې معلومه‌وي چې د دښمن پرغل دی او که‌سپل يا اور . د او را وسپل په‌وخت کې‌څڅي هم‌د چغې ځا ی ته ځان رسوي .

## د تورې شپې شا هدی

هغه مجهوله شا هدي چې عقل يې نه‌مني، د تورې‌شپې شا هدي بلل کيږي دوشا هد بايد کره‌دلايل ووايي اودا دلايل يې بايد د مرکې په‌وړاندي دمنلو وړوي او که‌داسې نه‌وي ، نود تورې‌شپې شا هد ي نه‌قبليږي .

وايي :(د تورې شپې شا هدي د منلووړنه‌ده . )

څوك چې د غسې شا هدي‌وايي هغه نه‌يوازې نه‌تبليږي، بلکه که‌پر ثابته شي، نود شرم په‌نامه ناغه هم‌ځنې اخستل کيږي. په‌شا هدي کې مر که‌چيان دشا هد څخه پوښتنه کوي او هغه با يد د دوی پوښتنې ته جواب ور کړي او که يې د پوښتنې په‌جواب کې حتی مبالغه وکړه هم‌د تورې شپې شا هد بلل کيږي اونا غه ځنې اخلی .

## د تېغ لوړه

په‌تېغ هم‌لوړه کيږي، دانو د تورې‌څخه‌نيولې ترچړې پورې هر څه چې وي په هغه‌قسم ور کول کيږي

ځوك په ناحقه دتبغ لوړه نه کوي او که چيري يې په دروغو دغه لوړه وکړه، نوسربېره پردې چې په هغه ځېله قضيه کې تعقیبېږي دتوري دسپکاوي په نامه هم ناغه ځنې اخیستل کېږي .تبغ ته قبیلوي خلك په تقدس قايل دي اوځوك داحق هم نه لري چې بې ضرورته دخپل مطلب د اثبات له پاره په تبغ لوړه وکړي او که ځوك دغسې کاروکړي ، نود تبغ د شرم په نامه يوځه ځنې اخیستل کېږي . په تبغ کې توره د اصلي تبغ په حیث ځاى لري .

## دټپ تاوان

ټپ کول هم جرم دى . دانو که په تبغ وي که په ډبره، ځانته تاوان لري.

داټپ که دومره زیات وي چې دبدن غړي د کار ه په ولو یړوي د هغه غړي په مقدار چې نرخ ټاکلى وي تاوان ورکوي ، خو که ټپ زیات نه وي داحمد زیودعیسى په نرخ کې یې تاوان (۸۰)روپۍ دى . ولې اوس دغه تاوان نسبت پخواته زیات شوى دى .په ټپ کې معیارڅلور ګو ټي د ي ( څلو رګو ټي د ي و کتل شي ) تر د ې که زیا ت و . یوډول تاوان لري او که لږو تاوان یې هم کېږي . په ټپ کې سپین اوتور توپیر سره لري دسپین اوتور څخه مراد د بدن لڅې اوپټې خواوې دي.

په ځینونرخونو کې تریټ ټپ دلڅ ټپ تاوان دېروي . البته د بدن

په شرمنا کو ډېرخو کې د ټپ د تاوان سره د شرم ورکول هم ضروري دي .

## د چغې ډول

په قبيله کې ډولچي ډېره حساسه وظيفه لري ، د ډولچي د ډول آهنګونه بېل بېل وي ، چې د قبيلې خلك ورسره اشناوي .

د چغې ډول پرله پسې او پيوسته وهل کېږي او آهنګ يې ډېر درونډ وي .

## د خبرو ټېره

دا ټېره کوم ټاکلې وخت نه لري . کله چې د غسې ټېره کښېښوول شي نو ضامنګړي ترمنځ ټاکل کېږي . کله چې دا ټېره ساتېږي، نو دواړي مدعي خواوې يوه بل ته خبر سره ورکوي او دښمني له سره نوې شي . د وی ضامنګړي هم خبر وي چې د دوی له منځه ووزي .

کله بيا ضامنګړي هم کولای شي مدعي خواوته خبرورکړي، چې دوی د خبر له ټېرې څخه وتلي دي .

دا ټېره اکثراً په اپرېدو کې زيات رواج لري . که د خبر ټېره پرته وه او يوې خوا هغه پخپل سرماته کړه، نو تاوان به ورکوي او ضامنګړو ته به هم شرم ورکوي. د خبر ټېره د طرفينو په مصلحت ايښوول کېږي او د طرفينو په مصلحت او موافقه ماتېږي. په يو اړخيز ډول دا کار نه شي کېد لای .

## دخونبها په مقابل کې دښځودور کړې اندازه

که دخونبها په مقابل کې ښځه ورکول کیږي، نوولورد خونبها هغه ایستل کیږي اوباقي پیسې ورکول کیږي. په دې اړه کې: (ګوتالکی) په برخه کې دولور دوې برخې او د (روغه‌ـی) په مقابل کې دولور دریمه برخه ایستل کیږي اونوره خونبهااندازه ورکول کیږي (١) دادودچې دقتل په پیښه کې ښځې ورکوي یوهدف دادی چې د ښځې ددوستۍ داعادې حالت ته راولي.

ولور کله دطرفینو په مصلحت تاکل کیږي او کله دغه اختیار دریمانو ته ورکول کیږي. په دغسې مورد کې دسپین پاڼې (د س په ردیف کې سپین پاڼې وګورئ) رسم پرځای کېدای نه شي، بلکه وا ده به په ډول اوسرتا وي.

## دډېرو تکول

دډېر و تکول او تېرو سره وهل دواړه یوشی دي.

کله چې مر که یا جرګه جوړه وي، نودواړه خواوی ناست وي او کله چې مرکه وال داسې خبره وکړي چې هغه دیو طرف په زیان وي، نو هغه ډېري تکوي او به دې ډول خپل اعتراض ښکاره وي.

---

(١) د١٣١٨ کالنی دښاغلی عبدالرحمن پژواك مقاله، ٣٥ مخ

داکاراوس په نرخ کې ډېر په ګټل کېږي، خوداسې معلومېږي چې دا به یو ډېر لرغونی عمل وي، ځکه د امریکایي هند یانو په هغو قبیلو کې چې دامریکا د کشف وروسته تحقیق پکښې شوی دی، دا د ډېرو ټکول یو عام رواج و چې د جرګې پروخت به کېدی. په آریایي تولنه کې هم د جرګې پروخت او رېډوټکو خپل نظر د ډېرو په ټکېدو ښکاره کاوه.

## درزمك څلور نرخیان

په وزیرو کې وایي چې د وزیرو نرخ د رزمك څلورو نرخیانو د شاه جهان (۱۰۳۷ — ۱۰۶۸ ه ق) په وخت کې ایښی دی.

دا څلور نرخیان دا کسان وو.

۱ـ کاجی: کابل خېل اتمانزي وزیر د سرغي او سېډ ونکی.

۲ـ راجی: جانی خېل اتمانزي وزیر د بنو او سېډ ونکی.

۳ـ زوبېره: ممیت خېل اتمانزي وزیر د زیارت خد رخېل

۴ـ شکندر: توري خېل اتمانزي وزیر د رزمك او سېډ ونکی (۱)

په وزیرو کې چې ډېره مهمه جرګه کېږي، نو په رزمك کې راټولېږي او هلته د رزمك د څلور و نرخیانو په نرخ پرېکړه کوي.

د رزمك د څلورو نرخیانو په نرخ نه یوازې وزیر بلکه مسود، دوړ

(۱) پښتانه دوهم ټوك د خلیفه عبدالطیف مقاله ۱۶۳ مخ.

او سيد ګې د خپلو جرګو فيصلې کوي .

## درې بوجه

کله چې په يوه ټاکلې قضيه کې سر که چيان وټاکل شي، نو کله کله داسې هم کېږي چې پر دغه شمېر نور هم په دغه تعداد زيات شي، دې ته دوه بوجه وايي او کله کله بيا طرفين د مسابقې په ډول دغه شمېر درې چنده کوي، چې دې ته درې بوجه وايي .

درې بوجه ډېر مصرف لري او خلاټ يې هم ډېر درانده وي .

په کومه لويه قضيه کې چې رقابت زيات شي، نو درې بوجه مرکه پر را غوړي . درې بوجه مرکه په لويو پېښو کې جوړه پېږي، خو په دغه درې بوجه کې د سپين ځدراڼ او احمدزي مرکه چيان ګډون نه کوي . ځکه هغوی ثابت ترخ لري چې د قضيې په اوږدو يې ابلاغوي او دوا ړی خواوی يې په منلو هم مکلفې ګڼل کېږي .

## درې نيم سره

داد ښځې په مربوطو واقعاتو کې راځي او يو داسې قسم دی چې که څوك د يوې نجلۍ د وركولو څخه وروسته منكر شي، خود هغې د خپلوانو څخه درو نارينه خپلوانو او يوې ښځې ته قسم ور كوي ، چې دې ته درې نيم سره وايي .

درې نیم سره لوړه (قسم) د درې نیم سره په شاهدۍ راګرځي. که په همدغه قضیه کې چې یو سړی د خپلې لور یا خور پرور کولو پښېما نه وي او درې نیم سره لوړه وکړي، نو که د مقابلې خوا څخه درې نیم سره شاهدان پرتېږشي، یعني درې نارینه او یوه ښځه شاهدي پرادا کړي، ماتیږي. خو په دغه شاهدۍ او لوړه کې که کومه خوا په دروا غو او چل متهمه شوه، نو سرکې ته به غټه تاوان ورکوي.

په درې نیم سره لوړه کې چې ښځې ته قسم ور کول کیږي، هغه دهغې د پلار، ورور یا زوي له خوا ور کول کیږي.

## در پېمان

د رپېمان هغه بې طرفه منځګړي دي چې د روغې له پاره مقرریږي.

د رپېمان د دواړو خواو په پېښه ځان خبروي او بیا په دوی کې ملامت او پړحق سره جلا کوي.

د رپېمان د عارضي روغې له پاره تاکل کیږي او که یې پرېکړه کوم طرف ونه مني، نا غه هم نه لري، چې د مرکې سره یې توپیر هم په دغه ټکي کې دی. د ې ته په لوېدیځه خوا کې ثالث بالخیر هم وایي

چې يوه عربي اصطلاح ده، اودد ريمګړو په نامه هم يادېږي . په دغه خلکو کي هغه کسان چې په قبيله کي په بې طرفي شهرت‌اري، تا کل کېږي . دوی کولای شي چې پر يوه ځای د دواړو خواو سره وګوري يا جلا جلا ورسره وګوري . د قضيې د ښه معلومولو له پاره د نورو بې طرفو خلکو څخه هم پوښتنې او ګروېږنې کولای شي .

## دسپي تاوان

سپي چې د کور او مال محافظ دی، وژل يې مجازنه دی .

که يوڅوك قصدآ دبل چا سپي مړ کړي بايد د يوه خون په اندازه تاوان ورکړي او يا دسپي په عوض دسپي د خاوند له خوا که دغه سړی مړشي پور نه‌لري .

که په خطا اوسهوه کي سپي ووژل شي، نويو پسه اويو تا کلی مبلغ پيسي به دسپي خاوندته ورکوي (۱) دبل سپي‌ته چغه‌ويل هم جواز نه لري، خو که دسپي ترحملې لاندې راتيء، نو کولای شي‌چې د ځانه بې وشړي، خودا بايدثابته کړي چې دی واقعآ دسپي ترحملې لاندې و ، که نه‌تاوان به ورکوي .

(۱) د۱۳۸۳ کال کالنی،دښاغلی عبدالرحمن پژواك مقاله، ۲۵۶ مخ .

## دسپين پېري غلا جزا

که سپين پېرې پرغلا ونيول شي هغه ته نوره سزانه ورکوي صرف پيره ، بانه ا وبرېتونه يې ورخريي اونور يې ايله کوي .

د اوږ ر بدسجاز ات دي او کوم چاته چې داسجازات په نصيب شي هغه ځانته سرګ غواړي خودانه سني. داسېکه دسپين پېري واولاد ته په مثل اوسيراث پاتيږي . دپيري اوپرېتوور خريل يې له د ې کبله ورته تيا کلي د ي چې غلا ديوسپين پيري له پاره دعيب کار د ی ، خو دسپين پېروالی په احترا م يې د نور تا و ا ن څخه سعا فوي، صرف دسپين پيرتوب له حق څخه يې محرو سوي او د يېړي هلو کا نو په جمله کی يې ورداخاوي .

## دښمن

د ښمن ته غليم هم وايي اوددښمن سره جګړه قبيلوي فرضيه ده .

و ايي : «دښمن که هرڅوسره لږوي زيان يې ډېردی . » دد ښمن سر ه دښمنی کول د غيرت نښه ده .

په پلرينه کی دشاملو خپلوا نو د هر سړي دښمنی د پلر يني د تو نو دښمن پلل کيږي.

د ا دپلريني د هرغړي وظيفه ده چې په ګډه ددښمن مخه ونيسي

که دښمن په یوه پلرینه کې مړی اوتپ وکړی ،د پلرینې نورتبو ل غړي حق لري چې د دښمن څخه خپل پور واخلي . پښتانه وایي : «د دښمن دوست هم دښمن دی »د دښمن سره دښمنۍ په مقابله رویه ود دوستۍ ته راځي ، خوداهغه مهال چې د دوستۍ زمینه د قبیلې په جرګه یا مرکه رابره شی او طرفین یې ومنی .

## دعیسی په نرخ دخو نبها ا ندا زه

دخون اندازه د هرځای دنرخ سره برابره ټاکل کیږي. کله چې یو سړی ووژل شي ، نو د قاتل څخه په ټاکلی نرخ خونبها اخیستل کیږي البته داخونبها د ښواتي له مراتبو څخه وروسته ورکول کیږي .

داحمدزیو دعیسی خپلو په نرخ دیوتن خونبها دري نیم زره کابلی وي (۱)

څرنګه چې اوس د پخوا څخه قیمتونه په پراوړ تللی دی، نو داخونبها اوپه شوي اوحتی تر لکو افغانیو پوري رسیږي .

داخونبهاتيا کل د نرخیانو وظیفه ده اوهغه یې په مرکه کې ټاکي، دوی د قاتل ژاک ته ګوري، که یې قدرت ډېر و او مقتول هم په قوي طرف کې وه نوخونبها ډېره ټاکي او که کمزوره خلك وه ، نوخونبها یې دما لی

(۱) د ۱۳۱۸ کالني دښاغلي پژوا ك لیکنه، ۳۸ مخ

قدرت پرېښت تما کی .

## دعيسى نرخ

عيسى د احمدزو د لومړى نيکه احمد بابا کشر زوى و. احمد بابا لا ژوندى و چې ددې زامنو وېش وکړ ، نو څرنګه چې عيسى ته يې لږ برخه ور کړې وه احمد بابا خبر شو او نور زامن يې مکلف کړل چې د خپلى برخې څخه يو څه عيسى ته ورکړي په دې ډول د عيسى برخه پوره شوه .

عيسى د احمد زو په نرخ کې په ثابته توګه شهرت لري او وايي چې د عيسى په نرخ فيصله او پرېکړه شوې ده څڅه بل را ژنه او ري . د ننګرهار د حصارک او د پکتيا او لوګر په احمدزيو کې د عيسى نرخ بو معلوم کو ددى او اکثراً مرکې چې په پورته قبيلو کې هم جوړېږي د عيسى نرخ پکښې مراعات کېږي .

## د کټ پټه نيول

د کټ پټه نيول د ( په قبر کې څملا ستل ) له عمل سره ورته کار دى.

دا کار هغه قاتل کوي چې په ناڅهمې کې څوک ترېنه وژل شوى وي دا سړى د مړي د کټ پټه ونيسي او په دې ډول بخښنه غواړي . د مړي ورثه هم دده ته بخښنه کوي او بيا د غه سړى هغه تما کلى پور د نرخ د پرېکړې په قرار ور کوى په اويد پخو قبيلو کې دا کار په ډېره کې د

پريوتلو په نامه ياد ېږي . خو دا کار بايد په ډېره پاملرنه وشي او تر هغه مهاله چې داسې قاتل د مقتول د کټ پټه نيسي تر سخت خطر لاندې وي. کېدای شي چې د مقتول دوړنې څخه يې څوك وولي او مړيې کړي . که د کټ د پټې ترنيولو د مخه ووژل شي تاوان نه لري خو که يې د کټ پټه ونيوله بيا يې وژل د تاوان سره ساگري دي .

## د کټوی پخول

د رپيما نو ته يعنې هغو کسانو ته چې د دوو خواوو ترمنځ د دوستۍ د اعادې د پاره غوندې کوي د دې پخول د کټوي پخول بولي .

په دې کې چې کله يو کس حاضر شي چې د رپيمانو ته په ډوډۍ ور کړي ، نو وايي چې پلانکي کټوپخوي يعنې د د رپيما نو مصرف په همغه ټاکلي سړي اړه لري . په ځينو وختونو کې د کټوي پخول د دا هرطرفه خوا په گډه کېږي په دغه وخت کې پر د رپيما نو د دواړو خواو اعتماد وي ، هغوی د ډوډو ی پروخت د هريوه طرف په کور کې پرټاکلي موضوع نه رغېږي او د اخبري په يو مټاکلي ځاى کې کوي. د کټوي پخول کله لويو مصارفو ته ړورته کېږي او که يوه خوا چرگه حلالوي نو بيله خوا پسه حلالوي او داسې الى داسې ځاى ته هم رسېږي چې د ميلمنو لاسونه په غوړو ورمنځي .

## د کټو ماتول

کله چې د مرکې یا د ریبمانو له پاره د ډوډۍ مسابقه تر دمشی او هره خوا په مصارفو په سیالی خرڅونه زیات کړي؛ نو دې له پاره چې د زیان څخه راوګرځول شي یا پخپله د غه مرکچیانو او د ریبم ګړی او یاد قبیلې نور سپین ږیري مداخله کوي او ددوی مخه نیسي. له دغسی خرڅ څخه را ګرځولو ته د کټوي ماتول وایي مثلاً وایي: «سپین ږیرو یې کټو ور ماته کړه» له دغی خبرې څخه مطلب دا دی چې نور به دوی د مرکې له پاره په مصارفو ځانونه نه زیانمن کوي.

په ځینو قبیلو کې د مرکې پروخت یو مشر پورته کیږي او یوه کټو د مځکې ولی او ماتوي یې. په دغه کار سره نو بیا یوه خوا هم حق نه لري تر ماته شوروا هل څه زیات پاخه کړي.

## د کږې غږ

په جرګه او مرکه کې د مخالفت آواز پورته کولو ته د کږې غږ وایی.

کله چې مرکه خپله پریکړه اعلان کړي، نو که له هغه سره مخالفت وشی دا د کږې غږ بولی او دا سړی چې پر دغه مرکه بله مرکه راولی د هغې غړي د کږې سړو ونکی بولی.

که سړی ملامت (پړ) وی او بیا هم د کږې ږغ وکړی دی

په بله سر که راولي او خرڅ به یې په یوازې سرور کوي او که هغې سر کې هم د پړ حکم پرو کړ ، نو دا سړی به د لومړي سر کې غړوته د شرم په نامه هم پوښه ور کوي . که د دوارو خواو څخه د کږې غړ وشی ، نو د نوی سر کې خرڅ به دواړه طرفه ور کوي او د دوهمې سر کې تر پرېکړې وروسته د لومړي سر کې غړي د شرم حق نه لري .

## د کنډر غل

کله چې غل د یوچا په کورته ننوزي او د کور د خاوند له خوا وژل شی په نرخ کې تاوان نه لري .

دغه غل د کنډر غل بولی او وا یې چې د کنډر غل تور دی او تاوان نه اري . کنډر د کنګره ای د دېوال مفهوم ور کوي او هغه غل چې پر دغه کنډر اوړی دی د کور د خاوند پر حریم تیری کوي او حریم د هر چا هغې محفوظ او مصئون دی . پر دغه مصونیت تیری که د چا د خوا وشی او فاعل یې مړ شی تاوان نه لري . بنا یې دا اصطلاح د کیلوالی ژوند سره منځ ته راغلې وي ، ځکه په کوچیانی ژوند کې کنډر نه شته البته کوچیانی کورته چې د کږ د ی څخه وي د غلا په نیت ور ننوتل په هم د غسې مجازات غله ته ولري ، خودا نوم د ختو د کو رو نو د جوړښت سره منځ ته را غلی دی .

## د کور په د بې حرمتۍ په برخه کې د مېلمه تاوان

که یو څوك د چا مېلمستیا قبوله کړي او بیا بېله دې چې خبر ور کړي هغه ته ورنه شي دا د کور په بې حرمتي ده. همدا رنګه که یو سړی دیو چا څخه مېلمستیا وغواړي او هغه یې قبوله کړي او بیاورنه شي دا هم بې حرمتي ده.

په داد واړو صورتونو کې باید د یوې ننواتې سره یو سل پنځوس روپۍ شرم هم د کور په ته ور کړي. دغه ننواتې د ناغې په نامه او پیسې یې د شرم په نامه یا دیږي.

په قبیلوي ژوند کې مناسبات په یوجدي چوکاټ کې پالل کیږي او د اجدیت یې تر هر څه زیات په قول او وعده کې دی. که د مېلمستیا له پاره یو سړی په بې پروایی حاضرنه شي دا د کور په عزت ته تاوان دی، نو د هغه د جبیرې له پاره په عام نرخ کې ناغه او شرم ټاکل شوی دی.

## د کور سوځل

که یو څوك د بل چا کور وسوځي، نو په نرخ کې دا مقرره ده چې د کور د سوځاو او سامان تاوان به ور کوي او یو ټاکلی مبلغ به هم د (کوټې د شرم) په نامه د کور خاوند ته ور کوي.

که د کړ د ی کور وسوځي، نو سربیره پر تاوان او شرم ننواتي به هم کوي.

همدارنګه که کوډی (دلوخو کور) وسوځی د هغه تاوان هم د کور دی پهشان دی، خو داحتیاط ساتلو پهخاطر د کوډی د کور پهسوځلو کی سهوه هم چندان نهقبلیږي اوتا وان یې اخیستل کیږي. د کور پهسوځلو کی د کوراو د هغه دشیانو قیمت دواړه د اخل دي او که سړی پکښی مړشی، نو که دا اورعمدي‌وی دسړي خونبها به هم ورکوي اودشر پهنامه هم د مقتول ورثې ته یو څه ورکوی.

## د لښکر چغه:

د لښکرچغه پهداوی‌بحرانی‌وخت کی کیږي. لومړی د والچی‌پرېوه لوړه ودریږي اوپه یوه خاص آهنګ ډول ووهی. ددغه آهنګ سره د قبیلې خلک آشنادي اوهر څوک چی یې اوري هغه د وسلې سره دډول ځای ته ځان رسوی.

دلښکر چغه د چپاو دپاره کېږي اودالښکر کښی چی پر کوم خوا کیږی هلته ډېر وژل کیږي او کورونه سوځل کیږي.

دلښکر دچغی ډول پهخاص آهنګ ژرژرو هل کیږي. کهدښمې داډول ووهل شی، نو د لښکر د تګ لپاره ځای ته بايد خلك چی راځی څراغونههم د ځان سره یوسی. د لښکر چغه د جرګی په فیصله کیږی، خودناڅاپی خطر په وخت کی دقبیلې موظف خلك او حتی

ه و نچی هم کو لای شی چی داچغه و کړی .

## د ملامت بر مته

څوك چی د مړ کی له خوا ملامت شی او د مړ کې فیصله و نه منی نو بر مته یې نه ورکول کیږي .

وا یی : ( د پې برمته نه ورکول کیږي ) داد نرخ فیصله ده .

برمته په همدغه منظور د دعوی د دوا ړو خواو څخه اخستل کیږي چی هغو ی فیصله ومنی ، خو کله چی پریکړ ه و نه منی ، نو بر مته یې نه ورکو ل کیږی .

د ملامت برمته هغه طرف ته ورکول کیږ ی چی فیصله یې منلې وی او په ځینو موارد و کی پخپله مر کچیا ن د غه بر مته ځا ن ته ا خلی ، خو دا کارچی کوي هم د نر خ د پریکړي په اساس یې باید و کړ ي ځکه نرخ په دې با ب ډیر. لږ اجازه ورکوي چی بر مته مر کچیا ن وا خلی .

## د مر کچی د بې حر متی تا وان

هغه کسان چی په مر که کی کښینی د سپین ږیري په نامه یاد یږی دد وی حیثیت مصون د ی. که څوك د مر کې په جریان کی د غسی پوسپین ږیري بې عزته کړي داسړی باید تا وان ور کړي .

داحمد زیو دعیسی خپلو په نرخ کی دغه تاوان پخوا (١٨٠٠) روپی و او که دښځوخلوسره هغه ووهی خو زخمی یې نه کړي نو (٩٠) روپی به یې نور هم تاوان ور کاوه.

که په مرکه کی یوسړی و مدعی ته بدوواېی اوم کچی دغه سړی ته دېښی خواې کېدلو امر وکړي او هغه یې وته منی دا هم د مرکې دغړي بې حرمتي ده او باید دشرم په زامه د غه مرکچی ته هو ښه ور کړي.

## دمړوښی بدله

دا یو ډېر دروند جرم دی او پورېې بیله مرګه په بل څه نه کیږي.
څوک چې مړوښې ښځه تښتوي هغه یو دروند پور پر ذمه اخلي.

دمړوښي ښځې پور اوه سره دی. په دې معنا که کوم څوک دا ښځه وتښتوي هغه وژل کیږي. که هغه په خپل مرګ مړشي او دا ښځه بل څوک وکړي هغه هم وژل کیږي او که هغه هم په خپل مرګ مړشي او دا ښځه بل سړی وکړی هغه هم پوروړی بلل کیږي او وژل یې د تښتوونکی ښځې د اصلي مېړه حق دی. دا حق د دغې ښځې تر اووم مېړه پور ر سېږي. که له دغو څخه کوم یوه په بې خبري کی دا ښځه کړې وي، نو لومړی باید هغه خبر کړی شي او که یې ښځه نه پرېښوله وژل یې جواز لري.

## د مړي نه لاس نيول

د مړي نه لاس نيولو ته د لويديځې خوا پښتانه قبايل (شومي نيول) وايي .

کله چه په يوه قوم کي معامله کي د ګرم له خوا يو يا څو کسه د قابل خوا ته ور شي او عذر ور ته وکړي ، نو د دوى له پاره چې په هغه ځېله غوښتنه ومني ، نو د دوى د ي ښځه يي لاس ونيسي .

ځرنګه چي قبيلوي خلك دا عمل ډير بد بولي چي څوك يي له دسترخوان ښځه وړي و لاړشي ، نو حتماً د دغو خلکو غوښتنه مني .

داسي کله ته پېښيږي چي د مړي ښځه څوك لاس ونيسي او کور ته دي هم د هغوى غوښتنه ونه مني ، ځکه په داسي صورت کي پر کور به هم يوه پړه (ملامته) راځي او د غو خلکو ته بايد شرموور کړي.

## د موسى نرخ

موسى د عيسى ورور او د احمد بابا مشرزوى دى . وايي چي پخوا د موسى نرخ هم و ، خو اوس د عيسى نرخ عام رواج لري .

کله چي جرګه یا سر که کيږي وايي چي د موسى په نرخ يې ر ا سره کوى که د عيسى ؟

خو د عيسى په نرخ پريکړى ډير رواج لري . د موسى نرخ پخوا هم په

یو محدود ساحه کښې چلیږي، خو اوس یې ځای د عیسی نرخ نیولی دی.
د موسی په نرخ کښې د بدلې اصل تر یوې اندازې پاملرنه کیږي او د فرد په حق کښې د پلرینې د رابطې خپلوان د ورته مستحق ګڼي لکه په خپله فرد. د مثال په توګه یو سړی وژل کیږي، د هغه قاتل د مقتول د ورثې له خوا په یوازې سر نه شي بخښل کیدلای، بلکه دا باید د ټول له پلرینې تصمیم ته محول شي، خو د عیسی په نرخ د مقتول ورثه په یوازې سر دا تصمیم نیسي.

## د میراث له پاره قتل

که یو څوک د میراث له پاره قتل وکړي یعنې هغه څوک مړ کړي چې میراث یې ور رسیږي، نو دی نه یوازې پر خپله ذمه د خون یو بو راخلي بلکه د میراث څخه هم محروم کیږي او کورنۍ یې سوځل کیږي. که د هغه سړي نور و میراث خوړو ته تنوا تي ور کړي، نو هغوی په ګډه د ده په باب تصمیم نیسي او که یې وهم بخښي؛ خو داسې په نورې قبیلې ته شرم ور کوي او دا د قبیلې تصمیم دی چې په موقتي ډول یې شړي او که یې دایمي شړي. د دغسې کار د مخنیوي له پاره جدي معامله کیږي او څوک نه شي کولای چې د وارث په حیث د دغسې سړي په باب تصمیم ونیسي، بلکه د قبیلې حق هم باید په نظر کې ونیول شي.

## د میلمه د مرګ تاوان

که یو سړی د چا میلمه وي او د شپې د کور په مدعي چې پر کور یې به

د قتل پور ور اوړي دا مېلمه مړ کړي، نو کور به د مدعي له پور څخه خلاص دی خو د مېلمه د قتل پور به د هغه ورثې ته ور کوي او سر بېره پر دې پنځه سوه روپۍ به نوري هم د مېلمه ورثې ته ور کوي. که مېلمه مړ نه شي او داسې ژوبل شي چې له دغه ضرب څخه رنځور شي، نو که تر دړو میاشتو پوري له دغه ضرب څخه مړ شو پور دې پر قاتل اوړي او که تر دړو میاشتو وروسته مړ شو پور نه اوړي، خو شرم په دوا ړو صورتونو کې بايد وي او که په دغسې قضيه کې ووژل شي او دا کار په نا پامۍ کې وشي، نو دوازی شرم يې ورثې ته ور کوي او پر کور به د مدعي پور له منځه نه ځي.

## دنجلۍ د سپکوالي ناغه

که يو څوك خپل زوی او ورور ته کوسه پېغله نجلۍ وروغواړي او بيا يې سلا ونه شي نو دا په نرخ کې معلوم تاوان اړي.

داسې سړی به دنجلۍ ټوله ولور وروکوي او سر بېره پر ولور ۱۲۰۰ غجري او دوه پسونه به هم دنجلۍ پلار يا بل وا کدار ته ور کوي. په عمومي ډول دغسې عمل د نجلۍ پلار ته لويه سپکه بلل کېږي او اکثراً په لويو بديو اوړي، نو ځکه کله کله سر که چيان داسې پريکړه هم کوي چې د پښتانه له کورنۍ څخه دې يوه ښځه دنجلۍ په کورنۍ کې يوه سړي ته ور کړي په داسې صورت کې دانقاضت د بدی څخه را ګوا ښل کېږي.

## د ننواتې ترتيب

په لويو او مهمو مسايلو کې چې مرګ او ژوبله ز يا ته وي په ننواتې کې سپين پټکيان (ملايان) دوی سپين سرې ښځې او يو قرآن لازم دی داخلك لومړی د مقتول د کورسره يو پسه حلال لوی بيا د ننواتې نور مراتب شروع کيږي .

په عادي مسايلو کې يوازې يوملا يا څو سپين پټکيا ن په ننواتې ځي، خو پسه حلالول په تولو لويو پېښو کې ضروري کار دی په کوچنيو پېښو کې يو تن سپين پټکی ځي او پسه هم نه بيايي، خو په لويو پېښو کې ننواتې والا ډيرپيسونه بيايي او د مقتول د نژدې خپلوانو د کورونو مره يې حلالوي .

په پخوا وختونو کې به يې مړيې هم ورسره بيوی خو اوس دا رسم نشته د ننواتې عمل د شپې اجرا کيږي او کله کله د ورځې هم دا کار کيږي .

## د نيمې شپې ناره

د نيمې شپې نا ره يا د نيمې شپې چغه هغه ډول دی چې ناڅاپي ووهل شي دا ناره پاڅول ا کېرا د غلو او چپاو په وخت کې و هل کيږي

همدارنګه کله چې ناڅاپه سېلاب راشي یا یوه بله واقعه پېښه شي ، نو ډول وهل کېږي. وايي : «د نیمې شپې ناره بې ځایه نه وي.» د نیمې شپې په ناره کې چې د سېل یا اور د خبرتیا له پاره شوې وي ښځې هم د چغې ځای ته ځي ، خو د لښکرکښۍ او چپاو او جګړې په وخت کې ښځې له کوره څخه نه راوځي نارینه د نارې ځای ته حاضرېږي ، په دغه اصطلاح کې هم د غیرحاضر له پاره د نیمې شپې یا تورې شپې د چغې په شان مجازات شته .

## د نېټې تیره

دا یوه موقت متارکه ده چې د نېټې تیره یې بولي. کله چې د دوو طرفو ترمنځ جګړه شروع وي او بیا د تیرې په اړه ښو لو راضي شي ، نو که مسئله ډېره وخیمه نه وي لومړۍ د نېټې تیره کښېږدي مثلاً د درو ورځو یا یوې هفتې یا میاشت یا کال له پاره ښوول کېږي، خو کله چې دغه وخت پوره شي باید بیا د نوې تیرې له پاره بندوبست وشي .

د نېټې تیره اکثراً په دایمي تیره بدلېږي او دغه تیره چې منځ ته راځي ، نو بحراني حال ته خاتمه ورکول کېږي . د نېټې په تیره کې ضامنګړي هم مقررېږي او کله چې د تیرې نېټه پای ته ورسېږي نو ضامنګړي هم له منځه وزي ، خو د تیرې د ماتېدو خبر باید یو بل ته سره ورکول شي

## دوچ خلی اخیستل

دا یو خاص ډول قسم دی چې په کوچنیو قضیو کې ملا ست ته رو کول کیږی .

هغه ته وچ خلی وراچوی او هغه به په دغه وچ خلی لوړه کوی وچ خلی پرید شگون ډیول شوی دی او داسی عقیده ده چې کوم څوك په ناحقه دوچ خلی قسم او خلی هغه لکه دغه وچ خلی همدغسی وچیږی. غالباً چې به دغه عقیده کې به د نو تمیزم دعقیدې اغېزه پرته وی او شا یی د پرهلرغونې عقیده وی . یو قبیلوی سړی چې په لوړه کې د پر محتاط وی ، نو حتی د قول او خبری په صورت کې هم لوړی ته نه حاضرېږی. دوچ خلی لوړه په وړختنی عادی ژوند کې د ضرورت پر وخت یوو بل ته ور کول کیږی .

## دورمېږ دوېنی شریکوالی

په پلرینه سره شریك دورمېږ دوېنی شریکان بولی .

دورمېږ دوېنی شریکوالی دامعنا لری چې که په پلرینه کې کوم یو د بلی پلرینی څخه کوم څوك مړ کړی د غه دورمېږ دوېنی شریکان ټول په هغه کې شریك بلل کیږی او دوارا خیستلو پر وخت چې دورمېږ دوېنی له شریکانو څخه هر یو د مقتول دخوا په لاس ورشی په غچ کې یې وژنی.

د هر قبیلوي سړي را بطه د پلرینی سره نه شلېدونکې دی او سره له دې که یو سړی په پلرینه کی د هغه چاسره چه قاتل واقع شوی وي بدي هم ولري او سره دښمنان وي، خود غچ پروخت دی هم د قاتل دمدعی طرف د مدعیانو جمله کی واخلی او که وارېږ اړا بر شي، وژل کیږي.

## دوه ویشت شګه

د خوست په (المره) که دسو ـ ن خدران دمرکې ځای دوه ویشت شګه بلل کیږی .

څرنګه چی دسو ـ ن خدران مرکه د تمیزحیثت لری او پر دغه مرکه بله نه‌شي جوړ یدای ،نوځای یې هم دغومره درونه نوم لري .
دسو ـ ن خدران ددوه ویشت شګه جرګه یا مرکه‌چې پر بګړه‌وکړي هغه ما تېدونه لري. دغسي مرکه‌ځا یونه‌خاص تقدس لري‌او د ارغو ـ نو زمانو څخه پر دغه ځای جرګې شوي‌وي . دوه‌و یشت شګه‌چی‌یو درونه جرګه ځای دی اوس هم جرګی پکښی جوړیږي او مهمې جرګې په دغه ځای کی دایر یږی . د دغه جرګه‌ځای د درناوي له پاره ترجرګې وروسته خیرات هم کیږی .

## د بګان

د بګان قبیلوي ګروند ګردی. د قبیلې هر کروندګر د بګان‌نه دی

بلکه د بګانان هم د نورو قبیلو غړي وي او کوچني اقلیتونه جوړوي. قبیلوي اشرافیت د د بګان ټولنیز موقف هم کښته ساتي او د بګانانو سره دوامداره دوستي او خپلوي نه کوي. د بګانان خپل ترمنځ وړا بطاري. داسې فکر کېږي چې دا به هغه آریایي د بګان وي چې ځینو څېړونکو تاجکان بللي دي. د د بګان نوم په ټولو پښتني قبیلو کې پېژندل کېږي د غه خلک یا بزګري کوي او یا نوري خواري باسي. په واقعیت کې د د بګان سره جرګه او مرکه نه کېږي او که هغه ته زیانونه رسېږي، نو مراجعه یې د قبیلې بومشر ته وي او هغه یې عرض اوري.

## ډېره

د ډېره د مېلمنو د کښېنستلو ځای دی. د ډېره په خلاصه فضا کې وي قبیلوي خلک چې توانایي لري هغه د کور او کلا له مخ سره د ډېره جوړوي. د ډېره دوه ترسیوري، لاندې جوړېږي، کټونه پکښې ایښودل شوي وي او مېلمانه پر کښېني.

د ډېرې ته که کوم څوک پناه راوړي، نو دا د کور حکم لري او مدعي یې نه شي کولای چې د غه سړي ته په د ډېره کې زیانونه ورسوي. د هر چا د ډېره د هغه په نامه یادېږي، خو د کلي لویه د ډېره د خان وي په د غسې د ډېره کې مرکه او جرګه هم جوړېدای شي، خو د تصمیم هغه جرګه چې قبیله د سیالۍ جګړې ته دعوتوي په د ډېره کې نه جوړېږي، بلکه په اصل جرګه ځای کې باید جوړه شي.

ړ

## ړارول

دیوچا تهدیدولو ته ړارول وايي . دقبیلې په تعاملی قوانینو کې هیچا ته دا حق نه شته چې بل څوك وړاروي یعنې تهدید یې کړي .

که کوم څوك د دغه ړول پړې مرتکب وګرځي ، نود قبیلې د رخ دده حق اوناغه پرمقابل خوا لازمه بولي . داویدیځی خوا په قبیلو کې دا اصطلاح د پېروالو دا وېروالو په کلماتو یادیږي ، خو مفهوم یې همدغه ړارول دي .

که کوم څوك د جرګې او مرکې غړي وړاروي، یعنې تهدید یې کړي هغه سړی په د تاوان سره شرم هم ورکوي، ځکه د مرکې او جرګې غړي د سپین پیرتوب حق او عزت لري .

## ډبره

ډبره، تيږه او کاڼي يو مفهوم لري او کېدای شي چې د تيږې اړېدولو په عين مفهوم وويل شي «ډبره کښېښوول شوه» يعنې متارکه وشوه. سربېره پر دغه مفهوم ډبره د وهلو او ژوبلولو يوه آله هم ده ځکه په تاريخ کې يو راز ی .

که ډبره د بدن په ستين (الخ) خوا کې تمپه کړي نيم نور (١) او که زخم ونه کړي، نو نور يې يوازې نښواتي او بوپسه دی. البته نښواتي يې صرف يو پټکی دی چې پسه به د سلامت له خوا د ځان سره د مدعي کره بيا بی.

ډبره د تيږې په مفهوم چې د متارکې معنا ورکوي په تيږه کې پوره شرح شوې ده.

## ډم

په پخوانۍ قبيلوي اشرافيت کې داوظيفه د داسې خلکو په غاړه وه چې هغه د نورو قبيلو څخه وه.

د قبيلې خلکو په خوښيو ښادۍ او اخترونو کې د ساز لوبول او سازې په کاول

(١) د ١٣١٨ کالنۍ ٣٥٢ مخ

د ډمانو سره نوردوانه د وستی او خپلوی ته کوي، خو د وی خپل ترمنځ محاذنه د وداو دستور دراود

ډم ته که دقبیلاوي سړي له خوا زیان ورسېدی، نو نه ئنوائي ورته کېږي اونه مرکه پرجوړېږي ، بلکه دقبیلې یود وهمه اودرېیمه درجه مشر د ده پر عرض غور کا وه .

## ډمه

ډمه هغه آرایشګره ښځه ده چې په ودونو کې ناویانې جوړوي او ساز هم کوي .

ډمه هم دقبیلې اشرافیت په کښته موقف کې راوستلې ده . دانه یوازې د ناوې د جوړېدو وظیفه پرغاړه لري ، بلکه دښځو له پاره دډوډۍ په تیارولو او نورو کارونو کې هم برخه اخلي .

په واده کې ډمه دناوی اوزوم له دواړو خواوو څخه د بخښش اخېستلو حق لري . ډمی ته خرڅ او کالي هم د خاوند کور له خوا برابرېږي . په هغو قبیلو کې چې ښځې ترپرده لاندې راغلې وي او لڅ مخ نه ګرځي ، خو ډمه له دغه قیده آزاده ده او مخ بې هرچاته لڅ وي .

## ډوډۍ

ډوډۍ داتام په مفهوم هم راځي او مېلمستیا ته هم ډوډۍ وايي . د جرګې او مرکې خرڅ هم ډوډۍ بولي . په ډوډۍ لوړه (قسم) هم کېږي . هغه سړی چې ډېر مېلمه پال وي (ډوډۍ دار) ورته وېل کېږي ډوډۍ او مړۍ دواړه یو مفهوم لري . ډوډۍ د غنمو له اوړو څخه پخېږي که یوڅوک بل ته ډوډۍ ونیسي ها بد ردېې نه کړي او یوه ګوله باید څنې واخلي کنه داتام بې احترامي به یې کړې وي .

قبیلوي خلک ډوډۍ او ستر خوان مچوي او د ډوډۍ سره بې احترامي سپک کار بولي، ډوډۍ چې یو چا ته په شفاعت ونیول شي هغه یې باید واخلي مچ دې کړي او که یې دا شفاعت نه مني د ډوډۍ د شرم په قاعده باید پر دغه ډوډۍ یو څو پیسې کښېږدي .

## ډول

د ساز او سرود یوه آله ده ، چې په قبیلوي ژوندانه کې د مخابرې د یوې وسیلې په حیث هم کار څنې اخیستل کېږي .

کله چې پر کلي بد و بېرانه پېښېږي د کلي خلک د ډول په اواز سره خبرېږي او په لنډ وخت کې تا کلي ځای ته (هلته چې ډولچي ولاړ وي) راټولېږي او بیا په ګډه جګړې ته روانېږي .

دجګړې ډګرته چې جنګیالی ځی دډول ترږغ لاندی روان وي .

دجګړې په دوران کې هم ډول وهل کیږي اوپه ځینو قبیلو کی دډول سره سرناهم وهی .

دقبیلوي تعامل له مخې ډول هم دروند شمېرل کیږي اوهغه ډولونه چی دقبیلې دافتخار ګڼلو په جګړه کی وهل شوي وي دقبیلې دمشر کره کیږي .

## ډولچی

ډولچی ته ډولزن هم وایی اودانوهمه سړی دی چی ډول وهی .

په ځینو قبیلو کی ډولچی ته غازي هم وایی ،اغلباً چی دغه اعزازي نوم به د نولسمی پېړی په دوران کی هغه وخت ډولچی ته په نصیب شوی وي چی دغه قبایل به دا جنبی قدرت اواستعمارسره لاس وګریوان وه .

ډولچی دقبیلوپه جګړو کی یوځه مصونیت هم لري اوڅوک چی ډولچی په جګړه کی وژنی نوپېغور یې په نصیب کیږي . ډولچی دجګړې په وخت کی ترږغ لاندي روان وي اوپاخه ډولچیان دجګړې په وخت کی دصفونو دنظم ساتلو کار هم کوي اودغه کار نو دډول په وار کوي،ددغسی ډولچی دډول وهلو دهر طرز سره دقبیلې خلک اشنا وي.

## ډول ډ نګول

ډول ډنګول دخطرداعلان مفهوم ورکوي. ډول هغه وخت ډنګیږي چې خطرپېښ وي، کله چې پر کلي چپاوراځی او دیومهم کار له پاره دقبیلې دټولو خلکو دراټولېدو ضرورت وي، نو ډول وډنګیږي .

په دغه وخت کې نودقبیلې خلك پوهیږي چې ډول ډنګول دیوې تازه پېښې علامه ده او په چټکۍ دډول کړی ته ځان ورسوي .

کله کله دډول نوم ډېرا خلی اوېوازی وایي، چې پرراوې ډنګوه یعنی ډول پروډنګوه مطلب لښکر پررا روان کړه . احمدزي وايي ، (دختاوې څخه بې پرراوډنګوه) یعنی عزیزان پرراوډ غوه چې دډولونو تراواز لاندي په لښکر را شی .

# ر

## ربړول

ربړول دتکلیفولو معنا ورکوي او ځارولو ته نژدې مفهوم افاده کوي. په قبیله کې هیڅوک حق نه لري چې بې موجبه بل څوک ور بړوي او که نه ژاغه به ور کوي. کله کله دقبیلو (رتماي) اوفراریان په لار کې لارویان ربړوي او هر کله چې دغسې عمل منځ ته راشي ، نو قبیله تولـه د ربړیدلي په حمایت دریږي. که کوم موقتي رتمل شوی سړی د قبیلې د کوم سړي د ربړېدلو په کار متهم شي د هغه د رتلو موده اوږده یږي او که په مکرر ډول د دغسې عمل مرتکب شي ، نو ددایمي رتلو سزاوار کول کیږي .

که په غیر مشهود ډول یو څوک د بل د خواو ربړول شي ، نو د ربړېدلي په

په دلايلو او اړلره يي چې ثابت يې کړي، که نه ده ته پخپله د شرم او ناغې قرنامه لاندې سراوړ کول کېږي .

## رټل

رټل شړلو ته وايي او دا يو سخت مجازات دي چې په نرخ کې ورته ټاکل کېږي . کله چې يو قاتل په سهوه کې قتل کړي يي او د مقتول دورثې د خواپو ر پر ذمه لري، نو دا مې سړی چې په نوات و خپل شي کله کله د رټلو سزا هم ور کول کېږي، دا سزا بالعموم هغه چا ته ور کول کېږي چې د قبيلې ټېر ننګيالی ځوان يې وژلی وي . په اکثره مواردو کې هغه سړي ته د رټلو سزا ور کول کېږي چې سخته بداخلاقي يې کړې وي يا يې د يوچا د ناموس بې احترامي کړې وي. رټل ټاکلی وخت لري او په دغه موده کې به رټلی کلي او قبيلې ته نه ورځي او که وليدل شو او وژل شو پوره وتاوان نه لري.

## رښتيا

رښتياويل د قبيلې د هر فرد وظيفه ده. څوک چې په دغه صفت شهرت لري هغه عزت هم لري، آن تر دې حده چې د مرکې د غړي حيثيت هم مومي، که کوم څوک يو بل څوک د قبيلې د منل شو يه تعامل نه مخالف و وينې بايد هغه ته رښتيا و وايي او که کوم جرم و وينې او پوښتنه ځني وشي بايد حقيقت پټ نه کړي او که چېرې رښتيا ونه وايي او د رواغ بې

ثابت شي باید تاغه ور کړي. همدارنګه که یې جرم لیدلی وي او ونه وایي،
دی د جرم ملګری بلل کیږي او تاوان پرې ښوول کیږي. په عمومي
ژوند کې ریښتیا یوه فرضیه ده چې هر قبیلوي سړی یې باید پرځای کړي.

## رو

رولاري ته وایي. هغه لارچې د کوچیانو قافلې پرځي. کوچیان چې
د موسم د بدلېدو سره خپله مینه بدلوي، نو کله چې د ژمي له مینې څخه
د دوبي (اوړي) مینې ته ځي په سلګونو کیلومتره لار وهي. د غه لارچې دوی
پرځي (رو) یې بولي. د غه روونه چې دا پاسین له غاړو څخه بیا د هندوکش
ترلمنو پورې غزېدلي دي ډېر لرغوني دي او تر اوسه کوچیان د غو لاروته (رو)
وایي، د رو په مخ کې د ربدل د تېري حکم لري، خو په قبیلو کې دا
روونه د قبیلو په حساب معلوم دي یعنې داسې نه کیږي چې یوه قبیله
خپل عنعنوي رو بدل کړي او د نورو په رو کې روانه شي. که داسې وشي،
نو د رو خاوند قبیله د هغوي مخه نیسي، خو د قبیلو په موافقه کېدای شي
چې رونه سره واوړي.

## روغه

روغه د جوړې سره يو مفهوم لري او صلح ته روغه ويل کېږي .

کله چې يو سړي د بل سره يا يوه قبيله د بلې قبيلې سره جګړه او دښمني بس کړي او دوستي سره وکړي دې ته روغه ويل کېږي .

د هرې مرکې او جرګې نهايي هدف روغه ده چې د متخاصمو خواو ترمنځ يې قايمه کړي. روغه په مرکه او جرګه کې منځ ته راځي . مثل دی وايي : ( چې په روغه کېږي په جنګ کله سوندل کېږي ) کله چې روغه وشوه ، نو د متخاصمو خواو حد معلومېږي او که هره خوا د هغه څخه تېری وکړي ، نو مقابل خوا ته د روغې ماتولو په اتهام پړه بلله کېږي . روغه د ډېرې يا تېرې دا پېښوولو سره شروع کېږي. کله چې تېره سوقتې او د نښتې تېره وي ، نو روغه هم د دغه امر تابع وي او کېدای شي چې د تېرې د ماتېدو نښه راسېږي ، روغه هم پای ته ورسېږي .

## روڼې

د تې کوچنۍ نجلۍ ته روڼي وايي يعنې هغه نجلۍ چې تا زه يې سترګې روڼې کړي وي .

روڼي چې کله د مرګ په بور کې ورکول کېږي د غه وخت هم وړې لرې او ولور يې د يوې پېغلې د ولور د ربعه برخه ده .

په قبیلوي بدیو کی چی د دوستی داعادې په منظور سر که فیصله وکړي روڼی هم د مقتول په ورثه کی د یوې پېغلې په نامه کېږي او ورته ورکول کیږي او دا چاره په پورتني ترتیب د خون له پوره خخه منفی کېږي .

د استاد پوهاند رشاد په نظر روڼی د (اوړنی) یا (اونی) خخه اخیستل شوي دی اوروڼی د هغې کوچنۍ نجلۍ مفهوم لري کوم چې اوړپه ونی په (اونی) کې ښچلی ویا وتـی روی. په کندهار کی د کوچنی د تړلو تو کرانو ته اونی وایی . (*)

(*) د ظفر اللغات په ۴۰ مخ کی اونی کلمې ته کښلي دي: «په تي پوري نجلی » .

په پښتنو کی متل دی : د نرزوی ژړا په اوړنې کي معلومېږي»

# ړ

## ړنده

د يوچا سترګه ړنده او ته (ړنده) وايي او د ړندې پور که يوه سترګه وي نيم خوږ او که دواړي سترګی وي پوره خوږ دی .

که د يو چا سترګه پخوا ړنده وه او بيا د بل چا له خوا په ضرب سره تپی شوه نو خوږ لری ، خو د تپ تر نرخ لاندې تاوان ورکوي .

که د څوک د بل غويی ړوند کړي نو دې ته د غوايي ړنده وايي او په دغسی وضعه کی هغه سړی چې غويی يې ړوند کړی دی دغه دې به پخپله اخلی او په عوض کی به يې ساري غويی ورکوی.

په نورو حيوانانو کی چې د کار د پاره وي د غوايي مقرره ده او که د غوښې او خوراك د پاره وی د قيمت اخيستلو حق لري .

## ړنګه

ړنګه تقريباً د بدی مفهوم ورکوي او وراولو ته وايي .

څوك چې جرګه سر كه ا خلا لوي وا يې چې دا ړنګه كوي . هغه څوك چې دسر كې پرېكړه ونه منې دا هم ړنګه ده . كه ددوو خواوترمنځ دښتې تيره ابشوول شوې وي او ضامنګړې ورڅخه راو وزي نو دا لو يه ړنګه ده . هغه سړى چې د ړنګې تحر يك كوي ښه نه ليدل كېږي او كه دد غسې سړي فساد نوري قبيلې ته ر سيدلى نود ړنګې د محرك په نامه تعقيبېږي او په نا غه محكوم كيږي په دغسې مورد كې د ضما نګړ ونظر اوشهادت هم اخيستل كيږي.

# ز

## زنا

ناروا جنسي معامله زنا ده . په زنا کې نر او ښځه دواړه وژل کېږي . يو سړی که خپله ښځه د بل بېګانه سره د زنا په حال کې وويني، وژل يې خپل حق دي او د وژل شوي ښځې او نر خپلوان د دغه سړي پر ذمه هيڅ پور نه لري.

زنا صرف يوه جزا لري چې هغه وژل دي او د پښتنو په قبيلو کې د زانې جرګه او مرکه هم نشي جوړېدای او ننواتي هم د منلو وړ نه دي .

که زانې ښځه د سړه ښځه و تښتي او د پلار او ورور کره ورشي، هغه يې بايد مړه کړي او که يې مړه نه کړي نو سړي يې پردې چې دا ښځه به مړه نه په لاس ور کوي چې مړه يې کړي، يوه ناغه په هم ور کوي .

## زور ور

زور ور هغه سړی ته وايي چې د قبيلې د مقرراتو چندان پابندي نه کوي.

داسې زورور د قبيلې د خلکو منفوروي اوغيا ، چې وايي پلانکی زورور دي معنايې داده چې ضمناً متجاوز هم دی .

په دغه مورد کې زورور اوزړه ور د مفهوم په لحاظ سره بېلېږي ، ځکه زړور غښتلي شجاع ته وايي چې د ننګ پر ځاګر د قبيلې او دهغې د حقوقو حامي وي ، خوزوروردقبيلې پرحقوقو تيري کوونکی دي . وايي زورور دحق دښمن دي . په دې جمله کې لوي حقيقت پروت دي . قبيلوي سړی د قبيلې د حقوقو په صيانت کې ژوندی دی ، ځکه نو زورورته ترنه ور کوي او که په زور معامله ورسره کيږي د خپل عزت او مال د ساتنې په خاطر

## زيارت

د قبيلې د نېکه ګانو او بزرګانو مدفن ، زيارت دي .

زيارت مقدس ځای دی او له همدې کبله زيارت د جرګې او سوګند ځای هم دي .

په زيارت کې خيراتونه کيږي او ددوي په نامه پرو ( ملا متو ) ته بخښنې کيږي .

هره قبيله د خپلو نيکه ګانو زيارتونه لري او داتېرشوي ستانه او نيکان بولی . په وزيرو کې د ( موسی درو يشی نيکه ) زيارت خورا ډېر مشهو ر دي او قومی لويې جرګې اکثراً په دغه زيارت کی کيږي .

کله کله داسې هم کيږي چې په يوه ځای کې ډېري جرګې شوي وي پر هغه بيرغ ځړ وی او زيا رت يې بولی . هغه زړې ونې چې

د زړوالي څخه یې ټنه کوک شوي وي پر هغه هم بیرغ ځړوي او زیارت یې کوي .

## زیاړی (ښکنځا)

د پکتیا په پوشمیر لهجو کې ښکنځلو ته زیړی یا زیاړی وایي او په ځینو کې کنځا او ښکنځا هم ورته ویل کیږي .

زیاړی یو شنیع عمل دی او څوک حق نه لري چې بل چا ته د غسې اهانت وکړي .

که څوک د د غسې عمل مرتکب گرځي هغه مجبور دی چې د شرم په نامه ومتا بل طرف ته یوه تاډیه ورکړي . بیگانه ښځې ته ښکنځل کول د ښځې د کورني بې عزتي ده او که څوک دغسې کار وکړي باید ننواتي ورولیږي، البته ننواتي یې ډېر مختصري یو سپین پټکی او یو پسه د غسې ننواتي ته ایډل کیږي، سپین ږیرو او هغو کسانو ته چې د مرکې او جرگې غړي وي ښکنځل په خپل حد کې شرم او تاوان لري.

## زیړی

کوم څوک چې چا ته ښه خبر راوړي چې هغه په خبر نه وي، دي ته زیړی وایي.

د اختر سیاشت چې هر څوک ووینی هغه د کلي پرسر ناره کوي او په دې ډول دی زیړی کوي.

ددغه زیری په قابل کی د کلی خلك هم ده‌ته شرینی ورکوی.

کله چی هر یو څا د پښو زیری وشی نو ورته وایی چی :

زیری می دراوړی هغه باید ورته ووایی چی د زوی زیری دی درباندی وسی.
په دغه کلمه کی معلومیږی چی په قبیلوی ژوندانه کی ډیر لوی زیری
د زوی زیری دی هغه څوك چی زوی نه لری او ښځه یی زوی ورته وزیږوی
نو پر دغه سړی چی زیری و کړی هغه باید په زیری کی یو پسه ور کړی.

# ژ

## ژبه

ژبه لکه خوله دوعدې اوتصمیم اومفهوم ورکوی، چاچې په یوه تاکلې پېښه کې ژبه وکړه، دهغه څخه گرځېدل ناغه اری .

همدا سبب دی چې قبیلوی خلک په وعده کې ډیر ثابت قدمه وی اوسره له دې چې ډیرزیان ور ورسېږی هغه قبلوی او وا یی چې ژبه می کړی ده .

ژبه اړول دقول څخه دگرځیدلو معنا ورکوی اوپه جرگه اومرکه کې که یو څوك ژبه واړوی، یعنې ترمخه یې یوڅه ویلې وی اوبیا په جرگه کې دشها دت پر وخت بل څه ووایې نودی ته دژبې اړول وایی او که دغه پرژابته شوه. نودی درواغجن دی اوباید ناغه پر کښېښوول شی. قبیلوی خلك ژبې ته دعقیدی اه مخې په تقدس هم قایل دی او وایی. ژبه دلما ئخنی ورده، څکه کلمه په و یل کیږی .

## ژرنده

ژرنده داوړه کولو وسیله ده. ژرنده هم پوښه تقدس لري اوڅوك چې ورځي باید ځان پاك کړي. ژرندې ځان ته مالك لري خو په ځینوقبیلو کې ژرنده خاص مالك نه لري، بلکه هر څوك خپل اوړه پخپله کوي. دځدرانو د(میتي) په تنګي ګي د(نیکه خوده) په نامه ځای کې ماپخپله دغسې بې خاوندہ ژرنده واید له چې دټولو مشترکه وه.

داژرندې د پوې لرغونې زمانې بقایا دي اوهغه وخت ښئي چې د عامه استفادې شیان په عامه ملکیت کې وه او وروسته پردغسې عامه ملکیتونو دشخصي ملکیت مهرونه ولګېدل.

په هغو ځایونو کې چې ژرندې په شخصي ملکیت کې وي، نوهغه سړی چې ژرنده چلوي ژرندګری ورته وايي اوهغه داوړه کولو پرکار مزد اخلي.

## ژوبله

ژوبله ټپي کولو یازخمي کولو ته وايي.

په ژوبله کې هم نرخ دژوبلې دځای اواندازې په اعتبار پورتاکی په دغه مورد کې هم د هلور ګوتو اصطلاح عام نرخ دی. دا که په

ژوبله کېټپ شوی‌واو که داسې ژوبله وىلا چې ټپ‌يې نه دراود ځنو ژوبل شوی ځای کټل کيږي اوبيايې تاوان‌تيا کی .

کنايتاً جنګ‌کې چې ويني پکښې توی نشی هم ژوبله بلل کيږي . که ديوسړي دشرم ځايونه ژوبل شي، نوهغه دتاوان څخه علاوه‌شرم هم‌لري اوبايدپه دغه نامه هم‌يوڅه‌ورته تاديه‌شي. دحيواناتوژوبلول هم جايز کار نه‌دی‌اومرتکب ته‌يې سزاوار کول کيږي.

# ږ

## ږغ

ږغ او ناره يو مفهوم لري. د دوول آواز چې کليوال او د قبيلې خلک ورغواړي هم يې ږغ بولي، خو په عامه اصطلاح کې دا ږغ هغه عمل دی چې کومه پېغله د يو بل چا په کور ور ننوزي.

دا رواج يعنې خو قبايل دی ږغ ته ناره وايي د تعامل سره سم يوه پېغله که پر چا ږغ وکړي بايد له کوره يې وباسي. دا عمل به دوهم او دريم وار هم تکرار وي که د څلورم وار له پاره په کور ور ننوته يعنې ږغ يې پر وکړه نو بيا يې پلار حق نه لري، خو په ځينو قبيلو کې کله چې پېغله د چا کور ته ننوزي يعنې ږغ پرو کړي تېښتګ پر د ږيرې او د ناموس په منزله کې يې ګڼي، خو به دغه وخت کې بايد د نجلۍ پلار ته يو ننوا ئې هم وکړي.

## ږيره

ږيره د نارينه د مردانګۍ علامه ده. ږيره مقدسه هم بلل کېږي. څوک

که دچا پرپېغور تېری وکړي هغه پرخپله ذمه پېغور اخلي .

که په جنګ کې کوم څوك دچا پېغور سهواً وکاږي ، نو یو تا کلی پور لري، خو که دا کار عمداً وکړي، نو دغه تا کلی پور پنځه چنده تاوان باید ورکړي(۱) د یوچا پېغور بنکنځل هم شرم لري او د پېغور خرپلی خطاب د پېغور بد ګڼل کیږي . سره له دې چې اوس د پېغور کلو لو رواج ډېر شوی دی خو بیا هم دغه خطاب ښه نه ګڼل کیږي ځکه په دغه خطاب کې یو ډېر بداود بې ننګی مفهوم پروت دی چې قبیلوی سړی یې قبلولای نه شي . په دې وعده اوقول کې چې څوك پېغور په راسته لا سر ونه سي نو دا معنا لري چې د قول ښځه په نه ګرځي .

(۱) ۱۳۱۸ کالنی ۳۵۳ مخ

## س

### ساري

ساري د برابر او مساوي په مفهوم راځي. د تعاملي قوانینو په وړاندې نر او ښځه ساري دي.

بدله د ساري په قانون اخیستل کېږي. د پښتو په شفاهي داستانونو کې د ولیجان او موسی جان داستان د ساري ښه مثال وړاندې کوي: «کله چې ولیجان د لوی خان سهیلي په تحریک د بوډۍ زړې ښځې له خوا مسموم کېږي نو د مرګ پر وخت خپل زوی ته وصیت کوي چې زما ساري واخله. د دې مفهوم دا دی چې زما ساري سهیلي خان دی. کله چې د دې وصیت د ده زوی پر ځای کوي هغه په جګړه کې مړ او دا وصیت د ولیجان خور پر ځای کوي خو دواده په شپه سهیلي خان وژني او دا ساري پر ځای کوي. په نرخ کې قصاص د ساري په قانون عملي کېږي. مثلاً وایي: سترګه د سترګې او غوږ د غوږ ساري دي.

وايي: «تکړی او پتکی ساری دي» يعنې نراو ښځه مساوي دي

په متل کی وايي: «ساري مې بې ، خوسيال مې نه بې»

معنا د حقوقوله مخې سره برابر يو ، خو په غيرت کې دي زه سيال نه بولم .

## سازورکول

ساز د جوړي سره تړ د ې مفهوم ور کوي . د تېرا په اړه د و کې د سړي د يت ته هم ساز وايي (۱)

سازورکو ونکی يعنی جوړه غوښتونکی به د ننواتې د خلکو سره قرآن پر سر نيسی او په پل لاس کی به يو څه پيسی (د د يت په شان) نيسی او د مقتول کورته به ورځی .

په عموم دول سازجوړي هغه نقدي ناديه ده چې د قاتل له خوا د مقتول ورثې ته ور کول کيږي . د سړي ساز په تېر کی (۲۰) زره افغانی دی .

ساز چې واخيستل شی بيرته مسترد ول يې سازماتول بولی . يو سړی کولای شی چې هم ساز وا خلی او هم شا ړمات کړي . يعنی د د يت پيسی بيرته مستردي کړي او خپل پور سر په سرواخلی ، خو په د غه کا ر کی هغه وخت اقدام کولای شی چې د ساز اخيستلو پروخت هغه مشروط واخلی او که يې قطعی اخيستې واو بيا يې مسترد اوه ، نو داحق نه لري . که د ساز ورکوونکی خواته زيان ورسوی تاوان به يې ور کوي .

(۱) پښتانه دوهم توك ۸۷ مخ .

سازعموما دمړی په قضیه کی ورکول کیږي اود کلمې مفهو م یې جوړ یت دی یعنی ساز ور کولو سره جوړه وشوه .

په ځینو قبیلو کی ساز اخیستل دبې غیرتی نښه بلل کیږي اودوې نه نه حاضریږي چی ساز واخلی، بلکه کوښښ کوي چی وارواخلی اوپه دې دول خپل قبیلوي حیثیت وساتی .

## سامل - سمل (گوند)

اپریدي توله اته قبیلی دی چی داواړه پردوه گونده ویشل کیږي ددغو دووگوندونو څخه یو سامل دی .

په سامل کی داتوقبیلوڅخه مالکدین خېل ، زخه خېل ، سپا ی اکاخېل ، کمر خېل یعنی پنځه خېله دسامل گوند غړي دي (۱)

استاد پوهاند رشاد په خپل یادداښت کی راته لیکلی دی چی :

«په ورکزو اوبنگښو کی هم سمل شته »

دا په سامل اوسمل تلفظ کیږی اوپه مهمووختونو کی داقبیلې دگوند په حساب سره یوځای کیږی .

## سپکه (سپکاوی)

سپکه توهین دی په قبیله کی هیڅوك حق نه لری چی دبل سپکه یاسپکاوی وکړی او کله چی ددغه پړی مرتکب کیږی نو د نوخ سره برابر به هغه ته چی سپکه یې شوی وی (شرم) ور کوی .

---

(۲) پښتانه دوهم ټوك ۲ مخ .

ډېر درونډ سپکاوی هغه دی چې په جرګه او مرکه کې دجرګه والې یا مرکچیانو سپکاوی وشي . سپکاوی که په خوله وي که په اشاره یوحکم لري او هغه څوك چې د پردې ښځې سپکاوی وکړي نودشرم سره به ننواتې هم د ښځې کورته کوي په ننوا تې کې یو سپین پټکی (ملا) او یو پسه کفایت کوي د سور او پلار سپکاوی په عرف کې ډېر بد حرکت دی او که کوم څوك دا کار وکړي نو د ټولو امر هم پر کېږي.

## سپی

سپی د کوراومال محافظ دی او نو ځکه په تعامل کې سپی هم حق لري. هیڅوك د چا سپی نشي وژلای او که یو پور پرڅه اخلي (د سپي پور وګوري) که د ده د ژوند په خطر کې ؤ اودا کار یې وکړ نو بیا معاف کېږي.

د رمې سپی تښتول غټ تاوان لري ځکه په دغه مطلب کې داخبره پرته ده چې نه یوازې سپی بې تښتولی دی بلکه د رمې حفاظت ته یې هم زیان رسولی دی. که د سپي د تښتولو سره پر رمه لیوه ورشي او پسونه څیري کړي نو که د سپي غل ونیول شي د سپي تاوا ن او د نه ګونه په زیانون د پسونو تاوان هم ځيني اخیستل کېږي .

## سپین

سپین د تور ضد دی .

په قبیله کې هر سړی چې د جرم مرتکب شوی نه وي سپین دی. خو که د جرم مرتکب شو نو (تور) بلل کېږي کې د سپین کلمه راشي نو د بدن هغه

برخه کله چې د ټپ او ژوبلې په برخه احتوا کوي چې څرګنده او ښکاره وي .

سترګې ، پزه ، غوږ ، شونډې ، لاسونه ترڅنګلو ، ښې تربجلکۍ او دمخ ښکاره غابونه (سپین) بلل کېږي (۱) .

دعیسی دنرخ په قرار دد ې سپینې برخې هر یو ځانته تاوان لري او دموسی په نرخ کې دسپین تاوان ترتور (دبدن پټه اومسطوره خوا) زیات دی.

په نفسي لحاظ دقبایلي هرسړي دتعاملی نرخ (قبیلوي قانون) په حکم سپین د ی څو که یې دنرخ له حد (تلك) څخه دتیرې (تجاوز) خواته پښه ورواړو له نوبیا (تور) دی اودقبیلې دعرفي تولنې د قبول شوی قانون (نرخ) په حکم دتعقیب او جزا وړ د ی .

لکه یوسپین چې تورېدای شي ، نو دغه رنګه دنرخ په تاکلی مقرراتو کې یو بې ګناه ثابت شوی مجرم (تور) سپین کېدای شي دسپین او تور اصطلاحي کلمات په ټولو پښتني قبیلو کې په کامله توګه بې تفاوته لهجه تلفظ کېږي اومفاهیم یې په عین یو شان فهمول کېږي .

دوزیرو په بیلو بیلو قبیلوی ښاخو کې چې دارغونې قبیلې دمناسباتو مظاهر ژوندی ساتل شوي نو په حقوقي ساحه کې دسپین او تورتعاملي اصطلاحات دژور و مفاهیمو سره پراته دی . درزمك نرخ (۲) یو سپین ته د هغه دقول په اعتبار صرف چې په خوله ووایي پرهرڅه یې اعتماد

(۱) د ۱۳۱۸ کالنۍ ۳۴۳ مخ .

(۲) درزمك څلور نرخیان دقاموس د (د) په ردیف کې .

کوی، څوکه یې د دغه نرخ له اعتماد څخه په بد ه استفاده ژبه وښوروله او (په نرخ پروا وښتله) یعنې پرڅا پته شوه نو عبرتنا" که جزاور کوی .

## سپین پایڅې

سپین پا یڅې هغې ناوې ته ویل کیږي چې بې د ننګ او پو له وله واده شی .

کله چې یو څوک خپله نامزاده د خسر پر کور حمله اوره کړي نود نرخ په حکم به بدسیره پرولو ر دوه سپین پایڅې هم د خسر خپلو په کور نی ور کوي .

سپین پایڅې ځکه ور کوي چې خسر خېل یې دو ا ده له مصرف څخه خلاص شی .

په کندهار کی اصطلاح د ه چې پلانکي خپله لور په سپینو پڅو له کوره وایستله، یعنې په پټه څوله یې واده کړه . سپین پا یڅې ښځه د سیره په کور کی هم په ښه سترګه نه لیدل کیږي .

دسپین پایڅې اختیار هغې خواته دی چې ورود یږي دوی به سږی ورته تا کی نه د نجلی پلار او ورو ر .

## سپین پټکی

سپین پټکی د ملا اعزازي لقب دی . سیدا و معتبر سړیو ته هم سپین پټکی ویل کیږي . سپین پټکی د ننواتي په غاړه اخلی .

هیڅ داسی مهمه ننواتي نه شته چې سپین پټکی په هغه کی روان نه وي .

سپین پټکی او پسه د ننواتي مهم جز گڼل کیږي، په قبیلوي جګړو کی هم سپین پټکیان لویه برخه لري. کله چی جګړه ډیره توده وي خطر یې زیاتیږي نو د جګړې د بند ولو د پاره سپین پټکیان قرآنونه پرسرنیسی او د جګړې ډګر ته داخلیږي په ځینو قبیلو کی د قرآنونو پر ځای توري کتوې پرسرنیسی. غالباً چی د تورو کتوو دود به یې ډېر لرغونی وي.

## سپین ځدران

ځرنګه چی ځدران په سپین ګوند کی دی نو سپین ځدران ورته وایی. دسپین ځدران مرکه ډیره د رنه وې او تقریباً د تمیز شکل لري، پر پریکړه یې پله مرکه نه جوړیږي.

کله چی د متخاصمو طرفینو له خوا په نورو مرکو جوړه ونه شي نو د سپین ځدران مرکه راغواړي.

دوه ویشت شګه په (المره) کی د سپین ځدران د جرګی تاریخی ځای دی او مهمی جرګې په هغه ځای کی کیږي. سپین ځدران به کرلانی قبایلو کی ستا نه بلل شوي دي او داسی عقیده ده چی هر څوک په سپین ځدران دروغی مرکه وکړي او یا ځنی وګرزي هغو ته سخت زیان و ررسیږي.

## سپین ږیري

سپین ږیری د قبیلې مشرا و د جرګې او مرکې غړي بلل کیږې او د سپین ږیری خطاب د عزت له پاره هم ویل کیږي د سپین ږیرې درناوی د قبیلې د ټولو غړو وظیفه ده او په سپکه ورته کتل ناغه لری.

سپین ږیري د هوښیارۍ او تجربې خاوند وي او د هغه خبرو منل د قبیلې د خلکو یوه فریضه ده. سپین ږیري د نورو له پاره مشاور هم دی. د سپین ږیري بې حرمتي په نرخ کې د ځوان تربې حرمتۍ درنه ناغه لري او هغه کسان چې دغه کار وکړي نو پېغورېې هم نصیب کیږي.

په خاص ډول کله چې سپین ږیري په مرکه کې ناست وي نو په یوه ساده اشاره هم د هغه له پاره سپکاوی ګڼل کیږي او باید ناغه ورکول شي

## سپین سرونه

کله کله په یوه داسې پېښه کې چې د الزام د لایل مجهول وي نو بې طرفه خلك د مرکې له خوا راغوښتل کیږي او هغوته چې قسمونه ورکوي، دې ته سپین سرونه وایي.

سپین سرونه هغه بې طرفه خلك دي چې حقیقت ورځخه څرګندیږي او د ادمرکې صلاحیت دی چې د غسې خلك راوغواړي او قسم ورکړي ترڅو حقیقت څرګند شي. کوم څوك چې په سپینو سرو کې وشمېرل شي هغه ځان بې طرفه نه شي نیولای، بلکه د حقیقت له مخې به هغه څه وایي چې ورته معلوم وي. که حقیقت پټ کړي نو د جرم شریك ګڼل کیږي او ناغه ځنې اخیستل کیږي «ښځې هم په سپین سرو نو کې را تلای شي» یعنې پو ښتنه ځینې کېدلای شي.

## سپین ګوند

سپین ګوند په ګوندي حساب کې د تورګوند ضد دی.

په پکتیا کی دسپین گوند غړی خپلونه دادی، په غلجی قبیلو کی مشهور خپلونه :

احمد زی ، علی خېل ، سلیمان خېل .

په کرلاړی قبیلو کی مشهورخپلونه چی دسپین گوند غړی دی دادی :

محمدران ، مندوز ی ، سبری ، تنی ، شمل ، تیر ی زا ی ، قد م ، چمکنی ، گربز( ۱ ) .

## ستا نه

ستانه دبزرگ( زبرگ)معناور کوی سیدان،صاحبزاده گان ستا نه بلل کیږ ی ، مړ ی یې ټوله ستانه دی . په اقوامو اوقبیلو کی هم یوقوم ستانه بلل کیږی لکه داویدیځی خوا په پښتنی قبیلو کی چی سا کزی ستانه بلل کیږی .

په ځینو قبیلو کی چی بله قبیله مدغم کیږی ، نودغه ادغام دمدغم شوی قبیلې دضعف څخه په عمل راځی ددی له پاره چی ددغه ضعف پرده پوښی وشی نودمدغم شوی قبیله ستانه بولی اوخبری ته یې د ر نا و ی کو ی . په و زیرستا ن کی سیدگی ستانه بلل کیږی .

ستا نه په ننواتی کی هم گډ و ن کوی او دمجرم شفاعت هم کوی .

## ستره

ستره دمیراتی په شان یوه چپاوی حمله ده چی په هغه کی نارینه وژل کیږی او کورونه سوځل کیږی .

---

( ۱ ) دگوند تشریح د (گ) په ردیف کې وگوري .

سته لکه د کلمې څخه چې معلومه ده دسته ایستلو ته وایي یعنې بنیا د دمنځه وړل .

په وزیرو کې سته د بدۍ په وخت کې ډېره عملي کېږي . سته دچپاو په شان وي او هر ډول وسله پکښې استعمالیږي. په سته کې کله کله د هغې کورنۍ یا قبیلې ښځې هم ورسره بیا یې چې سته پر شوي وي داوېدیځي خوا د زمینداور په الیزو کې هم دغسې یو اصطلاحي نوم شته چې (عیال تپ) ورته وایي او په دغه عمل کې هم د کورنۍ زا رینه که د زانګو کوچنی هم وي وژني یې خو اوس دا رسم نشته ولې نوم یې لا تراوسه پاته دی .

## سر پرېکول

سرپرېکول د قسم ورکولو او قسم اخیستلو په مورد کې استعمالیږي. وایي پلانکي سرپرېکړ یعنې قسم یې وخوړ. سرپرېکول یعنې قسم اخیستل. لوړه کول او سرپرېکول دواړه یو مفهوم لري . یو چا ته هغه وخت د سرپرېکولو دعوت ورکول کېږي چې په یوه ټاکلې قضیه کې منکر وي دا قسم د مرکې د غړو له خوا ورکول کېږي او په دغه وخت کې په د قبیلې نور غړي هم حاضر وي. د سرپرېکولو د پرځای کولو وروسته دا سړی باید خیرات وکړي ځکه وایي چې قسم که پرحق وي هم زیان رسوي ښځو ته هم د سرپرېکولو دعوت ورکول کېږي خو د ښځې قسم نیم سر ګڼل کېږي .

## سر خېل

سرخېل دقبیلې مشرته وایي . هره قبیله سرخېل لري سرخېل د (میر) سره نژدې مفهوم افاده کوي او خان ته هم سرخېل ویل کېږي. سرخېل جرګه او مرکه راغواړي او په هغو قبیلو کې چې قدرت يې پر نورو قبیلو زیات شوی وي سرخېل داقتدار مرجع بلل کیږي . سرخېل د کلمې په لحاظ ترخان او (میر) ارغوني معلومیږي او غالباً چې د ا وس څخه وړاندې قبیلو کې دسرخېل عنوان په ورستیو قبیلو ته دمیراث په شکل انتقال را کړی وی . سر خېل بالعموم په کوچیانی قبیلو کې مشرته ویل کیږي خو میر او خان د کلیو اوقبیلو دمشر القاب دی .

## سلاته

سلاته داد ه چې په یوه کورنې کې داسې نارینه پا ته شی چې هغه دننګ او سېړانې پروانه لري اودغیرت او توري څخه خلاص وي.

قبیلوي خلک وایی، چې (مراته بنه ده خو سلاته نږیره بده ده) .

په میراته کې نارینه تولهمري اودایوعذ ردي چې سړونه لري خو په سلاته کې نارینه موجودوي ولې د بې غیرتی څخه دسړونو په جمله کې نېځی نه شمارل کیږي . هغه کورنۍ چې دغیرت پر م يې تېر کړي وي خو په وروستیو خلکو کې يې دنامه سړي نه وي نودوی وایی چې دا کو رنۍ په

سلاته اخته شویده . دسلاتې په نامه چې یوه کورنۍ شهرت پيدا کړي نو بیا په قبیله کې دقبیلوي حقوقو څخه هم بې برخې کیږي او دبلې خپلخانې تابع کیږي .

## سم

سم دسپين سره نږدې مفهوم لري ، خو تو پيريې دادی چې هر سم سپين دی، ولې هر سپين سم نه بلل کیږي . سم والی د ادي چې د قبيلې قانون په معنی سم د بدو بيزاره ته ويل کيږي .
مرد گان يعنې مړه تو له سم دي . شيطان کوږدی سم د کوږ په مقابل کې استعما ليږي او کله ديوې صفتي سابقې په ډول په نوم پوري متبلي لکه سم سړي . د کو پوسړي په مقابل کې ، سه خبره د کږې خبري په مقابل کې اود اسي نور .
دقبيلې خلك وايي سم والی د خدای دطرفه دی او کږوالی دشيطان دطرفه . په سرکه اوجرگه کې دسم کلمه ډيره راځي . جرگه وال په په لوسړي سر کې دوارو خواوته په خطاب وايي سمه لارو نیسئی .

## سور

سورد سور لاسی سره يومفهوم لري يعنې هغه څوك چې سړی يې کړی وی او دقاتل حيثت يې پيدا کړی وي .
قاتل سوردی . سور پور پر خپله ذمه لري . سور په دی لحاظ چې جرم يې کړی دی تور دی ، خود هغه تور سره چې د زانی په مفهوم معناور کړی تو پير

لري. مثلاً وايي: سور ننواتې لري، خو تور (په ښځه تور) ننواتې نه لري. هر هغه څوك چې قتل وکړي سور بلل کېږي دا نو که يې په بدی کې مړی کړی وي او که يې خپله بدله اخیستې وي. کنایةً قتل ته هم سره وايي، (پلانکي سره وکړه) يعني قتل يې وکړ. *

همدارنګه کنایةً عصبي او قهرجن سړي ته هم سور ویل کېږي او وايي (سور شوی دی) په دې برخه کې ځايي د عصبي سړي د رنګ په لحاظ چې مخ يې سور شوی وي دا قوم ورته استعمالېږي.

## سور ټکری

هغه ښځه چې بدی پروشي یا مړی پروشي سور ټکری بولي.

د سور ټکري کلمه هغې ښځې ته هم استعمالېږي چې مېړه یې په بدی کې وژل شوی وي، خو په عام ډول دا کلمه هغې پېغلې ته استعمالېږي چې مړی پروشي. کله چې یو سړی پر کومې پېغلې ږغ وکړي یا ټك پرو کړي او د هغې خپلوان دا د ځان کسر وبولي او دا سړی مړ کړي یا دا پېغله بل چاته ور کړي او د ټك کوونکی هغه مړ کړي نو د هغې ښځې (پېغلې) ته چې مرګ پر شوی وي سور ټکری وايي. هغه ښځه چې سور ټکري شي ډېرې چندان څوك نه غواړي او د لوی بدیوا ودعوو رابطه پورې پیدا کېږي.

---

* په کندهار کې سره د ژوبلې او ټپ په معنی هم کارېږي مثلاً: سره پکښې وشوه یعنې ټپ پکښې پېښ شو. (ارشاد)

## سور لاسی

سور لاس یعنی قاتل هغه څوك چی لاسونه یې په وینوسره وی .
سور لاسیدسور سره یوشمفهوم لری . هرسور لاسی پر خپله ذمه
پوز لری .څو کولای شی دغه پور په‌نتواتی‌سره‌داسی پرځای کړی‌چی
دده ژوند پکښی وساتل شی . هغه سور لاسی چی فرا رغو ره کوی
نودورسیږي‌ونی په‌رابطه دهغه دپلرنی‌قوله نارینه‌پوروړی ګڼل کیږی
اودمقتول خوا کولای شی‌چی دسور لاسی په کورنی کی هر څوك
ووژنی او خپل و اروا خلی . که یو څوك سو لاسی ته پنا ور کړی
نومقررات یې معلوم دی چی دوه کاله دغه پناقبلېږی‌اوترهغه وروسته
پناورو کونکی هم‌دسدعیانو په‌ډله کی‌شمېرل کیږی .

## سوره

دقتل په‌پیښه کی‌دمقتول دورثی یو حق سوره ده چی د قبول
په صورت کی یوه ښځه د قاتل دخواڅخه‌دمقتول په‌خپلوانو کی‌یوه ته
ور کول کیږي.

سوره دمقتول دورثې له‌خواد نجلی قبلولو ته‌وایی‌چی‌په‌بدي یعنی
دقتل په بدي کې ورکول‌شی (۱).

دسوري ناوی اکثرً سپین پایځی ود وي یعنی، مازاو سرودنه پر
جوړ وي . سوره باید حتماً پېغله وي‌او کونده‌په سوره کی‌نه‌شی‌ور کول
کېدلاي په سوره کی د زانګو دنجلی څخه نیولی بیا ترلویی‌ښځی پوري

(۱) پښتانه‌لو سړی‌توك ۱۳۷ مخ

ورکول کېږي خوولور یې د خونبها څخه وزي او نور که یې څه واوري هغه هم ورکوي .

## سیال

سیال رقیب ته ویل کېږي او سیالي رقابت ته وایي .

دسیال سره ننګه دقبیلوي سړي غټه وظیفه ده . او داد غیرت یوه نخښه هم بلل کېږي ، متل دي (سیال مې یې خوشحې مې نه یې) معنا دا ده چې دځان برابر دي نه بولم .

سیال دحیثیت او اعتبار خاوند بلل کېږي خودقبیلوي سړی غرور هغه دځان سره برابر نه قبلوي ، نوځکه د هغه رقیب کېږي .

## سیالي

سیالي قبیلوي رقابت دی او په عام ډول هم درقابت معنی لري، کله چې خپلونه یاخپلخانې یا افراد یودبل په سیالی کې سره ودرېږي نو که د توري پر ځای او که دمصرف پرځای وي خپل نهایي کوښښ کوي چې تر خپل رقیب پاته نشي او سیالي پرځای کړي .

سیالي زیاتره په هغه وخت کې کېږي کله چې مولمستیاوې وشي . په دودې ماری کې هرګاونډی د بل ګاونډی سره سیالي کوي . په قبیلوي جګړو کې هغه خپلونه او پارېني چې په یوه محاذ کې واقع وي نود سیالي په دود په جګړه کې خپل غیرت او مهارت ښيي او دغسې سیالي په درنه ستړګه هم کتل کېږي .

## سيري خواره

په ماسنډو کې د مځکې د ويش په برخه کې سيري خواره هغه دي چې مځکه يې نه ويشل کيږي. يوازې غير سيري خواره له خپلې علاقې څخه د بهر چې تر کيد و روسته ګاه د کوی اوداپچه په لسويا دو واس يا شل کاله کې کيږي.

په سيري خورو کې سيدان، مياګان، ملايان، اخندزادګان، اهنګر، ترکاڼ، درو زګرا او نا يې شامل دي (١) سيري خوا ره پخوا يوازې اهنګران او ترکاڼان او نايان وه اودوی ته هم يو ټوکر مځکه تخصيص کېدله چې پر هغه دايمي واوسي ولې د مغولي دور څخه مياګان او نور چې درباري قوت يې ملاتړ کاوه د مستقروزميندارو په ډله کې شامل شول سيري خواره د ويش پر وخت د ويش ډګر ته هم نه ورځي

(١) پښتانه لومړی ټوك ١٣٧ مخ.

(١) کابل مجله د ١٣٣٩ کال ١١ — ١٢ گڼه ٨٥ مخ.

# ش

## شارګر

شاري وېونکي ته شارګر ويل کېږي . شارګر د شاعر مفهوم ور کوي، خو هغه شاعر ته ويل کېږي چې بالبديهه شعر په اواز وايي . شارګران په وزيرستان او پکتيا کې دنامه خاوندان دي او په هره ميلمستيا او د خوښۍ په محفل کې حاضروي. په کومه کې دتوريو شارګران د عاشورې په ورځ په في البديهه ډول د شهيدانو اماماتو جنګنامې وايي . دا چې شارګر تر اوسه په دغو قبيلو کې ځاى لري داد آريايي دورې يودود دى او په ويدي دوره کې شاعران د ريشانو په ډله کې شامل وه . د آريايي دورې دلسو قبيلو په جګړه کې چې عامل يې د

يو شاعر ( ويسواميترا ) عزلۇ ، پوهيدلىشو چيپه دغو قبيلوكيشاعر ډېر لرغوني مقام لري .

شارگران د مسابقې په ډول شعرونه هم سره وايي او دغهسوال او جواب يې يو داستان تمثيلوي .

شارگرانپه جرگوکي تر پريکړې وروسته د خوښۍ مجلسونه تازه کوي .

## شاري

باليد اهه شعرته شاري وايي . په خوست ـ ځدرانو ، منگلو او وزيرو کي شاري په مجلسونو او خوښۍ په محافلو کي ويل کيږي .

دا اکثراً سوال او جواب وي ، چي د دو شاعرانو تـــر منځ ويل کيږي .

په ( بنو ) کي شاري په مرکو او جرگو کي هم ويل کيږي غالباً دابه هم هغه وخت وي چي د جرگې او مرکې پرېکړې قبولي شي او خوښۍ منځ ته را شي . شاري يو آزاد شعر دي د قافيي قيد هم نه بر نه لري ، او د بيت وزن يې زياتره په آواز ( ترنم ) سره برابروي د ټبيلوي لويو او تاريخي جرگو پېښې شارگرانو په شاريو کي اچولي او د خوښيو په بانه ارونو کي اوريدل کيږي . دغسي شاري تر اوسه د يوه نسل څخه بل نسل ته سينه په سينه نقل کيږي .

## شر

شر لفظي جګړه ده . کله چې د دوو کورنیو یا دووقبیلو ترمنځ اختلاف په لفظي ساحه کې شدت ته ورسیږي دا شر دی او کهدلاس اویدلو ته ورسیږي ، نوجنګ او جګړه بلل کیږي . هغه سړی چې شر کوي، شریروړته وايي . پهجرګه او مرکه کې چې کوم څوك دېر غالمغال کوی هغه د شریر په نامه له جرګې او مرکې څخه لیر ی کوی . قبیلوی خلك وايي چېشردیاری بدیده ـ یعنی هرلفظيجنګ وعملي جنګ ته رسیږی او بدی پر بنا کېږی . یا مثلاً وایيشریرسړی تروپش په چور څوښیږی . هغه سړی چې په قبیله کې دنورو ترمنځ شر پورته کوی، په ښه نظرنه کتل کیږی .

## شرم

شرم چې په لفظي معنا دحیا مفهوم ورکوی ، خو په تعاملاتی قانون کې هغه یو تادیه ده چې د ګرم ( ملامت ) له خوا هغه چاته ورکول کیږی چې ګرمه په شوې وی .

شرم بالعموم په اخلاقي مواردو کې منځ ته راځی، مثلاً یوڅوك دجرګې د یو غړی بې احترامی کوییا دننواتی غړی جوابوییادبڼځی پلو ( شفاعت ) نه منی، نو باید دشرم په نامه هغوته یوڅه ورکړی .

په شرم کی پیسې او پسه نورکول کیږی .
شرم په نرخ کی تاکلی معیار نه لری ، بلکه دوه اودرې کسه سپین ږیری هم کولای شی هغه وټاکی. که یو څوك د شرم په ورکولو محکوم شی او هغه سرو غړی نوزا غه پسی پراوړی .

## شلاونه

د کندهار او هلمند په اصطلاح کی شلاونه د ویش سره نژدې مفهوم لري .
کله چی د یوه ټاکلی کارله پاره مصرف تعین شی ،نوهغه پر کورو وویشل شی یعنی هر کور باید یو څه ورکړی دې ته شلا ونه ویل کیږی: شلاونه په دې مفهوم هم راځی چی حاصل دڅوکسو تر منځ وویشل شی. مثلا د مځکی څخه چی په ګډه حا صل واخیستل شی او هغه چی سره وویشی دې ته هم شلاونه وایی .
د سرکې او جرګې خرځ چی وټا کل‌شی ،نو که دقبیلې مساله وه دغه خرځ په اصطلاح پرټولو شلاونه کیږی او هره کورنی باید برخه پکښې واخلی. د شلاونه کلمه په عا م دول د لویدیځې خوا په قبیلو کی ډیر رواج لري

## شلګون

په تیرا کی د پټ شوی مجرم د پیدا کولو دپاره مؤظفه ټولګې شلګون بولی .

کله چی یو مجرم د جرم تر ارتکاب وروسته ورك شی، نو دقبیلې سپین ږیری په ګډه څو کسه ټاکی چی مجرم پیدا کړی دغه ډلی ته شلګون ویل کیږی(۱). داضروری نه ده چی حتماًبایدشل کسه وټاکل شی، بلکه هر څو کسه چی موظف شی شلګون ورته وایی.غالباً چی په ارغونوقبیلوکی به د دغه کارله پاره پوره شل کسه ټاکل کېدل،خواوس د شاو کسو مؤظف کول ضروری کار نه دی. که یو شلګون بریالی نه شی نو ګېدای شی چی د شلګون عمل تر دریو ځله تکرار شی.

## شمله

د پټکی یا پګړی سراوپای ته شمله ویل کیږی.په عمومی دول د پټکی هغه سرچی دپګړی دواونو پرسرنیغه دروول کیږی هغه شمله ده.

په عامه اصطلاح کی شمله د نارینتوب علامه او نښه ده.دغیرت او میړانی د روند مفهوم په شمله کی پروت دی.

دا اصطلاح چی(پلانکی دکام شمله وټروله)دا معنا ورکوی چی دا سی بې غیرتی او بدکار یې وکړ چی د کام نوم یې بد کړ. یا وایی پلانکی د پلرینی شمله نیغه کړه معنا لوی غیرت یی وکړ شملې ته پد خطاب کول هم ښکنځل دی او ددغی بی عزتی په مقابل کی یې

(۱) پښتانه دوهم ټوك ۹٦ مخ

فاعل د شرم په ورکولو مکلف کېږی. کنایتاً خان او د قبیلی اوږ سړی هم د شملی په نامه یادېږی.

## شنګړی شیګړه

په مومند و او شینوارو کی د شینګړی یا شنګړی په نامه او په خوست او ځدرانو کی د شیګړی په تلفظ هغی ښځی ته و یل کېږی چی تښتېدلی وی. کومه ښځه چی کوم سړی ته په نامه شوی وی او بی د پلار او ورور له اجازې تر واده د مخه په مېړه پسی وتښتی دا هم شنګړی یا شیګړه ده.

په ځینو قبیلو کی په شیګاړه تلفظ کېږی، خو مفهوم یې په ټولو سیمو کی یو دی یعنی تښتېدلی ښځه. هره ښځه چی وتښتی یعنی په خپل مرد کور څخه ولاړه شی شنګړی ده. هغه ښځه چی بی اجازې د پلار له کوره په مېړه پسی وتښتی مېړه به یې بېرته د پلار کور ته ورولی او که بی خپلوانو مړه کړه د دواړو به بېرته ورمسترد وی او که یې ورنه وستله، نو د نواتی مرکې او جرګې په وسیله به د هغو عزت پرځای کوی، خوشیګړه یا شنګړی د ټول عمر ژوند نه شی کولای حتماً وژل کېږی.

---

* شمله مجازاً د عزت او افتخار معنی هم لری، حمید ویلی دی

د حمید د ساده شعر کمال ګوره

چی شمله شه د تمام سړیتی

کېدای شی چی شمله د ممتاز معنی ولری

## شوکه

په اپریدو کې شوکه په دې مفهوم استعمالیږي چې د یو چا څخه په لار کې په زور مال وا خیستل شي. البته د مال خاوند باید ټپي او زخمي نه شي.

شوکه یو جرم دی چې مجرم ته یې د تنا کلي نرخ سره سجازات ور کول کیږي. شوکه د لارې نیولو په جمله کې یو کوچنی انحراف دی او د یوه غله عمل ته شوکه ویل کیږي، او ځکه په نرخ کې یوازې د (نه گونه) په عرف تا وان ځني اخلي او یو شرم هم زیات پرا یږدي. دا شرم د لارې په نامه ور څخه اخیستل کیږي. ځکه د ده د عمومي لارې بې احترامي کړې او امنیت ته یې زیان رسولی دی. د شوکې مال که د چا کره پیدا شو هغه هم د شوکې کوونکي ملگري بلل کیږي او سزا ور کول کیږي.

## شومي نیول

شومي نیول د مړي یا د ډوډۍ څخه لاس نیولو سره یو مفهوم لري.

د روغې او جوړې له پاره کله کله داسې کیږي چې څو کسه د ننواتې په شان د هغه چا کره ورځي چې دور رسیدلی زیان د غچ له پاره هیڅ جوړې ته نه حاضریږي. په دغه وخت کې د ډوډۍ څخه لاس نیسي او تر هغه وخته پورې ډوډۍ نه خوري، څو د کور خاوند د دوی غوښتنه ونه مني دغه عمل ته شومي نیول وایي. دا اصطلاح په کندهار او هلمند کې ډېره عامه ده. که شفاعت کوونکي همدغسې شوم له دغه کوره راووزي او ډوډۍ ونه خوري، نو دا نه یوازې د هغه سړي له پاره پېغور او عیب دی، بلکه د شفاعت کوونکو په عزت یې هم تیری کړی دی او باید جبیره یې کړي.

# ښ

## ښځه

ښځه دقبيلې د مناسباتو په ساحه کې لاندني موقفونه لري چې هر يو
يې په دې قاموس کې جلا جلا هم ښودل شوېدی .

روڼې .

ګوت لکه .

پېغله .

مېرمنې .

کونډه .

متېزه .

ښکرې .

بونډی .

سوره .

ښځه د نارینه سره د جرم په مقابل کې بوشان مجازات لري، خو په ډېرو مواردو کې د دې مقام د لحاظه ځنې ور ډل شوېدی .

پښتانه وايي (تکړې او پټکې ساري دي) د تکړې ښځه مراد ښځه ده او د دې مفهوم دا دی چې ښځه او نر په حق کې مساوي بلل شوي دي، خو عملاً د دغه تساوي قبيلوي پلاړ واکې کمزوری کړیده .

هغه نه اصطلاحي کلمې چې ښځې ته په قبيله کې د موقف په لحاظ ټاکل شويدي د هغې حقوقي موقف ښيي په داغه مرحله او موقف کې چې ښځه واقع وي حقوق يې ټاکلي معيارلري، خو په دغو معيارونو کې پوازې مړونې له پاره مساوي شرايط شته او د يو کامل نرد په حيث فرق ورکول کيږي. پوازې د ميړه په مقابل کې يې موقف يو څه ټيټ وي او نورنو دلاندې خواته په پخلتوب او پورته په ګوڼه توب کې د مال په حيث استعماليږي.

## ښځې ته اوږه ور کول

که ښځه د کوم جرم مرتکبه وګرځي او پيامنکره وي نو قسم ورکول کيږي، خو قسم به يې ميړه يا پلار يا بل نږدې محرم ور کوي .

ګله چې د عصي واقعه پېښه وي چې جرګې ته د ښځې دوراتګ ايجاب پوښي، نو هغه جرګې ته نه را حاضر يږي د جرګې پوښتنه به د هغې ميړه يا

وروړ پاتېږدې محرم د هغې ځخه کوی او پیا به یې جواب جرګې ته وايي .

دقسم پالوړی به ورکړه کی صرف د هغې د محرم پر قول جرګه اعتبار کوی چې دوسره ووايي چې موږ هغې ته لوړه ورکړه او هغې هم واخېستله په ځينو سيمو کی هغه ښځې ته چې د جرګې په حکم د محرو سوځېلوا نوله خوا قسم ورکول کيږی د جرګې د غړو ځخه د يوه د کور ښځه هم د شا هد په توګه هلته حاضرېږی .

## ښرا

ښرا يو شوم عمل دی. په قبيلوی ژوانده انه کی چې څوك ښرا وی کوی د هغه ځخه کر که هم کيږی. په ځينو قبيلو کی چې ستا نه مقام لری، ښرا يې بد ه بلل کيږی.

د کند هار هلمند او فراه سا کزی په ښرا ويلو شهرت لری. وايي چې ،د سا کزی د عانه قبلېږی خوښرا يې قبليږی.

چپه پا تا د يره لويه ښرا ده او په هغه چا پسې چې دغسې ښرا شوی وی د هغه ځخه د قبيلې نور خلك هم کرکه کوی (چپه پاتا دی و کتل شی ).

## ښکنځا ( زيړی)

ښکنځا يا ښکنځل هغه بد الفاظ دی چې پوچاته مخامخ يا په غياب کی وويل شی. ځاځيان ښکنځا ته زيړی وايي . څوك چې ښکنځا

وکړی هغه دیو جرم مرتکب ګرځی او باید شوم یی وکړی.

ښکنځا دخلکو دعمر او موقف په لحاظ توپیر لری. پردی ښځی ته ښکنځا ډیر بد کار بلل کیږی همدا رنګه مشرو ته هم دغسی ده او شرم یې دروند دی، خو په عمر او موقف برابر همزولی ته ښکنځا شرم لری، خو ډیر دروند نه وی. په هر که کی دعمر او موقف حساب په دغه مساله کی په ډیر غور خارل کیږی.

مورا و پلار ته ښکنځا تر ټولو ډیر دروند شرم لری او دغسی سړی په قبیله کی ډیر سپك ګڼل کیږی. داسی جرم په ندرت واقع کیږی.

## ښندنه

په قبیله کی چی کله کوم څوك دبدی ورځی سره مخامخ شی، سړی یې شوی وی یا بله دعوه ولری او د مرکی له پاره دخرڅ توان ونه لری نو، خپلوان او دقبیلې منسوبین یې د(ښندنی) په نامه مرسته ورسره کوی، خو(ښندنه) باید دتوان په وخت کی بیرته تادیه شی.

په هغو قبیلو کی چی دخانی نفوذ قوی شوی وی نو ښندنه ډیره نه وی خو که دمشری په میدان کی رقا بتونه رامنځ ته شوی وی، نود یوا و بل په مقابله کی د بیلو بیلو دعواو دپاره خلك تحریکیږی او د ښندنی ترعنوان لاندی عام خلك مجبور دی چی د جرګو او مرکو مصارف ورکړی.

په عمومی ډول هغه سیمی چی قبیلوی روابط یی دمدنی فشار سره مخامخ کیږی د غه دو دپکښی زیا تیږی.

# ض

## ضامنگړی

کله چې د نیټې ټیره وتړل شی ،نود هغې ضمانت چې دد وو میټخا صمو خواو تر منځ یوه یاځو کو رنی و کړی. دې کو رنې یا کورینوته ضامنګړی وایی (۱)

ضامنګړی د دغې بدی مراقبت اوڅارنه کوی چې مرد ونه سپملی. کله چې د ټیری نیټه پوره شی نو د ضامنګړو وظیفه هم پای ته ورسیږی. د نیټې موده چې سرته ورسیږی باید دواړی خواوی ضامنګړی خبر کړی ترڅو هغه خپلی وظیفې ختم وبولی. دیوې خواپه فیصله د ضامنګړو وظیفه

(۱) پښتانه د وهم ټوك ۸۸ مخ .

پای ته ئه رسیږی که کومه خوا پرضامنکرو تیری وکړی دوی به د تاوان سره شرم هم ورکوی . که کوم طرف پرضا منکړود بل طر ف د ملګړی ادعاو کړی خپله دغه ادعا باید په مرکه کی ثا بته کړی.

# غ

## غچ

غچ د انتقام معنا ورکوی غچ پرېښوول په قبیلوی مناسبا تو کی دبې غیر تی په معنا راځی دخپلوحقوقو دساتنی له پاره دقبیلې هر سړی او هره قبیله دبلی قبیلې په مقابل کی د غچ اخیستلو احساس غښتلی ساتی قبیلوی سړی دغچ اخیستلوپه کار کی ډېره حوصله لری، خوغچ نه پرېږدی وایی 'متل «پښتون سل کاله دوروسته وار (غچ) واخیست ویل اوس می هم تلوار وکړ » په غچ اخیستلو کی دعمل شدت کله کله (ږیګړه) هم منځ ته راوړی چی دیوې کورنی یا دقبیلې دیوې برخی تول نر او ښځه زاره او واړه تر تیغ تېر کړی. دېګړی غچ اوس نسته خو یووخت بې ډېر زیانونه رسولی دی .

## غدی

په قبیلوي پلوو کې د دښمن ناڅاپه برغل ته غدی ویل کېږي.
غدی بالعموم د تورو خلکو څخه جوړېږي او دا نو هغه کسان وي چې د قبیلې څخه په فرار محکوم شوي وي او بیا سره یو ځای کېږي او د دښمن حمله کوي غدی یوازې د غلا په منظور نه جوړېږي، بلکه د انتقام جویانه حرکت یو دسته جمعي شکل دی. دا چې د غله د کلمې سره غدی کلمه هم یادېږي، نو اکثراً د غدی خلک لارې هم نیسي مثلاً وايي (لار غلو او غدی نیولې ده) غدی د غله دا ده چې د غچ او انتقام په منظور د قبیلې امنیت تهدیدوي.
د غدی د مخ نیوي له پاره د قبیلې ټول خلک په مسلح ډول یو ځای کېږي او لار خلاصوي، څو کاله چې غدی قوي شي نو لوټمار ورسره شروع کړي.

## غږ - بږغ

غږ یا بږغ دا وازمعنا ور کوي، خو یوه تعاملي اصطلاح کې چې کوم څوک د مړ کې او چرګې غږ وته د ژوندي مټ وکړي دا غږ بلل کېږي غږ د نارې په مفهوم هم راځي. کوم سړی چې پر پېغله ټک وکړي یا يې پلو غوټه کړي معنا په خپل نامه يې کړي دې ته هم غږ ویل کېږي.
په یوه لویه پېښه کې چې د قبیلې غړي راټولېږي دې ته هم غږ وايي.
په لویدیځو قبیلو کې دې غږ ته بږغ وايي د یو مهم کار له پاره چې د قبیلې خلک راټولېږي نو وايي چې بږغ يې کړیدی.

پېغ پورته کول د شکایت په مفهوم سره راځي پېغ سره پورته کېدل د دوو یا
څو کسو د مخالفت او جګړې په معنا هم راځي . پخوا به دې خبر او اطلاع ته
هم پېغ وايي .

### غېږ وېل

په عام ډول کله چې یو څوک پر یوه بې مېړه ښځه پېغ وکړي چې دا
زما ده د دې ته غېږ وایي او بیا نو د ښځې خپلوان حق نه لري چې هغه بل
چا ته ورکړي، خو دوی او اختیار یې د پلار او ورور خواته دی او غېږ وونکی
مکلف دی چې هغه هرو مرو ومني (غېږ وېل) د پلو غوټه کول او تېك کول او
سره یو مفهوم لري په یو بل پښتو قبیلو کې دا کار یوازې په تېك کېږي هغه
ښځه چې غېږ پرې وېل شوې وي تر څو پورې چې سرنوشت ئې معلومېږي د کوره
نه شي وتلای او د خپلوانو څخه هم مخ پټوي کېږي د نجلۍ پلار او ورور ونه
او تو له خپلخانه په یوه اضطراري حال کې وي او عام خلك وايي چې
د پلاني په خپلخانه کې پر پېغله غېږ وېل شوې دی (د پکتیا د زاود علی
خېلو لهجه)

### غولی

غولی د سرای صحن ته وېل کېږي، خو په اصطلاح کې
هغه لاره ده چې تور (مجرم) یې د تعاملي قانون سره سم
د ځان د مصونیت له پاره جوړوي . داسې چې یو تور کله
تر تعقیب لاندې وي هغه د اصل محل څخه حرکت کوي او د قبیلې

د یوه تاکلي سړي د کورتر مخ پسه حلالوي بیا نو د دغې کورنۍ په ساتنه کې واقع کېږي. بلې پلا پیاله د غه ځایه حرکت کوي د یوه بل کور مخ ته پسه حلالوي او په ترتیب سره چې په لارې کې د هرې کورنۍ د کورتر مخ پسه حلالوي، نو د هغې کورنۍ په مصئونیت کې واقع کېږي، دغې لارې ته غولی وایي.

په غولي کې څوک له مدعي څخه غچ نه اخلي، خودا کار باید په ډېر احتیاط او پاملرنه وشي او که یو گام چپ کېږدي د مدعیانو دخوا حمله پر کېږي.

## غیرت

په قبیله کې حیثیت ساتلو د پاره غیرت یوه وسیله ده. هر سړی او هره قبیله چې غیرت بې لري نو د نورو د چپاول په معرض کې واقع کېږي. یو قبیلوی سړی تر هر څه وړاندې د خپلو حقوقو په ساتلو کې غیرتمندوي. غیرت د ناموس جزګڼل کېږي او وایي د چا څخه چې غیرت ځي هغه ناموس هم نشي ساتلای. یو قبیلوی سړي ته د بې غیرته خطاب د لویو شکنځلو په منزله کې دی او څوک حق نه لري چې بل ته بې غیرته ووایي که نه پرخپله ذمه یو شرم اخلي. په قبیله کې غیرت د تعصب سره ملګری وي او د قبیلوي نظام د ساتنې د پاره هر سړی باید د قبیلې په ننګه په غیرت ودرېږي. غیرت یوازې د نارینه په دې خصلتونو کې نه راځي بلکه ښځې هم باید غیرت ولري.

# ق

## قرآن

قرآن دخدای کتاب دی . پهٔقرآن قسم ورکول کیږی .

کله چی ددوو قبیلو ترمنځ جګړه روانه وی، نوتیږی ایښوولو ته دحاضریدلو دپاره سپین پټکیان (ملایان) قرآنونه پرسر ایسی او داخلیږی دامهال نودقرآن په احترام جګړه بندیږی .

په ننواتی که هم دقرآن وړل رسم دی او د قرآن شرم هغه تاد په ده چی ددغه خدایی کتاب دامانځنی په رسم پرځای کیږی . هغه قرآنونه چی په ننواتی کی وړل شوی وی یاد لوړی دپاره ایښودل کیږی ، نو کله چی بیرته وړل کیږی نوی او دښوونو کرانو پوښونه ورته

ورکول کېږي، قرآنونه که په کورو کې وي که په جماتونو کې په درناوي سره پرېوه لوړ ځای ایښودل کېږي .

## قرآن لوستل:

په عامه او لفظي معنا قرآن لوستل د قرآن لوستلو ته وايي، خو په اصطلاح کې لوړه کول یعني قسم اخیستلو ته قرآن لوستل وايي . په ځینو قبایلو کې د لوړې پروخت هغه څوك چې قسم باید واخلي قرآن خلاصوي او څو توري يې لولي، نو ځکه قسم اخیستلو ته قرآن لوستل هم وايي . د قرآن هغه وظیفه چې ملایان او د خدای دوستان يې کوي هم قرآن لوستل بولي .

د زکندن پروخت پرېوچا قرآن ویلو ته هم قرآن لوستل وايي او دا چې وايي قرآن يې پرولوستی، نو دا معنا چې زکندن يې دی . په لوېدیځو قبایلو کې قرآن لوستلو ته (یاسین ویل) وايي . یاسین يې پر وواېه عین هغه مفهوم ورکوي لکه په قرآن لوستل کې چې پروت دی او هغه خلك چې جګړې ته ځي نو د برکت لپاره يې تر قرآن یا سي .

# ک

## کام

کام یاقام دقوم پښتو تلفظ دي چې دقبیلوی جوړښت دیو غټ واحد په حیث ځای لري . په عامه اصطلاح کې کام د پښې څخه نیولی تر خپل پورې تولو واحد ونه په ځان را کښیږي. کام دقبیلوی ژوند اړه محوردی او ټوله قبیلوی حقوقي مسایل د کام په رابطه جریان مومي.

دقبیلې هرسړی مجبوردی چې خپلې ګټې د کام په ګټه کې وپالي.

په پښتو کې متل وایي : «لوخې د کام ښه نه غو ښته سرپې په دریاب کې وچ شو .»

په دغه متل کې پښتانه د کام حقوقي موقف بيان شوی دی چې هرسړی بايد د کام په گټه پوری خپلې گټې وتړي.

کام د لويې جرگې د جوړېدو صلاحيت لرونکی مقام دی‌دا قبيلوی واحد د ټبر د پراختيا په نتيجه کې جوړ شوی او د همدغه واحد قبيلوی تشکل وچې د ميرويس او احمد شاه په قومي جرگو کې د دولت د طلوع سبب هم وگرځېد .

د مير ويس د تصميمونو، کودتاو، او هوتکي دولت د اعلان جرگې قومي وې او د اقوام، ياقام يا کام وچې د ټبرونو نمايندگان پکښې را ټولېدل او فيصله به يې صادرو له.

د کام بل قبيلوی حرکت د لوی احمدشاه د انتخاب په قومي جرگه کې وچې د پېلو پېلو قبيلو مشرانو امين پروو ايه.

د غه د کام تشکل په سياسي مفهوم کې ملت وبلل شو او د کام جرگې د مهمو تصميمو نو پروخت د اير يدلې ځوداد ی‌نن هم د لويې جرگې په نامه قانوني جرگه شته او د ا د هغې قومي جرگې وارثه ده چې د تاريخ په بېلو بېلو مرحلو کې لوی ملي مسائل ورمحول شوي او فيصلې يې منل شويدی.

کام د حقوقي لحاظه په قبيلوی قانون کې مهتر مقا م دی چې د صلاحيت تمثيل يې قومي جرگه کوي.

## کټ‌میر

دروژې او اخترونو د اعلانو لوله پاره په غرونو کې وچ لرګي راټول لوی او یو ډیرۍ بې د یوې کوټې په اندازه اوږدی او بیا اوروراچوی څو د هغه په لمبه لید او خلك خبرشي چې روژه ده یا اختردی.

دالمبې په خاصو ځایونو کې کیږي چې هغه ته کټ‌میر وایي په دې جمله کې د غلام علي کټ‌میر ډیر شهرت لري.(۱)

کټ‌میر په ځینو سیمو کې د خطرد اعلان کارهم ورکوي هرکله چې د قبیلوی ترمنځ یو پربل د یرغل تشویش موجود وي، نو هره‌خوا پریوه حاکم ځای دغسې دالرګو کوټې جوړ وي چې کله یرغل کیږي نود غفلت څخه د هری قبیلې غړی د کټ‌میر په وسیله ځان ساتي.

که کوم څوك په پټه یا په قبیله کې د عمومي تشویش د زیاتولو په لحاظ د کټ‌میر عمل اجرا کړی هغه د یوه جرم په حیث تعقیبیږي او سزایې داده چې کورته به یې اور وراچول کیږي.

تر کومه ځایه چې ما پوښتنه وکړه د دغسې جرم مجرم چانه پیژندی یوازې داورګون په (پیر کوټی) کې راته وویل شوه چې څو کاله وړاندې یو سړی په ناپامۍ کې اورلګولی و، خود نرخ سره سم د یو مجرم په حیث معامله ورسره وشوه او کور یې ورو سو ځل شو.

---

(۱) پښتانه دوهم ټوك ۹۵ مخ.

د کټمیر رواج په هغو غرنیو سیمو کی زیات کیږی چی ارګی لری د کټمیر لرګی پهشلاوند راټولیږی.

## کټوګر ځول

په لویو قومی پېښو کی چی مر که جوړیږی، نودمر که چیانود خلات (خلعت) له پاره چی پیسې راټولیږی هغه ته ګټوګرځول وایی.

دمر کې په وخت کی دقبیلې ټوله غړی ذمه واری لری چی برسیره دمر کې پرنور خرڅ دمر که چیانو له پاره خلات هم ور کړی.

دغه دخلات له پاره د پیسو راټولولو ته ګټوګرځول وایی.

ښاغلی بخر کی چی داځکزو کاکړ واو ترشیرانو پوری، چی دوزیرو قبیلوته ورځرسه دی ګرځیدلی دی. ماته یې وویل: چی داسی قبیلې یې لیدلی دی چه تراوسه عملاً ګټومیدان ته راوړی او هغه ګرځوی دا قبیلې چی د کسی (سلیمان) دغرو په لړیو کی پرتې دی دادود یې دلرغونی زمانې څخه ژوندی ساتلی دی.

## کرړه (کرلاړی)

کرړه د( کرلاړی) مفهوم ور کوی کرلاړی پولوی تبردی چی ایل ایل خیلونه په ځان را کښېباسی.

د کرړه لوی ښاخونه ځاځی، منګل، مقبل، ځدران، مندوزی، سیری وزیر، ګربز، تنی، اسمعیل خیل اونور دی.

د(بوته ،تپه ،نیلو )پاخونه د کرړه‌لوی برخې دی‌چې هریو یې‌لوی خیلونه په ځان را کښیناسی .

داستاد پوهاند رشاد زیاتو نه :

«ختك ،دله‌زاله‌ورکزی ، اپریدی ،شتك ،موسی‌زی،قدم، وردگ هم کرلاړی دی» کرلاړی ته کرلانی هم‌وایی، خوپه عامه‌مکالمه کی کرړه ورته وایی لکه غلچه‌او کرړه کرلاړی‌قبایل په پکتیا وزیرستان ، کورمه کی داباسین ترغاړو پوری پراته دی په‌متفرق‌ډول د کابل په‌وادی او لوگر کی هم‌اوسی .

## کر ښنده

کرښنده دیوچاپه زوره‌پیواوته‌وایی اودا کلمه‌د کرښی‌څخه‌اخیستل شوې‌ده ،چې‌د خط معناورکوی، کله چې‌یوشی کشول کیږی هغه په‌ځان پسې خط(کرښه )پریږدی، کرښنده هم کشولوته وایی .

هیڅوك‌حق‌نه‌لری چې یوڅوك په‌زوره په‌ځان پسې کش کړی یا یې‌په خپل ځان‌پسې بوزی که‌دا کارکوی نوداجرم دی‌اود پورمستلزم‌دی .

دخسر له کوره دخپلې ښځې‌په زوره بیول هم کرښنده ده‌اودا کار هم جایزنه‌دی . په کرښنده کی‌دسپین ږیری اوپه‌زیاته بیا هغه سپین ږیری چې‌دمرکې اوجرگې غړی‌وی او کرښنده پروشی‌پرمرتکب یې‌ډیر لوی تاوان ایښود ل کیږی .

## کرښه

ددوقبیلو ترمنځ سرحد ته کرښه ویل کیږی کله چی قبیلې خپل تیکونه(حدود)سره وټاکی، نوحدفاصل ته یې کرښه وایی .

پر کرښه تېری ناروا کاردی اودواړی قبیلې باید دمنل شوی کرښې احترام وکړی . چوپانی قبیلې چی څه ځایونه سره وویشی، نود کرښې کلمه استعمالوی. په کلیوالی قبیلو کی د کرښې د تیری واقعات چندان نه پیښیږی، خو په چوپانی قبیلو کی پر کرښه ډېر تیری سره کیږی .

په کلیوالی قبیلو کی کرښې دډیری سودې دپاره داعتبار وړوی، خو په چوپانی قبیلو کی پر کرښه تیری دعادی واقعا توڅخه وی. که دبدی په منظورنه وی، نوجرم یې لږتاوان لری یا بخښل کیږی، خو که دبدی په منظوروی نو دجرګی دډېر غور وړګرځی .

## کرکه

کرکه دنفرت په معنا راځی، خو په اصطلاح کی دقبیلې دګټو څخه دمنافی اعمالو نفرت کولو ته کرکه وایی .

په ځینو قبیلو کی چی توتمیك آثار یې پرعقیده ځرګندوی، نودځینو بوټو اوحیواناتو څخه کرکه کوی .

مثلاً: دزړې ونی څخه کرکه کیږی او که څه هم وچه وی او یو څوك یې لرګی پرې کړی هغه ته دعامه نفرت څخه علاوه تاوان هم ټاکی.

کوچي قبايل ځيني خاص وابنه نه ړي کوي او کرکه ځني کوي دباغران اليزي د ګيډړي څخه کرکه کوي .

د هغه‌شي څخه‌چي عامه کرکه کيږي‌استفاده پوغير مشروع عمل دی‌اوده‌ير محله دغسی کسان‌تعقيبيږي. دمړي څخه‌ډېره کرکه کيږي اوهغه‌څوك چي‌په‌سړي غرض‌لري ئود اکار ګرکجن بولي .

## کېږدۍ

له‌وژغونو‌څخه‌جوړه‌شوي خيمه کېږدۍ‌ده .

په کېږد ۍ کی د کوزنۍ غړی يو ځای سره اوسي او اکثره يې کوچيان استعما لوی .

مشهوری کېږدۍ‌د هلمند په(تاګرش) کی‌جوړيږی چی دسيابند د کوچيانو بازارونوته عرضه کيږي .

د کېږدۍ‌سرځل (البته په‌بدی کی‌چی‌عمدی‌دا کاروشی) په‌قبيلوی قانون(نرخ ) کی تاکلی‌تاوان لری .

د کېږدۍ‌دسوځلوپه جرم کی چی عمدآ وسی‌او مرتکب يې دځان خلاصولو پاره شاهداوقسم ته حاضريږی دقبول وړنه ګڼل کيږی، ځکه کېږدۍ‌داوژغنو جوړيږی‌اواوژغنی ژراورنه‌اخلی‌متل‌دی‌وايی( کېږد ۍ پر ځپلو مراند وولاړه‌ده) دامتل‌دپو چادنفس داتکاپه مورد کی ويل کيږ ی .

## کږه

غلطی پرېکړی (فیصلی) ته کږه وایی کله چی مرکچیان د یوچا په حق کی غلطه پرېکړه وکړی او هغه دا پرېکړه کږه وبولی او بله مرکه را وغواړی، نو که هغه مرکې دا پرېکړه غلطه وبلله کږه په سررسېدلی بولی او مرکچیان به د کږې ناغه ورکوی .

د کږې راګرځول په ندرت پېښېږی، څو کله چی په لویو مسئلو کی قبیلوی مشران سره ښکر په ښکر شی، نو د کږې د راګرځولو له پاره یې دریغه مصرفو نه کېږی .

د کومی مرکې غړی چی د کږې په ناغه یعنی جریمه محکوم شی هغه اعتبار بایلی او بیا په جرګه او مرکه کی د برخی اخیستلو څخه بې برخی کېږی که یوچا پر مرکه د کږې دغ وکړ او هغه یې ثابته نه کړه د مرکې غړو ته به ناغه ورکوی .

## کږه خبره

په جرګه او مرکه کی چېه خبره یا هغه خبره چی بې دلیله ویل شوې وی او ضمناً د جرګې او د دعوی د مقابل طرف بې احترامی پکښې وی هغه کږه خبره بلل کېږی .

کږه خبره کول هم تاوان لری یعنی د نرخ برابر به مرکې یا مقابل طرف ته تاوان ورکوی .

د مرکې غړی هم د کږې خبرې حق نه لري او که دغه عمل ځنې وشودی هم په ناغه محکوم کیږي .

د لویدیځې خواپه قبیلو کې دې ته چپه خبره هم وایي او په مخفف ډول ( کږه ) یا (چپه) هم ورته استعمالیږي . کوم سړی چې په مرکه کې د ځان د برائت یا برمقابل لوری دالزام له پاره بېځایه دلایل وایي ،نومرکه چیان ورته وایي چې کږې خبرې کوې . په عمومي ډول هغه بدې خبرې چې دنورو زړه پهآزاریږي کږې خبرې بلل کیږي .

## کشر

کشر په قبیله کې هغه څوك دی چې دمشر داوامرو تابع وي . مشران په قومي مسایلو کې د کشرانو مشوره هم اخلي او کله کله چې دمرکې فیصله (پریکړه) اعلان شي،نو هغه طرف چې پر بلل شوی وي وایي چې د کشرانو سره به سلاو کړي . بیانو چې کله بیرته مرکه بله را غواړي وایي چې کشران غواړي مساله بلې مرکې ته محول شي .

د پنځلس کلنۍ څخه پورته هر سړی ترهغه وخته پورې کشر دی تر څو د مرکې او جرگې د غړیتوب حق د سپین ږیری په نامه پیدا کوي .

په عمر ځوانان چې د قبیلوی نفوذ په ساحه کې د غړیتوب صلاحیت پیدا کړی هغه ته هم مشرویل کیږی او په عمر پاخه خلك چې له دغه حق څخه محروم وی د کشرانو په نامه یادیږی.

## کشنده

که یو څوك قتل وکړی نو د مقتول د ورثې له خوا کېدای شی چې د کشندې مجازات ورته وټاکی . کشنده دا یمې یا موقتی هغه جلا وطنی ده چې قاتل ته ټاکلې کیږی . (۱)

د کشندی مجازات چې ور کول کیږی په هغه کې د قاتل دقبیلې موافقه هم شرط ده .

د استاد پوهاند رشاد زیاتونه:

« کشنده د قاتل په خپلوانو کې هغه څوك دی چې د مقتول ورثه یې دبدل په توگه د وژلو له پاره وټاکی، دمقتول ورثه پهبل چا بیا غرض نه لری » .

د کشندی مجازات پسله نتوانی څخه ټاکل کیږی اوداسی هم کیږی چې د تاوان یوه برخه د خون د تادیې په ډول ورکړی اوپه بله برخه کې یې کشنده ومنی .

---

(۱) پښتنانه اوسړی توك ۱۳۷ مخ .

په قبیله کې چې د ضعیف او قوی د کمزوره او زورو رد مسئله مطرح شی،نو د کشندی سزا کمزوری خواته ورکول کیږی کله چې د قاتل قبیله چې قوی وی هغه را گرځوی او د تاوان په خوا کې زور اچوی .

کشنده په موقتی ډول د یوه کال څخه تر لسو کالو پوری وی او تر هغه زیات نو د ټول عمر له پاره باید دغې قبیلې ته ورنشی .

## کفن

د مړی وروستی لباس چې د سپین سان یا بل تو کر څخه جوړشوی وی کفن نومیږی .

کفن ته په سپکه کتل نارو اعمل دی. کوم څوک که د مړی څخه کفن وباسی هغه ته په قبیلوی قانون(نرخ) کې مجازات شته.

دا کار که دټول گرد خلا په منظورشوی وی یو ډول تاوان لری او که د مړی د سپکولو په خاطر شوی وی نور یې دروند دی.

که یو څوك په مدعا کې د مدعی د کورنۍ د یوې مړې ښځې څخه کفن وباسی دا پر ناموس د تیری حکم لری او جرگه پرجوړیدای نه شی او مرتکب یې حتماً وژل کیږی .

دغسې اپیښه په ندرت منځ ته راځی صرف یوه یې ما اوریدلې وه چې هغه هم د بناری محل سره نژدې وه او موضوع یې هم عدلی محکمې ته محول شوه.

## کلا

کلا هغه لوی کور دی چې اکثره لوی کهولونه په کی اوسی. کلا برجونه لری او په هغه کی سحا فظین کښېنی.

په قبیلوی روابطو کی کلا د خان او با نفوذه سخر د ا و سید لو ځا ی وی.ځوك چی کلا لری هغه په قبیله کی نفوذ هم لری.

د قبیلوی جوړښت د واحد ولو ځخه د یښې په جوړښت کی کلا ډېر لوی ځا ی لری.ځرنګه چی اوس ښځې هم ډیره پراختیاموندلی ده، نو اکثره دښې او کهول‌تر منځ چی کوم واحدونه منځ ته راځی هغه د کلا په جوړښت مشخص کېږی.مثلا ترینګه پورته چی چا کلاجوړه کړې وی د هغه نوم د خپل قبیلوی هویت په ارتباط یادوی لکه په دولت زیو کی(حلیم کلا) (۱).حلیم کلاجوړه کړه او د دولت زیو د ښځې هغه برخه چی حلیم ته منسوب دی ځانونه یې د حلیم خېل په نامه یاد کړل.

## کلال

هغه سړی چی د خټو ځخه لوښی جوړ وی کلال نومېږی، کلال هم په قبیلوی ټولنه کی کښېته موقف لری.

---

(۱). حلیم کلا د ګردیــز جنوب ختیځ ته په شپږ کیلو متر ی کی د ښاروالی مربوطه ناحیه‌ده.

په پښتو کې یو متل وایی: «کلاله چېری گوره خپله سیاله.» کلا لان چې په قبیله کې اوسی اکثره د نورو قبیلو خلك وی.

څرنگه چې قبیلوی اشرافیت د کارخنه گرځی ،نو هغه کسان چې کسبگروی د مزد ورانو په جمله کې راځی او د مزد وراوبادار معامله ورسره کیږی .

په ځینوسیمو کې دغه دایی‌ته په قومی‌لحاظ هم‌د کلال خطاب کیږی او دوی هم داسی فکر کوی چې دغه کلالی د دوی یو قبیلوی واحد دی چې ورته منسوب دی.مالداران یعنی هغه کوچیان چې رمې لری کلا لان شوم خلك بولی او وایی چې دوی د باران څخه بڼه نه وړی چې لوښی یې ورخرابوی، څو باران د مالدارد پاره ژوند دی .

## کلا نتر

په هر خېل کې چې دقبیلوی پېښود حل و فصل له پاره یو مشر ټاکل کیږی هغه ته کلانتر وایی.دغه کلانتران په یوه غونډه کې خپل له منځه یو سړی، ټاکی چې هغه ته(سر)وایی (۱)

دغه اصطلاح په اورگون کې ده او کلا نتران بالعموم‌دځنگلونو د ساتنې په کار کې فعاله وظیفه لری.

(۲).د ۱۳۵۲ کال د فولکور د مجلی دوهمه او دریمه گڼه ۵۵ مخ .

میراو کلانتران یوه خپل اختیاره اجرائیه قوه تشکیلوی چی جرگه یې هم ترنفوذلاندی وې په هغو سیمو کی چی دارگو تجارت ورغلی وی میراو کلانتران خپل ترسنځ په دوامداره ډول جوړوی او په دې برخه کی جرگه او مرکه درواجه هم لویدلې وی ترسیردالاندی کلانتراند نفوذ په لحاظ یوه قوی ډله جوړوی .

## کلی

د کورونو مجموعی ته کلی وایی . په کلی کی دقبیلې دخپل کورنی اوسی کله کله بیل بیل خپلونه په یوه کلي کی اوسی، خودا خپلونه به په لوړ و کړ یو کی سره خپلوان وی .

په ځاځیو اوسنگاوکی د کلی اصطلاح دقبیلوی هویت پرځای هم استعمالیږی . مثلاد یوچا څخه دقوم د پوښتنی څخه ترمخه د کلی پوښتنه کیږی څرنگه چی کلی په ثابت ډول د یوې قبیلې د کورونو څخه جوړشوی، وی،نو کله چی دپوښتنی کوونکی په جواب کی خپل کلی وربښی هغه پوهیږی چی د کوم قوم یا قبیلې څخه دی .

په کلی کی ساحت دجرگې اوسر کې ځای وی، خودجنوبی اوختیځو خواو په قبیلاو کی دجرگې له پاره په کلی کی د کاڼچی او خاص ځایونه جوړشوی وی ولی دلو یځی خوا په قبیلوکی دساحت څخه دمرکې د ځای په حیث استفاده کوی .

## کندی

کندی په قبیلوی واحد کې یو محلي ناحیوي واحد دی چې تر کلي محدود وي او په ځینو ځایو کې داوي کهول او سپرو ځای هم بلل شوی دی د شیخ ملي په دفتر کې ده ځکه ویش د کندی په حساب کېدی او یو معیاري شکل یې درلود .

خوشحال خان خټک د غې کلمې ته نژدې د ګوندی کلمه د تبر په ساحه کې استعمال وې وایي «ګوندي په پښتانه کې ده پرېنې ده» بنا یې په دغه کلمه کې په د ګوند مفهوم پروت وي، خود ( کند ) کلمه چې د پښتني انسابو په اوږو کړ یو کې (د خمند یا زمند ) سره یاد یږي، تو هلته بیا یو قبیلوي واحد دی

کندی همدا اوس هم په یوسفزو کې شته او د قبیلې د لاندنیو برخو د یو واحد ملکیت په حیث پېژندل شوې کلمه ده .

دلوید یځې خوا په قبیلو کې (د ګنډي ) کلمه هم مروجه ده او د قبیلوي عویت د تشخیص د پوښتنې پروخت داسې پوښتنه کیږي (د چا له ګنډي یې ؟) .

په حاضر حال کې کندی د یوې ناحیې په شکل مصطلح کلمه ده .

الفونستون د کابل سلطنت په کتاب کې د کندی معرفي داسې کوي... دوی د کلي هغې برخې ته چې جلا خېل پکې اوسېږي کندی وایي، په دې کلي کې د هر کندی ارتباط یوازې د خپل خپل سره دی او

(۱) دستارنامه ، د کابل چاپ ۸۳ مخ

دیو کندی خلک د بل کندی د خلکو سره ارتباط نلري. دوی په دی یوه کلی کی داسی اوسیږی لکه چی د یوې سیمی په مختلفو برخو کی ژوند کوی. د هری کندی مشرخپله اوجره (حجره) لری «۱»

## کنډاسه

په جګړه کی د یوچا د غاښ ماتو لو یا ایستلو ته کنډاسه ویل کیږی. کنډاسه د تعاملی قانون له مخی تا کلی تاوان لری، چی په ولسی نرخ کی ورته تاکل کیږی.

(په دغه قاموس کی د احمد زیو د نرخ کلمې ته دی مراجعه وشی.)

د ښځی کنډاسه کول د تاوان سره شرم هم لری. همدارنګه د زاړه داسی سړی غاښ چی ښوری ایستل په تاوان کی تخفیف لری.

د کنډاسی واقعات ترڅو پانی قبیلو په کلیوالی قبیلو کی زیات لیدل کیږی. د نرخ له مخی د مخ اوزامی غاښونه هر یو ځانته جلا تاوان لری او د مخ د غاښو تاوان د زامی تر غاښ زیات دی. په کنډاسه کی هم د مخین او تور یعنی (لخ او پټ) معیار په نظر کی نیول کیږی. کنډاسه د وسیلې په نوعیت کی چی استعمال شوی وی د تاوان په لحاظ بیل بیل نرخونه لری.

## کوټ

کوټ جنګی کلاته وایی، خو په عامه اصطلاح کی یوه ودان اولوی کلی ته هم کوټ وایی.

---

(۱) دوږمې مجله د ۱۳۵٦ کال دوهمه ګڼه ۷۹ مخ.

په اریایي ټولنه کې د (جانا) یعنې د کام تشکیل دجنګي کلا په مفهوم راغلی دی، یعنی هغه وخت چې (جاناپادا) دقبیلو مشر په جنګي کلا کې کښېنوست، دقوم دقبیلې واحد وز پیریدی .

د غه جنګي کلاته پښتانه کوټ وایي . په یونانی ارغونی ټولنه کې د (کنفد ریسی) (۱) جوړښت په کوټ کې وشواود دغه ډېرلوی مثال په اوسی قبیلو ګې وشوچې د روم په ښار د کیوریانو (۲) په شکل را ټولی شوی وي دوی جنګي کلاجوړه کړه اود کیوریانو مشر یې پکښې کښېناوه .

د کوټ کلمه داریایي دوري څخه پاته ده او په پښتو کې اوس هم ژوندی ده . د کوټ مشر دلویې جرګې د راغوښتلو صلاحیت لرونکی دی .

## کوډخه

په غرو کې د ډېرواوار ګرڅخه جوړه شوي هغه کوډله چې انسانان اوځاروي یوځای په کښې اوسي کوډخه بولي . د کوډ خې سومحل هم د کډدی په شان په قبیلوی نرخ کې تاوان اری . کوډخه دځنګله د ساتونکو کوټې ته هم وایی او هغه کوټې چې په بوه محدود محل کې ګرځید ونکي کوچیان یې په موقت ډول دژمي له پاره جوړوی ، هم کوډخه بالل کېږی .

کوډخې لکه د کلي کوروته په نژدې فاصله کې نه سره جوړ یږی ، بلکه هر یوه په یوه لیری فاصله کې واقع وی . هلته چې د یری کوډخې

---

(۱). کنفدریسی په یونانی ټولنه کې د قبیلو اتحاد په وه .

(۲). کیوریا په رومي ټولنه کې دقبیلو اتحاد په وه .

جوړی شوی وی، نو د یو پاشلی کلی په شان دی او د کورونو څخه په یو نسبتاً لیری فاصله کی د کوډخی جمات هم جوړوی چی هلته ملا اوسی او خلک لمونځونه په کښی کوی .

## کوډی (جادو)

کوډی ته جادو هم وایی. په قبیله کی ځینی داسی خلک چی نورو ته کوډی ور کوی، د اسی کسانو ته کوډګران ویل کیږی. کوډګرته په ښه نظرنه کتل کیږی، خو د یو قبیلوی سړی ذهنیت د کوډو څخه بیره هم کوی .

په ختیځواوجنوبی سیمو کی دغسی کوډګران ډیر لږ دی، خو په لویدیځو قبیلو کی کوډګران دنفوذ خاوندان هم وی . په هغو قبیلو کی چی د مشری فکتورتر ډیر قدرت لاندی راغلی وی، نو کوډګران وده کوی ځکه کوډګران په یوه حمایت کی واقع وی، خو په هغو قبیلو کی چی د قبیلې اداره یې تر قبیلوی تعاملاتو لاندی پاته وی او د خانی فکتور لا په ابتدایی حال کی وی هلته یا کوډګر نه وی او یا د قبیلې څخه تجرید وی .

## کوډۍ

د لوخو او ونو څخه جوړه شوې کوته ګوډی نومیږی. په هلمند کی د کوډی اصطلاح معمولاً د داود ځه ډول کوته ګوډی بولی. په کوډی کی د کورنۍ غړی اوسی او حیوانات کوډ ی ته نږدې دروی .

ځرنګه چې کوډې هروخت داوړله خطرسره مخامخ دهنودديله پاره احتياط وشي پو څوك که په ناپامۍ اوسهوه کې هم د بل کوډې وسوځي تاوان يې بايد ورکړي او که عمداً دا کاروشي نوسربېره پرتاوان دشاوخوا کوډيو خاوندانو ته هم بايد تاوان ورکړي. کوډې دغزه له اېښتو څخه په ډېر مهارت په او دلې ډول جوړېږي. هاته چې ډېرې کوډې ولاړې وي او کلي يې جوړ کړې وي، نودسيلمنوله پاره خان يو جلا کوډې لري اوماحت د کوډيو د کلي سر ته د کوډې څخه جوړ شوى وي.

## کور :

داوسيدلوځاى ته کوروايي. کورد هرډول چاوڅخه مصئون دى، په اويديځه خوا کې د کورپه کوټه کې خاص ځاى جوړېږي چې پرهغه د کور کالي ايږدي اوداځاى په کوټه کې د يونيم سترپه اندازه اوږوى دى ته ګوروايي.

دا کورپه کهول کې تقدس هم لري اوناوي چې کورته راوستل شي، نواوس يې ځل د غه کورته هم په خاصو مراسمو راوستل کېږي.

په مجازي ډول ناموس ته هم کوروېل کېږي. که يوڅوك بل چاته د کورتر نامه لاندې ناوړه خطاب وکړي دښکنځلو حکم لري اوبايد مقابل طرف ته دشرم پړنامه يوڅه ورکړي.

د کور حریم د هرچا محفوظ دی که یوڅوك د غلا په نیت یا په بله اراده د غه حریم ته ورننوزي او د کور خاوند یې مړ کړي پوره اړي.

## کور سوځل

په عمومي ډول د کورسوځلو مجازات هغه چا ته ورکول کېږي چې په لویو قوسي پریکړو کې د تیا کلي حدودو څخه تیري و کړي.

که یوڅوك په بدی کې د چا کور وسوځي هغه د تیا کلي نرخ سره سم په تاوان ورکولو محکوم کېږي.

د کور په سوځلو کې کوراود هغه ملحقات محاسبه کېږي او بیا یې تاوان تیا کل کېږي .

که د کور سوځلو عمل په سهوه او خطا شوی وی فاعل ته بې جرگه او مرکه مراعات کوي او حتی د بخښلو غوښتنه ئې هم کېږي.

دا مراعات د هغه کور دسوځلو په پېښه کې ډېر کېږي چې د ختمو څخه جوړ شوی وی، خو که د لرگو څخه جوړ شوی وی تاوان یې د ختمو تر کور زیات وی . په قبیلوی جګړو کې د کور سوځلو واقعات خورا ډېر دي .

## کوړ نرخ

کله چې په جرگه او مرکه کې د یو چا پر ضد دعام ولس قانون ( نرخ ) څخه مخالفه پرېکړه وشي دا کوړ نرخ بولي .

کوړنرخ د منلو وړنه دی ځکه د غسي یوه فیصله اثبات ته ورسېږي چې د نرخ څخه مخالفه شوې وي ، نود کوړ نرخ په کولو سره مرکچیان هم په ناغه محکوم کېږي .

څرنګه چې په ځینو وړو کوچنیو پېښو کې ثابت نرخ نه وي، نو مرکه‌چیان د وضع په ایجاب فیصله صادروي د غسي فیصله چې هم د نرخ په نامه یادوي ،نو که سمه نه وه کړه یې بولي او د کوړ نرخ په نامه یې هم یادوي . پر کوړ نرخ د بلې مرکې راغوښتنه د دعوا کوونکو حق دی ، خو که بلې مرکې لومړۍ پرېکړه تائید کړه د کوړ نرخ پوغ کوونکي په ناغه ورکوي .

## کونډه

هغه ښځه چې مېړه یې مړ شوی وي کونډه بلل کېږي .

هغه ښځه چې کونډه کېږي باید د مېړه په انتخاب کې قبیلوي مراتب وپالي . تر هر چا لومړی د مېړه ورور حق لري چې پر هغې نکاح وتړي په هغه پسې د مېړه تر بورونه او بیا د خپل په رابطه د احساب پالل کېږي .

په متل کې وایي : « کونډه د کام ده . » د دې مطلب دادی چې د کام څخه د باندې یوه کونډه ښځه مېړه نه شوای کولای .

یوه کونډه د خپل حق په باب نه شکایت کولای شي او نه یې عرض په جرګه کې اورېدل کېږي . کونډه په خپله لکه د مړه د میراث

بل شی دغسی دمیراث په وېش کی ترحساب لاندی راځی . د کوندی په باب هغه وخت سر که او جرگه خبری کولای شی چی د اوړل شوې یا ژوبله شوې وی .

## کوین

په خوست کی نکاح ته کوین وایی . کوین د ( کولو څخه اخیستل شوی ده ) او د ښځی کواو یا نکاح کولو عمل ته کوین ویل کېږی .

استاد پوهاند رشاد د کوین د کلمې په توضیح کی د کواو کلمې ته سوایه ایښې ده او دا کلمه یعنی کوین بخپله مستقله کلمه بولی .

کوین یا نکاح د قبیلوی سړی تولنیز حق دی ، خو دا کار باید د قبیلوی تعاملاتو په چوکاټ کی وکړی . پر سروېښی ښځی د کوین عملیه نه شی اجرا کېدای او هغه کونده چی لیوراو د سړه تر بروانه ولری بل څوك یې په کوین کی نشی اخیستلای . په کوین کی ایجاب او قبول لفظاً شرط دی ، خو عملاً قبول په بواړخیز ډول کېږی او د ښځی د قبول طرف یوازی د هغې پلاریا وروریا بل مشر دی .

## کهول

کورنۍ ته کهول ویل کېږی او کهول د قبیلې یوه سهمه کړی ده . په څینو موارد و کی د کهول کلمه په پراخ مفهوم استعمالېږی

اود کهولونو مجموعې ته کهول ویل کیږي لکه په منګلو کې پټي کهول اوعمرخان کهول.

کهول د کورنۍ د غړو هغې مجموعې ته وایي چې په اصطلاح پر یوه تغري راتولیږي.

په اریایي ټولنه کې کهول د(کهولا) په نامه موجود ؤاوتراوسه هم په جنوبي پښتني قبیلو کې د کهول په نامه یادیږي او لویدیځې قبیلې (کوول او کاله) ورته وایي.

کهول هم کورنۍ ده یعنې په ټا کلي حدودو کې چې درې نسله احتوا کوي، خو په پراخ مفهوم کې داسې یو قبیلوي واحد هم جوړ شوي دی چې یو شمیر کورنۍ په ځان را ټولیږي لکه په منګلو کې (عمرخان کهول اوپټي کهول) دا په غالباً چې د کهول د پراخ یا یو واحدوي چې د کهول (د کورنۍ په مفهوم) اود پښې ترمنځ یې ځان ایوالی دی.

د غسې لوی کهولونه په اریایي ټولنه کې هم وه اودا کهول به هم یوه شرد رلود. اوس هم چې کله د پښې په واحد کې دسر کې ضرورت پیښیږي نود کهولونو نمایندګان ورته ټاکل کیږي.

د کورنۍ په مفهوم چې کهول استعمال شي، نو هغه د کورنۍ هغه غړي په ځان کې راټولوي چې پر یو تغري راټولیږي او درې نسله نیکه، پلار او اسې وي او په یوه کلا کې اوسي، خو کله چې کهول په پراخ مفهوم لکه د (منګلو) په (عمرخان کهول) او (پټي کهول) کې چې استعمال شي، نو هلته په کهول کې تر اس نسله پورې هم احتوا کوي او په بیلو بیلو کلاو کې اوسي. په دغسې مورد کې د کهول او کلي ترمنځ هم یوه رابطه شته.

# گ

## گاړی (گوند)

پهاړېد وکی گاړی اوسامل لکه توراو سپین غونډ ی دوه گوند ونه دی .

په گاړی گوند کی داړېد وښخه کوکی خېل کمبرخېل اوادم خېل گډون اری . (۱)

استاد پوهاند رشاد وایی:

«په ورکز واوینگښو کی هم گاړی سته»

---

(۱). پښتانه دوهم توك ۲مخ (دقبايلو دمستقل رياست خپرونه)

د کندهار دښار جنوب لویدیځ خوا ته پره ا کیلو متری فاصله دګارویه نامه هم یو کلی شته. دګاړي اوسامل یاسمل ترمنځ رقابت دغومره دی چې کله لوی مسایل منځ ته راشي، نودګوندی په حساب داتړول د پیسواو وسلې دی د ریغه مرسته کوی.

## ګایه

په کاکړی اصطلاح کی خبری قول اووعدې ته ګایه ویل کیږي. دګایی څخه تیریدل د سړانی نښه نده هرڅوك باید پرخپله ګایه ودریږی

په ګایه ملامت پریلل کیږی. ګایه دژبی خولې اوپښتونه شان د کلك عزم نمایندګی کوی. کوم سړی چی ګایه وکړه نو ترسراومال تیر یږی، خوتر خپلی ګایی نه تیریږی. ګاییدل مصدردی چی دیغید لو اوخبری کولو معناورکوی په مجلس کی چی یوسړی ته وایی (وګاییږه) معنا خبری وکړه، خوکله چی دقول وعدې اوتصمیم په برخه کی ګایه استعمالیږی، نووایی (ګایه می کړېده) یاوایی (پر ګایه نه راسره ودریدی) (دګایی څخه ګرځیدل دپښتانه خوی نه دی.) ګایه زیاتره په کاکړو کی رواج ده په نوروځایونو کی خبره ژبه، خوله اوپښتو دګایی پرځای استعمالیږی.

## ګټل

ګټل د دعوې د ګټلو مفهوم ورکوي. دانو که د قتل په پښتو کې وي او که په زور وسایلو کي. کله چې پر مدعي بریالی شي وایي چې خپل سړی یې وګټی یا یې تپ وګټی. (پښتو ګټل) یوه اصطلاح ده او مفهوم یې دا دی چې پښتو ګټل د هر پښتانه وظیفه ده یعنې پښتو باید وساتي د قبیلو په جرګه کې چې کله پریکړه صادره شي، نو وایي ګټل پلانکي خواته دي دا ته هغه خوا یادوي چې فیصله یې طرف ته په ګټه تمامه شوې وي که د بوچا ورور یا پلار وژل شوی وي او زوی یا ورور یې غچ واخلي او مدعي مړ کړي، نو داسې هم وایي چې ورور یې وګټی یا پلار یې وګټی یادغه کسان په نامه یاد وي مثلاً وایي سدو یې ګټی.

## ګهه‌امی

دا په کاکړو کي یو خاص ډول اتڼ دی چې په هغه کي نر او ښځې یو ځای ګډون کوي. ګهه‌امی په خاصو ختونو کي کیږي او په دغه وخت کي نارینه باید خاصه پا سلرنه وکړي چې ښځو ته بې احترامي ونکړي او که نه د قومي عنعناتو او د قبیلې د نرخ سره برابر مجازات لري په ځینو ځایونو کي د اتڼ په منځ کي د اورلمبه هم کوي او هر څوک چې د اورلمبه غټېږي او ستېږي په هغه اندازه اتڼ (ګهه‌امي) ورسره ستېږي او کله چې لمبه مخ پر تیټېدو شي ګهه‌امي هم ورسره ارامېږي

خوپای ته‌ورسیږي. ګډه‌اسي یوډېر لرغونی‌دودمعلومیږی‌اواوس په‌هغو قبیلو کې دادود کیږی‌چی دسلیمان غروته نژدېاوسی‌په‌خاص ډول په کاکړ وکی تراوسه‌رواج لری.

## ګرم

ګرم‌ملامت‌دی. هرڅوك چی‌په بل‌ګرم‌شی ،نوبوتاوان‌پرذمه اخلی چی‌ولسی نرخ یې دګرمی په‌اندازه ټاکی. دپراوګرم ترمنځ توپیر دادی‌چی پرهغه‌دی چی‌په چرګه یاسرکه یاپه اصطلاح دسړو په خوا په پړکړه ملامت‌شی اوملزم ته‌نژدې‌مفهوم لری ،خوګرم هغه دی چی بل‌چاته په‌خواله یالاس زیان ورسوی ،دغه‌ملامتی ته ګرمه هم وایی. دګرمی حق‌څوك ته‌اری‌اوهغه څوك چی‌ګرمه وکړی‌نوګرم‌دی. دیوګرم سړی په‌برخه کې‌چی فیصله وشی ،نو که بل‌ځل بیا ګرم‌شی،نوداځل‌بې ترلوسړی نا غې ناغه زیاتیږی اوپه مکرر ډول دغه ناغه زیاتیږی څو د(بدو)اوشریرپه نامه شهرت ومومی او که‌بې شرډېرزیات‌شی ،نودغسی ګرم‌دقبیلې څخه په رټلو محکوم کیږی.

## ګرو

ګروډیرغه‌ل‌سره نژدې مفهوم‌لری. کله‌چی دیوه سړی‌له بل سړی سره یادیوې قبیلې له‌بلی قبیلې سره‌مدعاپای‌ته‌ورسیږی نودباور له پاره ګروی‌سره ور کوی.

گرو بالعموم په ساای موضوعاتو کی استعمالیږی او د برغمل (برغمال) سره بې توپیر دادی چې ههٔ دقوسی اختلافاتو په مورد کی د باور او اعتماد له پاره استعمالیږی . استاد پوهاند رشاد پر دغه لیکنه په یا داښت کی لیکلی دی چې : «برغمل داعتبار او اعتماد له پاره دسړی بیول دی او تر کی کلمه ده .» لکه مال چې په گروی کی اخیستل کیږی ، نوسړی هم په گروی کی اخیستل کیږی

البته برغمل په لویو پیښو استعمالیږی او گرو په کوچنیو مسایلو کی د دوو او درو کسو ترمنځ دعملی استعمال مورد اری .

## گرمه

گرمه دملامتی مفهوم ورکوی . گرم ملامت دی او گرمه یعنی ملامتی په ارخ کی محکوم عمل دی او تاوان اری . گرمه د تیری سره نژدې مفهوم لری ، خو داتیری چې دگرمې په معنا راشی په محدود محل کی استعمالیږی ، کله چې یوسړی پر بل سړی تیری وکړی هغه گرمه بلل کیږی . وایی گرمه نه زغمل کیږی . کمځوك گرمه ومنی داهم دبې غیرتی او دقبیلوی ژوند دعزت ځخه یر منافی عمل دی . پرچاچې گرمه ونه شی هغه باید دخپلی پلرینی مشرته شکایت وکړی ، داڅو د هغه کاردی چې په گرمه متهم څه پول تعقیبوی . دگرمې کلمه په ټولو پښتنی قبیلو کی په عین کلمه مصطلح ده . په لو پدیځو قبیلو کی دگرمې سره ملامته هم وایی .

## ګلوخوږ

هره قبیله ځانته جرګه ځای لري او دا ځای د احترام وړ هم بلل کېږي. د ګلوخوږ خوست د ټنیو د قبیلې جرګه ځای دی .

په ځدرانو کې (ګردي غږی) په اپرېدو کې (باغ او ډاګ) د جرګې دوه ځایه دي په همدې ترتیب هره قبیله په خاص نامه د جرګې او مرکې ځای لري . د ګلوخوږ جرګه چې جوړېږي ، نو د مرکې مشران په مساوي شرایطو سره کښېني او د غور او بحث موضوع تر څېړنې لاندې نیسي . په مرکه او جرګه کې چې مصالحت پېښ نه وي کېدای شي چې عام خلک یې ننداري ته ورشي . د ګلوخوږ لکه نور جرګه ځایونه د درناوي او احترام وړ ځای دی .

## ګمارل

ګمارل د موظف کېدلو مفهوم ورکوي ګمارل او ګومارل یو مفهوم لري په قبیلوي مناسباتو کې کله کله مېین زېږي بوسړي یا څو کسه د یو کار د پاره موظفوي مثلا لاروڅاري یا تور تعقیب کړي دي ته ګمارل وایي کله چې بوسړی د مېین روږو پریکړه د یو کار د پاره وګمارل شي هغه بیا حق نه لري چې عذر وکړي او که یې د اجرا څخه غاړه وغړوي نو د ارخ سره برابر د تاوان ورکولو محکوم کېږي هغه سړي چې د یوو اسې کار د پاره وګمارل شي د هغه مخ ته څوک نه د رېږي او که یې مخه څوک راوګرځوي، نو یو درونډ پور هر غاړه اخلي ګمارلی سړی چې د مرکې له خوا ګمارل شوی وي که د کار په جریان کې مړ کړی شي نو د هغه پور هم پرده نه دی

## گنده

د دلاك او سرتراش هغه مزد وړی چې د کال په پای کې له کلي څخه ټولیږي (۱) گنده نومیږي. دا مزد د حاصل ټولولو پر وخت ورکول کیږي، او دا یو حق دی چې دلاك یې د قبیلې د غړو پر ذمه لري. په ځینو سیمو کې د نایي مزد هم ورته وایي. په ځینو سیمو کې د حاصل اخیستلو پروخت گنده ورکول کیږي او په هغو سیمو کې چې مالداري یې تر کرنې زیاته وي، نو د کال د (زا ۲) په پروخت د غه گنده نایي ته ورکول کیږي.

## گوتلکه

گوتلکه تازه داوړوي پیغلتوب ته ور رسیدونکې نجلۍ ده ښاغلي عبدالرحمن پژواك (۳) دا کلمه د (گوتې) او (لکۍ) د ترکیب او جوړښت څخه راوتلې بولي.

گوته (انگشت) ده او لکه یا لك (دربدلو) ته وایي او نجلۍ چې تازه پورته شوې یا پېڅه شوې وي گوتلکه بلل کیږي.

گوتلکه د پېغلتوب یوه مرحله ده او په قبیلوي قانون کې د گوتلکې په حق

(۱) پښتو قاموس دوهم ټوك ۱۷۳ مخ.

(۲) (زا) هغه موسم دی چې میږې انگیږي او دا نو د پسرلي موسم دی

(۳) ۱۳۱۸ کالنی د ښاغلي پژواك مقاله ۲۳۰ مخ.

کې تېرې عيناً داسې تلقي کېږي لکه د پېغلې په حق کې، خو کله چې چې د (سپين يا پخې) په دود کې ور کول کېږي هلته بې ولور ترپېغلې لږ دی.

## گوجر

يوه طايفه ده چې د سوات او يوسفزو سره يوځای اوسي او په مالداری اخته وی.

په قبيلوی اشرافيت کې گوجر لوړ ځای نه لري او د گوجر خطاب هم په بدل کېږي دوی خپل ترمنځ په يوه خاصه لهجه خبرې کوی او ځينو څېړونکو ويلي دی چه دا هغه هندی قبيلې دی چې په هجرت دلته راغلي دی لکه چې اوس هم دوی د نورو قبيلو په سيوری کې نه اوسي، بلکه په مستقل ډول د مالداری کار کوی په دوی کې اکثره د ژوندی مالونو سوداگری هم کوی ځينې يې په کرنه هم بوخت دی په صوات کې دوی د ويش په سيستم کې هم برخه دراوده، خو په سيرې خورو کې وه يعنې مځکه يې نه تېديا پدله. گوجر د کنډ شاوخوا ته هم استوگنه لری او خپل ترمنځ دواده او نورې مراسم پالی.

## گوڼه

د يو چاپېښه ماتولو ته گوڼه وايی. په قبيلوی نرخ کې د گوڼه ی تاوان معلوم دی. که پښه په يجلکه کې ماته شوې وی، که په

زنګانه کې او که په ښنګېر کې هم ډول یې ځانته تاوان اري چې
د ټپ د تاوان په برخه کې تشریح شوی دی .

د ګوډوالي لپاره د ضارب وسیله او وسله هم کتل کیږي مثلاً یو څوك چې په ډېره ویشتل شوی او ګوډ شوی وي د هغه سره توپیر لري چې د ټوپك په ډزه یې پښه ماته شوې وي که یو څوك په نا پامۍ کې یو بل سړی ګوډ کړي او دلایل یې هم ومنل شي ، نو د تاوان په سپکوالي کې یې اغېزه اري . په دواړو پښو چې ګوډ شي هغه ته (شوټ) وايي . ګوډه هغه ده چې په قطعي ډول یې پښه له کاره لوېږي .

## ګور

ګور قبر دی . قبر که هر څومره د تور او د مجرم وي بې احترامي یې نه روا عمل دی . که یو څوك د خپل مدعي قبر وړوي یا بله بې احترامي ورسره وکړي هغه د نرخ په حکم ملامت دی او باید مجازات ووینی . د مدعي پر ګور ډزې کول شرم اري او ګور لځول یې تاوان اري او که ګور سړی ته هم سپکه و ر واړ‌ی نو دا پور او شرم د واړه اري . د پل به ګور کې خپل سړی ښخول د هغې خپلخانې پر حق تېری دی چې دا ګور ورته منسوب وي پر ګو باندې په خپل سر ز یا رت جوړول هم مجاز کار نه دی او که څوك د غسې کوي هغه د قبیلې له خوا په تاغه محکوم کیږي د ګور سره د بې احترامۍ په کا ر کې د ښځې او نر توپیر نه شته او دواړه قبرونه تر یوه حکم لاندې راځي .

## گورمال

یو ځولی د یوه کاروله یاره سؤظف کولو ته گورمال ویل کیږی .
اغلباً چی دا کلمه به د گورسال اوښی شکل وی ځکه عیناً گومارلو مفهوم ورکوی .

په اکثرو قبیلو کی کلمات اوړی لکه د پکتیا علی خیل تول د نژدې پر ځای ژندې وایې او ځرانو ته ځالځیان ځزوان وایی 'نوغالباً چی دا به گور مارل کلمه وی او به گورمال به اوښتې وی ' ځکه همدغه علی خیل قبیله د گورمال کلمه وایی .

هغه ځه مقرارت چی دګمارل په برخه کی وویل شوه د گور مال په حد کی هم هغه معتبر دی .

## گومل

داورگون په سیمه کی یوځای دی چی په لرغونو متونو کی یې هم یادونه راغلې ده . کله یناً د پلارا و نیکه مځکه هم گومل بلل کیږی .

په متل کی وایی : وروروژلی ښه دی که گومل برې ایښی ښه دی .

بل متل : گومل برې ایښی ښه دی نه وروروژلی .

گومل یوه لرغونې سیمه ده چی د سیرواو تود وسیمو ترمنځ لارو څځه تیریږی او د هندوستان خواته لرغونی لار همدغه د گومل پر

پنډ وراو ښتله . داسې معلومیږي چې اریایي قبیلې له دغې لارې دهند ورشو گانو ته ورښوه شوې دي دا نوم په ریگویدا کې د ( گوماتي ) په نامه راغلی دی او یادونه یې هم د ریگویداد ( ماروت (۱) ) په سرود کې شوې ده .

## گوند

یوه قبیلوي مؤسسه ده چې په هغه کې بیل بیل خېلونه د خپلو گټود ساتنې له پاره گډون کوي .

هغه خېلونه چې د گوند په حساب سره یو ځای وي د سهمو پښو پر وخت یو د بل په طرفداري سره دریږي . هغه خېلونه چې د یوه ټبر په حساب سره یو ځای وي کېدای شي د بل ټبر د خېلونو سره په گوند کې یو ځای شي . گوندي رابطه په قبیلوي روابطو کې ترټبري رابطې ډیره پخه ده .

په پښتنې قبیلو کې د ( تور ) او ( سپین ) په نامه چې کوم گوند ونه جوړ شوي وه په هغو کې په ټبري حساب په هرگوند کې د بیلو بیلوټبرونو خېلونه یو ځای شوي دي . د ( تور گوند ) او (سپین گوند) او د ( ساسل ) او ( گاړي ) په نامه گوند وزه ډېر لوي گوند ونه دي. دگوند تاریخ معلوم نه دی او د لرغونی اریانا د قبایلو دیوې عنعنې او میراث په شان وروستیو پښتنې قبیلوته پاته شوي دود دی.

( ۱ ) ماروت د باد رب النوع وه .

## گوندی

دقبیلې په ساحه کې لویوبدیوته گوندی وایي. کله چې یوگوند دبل گوند سره په مخالفت کې ودرېږي، نودغه بدی گوندی ده. دگوندی بدی په سوونو کاله هم دوام کوي. کله کله وړوبدیوته هم گوندی وایي، خودغه بدی به هم دگوند په رابطه ریښه لري.

دقبیلوی مقرراتو په حکم کله چې گوندی شروع شي، نو شخصي بدی اومخاصمتونه باید له منځه یووړل شي اودگوندی لویو مسایلوته باید متوجه شي. دگوند سستم ته هم گوندی وایي، مثلاً پوښتنه کوي: (په کومه گوندی کې یې؟). هغه سړی چې دېری برې او جنې بالې (گوند یمار) یې بولي.

خوشحالخان په دستار نامه کې لیکي چې په پښتانه کې گوندی دسړیني ده (۱).

الفونستون د(کابل سلطنت) په کتاب کې چې دپښتني قبیلو دجوړښت په باب ځینې خصوصیات بیانوي دگوند رابطه یاگوندی دگډی وینې ترخپلوی ډېره قوي بولي، خوداچې وایي «دقبیلې افراد دیو اوبل دملاتړ په خاطر دتازه کشالو درا پیداکېدو په وخت کې راټولېږی اودې ډول اتحادیوته گوند وايي(۲) دده دنظر له مخې گوندونه موقت

---

(۱) دستارنامه دکابل چاپ ۳۸مخ

(۲) دوزمې مجلد ۱۳۵۶ کال دوهمه گڼه ۷۵ مخ

جوړېږي په داسې حال کې چې دسپین اوتورگوند دجوړېت عامل پېښه او نېټه د هېچا په یاد نه ده. شاید الفونستون (تړون) په گوند خطا کړې وي تړون نسبت گوند ته محدودیت لري او کېدای شي چې دقبیلو ترمنځ تړونونه وشي لکه د وزیراو سېدگیو ترمنځ چې، تړن شوی دی. تړون د گاونډیو خېلونو تر منځ جوړېږي، خو گوند په یوه لویه پراخه ساحه کې نفوذ لري .

# ل

## لاس لګول

لاس لګول د جنګ او جګړې مفهوم لري، خو هغه جنګ چې د دوو یا څو کسو ترمنځ وشي او وسله پکښې استعمال نه شي.

د لاس لګولو په پېښه کې مرکه نه راټولېږي، خو که د دغه لاس لګولو څخه زیان پېښ وي او تپ پېښ شوی وي، نو مرکه او جرګه غور پرې کوي.

د لاس لګولو په پېښه کې بالعموم پر ږیره حمله کېږي او که په دغه پېښه کې د چا ږیره وشکول شي، نو سربېره پر تاوان د ږیرې د شرم په نامه هم باید تاوان رسېدلي خوا ته ورکړي. څرنګه چې ږیره د نارینتوب علامه ده، نو پر هغه تېری پر عزت تېری ګڼل کېږي. د لاس لګولو عمل د کشرا و مشر ترمنځ هم جلا پرېکړه لري یعنې مشر ته لاس اچول نسبتاً درونده تاوان لري.

## لاروهل

لاروهل دغلا په معنا راځي ، څوځنه غلا چي د لاروڅخه وشي يعني په لار کې غلا ور څخه وشي .

لاروهل سخت جرم دی ځکه لار مصؤنه ده او هرڅوك چي د غه مصؤنيت ورانوی قبيلوی قانون څخه محکوم شوی او په تاوان ورکولو يې مکلف ګڼي ، د لار د مصئونيت په باره کې قبيلوی مقررات په پاملرنه پالل کيږی او هغه کسان چي د غه امنيت ورانوی په مجازاتو کې يې د کور سو محل هم شامل دی . استاد پوهاند رشاد وايي : « کنايتاً د تېرايستلو معنا لري مثلا (شيطان يې لاروهلی ده ) »

## لخول

د يوچا څخه کالی ايستل لخول دی ، خو کنايتاً د غلا مفهوم هم ورکوی .

د غه عمل که د غلا په منظور شوی وی ، نود غلا په کټه ګوری کې يې د مرتکب له پاره تاوان ټاکل کيږی ، خو که د بې عزتی په لحاظ شوی وی ، نود تاوان سره شرم هم بايد ورته ورکړی .

په لخولو کې د يوچا د پټکی اخيستل هم په بې عزتی کې راځي او که وامکښ او کميس ځني وباسی شرم يې يوڅه د رانېږی او که پرتوګ ځني وکاږی د انو د رنه بې عزتی ده او بېله دې څخه چي په وژلو يې ننګه

پرځای شي بله لاره لري . او که جرګه یا مرکه د دغه عمل پر مرتکب تاوان ایږدي ، نو دا تاوان د پردرونډوی او اکثراً باید چې سره ورکول شي.

## لښکر

د وسله والو خلکو ډلی ته لښکروايي .

قومي لشکر د بدي او بهرانۍ پروخت جوړيږي په دغه لښکر کې بېله امتیازه د قبیلې هر سړی برخه لري او که د قومي فیصلې په اساس د لښکر ډېر وشي که څوک غاړه څخني وغړوي هغه ته د والسي قانون سره سم مجازات ورکول کيږي .

په دغه مجازاتو کې د کورسوځل او د قبیلې څخه شړل ( رټل ) هم شامل دی ، خو دا هغه مهال چې لښکر د قبیلوی جګړې د پاره تولیږي او که د بهم کار د پاره نه وه نو بیا د غسې سړي چې لښکر ته حاضر شوی نه وی تاغه ایږدي په دغسې موارد و کې د غیر حاضر عذر اوريدل کیږي او که یې عذر پرځای وي بخښل کيږي .

## لغړ پېر ان

لغړپېران یا لغړي پېران په خوست کې یو قبیله ده چې سپیدان هم بلل شوي دي . په قومي او قبیلوي پېښو کې د لغړو پیرانو شفاعت د لویو بخښنو موجب ګرځي .

لغړي پیران او بر په قبیله کې د پخوا څخه یو د بله بدي هم سره لري او اختلاف پر سیمه ایزو مسایلو دي .

## لمن

په لفظي لحاظ لمن د (دامن) معنا ورکوي، خو په اصطلاح کې د عذر عفوې پناوادارې مفهوم ورڅخه اخيستل کيږي.

(په لمن کې ورلويدل) اصطلاح دا مفهوم لري چې پناه يې غوښتې وغوښتله پلانکي اويه لمن لري يعنې دعفوې او بخښنې احساس يې زيات دی.

وايي دغيرت باد چې را والوت دغلجي پرموټ د کاکړ پرسر که او دا يدالي پرلمن ووښت داته لمن داداري څخه مراد دی.

دعفو او حلم په معنا هم راځي.

دجرګې او سرکې پر وخت چې دمجرم په باب دمقابل طرف څخه بخښنه غوښتل کيږي، نو ورته وايي چې ستا لمن اويه ده هغه په خپله لمن کې قبول که چا ته چې دا وېي لمن خطاب کيږي هغه دفخر احساس کوي.

## لنګر

هغه پيران وسيدان چې شکراني اخلي نو لنګر هم لري. د پيراوسيد د دعا او تعويذ محتاج خلک اوس ترڅو يې کار خلاصيږي.

په لنګر کې ډوډۍ ورکول کيږي او په هغه لنګر کې چې د ډوډۍ سره کټغ ورکول کيږي نو غوړ لنګر يې بولي.

په ځينو ځايونو کې چې د غه پيران او سيدان دنفوذ خاوندان ګرځيدلي وي نو جوړی او روغی هم د تبريک دپاره په لنګر کې کيږي ولې په لنګر

کې دسرکې جوړېدل ډېر رواج نه لري په خاص ډول هغه وړې او کوچنۍ پېښې چې ډېر اهمیت نه لري اوجوړه یې هم یقیني وي، نوبه لنگر کې یوازې دعا پر کېږي .

## لوټول

لوټول تاراجولوته وایې په قومي بدیو کې کله کله دلوټولو یالوټمار عمل هم کېږي هغه داسې وي چې پر کور یا قافله حمله وشي او هرڅه چې ورسره وي هغه ځانې یوسي .

په عادي وخت کې د کور نیو په بدي کې لوټمار وشي اومساله جرگې اوسرکې ته محول شي، نو هلته دلوټشوي مال تاوان ټوله پر هغه خوا ایښوول کېږي چې لوټمار یې کړی وي اوسربېره پردې د شرم په نامه به یوپیسه هم جرگې ته ورولي .

پرقافله که لوټمار وشي هغه غلا بلل کېږي او دلاري دامنیت خرابولو جرم هم ورسره ضمیمه کېږي .

په سرکه کې د ورځې اوشپې له خوا د لوټولو عمل هم په تا وان کې توپیر لري او د ورځې لوټمارته د رونډ تاوان ټاکل کېږي .

## لوړه

لوړه قسم او سوگند دی. په ناحقه لوړه کول د ولسي نرخ سره ځانته ټاکلی تاوان لري.

لوړه یو حق دی چی کوم چاته د بسل چا د خوا څخه زیان رسیدلی وی هغه ته یې ورکړي.

د ښځی او نرد لوړی دور کولو رسم توپیر سره لری او د جرایمو په انواع پوری د لوړی مراسم هم توپیر سره لری.

یو څوك که پر حق هم لوړه وکړی، نو د لوړی د شرم په نامه باید یو څه ورکړی. په ځینو قبیلو کی دا کار د لوړی دخیرات په نامه یادیږی. وایی (قسم زرګره بلاده چی ترمخ هم زیان رسوی او ترشاهم) ددغی بلا درد له پاره خیرات ضروری بلل کیږی، خوپه عامه اصطلاح کی د لوړی شرم ځانته ځای لری.

## لوښی

لوښی د مرکې او ننواتی پسه ته وائی، خو د تیرا په اپریدو کی د بدرګې په شان یو رسم دی. کله چی یو څوك د یوچا یا یوې قبیلې په حمایت کی ځان واچوی نو هغه یې په حمایت دریږی. دا رسم داسی شروع کیږی چی لـوښی به دغه تاکلی سړی په هغه قبیله کی چی حمایت یې غواړی یوپسه حلا لوی او بیا نو قبیله هغه داسی ګڼی لکه د خپلی قبیلې غړی.

د بدرګې او لوښی توپیر دادی چی بدرګه موقتی وی او صرف هغه وخت چی یو څوك له دغی قبیلې څخه تیریږی حمایت ورحاصل

وی، خو لوښې کېدای شی په کلونو دوام وکړی (۱)

هغه څوك چې لوښې وکړي که تېری پر وشی هغه سړی یا قبیله یې په حدایت دریږی چه دغه سړی ته یې دلوښې حق ورکړی دی.

## لیار (لار)

لیار یا لار (قبیلوی قانون) ته هم وایی. کله چې یوقبیلوی سړی وایی چې (لیار راسره وکړه) مطلب یې دادی چې پرقانون راسره ولاړشه.

لیار یا لار یوه عمومی اصطلاح ده چې په ختیځو، جنوبی او لویدیځو ټولو قبیلو کې هم دغه مفهوم لری، خو په لویدیځو قبیلو کې په لار سره تلفظ کېږی.

دا چې وائی (لار راسره وکړه) دا هم دغه یو مفهوم لری چې پر قبیلوی قانون راسره ولاړشه. دا دغو یوازینیو اصطلاحاتو څخه ده چې د مفهوم په لحاظ په ټولو پښتنی قبیلو کې یو شان وېل کېږی.

ځینې لار د عربی د شرع ترجمه بولی. ښایی په لغوی لحاظ به دادرست وی، خو دا اصطلاح تر هغه وخت ډېره لرغونې ده چې عربی ژبه دلته راغلی، بلکه دا د قبیلوی قانون لرغونی نوم دی چې تر اوسه ژوندی پاته دی

(۱) پښتانه دوهم ټوك ۸۹ مخ

# م

## مټېزه

پښتو قاموس مټېزه هغه ښځه بولي چې د مېړه په طلب د پلار له کوره وتښتي ، خو په خاص ډول هغې ښځې ته هم مټېزه ويل کېږي چې تر واده پخوا د مېړه سره د پلار له کوره وتښتي .

د مټېزې او شينګړې يا شيګړې توپير دادى چې مټېزه د مېړه په مصلحت تر واده پخوا د پلار له کوره تښتي او شينګړې د مېړه بې مصلحته په مېړه پسې تر واده پخوا د پلار له کوره تښتي . په عمومي اصطلاح کې شنګړې تښتېدونکې ښځه ده او مټېزه يې ښځې ته ويل

کېږی ( د هر ځایی په مفهوم هم استعمالیږی (۱) ) مثلاً وایی:
آنجلی ملالی ـ سیل د ی کاوه متېزه ولاړې .

## مچلګه

مچلګه هغه ضمانت یا ګروی ده چې د دوو خواو تر منځ دمرکې ددایرېدو پر وخت دمرکه چیانو د خوا اخیستل کیږی . دا دې له پاره اخیستل کیږی چې طرفین د مرکې د فیصلې څخه غاړه ونه غړوی او فیصله بې عذره ومنی .

په مچلګه کی اکثراً ټوپك اخیستل کیږی او کله کله پیسې هم ورکول کېږی یا نور مال چې قیمت ولری قبلول کېږی .

کله چې دمرکې مریکړه دواړوخواوته ابلاغ شی ، نو که نه ومنل شی مچلګه یې بیانه ورکول کیږی او دا د مرکې او جرګې سړی اخلی . تر څو چې مچلګه پوره له دواړو خواو څخه ونه سپارل شی مرکه نه جوړیږی ، دمرکې په اول کی ددواړو خوا و څخه قول اخلی چې که فیصله ونه منی د مچلګې حق نه لری ، خو دا حق لری چې که یې پر مرکې د کړې بدغ وکړاو دغه کړه یې په بله مرکه کی ثابته کړه نو خپله مچلګه واخلی .

---

(۱) د غلام محیی‌الدین زرمتی یادښت .

## مځکه

د کرنې مځکې ته مځکه وايي . مځکه د ناموس حکم هم لري او قبيلوي خلك يې د مور په نامه هم يادوي .

د مځکې په دعوه کې لکه دمړي په دعوه کې شاهد نه قبلېږي بلکه قسم ورکول کېږي . قسمونه يې هم اوه دي چې ورو ته او ورېرونوته ورکول کېږي يعنې هغه کسان چې دورمېږ په وينه سره شريکان وي .

په مځکه کې د هرچاتېك معلوم دی او پرتېكتېرې هم تعقيبېږي او دنرخ سره برابر سزا ورکوي . په کوچيا نو آباديلو کې ور شو دمځکې حيثيت لري ، خو په هغو سيمو کې چې زراعت را غلی وی نو د مځکې څخه مراد هغه مځکه ده چې کرل کېږي . مځکه کله کنايتاً د نېکه هډونه هم بولي او څوك چې خپله مځکه خرڅه کړي نو نوروا يې دېلا د نيکه هډو نه يې خرڅ کړل .

## مخ توري

هغه سړی چې اخلاقي جرم يې کړی وی مخ توری بلل کېږي ، په عام ډول هر مجرم تو ر دی ، خو په خاص ډول هغه مجرم چې د بد ناموسي دجرم مرتکب گرځېدلی وی مخ توری بلل کېږي .

بې دينه او دينې مقرراتوته بې پروا سړی ته هم د مخ توري خطاب کېږي . په عام ډول مخ توری کېدل د زنا فعل ته وا يي

او کنایتاً مخ توری وزانې ته ویل کیږي. مثلاً وایي هر تور به سپین شي، خو د مخ تورې سپینېدل نه کېږي. قبیلوي نرخ هم دغه حکم د زانې په باب کوي، ځکه دغه نه نوواتې قبلیږي نه یې مرکه کیږي او نه بخښل کیږي بس یوازې چاره د مخ توري له پاره داده چې ووژل شي. دا نو که د مدعیانو له خوا ووژل شي پورنه لري او که یې خپلوان مړ کړي د پور څخه خلاصیږي.

## مخ روڼی

کوم څوك چې په یوه جرم کې په ناحقه ونیول شي او بیا برائت واخلي مخ روڼی بلل کیږي.

مخ روڼی حق لري چې د شرم په نامه د هغه چا څخه چې دعوه یې په کړې وي یا مرکې حکم پر کړی وي ناغه واخلي. هغه کسان چې په یوه جرم متهم شي او بیا د مرکې یا سپین ږیرو له خوا پړ و بال شي، نو که یې پخپله ځان بېرکړ وایي چې د غیرت مخ روڼی یې وکړه دا چې په قانون کې وایي چې برائت د انسان اصلي حالت دی قبیلوي عرفي قانون کې دغه مفهوم د مخ روڼي په اصطلاح کې پروت دی، نو په قبیله کې هر سړی چې د کوم جرم مرتکب نه وي گرځېدلی مخ روڼی گڼل کیږي. په دغسې مورد کې مخ روڼی او سپین دوه سره مشابه مفاهیم دي.

### مخې

مخې د برابر او مساوي مفهوم ورکوي مثلاً په قبیلوي نرخ کې وايي چې (سې دسړي مخې دی) معنا يې دا ده چې که يو څوك دچا سپې مړ کړي، نو دا جرم دسړي دوژلو سره برابر دی.

مخې د ساري سره نژدې مفهوم لري، خو بیاهم توپیرسره لري مثلاً په دې متل کې:

«ساری مې يې ، خو مخې مې نه يې»

معنا دا چې په قوت که ورسره برابروي، خو د قبیلې په اشرافيت کې يې دهغان سره برابر نه بولي. په نرخ کې مخې په ډیرو مواردو کې راځي اود برابري په مفهوم په احکامو کې کارځني اخیستل کېږي. دا يوه حقوقي اصطلاح ده چې دقصاص پروخت هم داستعمال موردلري.

### مخې

کومه ښځه چې دبلې ښځې په بدل کې ورکول شي هغه مخې بلل کېږي.

کله کله داسې کېږي چې يو څوك خپله خوریالور بل چاته ورکړي او دهغه خوریالور ځانته وغواړي دغسې ښځو ته مخې یا مخیانې وايي. په مخې کې دا ضرور نه ده چې حتماً يو ښځه دبلې ښځې په مساوي عوض کې ورکول کېږي، بلکه کېدای شي چې يوې خواته ښځه ځوانه او ښکلې وي اوبلې خواته ښځه زاړې اوډېره ښکلې نه وي په دغسې صورت کې

دخوانی اوښکلی غوښتونکی، مقابلی خواته دخپلی ښځی سرپیسی یا مال هم ورکوی چی دغه ته (سر) وایی. دغه وضع ددوی دنوسو په مفاهیمو چی مخی یا مخیانی دی څه اغیزه نه اچوی. مخی کول ترخته، خواوجنوبی قبیلو په اوږدو قبیلو کی ډیر رواج لری .

## سر کچی

دسر کی غړي ته سر کچی وایی. سر کچی بالعموم په قبیله کی دنفوذ اولاسه خاوندوی او دسر کی غړي ته سپین ږیری هم وایی د سر که زن په نامه هم یادیږی .

دسپین ږیرو کلمه دمشر په معنا ده یعنی کیدای شی چی یو ځوان هم دسر کی غړی شی، خو هغه هم دسپین ږیرو په نامه یادیږی او سر کچی ورته وایی .

سر کچی دسر کی په وخت کی مصونیت لری او که څوك وریاندی وبلوسیږی هغه په دسر کی شرم ورکوی .

په سر که کی هغه خلك غړی کیږی چی دنرخ قبیلوی قانون څخه یا خبره وی او تجربه یې زیاته وي .

سر کچیانو ته په ځینو ځایونو کی تواګر هم وایی او جرګه مار هم د غه دسر کچی مفهوم ورکوی سر کچی په خپل سر حکم نه شی کولای بلکه د ده په ارخ ثاست نرخی څخه په پوښتنه کوی او د هغه مطابق په حکم کوی.

## مرکه

د دوو کسو یا څو کسو ترمنځ چې شخړه او اختلاف پیدا شي، نود مرکې په وسیله دغه اختلاف حل کېږي مرکه په واسې سویه د قضایې صلاحیت خاوند موسسه ده چې د مدعي او مدعی علیه ترمنځ پردعوه اظهار نظر کوي په مرکه کې مرکچي د نرخي په مشوره فیصله صادروي.

د مرکې او جرګې توپیر دادی چې جرګه په لویو قومي مسایلو کې پریکړه (فیصلې) کوي او مرکه په عادي قبیلوي مسایلو کې جوړېږي،

مرکه پردوه ډوله ده چې یوې ته د ژبې د بوریډ و مرکه وای ویلی ته د واک مرکه وایي د ژبې د بوریډ و په مرکه کې دواړه متقابلې خواوې دلایل وایي او مرکچیان غوږ ورته نیولی وي خو د واک په مرکه کې مدعي او مدعی علیه اختیار مرکې ته ورکوي او د هغې فیصله په مني.

## مرګ

مرګ د مړینې په معنا راغلی، خون ته هم مرګ ویل کېږي. په عامه اصطلاح کې عمدي قتل ته مرګ ویل کېږي او په قبیلوي نرخ کې د مرګ لوی تاوان لري د مرګ پورته پر ېښودل کېږي که څوک تر دغه پورته ورشي، نو پیغور یې په برخه کېږي او په قبیله کې د بې ننګه په نامه پېژندل کېږي.

د مرګ پور یا په مرګ اخیستل کېږي چې بدله یا بدل ورته وایي او یا د ننواتې د قبیله لو په صورت کې بخښل کېږي چې تاوان یې قبول کړي

په عام ډول د مرګ یعنې قتل په پوښه کې د ننواتي قبلولو ته هم ډیر زړه نه ښه کیږي، خو که قاتل د کټ پښه ونیسي یا د وژل شوي په قبر کې ځان واچوي نو د مقتول ورثې ته یوه تسلي او پر ده پیدا کیږي او بیا نو که ننواتي ومني ډیره بده بلل کیږي .

## مریی

مریی غلام دی. اوس په پښتني ټولنه کې مریي نه شته، خو پخوا به په ننواتي کې مریي هم د پسه په شان بیول کیدی او د ننواتي کوونکي له خوا به هغه چا ته بخښل کیدی چې ننواتي به یې پر کړې وه د پښتو په شفاهي داستانونو کې د آدم خان په نکل کې وایي چې کله آدم خان خپله ښځه توتیا په زور کورته راوسته، نو څو ورځې وروسته یې خپل اخښی بازید خان ته ننواتي ولیږله چې په هغه کې پسه او مریي هم و. مریان په پښتني قبیله کې پخوا هم نه وه ځکه په قبیلوي جګړو کې د مقابل لوري خلک وژل یو عمل وچې وروسته هم پاته و. مریي د عربي او مغولي دربارونو د راتګ سره په پښتني قبیله کې پیدا شول، خو دا مریان به د ښځې لیرو سیمو هغه راوستل شوي وه .

## مړوښې

مړوښې د میړه مړه ښځه ده مړوښې د کهول د مشرۍ په حیث خاص احترام لري که څوک مړوښې ښځې ته بې عزتي وکړي په قومي قانون کې هغه بخښل کیږي او سزاوار ګڼل کیږي .

مړوښې ښځه د ناموس حکم لري او که څوك د غسې ښځې ته ښکنځا وکړي یا تېری پرې وکړي مېړه یې دا پر ناموس تېری ګڼي او حق لري چې داسې تېری په وینو پرې مینځي یعنې غچ په قتل واخلي .

د مړوښې ښځې تښتول مړ که نه لري یعنې فیصله نه شي پر کېدای او اتواتي یې هم نه قبلیږي. که مړوښې وتښتي او بل مړی یې وکړي، نو هغه وژل کیږي او که دا سلسله ادامه پیدا کړي تراوو، پړونو پوري د مرګ لائق بلل کیږي .

## مړی

مړی ته ډوډی هم وایي، خو په خاص مورد کې مړی د مرکچیانو ډوډی ده چې د دعوا کوونکو له خوا ورکول کیږي.

هغه مفهوم چې په ډوډی کې پروت دی هغه په مړی کې هم پروت دی. دا چې وایي مړی یې راسره وخوړې، نو مطلب یوازې دا نه دی چې ډوډۍ یې وخوړې، بلکه هرڅه چې پر ستر خان ایښودل کیږي هغه مړی ده. مړی د مالګې سره یو ځای مقدس حیثیت لري او قسم په کیږي.

موړه مړی وچه ډوډی ده او غوړه مړی هغه ډوډی ده چې هرڅه پکښې وي. د مړی پاس ساتل د قبیلوي مړی یو خاص خصلت دی. که یو چا د بل مړی وخوړله، نو دا یې یو حق پرذمه واخیست چې په مړی یې باید ورمباد نه کړي.

## مړینه

مړینه د قتل او خون معنا ورکوي. عمدي قتل ته مړینه ویل کېږي او په قبیلوي نرخ کې مړینه یو شدید عمل دی چې تاکلی تاوان لري. مړینه په جنوبي قبیلو کې اصطلاح ده او په لویدیځو قبیلو کې د دغې اصطلاح پرځای د مرګ کلمه استعمالیږي

په مړینه کې ټول هغه مقررات شامل دي چې د مرګ له پاره ټاکل شوي وي. مړینه د (بدل) په قانون جبره کېږي، خو د نړواقې او مرکې په صورت کې د مقتول خوابخښنه کولای شي.

مړینه او مړي کول یو مفهوم لري او عامل ته بې دواسې نرخ مطابق سزا ورکول کېدای شي .

## مسافر

هغه سړی چې د کور او وطن څخه پر بله خوا تللی وي مسافر چې نورو سیمو او قبیلوته ورشي هلته د مېلمه په حیث د مېلمه دتولو حقوقو خاوند دی.

په خپله قبیله کې د مسافر کور که څوک هم نه لري، د قبیلې په ټوله حفاظت کې وي، که د مسافر دروازې، دېوال، کړدې کوډې یا کوډخې ته څوک زیان ور رسوي، نو سربېره پر تاوان د مسافر د شرم په نامه هم باید شه تادیه ورکړي.

په اویدیځه خوا کې وایي (د مسافر عزیز، سپي ته به هم څوک نه وایي!) مسافر چې راشي باید ټوله قبیلوي خپلوان یې سیلمه کړي، خو مسافر به هم دوی هر یوه ته سوغات ورکوي.

## مل

مل د ملګرې معنا ورکوي. مل په ښه او بده دواړو خوا وکې استعمالیږي یو څوك چې په ښه کار کې د یو چا ملګری شي، نو هم مل بلل کیږي او که په بده لارکې ملګری ورسره وکړي، نو د بدی د مل په نامه د قومي نرخ له خوا تاکلې سزا ورکول کیږي کنا یه بد ملګری ته شیطان هم وایي. ښه عمل د لاري مل بلل کیږي.

په ولسي نرخ کې د یو مجرم مل هم مجرم بلل کیږي او د جرم په تناسب تر اصل مجرم وروسته مل ته هم په دوهمه درجه مجازات ټاکل کیږي. په یوه ټاکلې مساله کې اصلي فاعل او مل د جرم د وقوع عاملین بلل کیږي، او کله چې مرکه شروع کیږي، نو مرکچیان پوښتنه کوي چې مل یې څوك و.

## ملا

مذهبي مشر ته ملا ویل کیږي. ملا سربېره پردې چې مسجد ساتي لمونځونه ورکوي. د مړي د ګورا و کفن خدمت هم کوي، نکاحي تړي.

ملا د سپین پټکي په نامه په ننواتي کي هم ځي او کله چي د دوو قبیلو ترمنځ توده جګړه روانه وي، نو ملایان قرآنونه پر سر نیسي او د جګړي ډګر ته داخلیږي او په دې ډول جګړه بندوي.

کله کله په جرګه او مرکه کي اصلي غړیتوب اخلي، خو په لویو جرګو کي ملا د جرګي اصلي غړی نه وي، بلکه د دعا له پاره هلته ورځي په دغسي جرګو کي ملا د جرګي څخه لیري کښېني او کله چي جرګه فیصله صادروي، نو ملا ته دعوت ورکوي او هغه د خیر دعا کوي. د ځینو جرګو په پای کي چي خیرات کیږي د هغه سر پرستي نو په منظم ډول د ملا پر غاړه وي.

## ملاتړ

په لغوي معنا ملاتړ همکار ملګری دی، خو په تعاملي اصطلاح کي دري مفهومه لري چي په لاندي ډول دي:

یو د دښمن څارونکي ملاتړ یا مله تړ بلل کیږي. بل د کورني بالغ نارینه چي توپك استعمالولی شي هم ملاتړ بولي او دریم د ګونډ په کړي کي د بدي پروخت مسلح ملګري ته ملاتړ وایي. په قبیله کي د کورنیو یا خپلخانو حساب د ملاتړ و په تناسب کیږي په ځانځیو کي دغه ملاتړ ته میړه وایي. د ملاتړ په حساب اښکر جوړیږي او یوه قبیله کولای شي چي تر جګړي پخوا د نورو په ګونډ شریکو قبیلو د ملاتړ په حساب اښکري حساب جوړ کړي. په دغسي مثال کي وایي چي پلانکي قبیلي دومره ملاتړ په

مرسته راوليږل. ملاتړ يوقبيلوي مساحه ړی ده چې هروخت د قبيلې مشر ته قومانده جګړې ته حاضروي.

## ملامت

ملامت ډېر معنا ور کوي. کوم څوك چې په چاد عوه وکړي او بيا ملامت شي هغه ته ملامت وايي. ملامت په قبيلوي نرخ کې د ناغې په ورکولو مکلف ګڼل کېږي. دې کلمه په ختيځو او جنوبي قبيلو کې رائجې، خو په لويد يځو قبيلو کې د غه پرته ملامت وايي. هغه څوك چې ملامت شي بايد خپله ملامته ومني او که سرغړونې وکړي، نو ناغه يې زياتېږي.

په بر يځوکې هغه سړي چې د رې واره ملامت شي، نو د ول پرو هل کېږي. وايي (د ملامت برخه خوار وي) کوم څوك چې ملامت شي، نو هغه په قبيله کې داعتبار څخه لوېږي او قبيلوي سرګه مني، خو ملامته نه مني. دامتل چې وايي (په شلو وهلو به دي نه په يوه پړ) په لويد يځو قبيلو کې د پړ پر ځای د ملامت کلمه استعما لوي.

## ملك

د قبيلې مشرته ملك هم وايي. ملك د قبيلې د پېښو څارنه کوي او پر مهمو وختونو د قبيلې خلك د پېښو څخه خبروي. د ملك کلمه بالعموم په هغو سيمو کې چې د دولتي موسساتو ترادارې لاندې راغلې وي ډېره رواج لري. په دغسې قبيلو کې ملك د قبيلې او دولتي اداروترمنځ

دیو رابط حیثیت لري. هغه خانان چې قبیلوی اعتبارات یې د قبیلوی تکانې کېدو سره لویدلې وی د ملکانو په شکل راپورته کیږي . ملک د خپل کار د اجراله پاره یو نفر ساتي چې هغه ته (بچوړی) وایی په هغو قبیلو کې چې خان لا په قوت وی ملک د هغه په اعتبار کار کري، خو بیا ری سیمو ته نژدې قبیلې چې د خانی له نفوذ څخه وتلې وی چارې یې ملک سمبالوی .

## موادسنګ

په شینوارو کې قبیلوی نرخ ته مواد سنګ وایی. موادسنګ هغه تواله مقررات احتوا کوی چې په حقوقی او جزایی تعاملاتو کې داخل وی. مواد سنګ هم دغه نرخ دی چې د ټاکلو مسایلو د حل له پاره د تعامل او عنعنې په شکل پاتې وی البته دا خبره یو څه زیاته څیړنه غواړي چې دا کلمه څرنګه وڅه وخت او د کوم عوامل له مخې د نرخ د کلمې پرځای د ریدلې ده . ما په جلال آباد کې د شینوارو د یوې سر کې د غړواله خولې وا ورېد له خو به دې نه یم بریالی شوی چې نوره څیړنه یې وکړم .

## موټ

موټ د انتقام او غچ په مفهوم راځی.

په کاکړو کې دا اصطلاح عامه ده او د انتقام په مفهوم

استعمالیږی په یو ګاګړی غاړه کی وایی.

« زما اوردی ور لالا      چه موټ به واخلی د کاکا»

یعنی د کاکا انتقام به واخلی هغه څوك چی موټ نه اخلی هغه ته په درنه سترګه نه کتل کیږی. یو قبیلوی سړی چی وایی «خپل موټ نه پرېږدم» مطلب یې دادی چی خپل انتقام اخلم. کنایتاً موټ د قوت په معنا هم راځی مثلاً وایی موټ یې کمزوری دی.

موټ چی د بازو په مفهوم استعمال شی مطلب یې وزور او یا د خپلخانی آزدې تر لور یې چی دده سره په ننګه شریك وی

**مور**

داولادونو زیږوونکې ښځه مور ده مور درونه او محترم مقام لری. مور د کورنی مشره ده او تر پلار بالا لدی مقام لری.

په عامه اصطلاح هره ښځه چی اولادونه لری یا یې زیږیدلی نه وی او په عمر پخه وې تولوته د مور حیثیت لری. که یو سړی سپین سری ښځی ته بد خطاب وکړی، نو نوروانی چه مور ته یې په بده سترګه وکتل. که یوه مور د زوی له لاسه سپین پړوته شکایت وکړی نو هغه پېله دې چی د هغه خوله وپوښتی ملامت یې بولی ځکه د مور مینه دا هیڅکله نه قبلوی چی د زوی به بده دی رو اداره شی کله چی په یوه ټاکلي پېښه کی د شاهدی ضرورت وی نو د زوی په باب د مور نظر او شاهدی د قبول وړ نه بلل کیږی.

## موره (مور زنه)

د خوست په اصطلاح کی موره یا مور زنه هغه ښځه ده چه د خپل میړه په ټټه د بل چا سره یا رانه ولاړی او دمیړه مال هم پهخپل یار خوری. یوه ښځه چی مور زنه شی د هغې وژل مجاز کار دی.او څولک چی دغسی کار وکړی هغه د اثبات لپاره په علنی ډول په مرکه کی نه پوښتل کیږی،بلکه سپین ږیری، په خصوصی توګه پوښتنه ځنی کوی، کله چی ددېد وژ و پهمساله کیدا سړی حق په جانب وبلل شی، نو هغه بل سړی چیدموروزنی په یارانه متهم وی جرم یې پهځپله ثابتدی ، باید سمدستی ووژلشی . دداسی سړی ننواتی او مرکه په هیڅ صورت نه قبلیږی (۱)

## مشر

مشر یو د روند قبلوی لقب دی چی چاته ورکول شی، هغه دقبیلې مشری په غاړه اخلی د جرګې او مرکې مشرتوب کولای شی.

مشر یا لعموم د سپین ږیری په مفهوم هم راځی. کېدای شیچی د مشری، په مقام کی په عمر ځوان سړی وتاکای شی او کله چی دغه لقب ورکول شی، نوهغه د مرکې او جرګې دراغونښتلو صلا حیت هم پیدا کوی.

پهعام ډول هرسپین ږیریمشر دی،خودا مشری دعمراوسن پهلحاظ ورکول کېږی ولیدقبیلوی‌مشری لقب دمشردنفوذ دتضمین لپاره ده.

(۱) د پکتیا د سرحداتو مرستیال حکم خان دخوست اوسېد ونکی یا د ښت .

کله چې یو په عمر ځوان سړی د قبیلې مشر وټاکل شو، نو هغه د مشرۍ د هغو ټولو اخلاقي امتیازاتو خاوند کېږي چې په عمر باخه سپین ږیري ته په برخه وي .

## مونجی

په پښتو قاموس کې مونجي د چملك او بیني پچق په معنی راغلی دی، خو په اصطلاح کې کوم څوك چې په جګړه کې بې ازه ماته شي هغه مونجي بولي په نرخ کې مونجي تاوان اري چه د تېري کوونکي څخه اخیستل کېږي. په اور کې د یوچا اچول چې اندامونه یې سره راټول شي دې ته هم مونجي وایي د زرملي په سلیمانخیلو او خوازکواو داسې نورو قبیلو کې مونجي کول د بدلې په قانون په سر کې تلقي کېږي، ځکه چې یو مونجي سړی په هغه مفهوم چې اندامونه یې سره ټول شي د مړو په حساب راځي، نو ځکه تاوان یې هم د یوه انسان د پوره خون سره برابر ګڼل کېږي .

## منکر

منکر انکار کوونکی دی په قبیلوي قانون کې منکر ته قسم کېږي او پر منکر که د جرم اثبات وشي، نو سزا یې د نرخ سره سم زیاتېږي. یو سړی که د جرم د وقوع سره اقرار ور کړي او د نرخ مقررات ومني هغه ته د سزا د روند والی هم سپکېږي، خو که انکار وکړي نو سزا یې زیاتېږي او که پر انکار پسې ټینګ شو نو هر څومره چې په انکار کې وخت پر تېرېږي په هغه تناسب یې پر تاوان هم زیاتوب راځي، منکر یوازې په لوړه او قسم هم نشي خلاصېدای

بلکه ترقسم پخوا دپیښی حدود اوشهود په مرکه کی تر غوراو بحث لاندی نیسی او که توانی لاری بندی وي، نوبیا منکر ته قسم ورکول کیږی

## منډیخ

منډیخ هغه پسه ته ویل کیږی چی زوم یې ترواده دري ورځی وروسته خوابنې ته ورکوی(۱).

په ځینو سیمو او قبیلو کی دبریالی مرکې به پای کی دخوښی په دود چی پسه حلالیږی، هغه ته هم منډیخ وایی.

استاد پوهاند رشاد پردې ایکمه دالنه یا دایت زیات کړی دی.

په وزیرو کی چی دناوی پلار ترواده وروسته په ناوی پسی څه وروړی دغه هم منډیخ بولی.

## میا نځگړی

کوم څوك چی د دوو کسو یا دوو او یا دوو قبیلو تر منځ په یوه تاکلې قضیه کی وساطت کوی هغه میا نځگړی بلل کیږی.

په لویو پیښواودعوو کی څو کسه دمیانځگړو په حیث ټاکل کیږی اوهغه تروساطت وروسته داجورۍ حق هم اری.

میانځگړی چی دجمع په صورت استعمالشی د دریمما نودریځگړو سره نژدې مفهوم ورکوی، خوبیا هم توپیر سره اری. غټ توپیری دا دی چی

(۱) پښتانه دوهم ټوك (۱۸۵) مخ.

د ریمان او د رینګړی په کوچنیو ټولو پښتو کی د وساطت وظیفه پر غاړه
اخلی، خو منځګړی ته په لویو پښتو کی د وساطت وظیفه ورسپارل کیږی.
منځګړی هم مصونیت لری او که زیان ورسیږی تاوان اری او د عزت پر
ځای کولو لپاره په شرم هم ورکول کیږی .

## میر

میر هم قبیلوی مشردی او د اربکیانو لارښوونکی ته میر ویل کیږی.
په ځینو قبیلو کی د ځنګل ساتونکی میرولی چی د کلانترانوله خوا ټاکل
کیږی او د (میردمنی) مستحق وی. (میردمنه دی په قاموس کی وکتل شی).
میر د مشری یو لقب دی چی ښایی د ډیرو ارغونو زړاتو څخه به پاتې
وی . ځکه په کوم خاص صلاحیت چی بې نن وینو د آریا یی ټولنی
د مشری ډیری نښی پکښی پرتې دی. میر د محافظ مشر په حیث یو مقام دی
چی د کلانترانو یوه کمیټه هم لری چی د دغه معتدو په حساب څارنه
کوی او د میرداوا رود تطبیق د پاره اربکی (قومی سپایی) وظیفه اجرا کوی.
میر د کلانتران او اربکیان په ټولی اندازه د قبیلې څخه یو څه اخلی چی
د میرو دغې ته (میردمنه) وایی

## میرا

ستانه قبیلې ته منسوب مشر ته میرا ویل کیږی او په ځینو قبیلو کی

---

په لویو کی هم د دلو مشر میر بلل کیږی او د لمړلو په وخت کی ویل کیږی:
میره میره الی (رشاد)

دمیرالهٔ نامه سره دا عالاحقه هم ملګرې وي چې دا یې دستانه توپ علامه ده. میرادسیادت په خاطر دعزت خاوند نه دی، بلکه د قبیلوی اقلیتو نو څخه میراګان راپورته کیږي او په قبیله کې ځای نیسي. میراا کثره دعاګانې کوي کله کله تعویذونه هم کوي او په ځینو وختو کې ناروغان دموی او کله بیا دواوي ور کوي. میراګان په جرګو اوسر کو کې هم کله کله ګډون کوي. اوځا ی یې دمشرانو په سر کې وي. دمیرا سره د کلي او قبیلې خلك مرسته کوي، خو دا مرسته د خیرات په نامه نه یادوي، بلکه د تحفې او سوغات په شکل یې ورلیږي. میراتوب په میراث هم پاتیږي اود میرا زوی ته هم میرا ویل کیږي.

## میراته

په قبیلوی ژوند کې هغه شدید عمل ته میراته وایي چې یوه خواد بلې خواد سړی یا سړو پر کور حمله و کړ ي او په هغه کې نارینه تول قتل کړي. په دا سې تیری کې کوچنې نارینه اطفال هم وژل کیږي، خو په ښځو کار نلري. دمیراتې او بګړی تو پیر دادی چې په بګړه کې ښځې هم وژل کیږي یعنې هیڅوك ژوندی نه پریږدی خو په میراته کې یوازې نارینه وژنی او په ښځو کارنلري. په وزیرو کې میراتې ته (خی) او (ستمه) هم وایي. دمیراتې تاوان ډیر روند دی. هغه څوك چې میراته ور کړي د یوالك څخه تر یوالك پنځوس زره افغانیو پوري پیسې ځنې اخلي او ۳۰ نسونه په حلالوی کوربې ورسوځي او ان له وطن څخه یې هم شړي.

## میراث

د مړه شخص مال چې حقدارانو ته وېشل کېږي میراث بلل کېږي.

د پښتنو په قبیلوي تعامل کې میراث یوازې نارینه وو ته رسېږي او ښځه میراث نشي وړای.

ښځه پخپله د میراث جزء او د نرخ مطابق لېږل کېږي او بیا د مېړه تر ورو ته ورسېږي. په دغسې مورد کې ښځې ته کونډه ویل کېږي او دا مثل هم ویل کېږي.

(کونډه د کام ده) معنا دا چې که په لېورو او نورو خپلوانو کې خوښه نه وي، نو د کام خلکو تلی نه شي او دا د کام میراث په حق کې راځي.

په قبیله کې میراث د مشر دی. دا نو که د خلېخاني مشرۍ او که د قبیلې د پلار مشر زوی اول میراث خوری او نور ده کشران دي. کله کله چې کشران د مشرانو سره په رقابت کې ودرېږي، نو بیا میراث لوېي قومي بدۍ راولاړېږي.

## مېړه مینه

په اورګون کې د څښکل ساتنې د پاره چې د کلا ننرا نو په مرکه کې کوم څوک مقرر شي هغه مېرېلل کېږي. مېړته چې د دغې وظیفې په مقابل کې د قوم له خوا څه کومه اجوره ورکول کېږي هغه مېړه مینه

بولی (۱) دمیړدمنی اندازه پرهر کور یو چارك غنم اویا یوچارك جواری وی چی د کاله ورکول کیږی دادمیړ وروستنی شکل دی ، خوداسی معلو میږی چی میرترخان ډیر ارغونی دقدرت اومشرتیا مقام دی ، میر اوس یوازی دځنګل په کار کی مقرریږی ، خوپخوانی میر د ټولو چارو اجرا کوونکی ؤ دغسی میرانتخابی ؤ اوپه میراثی ډول دامقام څپلو وروسته پاتوته پرینښو ولای نه شی.

## میړانه

غیرت ته میړانه ویل کیږی. په قبیله کی چی کوم څوك میړانه نه لری هغه په قبیله کی خپل حقوق هم نشی ساتلای.

میړانه د پښتو ټوالی مهم اوعمده عنصر دی اودمیړانی خاوند ته په درنه سترګه کتل کیږی.

## میړه

دښځی وخاوند ته میړه ویل کیږی په عامه اصطلاح کی د ټولو قبیلوی حقوقو خاوند سړی ته هم میړه ویل کیږی دقبیلی غړی هم میړه دی مثلا وایی چی دمنګلو دخجوړی کام ټوله دونه میړه اری.

دمیړه کلمه کنایتا دغیرتمن اوزړور مفهوم هم ورکوی. مثلاً په متل کی وایی «چی میړونه وی هلته کورونه وی».

---

(۱) فولکلور مجله د ۱۳۵۲ کال دوهمه اودریمه ګڼه (۵۵) مخ.

په شاهدۍ کې د مېړه تر نامه لاندې مېړې قبول کېږي، مثلاً وايي (درې مېړه (۲) مې شاهدان وه) يا مثلاً مر که ورته وايي (چې غلط مېړه دې داو دستلي دي).

د مېړه په کلمه کې د قبيلې د عرفي قانون څخه د يوبر خورد اره فرد قبيلاوي شخصيت څرګنديږي.

## مېلمه

مېلمه دا لوی حق خاوند بلل کېږي. مېلمه د کوربه په کور کې د خاص مصونيت ارونکی وي او که څوك د چا مېلمه ته زيان ورسوي، نو دا د کوربه پر حق تېري بلل کېږي او حق لري تېري کوونکی داسې تعقيب کړي لکه د ده کورنۍ او قبيلې غړي ته چې يې زيان رسولی وي. (د مېلمه د مرګ تاوان وګورئ). مېلمه د رلودل د عزت نښه ده او مېلمه جوابول د لويې بې غيرتۍ علامه ده. مېلمه که هر څومره لوی مجرم وي، خو کله چې د يو چا په کور کې مېلمه شو، نو نه يوازې کوربه بلکه د مېلمه دښمنان هم څه ورته ويلای نه شي.

په ځينو قبيلو کې نه يوازې مېلمه ته ډوډۍ او ځای ور کوي بلکه چې څې يو څه سوغات هم ورسره ور کوي.

---

(۲) په جنوبي قبيلو کې مېړه د مفرد او جمع په دواړو حالو کې استعمالېږي په ځينو زوسه‌و کې دغه جمع په مېړونه وايي.

## مینځه

مینځه غلامه ښځه ده. مینځه اوس نشته خو پخوا چې وه په مالک یې اړه درلوده

په قبیلوي نرخ کې د مینځې وژل د مال په شان وه چې ناغه یې نه درلوده. د یو چا د مینځې تښتول د ننګې تر قانون لاندې نه راتله، بلکه د مینځې تاوان یې باید ور کړی وای. په هغو وختونو کې چې د مریي او مینځې ساتل رواج وه نو مینځیانې په تاوان کې هم ور کول کېدې. مینځه د مال په شان وه او د مالک هر ډول تصرف پکښې جایز و. د مینځې زوی که څه هم د مور د مالک او ځانته د پلار په حیث د هغه په حق کې برخه درلوده، خو مور یې په مال کې حساب وه او نه یوازې یې حق نه شوای ورلای بلکه زوی باید د خپل حق په مال کې قبوله کړې وای.

## مېنه

مېنه په لغوي معنا وطن ته وایي، خو په عامه اصطلاح کې هغه ځای ته چې کوچیان پر اړوي مېنه ویل کېږي. د کورنۍ معنا هم راځي. پر مېنه تیری په قومي نرخ کې د تعقیب وړ جرم دی.

کوچیان قبایل د مېنې دوې اصطلاحګانې لري چې یوه یې د دوبي مېنه ده او بله یې د ژمي مېنه. د دوبي مېنه یې په هغو سیمو کې وي چې په ژمي کې ډېرې سړې وي او د ژمي مېنه یې په هغو ځایو وي چې تود دوبی (اوړی) لري.

د نیکانو سپنه هم یوه اصطلاح شته او دا خاص ځایونه دي چې کوم معلوم د خدای دوست یا د نیک په نامه استوګه پر کړې وي. کوچیان دغسې د نیکانو پر سپنه خپل ځني سامانونه امانت ایږدي دا هغه سامانونه وي چې په ژمي کې د وي تود و سیمو ته ځي او پر بار وي. نو کله چې بیرته راغبرګیږي هغه د ځان سره واخلي. د نیکانو پر سپنه دا سامان هم دغسې امانت پروت وي او څوک کار نه په لري. دا سې عقیده ده چې که څوک د نیکانو د سپنې څخه یوشي په غلا یوسي هغه یې د کورني د سري په سر وربه لیږي.

د دغسې نیکانو سپنې په عمومي هغو رونو (لارو) کې وي چې کوچیان تیریږي (سها و بابا) د فراه د سیمې په (بکوا) کې دلاري پر سر یو زیارت دی. چې د نیکانو د سپنې په نامه شهرت لري او په پخوا وختونو کې د هلمند او فراه هغه مالداران چې د وبي به یې په سیابند کې تیر کړي ؤ او ژمي به یې د هلمند تود و غاړوته رارساوه نو خپل اضافي شیان به یې پر سها و بابا سپارل او دا د نیکانو په سپنه کې به د دوی مال خوندي ؤ. *

---

* هغه کوچیان چې د کوندر له لاري د پروته ژمي رسوي په حسین بابا کې خپل درانه او فالتو سامانونه ږدي. حسین بابا د حسین خېلو جمریانیو نیکه دی. (ر شا د)

# ن

## تاغه

تاغه جريمه ده چې د جرم په مقابل کې بايد د مجرم له خوا تادیه شي.

په نرخ کې د جرايمو له پاره د تاغې حدود تاکل شوي وي، خو په هغو مواردو کې چې جرم ډېر دروند وي يا په يوه نوې طريقه جرم عملي شوي وي په هغه صورت کې د نرخ چلونکې د تاغې د دروند والي په ټاکلو کې صلاحيت لري.

مثلاً د ځنګل د ونو يا د غلاوتونو په حدود کې تاغه ټاکلې ده خو که ميراته يا ښځه پيښه شي، نو هلته تاغه هم درنه ټاکل کيږي د تاغې نه تاديه کېدوه تاغه بلله تاغه لازموي تاغه په عذراو بخښنه

اېسته کېداى سي، خو قبيلوي خلك په داسې مورد کې عذر د دوى په اصطلاح د خېلخانۍ عيب بولي.

## ناموس

په عامه اصطلاح ناموس ښځه ده. په لومړۍ درجه کې مانديينه يا مور خورا او نور د ناموس په سلسله کې راځي. حتى د زانګو کوچنۍ نجلۍ هم په ناموس کې راځي.

د يوچا د ناموس بې احترامي کول غټه ګناه ده او پر ناموس تېرى نه بخښل کېږي.

د يوچا ناموس ته په لفظ بد ويل هم لويه ناغه او شرم لري. د لوېديځو قبايلو په منځ کې دا اصطلاح هم شته چې ځمکه هم ناموس ده (مطلب د کرنې ځمکه ده)، خو کنايتاً وطن او مېنه هم د ناموس په جمله کې راځي.

په پراخه ساحه کې د خېلخانې ټوله ښځې د ناموس په درجه کې دي. په قبيلوي ژوند کې ناموس د ننګې محور دى پښتانه وايي: «مال تر سر ځار، سر تر ناموس»

## ناوړ

ناوړ يا ناوړ د ناغې په ډول د تاوان مفهوم ور کوي. د نقصان او خسارې له پاره ناوړ استعماليږي، خو په سپکو پېښو کې تاوان ته ناوړ ويل کېږي.

## نایك

قبیلوی مسلح سړی ته نایك هم ویل کېږی په مغولی دوران کی شریف او اصل زاده ته نیاك و یل کېدی(۱)او کېدای شی چی دا کلمه دی د مغو وختونو څخه پاته شوې وی .

«استاد پوهاند رشاد په خپل یا داشت کی وایی چی په مغولی دوران کی هم دغه لغت (نایك)و یل کېدی، نه(نیاك)»نایك اوس په اوردو ژبه کی د قافلې د مشر معنی لری په ځینو فرهنگونو کی نایك کلمه د مشر او پیشوا په معنی سانسکرتی کلمه بلل شویده*) ښایی د استاد نظر به درست وی او دا کلمه به د یوې ژبی څخه بلی ته په اوښتلو کی سمه نه وی تللی دا چی نایك په مغولی دور کی هم یوقبیلوی عنوان ؤ ، نو ښایی چی تر مغولو دی لا هم دا کلمه ارغونی وی او داریایی ټولنی څخه دی پاته شوی وی چی په پښتنو کی موجوده ده

## نایی

د کلی دلاك (نایی) بلل کېږی . نایی هم په قبیلوی ټولنه کی ځښته موقف لری . قبیلوی اشرافیت نایی ته د کلی له خوا په کال کی

(۱) د مغولو په دوات کی د وروستیو سیاسی کودتاو تاریخ دوهم ټوك ۱۳۵ مخ د کابل پوهنتون چاپ

*وگورئ: ستندرد اردو ډکشنری ۷۹ مخ ـ دلیل ساطع ۳۲۷ مخ .

دفصل پرسرېدو اجوره تاکي، خونورنودقبیلوی حقوقو څخه پوره برخه نه اري دغې تادېي ته گند وايي.

دامې کسان اکثره دنورو سیمو قبیلو یا مجهول النسبه قبیلو ته منسوب وی . (۲) دیوسفزوپه هغوسیمو کې چې هلته مځکه تبدیلېدله نوناپانوته هم مځکه ورکول شوې وه ، خوددوی مځکه په ویش کې نه واتله، بلکه دوی میری خواره بلل کېده اوپرخپله مځکه په پاته وه . ناپې ته دزیان اوتاوان پروخت مرکه اوجرگه نه کېږی، بلکه دقبیلې بو کوچنی مشر ددوی په غور رسید گی کوی.

## نرخ

دقبیلوی حقوقی اوجزایی تعاملاتو قانون ته نرخ وېل کېږی نرخ یوعام مفهوم افاده کوی چې دهغه په چوکات کې دټولو جرایمو حدود اودمجازاتو انواع اودودونه معلوم دی.

ځینی قبیلې ځانته نرخونه لری ، خودیوکل په صورت د د غو نرخونوعمده معیارونه ډېر سره مشابه دی ډېر معروف نرخ داحمد زیودی چې دعیسی اوموسی په نرخ شهرت اری. په دغو کی دعیسی نرخ ډېر پوخ اودروند بلل کېږی.

## نرخ

نرخ دقبیلې قانون دی اودقبیلې ټول خلك دهغه په منلو مکلف دی. هغه څوك چې له دغه قانونه وزی، نودقبیلې څخه بایدووزی.

پښتانه په متل کې وايي:

«د وطنه ووزه، د نرخه به مه ووزه» په دغه متل کې د نرخ د قبیلوي، تعامل نفوذ او قدرت ډېر ښه څرګند ېږي. د امتل هغه غټ مفهوم په څرګند ډول ښيي چې د قبیلوي نرخ حقوقي ارزښت په مقابل کې قبیلې په څومره غټه پیمانه قبول کړی دی.

تعاملي نرخ د حقوقي جوړښت له لحاظه پوپسوط اوګا لېزم دی او د تو لنې د بسیط والي انعکاس دومره ځای یکی نیولی دی چې د قبیلوي ژوند عیني او ذهني اړتیاوته پوره ځواب ویلای شي.

قبیله چې څومره پراختیا مومي، نو دغه عرفي حقوقي تعاملات هم د یوه حال څخه بل ته په کښې اوړي. نرخونه ډېرېږي او شخصي نفوذ د مرګواو جرګوله لاري د نرخ پر موسسه تسلط مومي.

په پښتنو قبیلو کې ارخ د جرګې او سر کې په ساحو کې رواج دی او د دولتي موسساتو او ښاري روابطو څخه لېرې قبیلې چې جرګې لري، نو نرخونه هم پالي.

په لوید یځو قبیلو کې د پخوا څخه هغه چې د ښارونو مجاورت ته څرمه واقع شوي دي جرګه اونرخ يې ډېر ېکه شوي دي او یوازې په یوه داسې کلمه کې چې مفهوم يې ډېر وروسته ذهن ته ورځي او هغه د (جوړې) کلمه ده یوڅوک ایستل کېدای شي. په ځینو سیمو کې دا کلمه د (روغې) او پرنظر یا عمل د دو کسومتفق کېدو معنا ورکوي، مثلا وايي (جوړه يې وکړه) یعني سره جوړ شول. په همدې مفهوم

په اوږد ډول قبیلو کې (جوړه) مصطلحه ده، خو کله چې په هغه مفهوم راشي چې جرګه او نرخ ځني مراد وي، نو له دغې لنډې مکالمې څخه پوره معلومیږي .

د دوو کسو یا د دوو کورنیو ترمنځ اختلاف او بدي د يې ځای ته ورسیږي چې زیان يې عام کیږي، نو د قبیلې عام خلک وايي :

جوړه پر راو څو اړیه !

دغه جوړه نو د هغې جرګې پوخام او پیکه سوی شکل دی چې د قبیلوي تعاملاتو تر پاڅه نرخ لاندې چلیږي. په ختیځه او جنوبي سیمه کې پرتې قبیلې جلا جلا نرخونه لري او په دغو سیمو کې هم د نرخونو پر بنسټ د قبیلې د پاشل کیدو یوه ستره نمونه ده خو په عام ډول دوه نرخه د پر خاص شهرت لري یو د احمدزیو نرخ او بل د رزمک نرخ په دې نرخو نو پاندې نه یوازې د منسوبې قبیلې خلک عمل کوي، بلکه نوری هغه قبیلې چې ترمنځ يې متنازع فیها مسایل د مشکل سره مخامخ سي هم يې په دغو نرخونو چلوي.

د احمدزيو نرخ د غزني څخه تر ننګرهاره د هغه د پوي پر څې په ګډون په پکتیا او لوګر کې د رواج ساحه لري او د رزمک نرخ د رزمک څلور نرخیان په دغه قاموس کې وګوری په وزیرستان او د هغه په شا وخوا کې رواج لري .

دغه دوه معتبر نرخونه د پښتني قبیلې د عرفي قضايي موسسې په حقوقي او جزايي تعاملاتو کې اوچت ځای لري .

## نرخیان

په نرخ (قبیلوی قانون) پوه کسان نرخیان بلل کیږی. نرخیان د جرګو اوسر کو غړی وی او علته د نرخ سره برابره د هریکړی په باب سر کې ته مشوره ورکوی، دوی د حقوقی تعاملاتو په ټول جزئیاتو خبروی نرخیان او (تولګر) یومفهوم لری، خودنرخیانو اصطلاح تر(تولګر) ډیره عامه ده په ځینوسیمو کی جرګه ماروړته وایی او دغی کسان د پښتې تجربې اوفهم خاوندژبورخلك وی. «ضرورنه ده چی یو نرخی په قبیله کی د قومی ښتی یا اقتصادی قدرت خاوندا ویادسر کې غړی شی، بلکه د قبیلې یو کمزوره او ټیستمن سړی هم نرخی کیدلای سی، خودا مقام هغه وخت ورکول کیږی چی په نرخ به پوره خبروی». (۱)

## نرینه

په لویدیځه لهجه کی انرینه هم تلفظ کیږی اود(نر ـ مذکر) مفهوم ورکوی. په اصطلاح کی د هغوصفاتو خاوند ته و ایی چی د پښتونوالی (پښتونولی) ټول صفات پکښې راټول شوی وی یعنی ځوانمرد به وی، زړوربه وی، میلمه پال به وی اوداسی نورصفات.

کله چی په قبیله کی کوم (بدو) پیداسی او عام وطن ځنی په عذاب وی، نووایی چی (وطن بې د نارینو و هغه خالی لېدلی دی). په دغه

(۱) د ننګرهار پخوانی سناتور آغا جان یا داشت.

اصطلاح کې د زړورتوب صفت د نارینه له پاره په ځرګند ډول یادشوی دی. د پښتنو په ادبیاتو کې ښځې ته د نارینه په کارونه ستاینه کیږي، لکه چې وایي (پښتانې ټول نارینه ؤ). په جرګو او مرکو کې مرکچیان چې کله په فیصله کې د طرفینو د اعتراض مورد وګرځي، نو وایي چې دا د نارینه ؤ جرګه ده او په نرخ هر یو پوه دی، منلې ېې شوې ده.

## نغری

په کور کې هغه ځای چې هلته اور بلول کیږي نغری بلل کیږي. په عنعنوي ډول نغری مقدس دی او په درنه سترګه ورته کتل کیږي. په نغري قسم کیږي او نغری ته په سپکه سترګه کتل شرم لري. د پرې پښې چې نغری تودوي لوښي یې مچوي او پیاوړي یې بلوي دا رنګه کله چې ناوې د زوم کره راوستل شي، نو لومړی یې نغری ته بیایي او پیایي کوي. په مثل کې وایي چې: «نغری د کاله مشر دی» او نغری کورنۍ را ټولیږي او د اتحاد مرکز دی. د نغري ایرې هم هر ځای نه غورځول کیږي، بلکه په یوه داسي ډب کې یې اچوي چې هلته نوره ناپاکي نه غورځول کیږي. نغری د برکت او خیر منبع بولي او په دعا کې وایي چې نغری د ې مه سړیږه.

## ننګه

په قبیله کې د خپلو حقوقو او د قبیلې د حقوقو په غېرت ساتنه ننګه ده. ننګه د پښتونوالۍ محور دی او هغه هر څه خصایل او امتیازات چې د پښتونولۍ په چوکاټ کې رامنځ ته کیږي هغه د ننګې پر اصل تکیه لري.

(ننګه کول) اصطلاح دامعنا لري چې دخپلو حقوقو دفاع کوي . (دورور ننګه کول ) د( کام ننګه کول )او دامې نور پولړا صطلاحات ټوله دا مفهوم افاده کوي چې دحقوقي صيانت په برخه کي دوروراوقبيلې دفاع بايد په ننګه وشي . په قبيله کي هغه کسان چې د ننګې په لار ګې سره وي نه هيريږي او هغه کسان انسانوي رنګه موسي چې دقبيلې پر ننګه سره شوي وي .

## ننواتي

ننواتي دمعذرت غوښتلو يو خاص رسم دی چې د پښتو په قبيلوي تعاملاتو کي ډېرمهم ځای لري .

ننواتي په هره هغه پېښه کي چې پره او ملامتي واقع شوې وي د متهم له خوا مقابل لوري ته کيږي، خو په ټولو کي دسرې ننواتي ډېر درولد دی .

کله چې يوڅوك دبل چاله خوا عمداً يا سهواً ووژل شي ، نوقاتل د مقتول کورني ته ننواتي ليږي او هغه يې هم د قومي عرف سره سم مني .

د يو چا پر ناموس تيری او ښځي سره نامشروع روابطو د اتهام په برخه کي ننواتي نشته ، ننواتي په عادي ډول يو سپين ږيرکی (ملا) د پسه سره اويه درنو پښتو کي سپين ږيرکيان (ملايان) تورسری (ښځې) قرآنونه او پسونه د ننواتي خلك له ځان سره بيايي . په ځينو مواردو

کی قاتل هم دمقتول کورته ورولی او ورته وایی چی دوژلواوبخښلو اختیار یې ستاسی په لاس کی دی .

دننواتی رسم ډېر لرغونی دی او د پښتو په شفاهی داستان کی ډیر ښه ځای لری .

د ادم خان په کیسه کی هغه مهال چی ادم خان دبازید خان خور ( توتیا ) چی دده دخسرخپلوله کوره په زور خپل کورته راولی، نو د ټپلوی دود سره سم ددوستی د اعادې له پاره دبازید خان کره ننواتی ورلېږی . په دغه قضیه کی ( آس ، روپی ، مریی ) په ننواتی کی شامل دی او دا ننواتی د جمعې په شپه دبازیدخان کره وروړی.

دا دننواتی پخوانی شکل ؤ، خواوس مریی نشته او په دننوننواتو کی تو رسری ( ښځی ) ډېر مهم ځای لری .

« په تیرا کی دمړی د ننواتی دیت ( ساز ) د شل زرو څخه تر پنځوس زرو افغانیو پوری رسېږی (۱) » .

دننواتی په باب استاد پوهاند حبیبی د پښتو او پښتونولی په یوه درنه تحقیقی مقاله کی داسی وایی !

« ننواتی د پښتو یو عنعنوی د عذرغو ښتلودول دی اود کلوکلو دښمنی او عداوتونه په ننواتی له منځه وزی او داسی وی چی د یوه خورا لوی کار یا لوی خصومت د عذر او بخښنی د پاره مغلوب یا

(۱) پښتانه دوهم ټوك ۸۷ مخ

مجرم سړی د خپل کلي یا گام سپین ږیری او ستانه خپل مقابل ته ورلیږی. کله کله چې اسر ډېر مهم او د بخښلو قابل نه وی، نو خپلې ښځې په ننواتي ورلیږی. دا ننواتي دومره اهمیت لری چې پښتون سړی خو ننواتي نه کوی مگر کې وکړه ، نو دده مقابل پښتون هم ضرور دغه منې او دادپښتنو له صفاتو څخه ده چې ننواتي ته نه کوی او که یې وکړی ها مقابل یې هم ضرور منې (۲) »

الفونستون چې د نونسمې پېړ ی په سر کې ښتنی سیموته راغلی دی ننواتي یو ممتا ز دود بولی او وایی چې که یو سړ ی ننواتي و نه منی، لو د هغه شخصیت او سرپتوب ته لوی زیان رسیږی . ( ۳ )

## نوغی

هر یو شی بده نښانه ایښودل نوغی دی، خو په اصطلاح کی هر انسان او حیوان د شرم عیب ایښوولو ته نوغی وا یی. دا په لویدیځو سیمو کی یوه مروجه اصطلاح ده.

په قبیلوی پدیو کی کله چې د یوې قبیلې سړی بلې قبیلې ته په لاس ورسی، نو ږیره یې وروخریې یا یې غوږونه پایې پزه وربرې کوی دا یو ډېر شرمناك عمل دی او د ډېر سخت عکس العمل سره مخامخ کیږ ی .

---

( ۲ ) کابل مجله د ۱۳۵۳ کال دلېندی گڼه ۸مخ

( ۳ ) وږمه مجله د ۱۳۵۶ کال ۲ گڼه ۷۳ مخ

کله کله په دغسې مواردو کې د غوړو لکۍ او غوړونه هم ورېږي کوي او دا هم یو نوغی اېښوول دی. هغه څوك چې نوغی پرا یښوول شوی وي که په قبیله کې هر څومره د مشرۍ کورنۍ او خپلخانې ته منسوب وي بیا هم یا خان وژني یا د ملکه وزي اکثراً حج ته ځي یا داسې منزوي کېږي چې بیا یې نو څوك نه شي لیدلای.

## نوم

نوم د اسم معنا ورکوي، خو په اصطلاح کې نوم د اوړ والي او قومي سجایاو علامه بلل کېږي.

مثلا وايي (فلانکی د نامه خاوند دی) یعنې په مېړانه کې نوم لري. وايي (نوم له نامه نه ورې کېږي) معنا که په کورنۍ کې یو ښه وکړي پايد وکړي، نو د کوري په رابطه د کورنۍ د نورو غړو نوم هم ورسره یادېږي. نوم ايستل هم یوه اصطلاح ده چې په ښه او بده دواړو څو اوکې استعمالېږي. یو سړی که د یر ښه کارونه وکړي نو هم یې نوم وزي او که بد کارونه وکړي نو په بدی یې نوم وزي. د جرګې او سرکې غړي همیشه د نامه خاوندان خلك ټاکل کېږي. دا اصطلاح چې وايي پلانکی د نامه سره هېڅ شو معنا یې دا ده چې ترشا یې زوی پاته نسو او دی مړ شو.

## نه ګونه

نه ګونه د غلا د تاوان معیاري حد دی. هرڅوك چې هرڅه غلا

کړی باید تاوان یې نه ځنده ور کړی. دادقبیلوی نرخ یوه ثابته مقرره ده.

که څوک غلا کړی تاوان یې نه غوایي دی که پسه غلا کړی یا بل هر شی چې په پټه واخیستل شي، نودنه گونه په معیار په تاوان ورکوی. د غلا په برخه کی دنه گونه د پښتو په ټولو خېلو کی یوثابت نرخ دی. په خاص ډول په کوچیا نو کی په ډېره پاملرنه سره دغه نرخ محکم او ټینګ ساتل کیږی. نه گونه دعیسی او موسی په دوارو نرخونو کی یو راز دی او درزمک څلورو نرخانو په نرخ کی هم دغه مقرره ده چې یا لل کیږی. دلویدیځو خواو په قبیلو کی دنه گونه مقرره اوس ډېره نه لیدل کیږی .

## نیکه

د پلار پلارنیکه دی. تر نیکه پورته نوری کړی چې راځی هغه هم نیکه گڼل دی. نیکه په قبیله کی واجب الاحترام نوم دی. نیکه گڼل ستانه دی د قبیلو پښې د نیکه گانو په نامه یادیږی او د نیکه په باب هره قبیله افسانی لری چې سره وایی یې .

د نیکه په نامه افتخارات دقبیلوی سړی هام خوی دی. دنکیه له روحانیت هغه سرسته غوښتل کیږی او د لوی نیکه پر مزار جرگې هم جوړیږی. یو قبیلوی سړی داسی فکر کوی چې دده ژوند د ستا نه نیکه سره یوه نه شاید ونکی رابطه لری او نو کله چې یومهم کارته اقدام کوی دنیکه نوم اخلی دهری خیلخانی او کورنی خلک خپل نیکه ته په یوه میتافزیکی عقیده دیوخوا خوږی قهرمان په نظر گوری .

## نېك

نېك د مړي د دیت د پاره استعمالېږي او د ساز سره نژدې مفهوم لري.

په وزیرستان او کاکړ وکې د ساز پرځای نېك استعمالېږي او دا هغه دیت دی چې د قاتل له خواد مقتول ورثې ته ور کول کېږي.

په وزیرستان کې د نېك اندازه له ډېر شور زوږ خه تر پولکو پورې رسېږي د نېك اخستلو کار ته په پښتو کې مترګه هم نه کښل کېږي او دا سې تلقي کېږي لکه خپل مړي چې خرڅوي یوه کاکړه ترله خپل مېړ ته دا سې پېغور ور کوي.

پلار د سود کا وه مرد اره

تا یې نېك واخیست جانانه (۱)

## نېکه

نېکه جوړه ده او هر کله چې د دوستانو خواو ته سنځ روغه وشي هغې ته نېکه هم ویل کېږي.

په عامه اصطلاح کې وایي چې بده یې نېکه کړه یعنې د دښمنۍ یې په دوستۍ یا جګړه یې په روغه بدله کړه په د غسې مورد کې نېکه د بدۍ په مقابل کې هم استعمالېږي هره مرګه چې د نقاضتونو دلېږي ګولوه

---

ا و ولس مجله فوق العاده ګڼه د ۱۹۶۳ کال د اکتوبر انو ومبر ګڼه ۱۵۹ مخ.

منظورجوړېږی هغه دنېکی دجرګې پامرکې په نامه یادېږی دمرکې دجوړېدوپروخت دمتخاصموخواو څخه مرکه وال پوښتنه کوی چې «نېکه غواړې که بده !» دوی بایدد واړه په یوه خوله ووایې چې «نېکه» دا پوقول دی چې جرګې ته ور کول کېږی او که چېری کومه خوا د مرکې په دوران کی کېږی خبری کوی نو ورته وا یی تاسی بې نه نېکوی .

# و

## واده

دنراو ښځې نکاح ته واده ویل کېږي. دواده محفل ته هم واده وایي. دواده خرڅ ته هم کنایتاً واده ویل کیږي.

په حقوقي ساحه کې هرنارینه اوښځه دواده حق لري، خو دا واده یې باید دقبیلوی عرف په ساحه کې وي. یوقبیلوی سړی کولای شي چې دنابالغې نجلۍ سره واده وکړي. په بې خبرۍ کې د دامې یوې پېغلې سره چې هغه بل چا ته ورکول شوې وې واده کول دبل پرناموس دتجاوز حکم لري. که دغه کار په بې خبرۍ وکړي، نوهم په دا ښځه پر ېږدي او هم به یوه بله ښځه دهغې ښځې داصلي مېړه ترېروته ورکوي. دهغې کونډې سره په زوره هم واده روا کار دی چې ده ته پاته شوې وي. هغه سړی چې

ورك یامسافروی اوبنځه یې د پلار پر کورپاته وی، نودزوم خپلوان کولای شي چې د توپك یاتوری سره دناوی وادهو کړی اوناوې کورته راولي.

## وانبه په خوله کی نیول

دادپری په ځاړه کی اچولو په شان یورسم دی چې مغلوب دې دغالب په وړاندې پرځای کوی.

کله چې په قبیلاوی جګړو کی یوه فیصله ماته شي، نو دهغې مشر یامشران دفتح قبیلې مشرانوته وانبه په خوله کی نیسي اوورځي. دغسې رسم د بې غیرتی علامه ده اوپه ندرت پیښیږی. په تیرو وختونو کې چې کوم وخت په قوی قبیلې پرضعیفه قبیلې حمله وکړه، نودضعیفې قبیلې مشرانو به دادود پرځای کاوه اوپه تاریخ کی داسې واقعات د پرشته چې د پاچهانو حضورته به یاغی خلك وروستل کیدل هغوبه وابه په خوله کی نیول.

په هغوقبیلو کی چې په پخوا وختونو کې یې مشرانو د غسې عمل کړیوی پخورې تراوسه ورکول کیږی.

## واك

واك داختیارمفهوم لری. هرقبیلوی سړی دواك خاوند دی. دواك حدود په نرخ کی تاکلی دی.

دنرخ څخه دباندې دواك څخه داستفادې حق چاته نه شته.

واك عموماً دمرکې په وخت کی استعمالیږی. کله کله یوسړی چې

خپل واك مرکې ته ورکوي، نو دامرکه هم د (واك مرکه) په نامه یادیږي. د (واك د مرکې) پریکړه نه ماتیږي او فیصله به یې دواړې خواوې مني. واك په دوه اړخیزه ډول ورکول کیږي یعني کله چې یوه خوا واك مرکې ته ورکوي مقابل خوا هم باید دا کار وکړي.

هغه څوك چې په یوه ټاکلې قضیه کې د لورو له خوا مسئول کیږي او د ده رضا یت کې ټکی نه وي، نو وایي چې واك یې پر دی دی یعني خپل اختیار نه لري.

## ورته

ورته په وزیرو کې د قصاص په مفهوم استعما لیږي. ورته د مقتول د ورثې حق دی. د ورتې پرېښوول بې غیرتي ده.

ورته په عام ډول هغه قصاص دی چې د تیپ د تاوان په مورد کې هم استعما لیږي مثلا لاس د لاس او پښه د پښې ورته ده.

د ورتې ټاکل د مرکې او جرګې کار دی. د ورتې له پاره تعامل حدود او معیارونه شته، خو په هغو مواردو کې چې پېښه دا سې شوې وي چې معیار او حد یې په نرخ کې نه وي ټاکلی نو جرګه ګولای شي چې د هغه ورته وټاکي او دا اورته بیا په خپله د آینده له پاره یو معیاري حیثیت پیدا کوي، خو که جرګه وال خبرنه وه او ورته یې په خپل سر وټاکله او په قضیه کې شامل د ورتې هغه برخه چې پر مجرم عملي شي هغه ته معلومه وي نو جرګې ته یې وریادوي او هغه به یې ور سره مني.

## ورشو

ورشو د (چراګاه) او څرځای مفهوم ورکوي ورشو د کوچیانو د څرې له پاره تاکلی ځای دی. پرورشو تېري یادېږي ورشو ته خپل سالونه څوشي کول یو تېری دی چې په نرخ کې تاوان لري.

ورشو یوه ډېره لرغونې کلمه ده او د کوچیتوب د وخت څخه پاته ده. په ورشو کې معلوم حد (تپک) او د تپک لیکې ته کرښه ویل کېږي.

په مرکه او جرګه کې چې کله پرورشو د تېري مسأله مطرح کېږي نو هلته د (تپک) او (کرښې) اصطلاحات ډېر یادېږي. پر کرښه تېری پر تپک تېری پر تپک تېری او پرورشو تېری یو مفهوم لري. دا تېری د موسم او دورځې او شپې په پته اوښکاره هر یو ځان ته په نرخ کې ترغور لاندې نیول کېږي.

## ورکه

د مال ورکید لوته ورکه وایي. په قبیلو کې چې د چاورکه وشي د کلي ټول خلک باید د ورکي په پیدا کیدو کې مرسته ورسره وکړي.

د ورکي خاوند د سهون پهرو په اجازه کولای شي چې د هغه چا کور تلاشي کړي چې د ورکي اشتباه پرلري. که په دغه کور کې د ورکي د خاوند ورکه پیدا نه شي، نو د کور خاوند ته په شرم ورکوي.

که د ورکي مال د ورکي د سړي په خپل کور کې پیدا شي، نو دی به نه یوازې هغه سړي ته چې دعوه یې په کړې ده، شرم ورکوي، بلکه جرګې ته

په هم شرم ورکوی داپه داسې صورت کې که یې دا کارپه سهوه او خطا کې کړی وی خو که یې عمداً دیوبل چاپرضد کړی‌وی نو مقابل خواته به‌دروند تاوان ورکوی اودجرګې غړ وته به دشرم‌سره‌یو ننواتې هم کوی .

## و لجه

د یوچا ښځه د غنیمت په ډول مال اخستلوته ولجه‌ویل کیږی.

ددښمن ښځه ولجه اخستل درواج ښځه مخالف کار دی ، خو په قبیله کې د بدیدار ښځه ولجه اخستل د ولسی‌نرخ ښځه مخا لف کار دی .

په لار کې که کوم څوك دچا ښځه یوښه واخلی هغه ولجه‌ته بلل کیږی او د بې‌مورده ولجې اخستل د نرخ‌له مخه تاوان هم‌لری.

په عمومی ډول ولجه دجګړې دتاوان سره نژدې مفهوم لری . کومه قبیله چې د بلی قبیلې له خوا په جګړه تهدیدشی‌اوپه‌جګړه کې زیان سره و رسیږی،نو د جګړ ې تاوان باید ورکړی او دغه تاوان ولجه ده .

## و لور

ولور د( کابین ) معنا ورکوی . په قبیلوی اصطلاح کې و لور هغه حق دی چې پلار یې د لوریا وروریې دخوریا تربور مې‌دترلې

په ورکړه کی لری . ولور د ښځی د خپلوانو له خوا تاکل کیږی او دزوم له خوا تادیه کیږی .

د ټاکلی ولور نه تادیه کول هم تاوان لری که یوڅوك پردل چا جرګه راوغواړی او دا ثابته کړی چی هغه ټاکلی سړی و لور نه تادیه کوی او خپله ښځه بیایی نو که بې د الزام د لا یل ثا بت سی ملزم به مقابل خواته دولور د تادیې څخه علاوه شرم هم ورکوی .

دولورنه تادیه د قبیلوی سړی له پاره دبې غیرتی حکم لری او هغه کسان چی دغسی حال ته رسیږی اکثراً فراره کیږی .

## وله-ولی

وله یاولی په یا جوړ کی دموقتی‌صلح په‌مفهوم یادیږی . مثلاً دوې قبیلې په جګړه سره اخته کیږی او د کام سپین ږیری مداخله کوی نو ددوی ترمنځ چی کومه عارضی صلح منځ ته راځی هغه‌ته ( وله ) یا( ولی) وایی (۱)

دغه عارضی روغه ددې له پاره‌زمینه برابروی چی تیره کښیښوول شی . وله دورځو او هفتې څخه زیاته موده نه نیسی او که په د غه موده کی تیره نه کښښوول‌شی، نو جګړه بیا د سره شر و ع کیږی کله چی یوه وله‌وشی، نو په دوهمه وله کی حتماً باید تیره کښیښول شی کنه جګړه ډیره توده او په وینو لړلی رنګ اخلی .

---

(۱) پښتانه لوسړی‌توك ۵ ۲ مخ .

## ونده

ونده د برخې په معنا ده،خو په عامه اصطلاح کې د ځنګل دویش په وخت کې استعمالیږي په ځنګل کې د یوه قبیلوي سړي برخه ونده بلل کیږي.

په اورګون کې دونډی.اصطلاح دځنګل د برخې له پاره په عام ډول استعمالیږي.دا اصطلاح په لویدیځو قبیلو کې هم شته او یو وخت چې دقبیلوی نظامي خدمت دود جاري ؤ،نو دونډی سړی هغه بلل کېدی چې خرڅ به یې په شلاونډ د اولس له خوا ورکول کیدی.

د خرمن دویش پر وخت هم کوتوته ونده وېل کیږي.

## وېرول

وېره یا بېره د (ترس) معنا ورکوي.وېرول د تهدید په مفهوم راځي.څوك حق نه لري چې بل څوك ووېروي.که څوك دداسې عمل مرتکب ګرځي تو ناغه پر اوړي.

وېرول او ډارول دواړه يو مفهوم لري ډا رول په ختیځواوجنوبي قبیلو کې اصطلاح ده او وېرول یا بېرول د لویدځو قبیلو اصطلاح ده.

وېرول په عمدي او سهوي برخو کې توپیر سره اري په سهوي برخه کې واقعه نده او مرتکب یې بخښل کیږي او په عمدی ډول که دا کار د تهدید په مفهوم شوی وی نو د تعقیب وړ عمل دی.

## ویسا

ویسا د اعتماد معنا لری. هغه کسان چې په قومي او قبیلوي جرگو او مرکو کې گډون کوي دوی د قوم له خوا څخه ویسا پرځان اخلي.

کوم ځوك که پر ځان ویسا بایلوي هغه په قبیله کې د ژوندسره په عذابیږي. په اریایي تولنه کې د (کاسټ) په سیستم کې (ویسه) هغه طبقه وه چې تر (برهمن) او (کشتري) وروسته بي ځای درلود او د عزت خاوندان بلل شوي دي. په پوځه زیاته توضیح باید ووایو چې دوی عامه اعتماد پر ځان گټلی ؤ.

دوا ك په مرکه کې د ویسا کلمه ډېره یادیږي. مثلاً مرکه وال د دواړو خواو څخه پوښتنه کوي چې ایا تاسي پر ځای ویسا لری؟ (ایا تاسو پر مرکه ویسا لرئ) کله چې د هغو تائید واخلي نو مرکه جوړیږي.

## ویش

ویش د تقسیم معنا ورکوي، خو په خاص ډول په دا سېنه‌و کې د شیخ ملي د مځکو ویش د قانون سره ویش کلمه په خاص مورد کې استعما لیږي. د دغه قانون له مخې په ټولي مځکې په هرولسو کالو کې یو ځل ویشل کېدې اولس کاله چې به پرتېو شول، نو د اویش په له سره نوی کېدی. ویش یو ډېر قدیم عرف دی او د قبیلوي ملکیت د هغه

وخته را شروع کېږي چې کوچیانی ژوند و کلیوالی ژوند ته را اوړي ارغوني کوچیانی قبیلې چې تاریخ یې موږ ته را ښيي د زراعتي کېدو له مرحلې سره یې د غه دود تر هغه وخته پورې پالی ترڅو د دولت موسسې طلوع پرو کړی .

په پنځلسمه پېړۍ کې شیخ ملي نومي یوسړي د ویش سیستم چې دارغونو آریایانو د وخته څخه موجود و ترڅو نظم لاندې راوست او د یو لیکلي مدون قانون په شکل یې منځ ته راوړ او تطبیق یې کړ .

پر دغه لیکلي مدون املاکي قانون یې د دفتر نوم کېښېښود او په هغه کې د ویش سیستم د قبیلوي او محلي شرایطو په اعتبار په دوراني ویش ته واچاوه .

داسړی د یوسفزو هغې قبیلې ته منسوب و چې د یولسمې میلادي پېړۍ څخه یې په حرکت پیل کړی ؤ او د دې قبیلې مورقبیله د (خښي) په نامه د کندهار څخه اوله کابله د پېښور حد ودوته رسېدلې او د بېلو بېلو لوټو قبیلو په جمله کې یې د یوسفزو قبیله هم یوه اوروه . د دغې قبیلې څخه شیخ ملي د قانوني ذهنیت او قبیلوي نفوذ څخه برخور داره ؤ ، نو ځکه یې د دفتر سیستم جاري کړ .

د مځکو د بدلون عملیه د هغه ویش په سیستم تر دا نژدې کلونو پورې لا جاري ؤ د دغه ویش په سیستم د کرنې مځکې د خو ندو قبیلو د پښتو او کورنیو ترمنځ په هر واسو کالو کې یو ځل بدلېدلې .

په ځینو ځایونو کې حتی ګوروندهاو کلی هم بدایدل او ویش نوی کیدی.دمځکودا وروستی ویش په ۱۳۳۵ ش ۱۹۵۶ م کی لا هم شوېدی.

دشیخ ملی د دفترسره ډیری مجادلې وشوې اوشیخ په دې تورن دی چې ده دخدای په ویش کی لاس وهلی ؤ.

هغه مهال چې په قبیلوی نظام کی دشخصی ملکیت د پراختیااو ټینګښت شرایط برابرېدل ،نودویش سیستم هم کمزوری کېدی او دشیخ ملی دفتریو ازی یوسفزو وساتی اوسره له دې چې ددښمنانوقبیلو اوپانفوذه خانانوشخه یې پټ ساتی، خوبیاهم نن ورك دی ولی «راورتی» انګلیسی وایی چې هغه ماپخپله لیدلی دی.

خوشحال خان خټك ددغه دفترپه باب داسی وایی (په صوات کی دی دوه څیزه که خفی دی که جلی یو مخزن ددرویزه دی بل دفتر دشیخ ملی. )

په مغولی اوانګلیسی دوران کی دویش له دغه سیستم سره مجادله وشوه، خویوسفزو (په خاص ډول) تر کلانوماندوتراوسه وساتی داسی ښوره څرګنده ده چې دغه سیستم به دلرغونی آریانا دوخت څخه رواج ؤ، ځکه دیونان سکندر په وخت کی دغه سیستم په یوه پراخه ساحه کی حاکمیت درلود

«نیار کوس Nearchus» وایی چې دیونانی سکندر په وخت کی په هندوستان کی داسی اوی کهولونه وه چې د ږی په ګډه مځکه کرلی (۱)

یعنې ددوی ترمنځ مځکه کله‌وه اوله د ې څخه نوداانتیجه‌راوزی چې دورانی ویشی دشخص خواته له‌گډ حالت څخه لوېړی یون ؤ .

دویش سیستم په‌حمایت کی د(روښانی) نهضت جګړې هم‌شاملې دی‌اودتاریخ مرصع‌لیکوال افضل‌خان ختك چې دخوشحال‌خان ختك لمسی‌دی ،ددې‌خبری‌یادونه دخپلی‌خاطرې‌په اساس‌داسی‌کوی:

«زمادموږله خوا نهکه ملك توراورکزی چې‌په اول کی دروښانی حرکت اونهضت ملګری‌ؤاوبیایې داحرکت پرېښود اودمغولو پرخوا ولاړ.ملك توراحداد( دبایزید روښان لمسی)ته‌دمباحثې‌پروخت‌وویل: «زه‌چه‌تویم‌چې‌ستاهرفرمایش ومنم مګرد کوراو پټی اختیار نه درکوم» دغه دویش سیستم‌ورووروله منځه ولاړاوځای‌یې د دولت په اعتبار ترقانونی‌سند پوری‌ورسېد. البته په‌یوسفزوکی دا عرف‌ډېر ژوندی ساتل شوی ؤ.

دویش په‌سیستم کی د(کوندی )په‌حساب مځکه‌ویشل کیږی داکندی دلوی کهول داوسیدنی ملکیت‌دی‌چې‌یوشمېرکورنی‌یکښې اوسی (دکندی کلمه وګوری )دغسی اصطلاح اوس په هغوسیمو کی چې‌دشیخ‌ملی‌ددفتر دویش سره اشنادی رواج لری .(برخه)اوپه ترتیب سره دویش‌نورواحد ونه‌په دغه دفترکی قیدوه‌چې اوس‌ښاغلی‌نعیم‌سالار زی‌راټول کړی‌اوپه مونوګراف یې‌پرلیکلی دی .

## وینه

وینه ددری د (خون) په معنا راځي، خو په اصطلاح کې د پاړینې خېلوی ته هم وینه وایي، خو په ځینو موارد و قتل کې ته هم کنایتاً وینه ویل کېږي. د مړي پلوی ته هم دوینې پلوی وایي.

متل دی چې وایي: (وینه باید په وینه پرېوال سي.) معنا یې دا ده چې قتل باید په قتل فیصله شي.

(دوړمېږ وینه موسره شریکه ده) دا هم د قبیلوی خپلوی مفهوم ورکوي.

د (اوه سره د پرېکولو) په لوړه کې قسم هغوته ور کول کېږي چې دوینې ګډون سره لري.

په قبیلوی ساحه کې د دوستیو او دښمنیو حساب تر ډېره دوینې داشتراك په حساب کېږي. د دښمن دوینې شریك هم دښمن دی او د دوست دوینې شریك دوست دی په بدل کې دوینې اشتراك تر حساب لاندې راځي.

# ه

## هدیره

هدیره قبرستان دی هدیره د احترام وړځای دی او د قبرونه معنا هم استعمالیږی. د مدعی په هدیره کار د راوړل یا شرم وراړول تاوان اری او هر څوک چی د غه کارو کړی قبیلوی نرخ د هغه پر ذمه تاوان ایږدی .

استاد پوهاند رشاد وایی :

کله مجرم د عفوی د غوښتلو له پاره د دښمن په هدیره کی اوربلوی او په دې ډول د ننواتی د قبول له پاره لار هواروی .

## هډ

هډ په لغوی معنا د دری (استخوان) ته ویل کیږی، خو په اصطلاح کی د قبیلې د پلرینی غړی دی .

هغه کسان چې په پلرینه کې سره شریك وي هغه یو د بل هلي ونه وي کله چې په پلرینه کې یو غړی ووژل سي، نو داد ټوله پلرینې له پاره د هلي ماتیدو حکم لري او په دغه حساب دقاتل په مقابله کې دریږي .

د پښتو په شفاهي کیسه (موسی جان او ولیجان) کې هغه مهال چې ولیجان د سهیلي خان په تحریك د یوې بوډۍ له خوا مسموم کیږي، نو هغه د زکندن پرحال خپل زوی میرولي ته په خطاب کې وایي چې زما (ساري) واخله او میرولي په یوه ناره کې ورته وایي چې زه به هلي او ساري و کړم د هلي څخه یې مراد دادي چې زه به د هغه هلیغچ واخلم چې سهیلي خان زما په تویله کې مات کړی دی .

په جرګه او مرکه کې د هلي او هلي ماتې اصطلاحات ډېر استعمالیږي .

هلي په مجازي معنا د قبیلې هغه یو بالا ستحقاقه غړی چې که هر تاوان ورسیږي په مقابل کې د ساري په قانون بدله واخلي .

په جګړو او لاس اچولو کې د هلي کلمه استعمالیږي په هغه جګړه کې چې هلیمات وي د نرخ په قرار بې تاوان دروند وي .

## هلي په هلي کي

کله چې د قتل په پیښه کې د سر کې په پرېکړه د مقتول طرف ته پنځه ورکړي او په دغه طریقه روغه وسي، نو دې ته هلي کې ویل کیږي .

کله چې پنځه په دغه حساب یعني هلي په هلي کې ورکول سي که پر هغې کوم فشار راشي پلار ګنې بې د شکایت حق نه لري خو بالعموم دا

کارته کېږي، ځکه د ښځې سره بدې کول د مېړانې څخه منافي عمل بلل کېږي بدل په بدل کې قبلول یوازې د مقتول د کورنۍ په تصمیم اړه نه لري، بلکه ده پلرینې ټوله غړي باید تصمیم ونیسي. دا ضروري نه ده چې د بدل په بدل کې پرېکړه یوازې پر یوه ښځه ودرېږي، بلکه په اوبو پېښو کې حتی اوه ښځې هم بدل په بدل کې ورکوي.

## بدلماتې

بدلماتې په اصطلاح کې دوو طرفو ته استعما لېږي که څوك بل څوك مړ کړي، نو قاتل ته هم بدلماتې وايي او د مقتول ورور او پلار هم بدلماتې بولي.

په عام ډول د مقتول د پلرینې خپلوانو ته د بدلماتې خطاب کېږي ځکه دا بدل په هغو کې مات شوی دی یعنې د ښنې او پلرینې غړي یې وژل شوي دي.

## هوډ

هوډ د تصمیم او ټینګ نیت په معنا راځي. هوډه ترسر رسول د غیرت نښانه ده په هوډ کې پاته راتلل د بې غیرتۍ او بې تصمیمۍ علامه ده. په ځینو پښتنې سیمو کې دا په (هوده) تلفظ کېږي. هوډ یا هوده د پښتو نولۍ غټ خصلت دی. کله چې دوه کسه یا دوې قبیلې یو د بل په مقابل پر هوډ یا هوده ودرېږي، نو ډېرې وینې پکښې توییږي هره خوا چې د خپلې هوډې څخه تېرېږي نو قبیلوي غرور یې هم کمېږي.

په سر کښې او جرګه کې تر پيل پخوا د دواړو خواو څخه د جرګې يا مرکې غړي غواړي چې له خپلو هوډو څخه تېرشي او د سر کې پرېکړه ومني. د دوی څخه دغه قول اخلي او بيا جرګه او سرکه فيصله کوي.

استاد پوهاند رشاد هوډته (عزم بالجزم) ليکلی دی.

# ی

## یرغل

یرغل د هجوم او تیری معنا ورکوی یرغل بالعموم هغه تیری دی چی ناڅاپی وی. د یرغل دمخنیوی دپاره قبیلې یا کورنی چی په یدی کی وی خلك مقرروی چی دیرغل پروخت رغ وکړی.

هغه کسان چی یرغل کوی یرغلگر بالل کیږی. یرغل کونکی چی ونیول شی، نویاېی وژنی یا یو(نوغی) پرا یږدی اوبیا یی ایله کوی او داسی وضع ډېره بده گڼل کیږی او داد انتقام سره دشرم وراړ ولو په حیث هم تلقی کیږی. یرغلونه اکثره دشپې له خوا کیږی، خو کله کله دورځی له خوا هم یرغل وشی، خو دا نودجگړی په وخت کی وی چی دورځی یرغل عملی شی.

## یرغمل - یرغمال - ارغمال

یرغمل - یرغمال - ارغمال ټوله یومفهوم ورکوی. انسان په ګروی کې ورکولو ته یرغمل وایي.

کله چې د دوقبیلو ترمنځ پرېکړه وشي او جګړه په روغه واوړي نو د یوې موډې له پاره ځینې شرایط ایږدی چې د هغه په پرځای کولو دواړې خواوې مکلفې ګڼل کیږي د دې له پاره چې په دغه مورد کې یو پر بل کامل اعتماد واړي هرطرف بل طرف ته سړی په ګروی کې ورکوي چې دغه ته یرغمل یا یرغمال یا ارغمال ویل کیږي.

د یرغمل په باب استاد پوهاند رشاد دا یادابنت لیکلی دی. یرغمل داعتبار او اعتماد له پاره د یوسړی بیول دی دا کلمه په ترکي کې هم رواج لري

# د پښتني قبيلو دحقوقي تعاملي اصطلاحاتو قاموس

## فهرست


سریزه

۱ ـ د قاموس .

۲ ـ د قاموس په تدوين کې زما د کار طريقه.

۳ ـ د پښتنو د قبيلوی کلتور ساحه.

۴ ـ د پښتني قبيلو دحقوقي تعاملاتو يوه لويه ساتند ويه سيمه.

۵ ـ د قبيلوی تعاملاتو پر حقوقي موسسه يوه لنډه څېړنه.

۶ ـ د قاموس د اصطلاحاتو د پېژندنې کيلي .

# الف

اتام

اتم

احمد زی پور

اربکی

ارتینه

امسیل ( اصیل )

اشر

اشر بانی

انعام خواره

اوبره

اکا

اوجره

اور

اوه سره پرېکول

ایسار

ایلچي

ایل

## ب

بابېړی

باتله

باور

بتیاری

بد

بدرگه

بدل

بدن

بدي

بلوانه

برخه ( بخره )

برمته

برید

بتیل

٢٠٦

بلندره

بلوسول

بند

بند و بێ

بندار

بوچه

بوڵەی

بوژگه

بیتە

بورغ

بێ وسه

بێلگه

## پ

پتکی

پچه

پرخره سورول

پرده

پرمپامه دەزی تاوان

پرها ر

پریکره

پړ

پړونی

پړی په غاړه کې اچول

پزه پر پګړه

پسه

پسه حلالول

پښس

پښتو

پښتونولي – پښتونواله

پښېمانه

پګړه

پلرینه

پلو

پنا

پور

پوره په پوره

په قبر کې څملاستل

پېغله

پېغور

# ت

٣٠٨

تاوان

تخم(دت په فتحه)

تربګنی

تربور

ترکاڼ

تړله

ترور

تره

تړ

تړون

تله

توپك

تور

تورته د ښا ور کوو زکې نښه

تورسرې

تورګوند

توره

توره اوسپینه

توریان

ډول

ډولګر

ډوېغ

ډېرى

ډېره (ډېګه)

ډېره ماتوونکی

## ټ

ټاپى

ټېر

ټپ

ټک

ټکرى

ټکړى اخیستل

ټک کول

ټېپه

ټېلو

## ج

جرګه

جګړه

جمات

جمعه (جمع)

جوړه

جولا

# چ

چپاول

چپه پاتا

چچکر

چړی

چغه

چوری

# ځ

ځړ

ځړځای

ځړه

ځلور ګوتی

ځلوېښتی

ځلی

څلی ړنګول

څلی ورکول

څوری

## خ

خان

خبره

خټاوه

خلاټ،خالوت،خلوت

خوله

خوله کړول

خوله ماتول

خون

خی

خیرات

خیل

## د

د احمدزي پور

داړه

دبدرګي دمخ نیوي تاوان

دبدن دغړو تاوان

دپیرغونو سهارل

دپلا پرکور د نامزادی د حامله داری تاوان

دپلو غوته کول

؟ دخپل ناسه ښځی په زوره کورته بیول

د توپك ناغه

دتورو پیرغونو جرگه

دتوری شپې چغه

دتوری شپې شاهدی

دتیغ لوړه

دتپ تاوان

د چغې دول

د خبر تېره

دخونبها په مقابل دښځی دور کړی ازد ازه

د ډېرو ټکول

درزمك غلورنرخیان

درې بوجه

دړې نیم سره

دړېمان

دسپي تاوان

دسپېنې ږیرې غله جزا

د ښمن

دعیسی په نرخ کې دخونبها اندازه

دعیسی نرخ

د کټ پښه نیول

د کټوی پخول

د کټوی ماتول

د کړې غړ

د کنډرغل

د کور بې دبې حرمتي په برخه کې دسپاهه تاوان

د کور سوځل

دلښکر چغه

د ملامت پرمته

دمرکه چي دبې حرمتي تاوان

دمړوښې بدله (بدل)

د مړي نه لاس نیول

دموسی نرخ

دمیراث له پاره قتل

دمېلمه دمرګ تاوان

دنجلی دمېکوالی ناغه

دنواتی ترتیب

دنیمې شپې ناره

د نېټې تیره

دوچ خلی اخېستل

دورمېږ د وینې شریکول

دوه ویښتنګه

د ېره

# ډ

ډارول

ډېره

ډم

ډمه

ډوډی

ډولچی

ډول ډنګول

## ر

رهړول

رټل

رښتیا

رو

روغه

روڼی

## ړ

ړنده

ړنګه

## ز

زنا

زورور

زیارت

زباړی

زېړی

## ژ

ژبه

ژرنده

ژوبله

## ږ

ږغ

ږېره

## س

ساری

سازور کول

سامل ـ سمل (گوند)

سپکه

سپی

سپین

سپینی پایڅی

سپین پټکی

سپین ځدران

سپینی ږیری

سپین سرونه

سپینی ګلونه

ستاره

سټه

سرپړېکول

سرخېل

سلاته

سم

سور

سورنیټکړی

سورلاسی

سوره(دس په سکون دو په فتحه او دوروستی په فتحه )

سیال

سیالی

سېری خواره

شارګر

شاری

شر

شرم

شلاوله

شهلګول

شمله

شنگڕی ـ شیگڕه

شو کە

شوسی نیول

شێجە

شێجی تەلاوڕەور کول

شێرا

شێکنجا

شێندنه

## ض

ضامنگڕی

## غ

غێچ

غدی

غڕو ـ ڕوغ

غڕو یل

غولی

غەیرت

## ق

قران

# ک



كام

کتهير

کتهو گرزول

کړه ( کړ لاړی ـ کړلانی )

کر ښندله

کرښه

کرکه

کږدی

کږه

کږه خبره

کشر

کښنده

کفن

کلا

کلال

کلانتر

کلی

کندی

کنڈی
کنڈاسہ
کوپ
کوڈخہ
کوڈی (جادو)
کور
کورسیٹحل
کوڑزرخ
کونڈہ
کوین
کھول

## گ

گاڑی (گوند)
گایہ
گنڈل
گڈامی
گرم
گرو
گرمہ
گلوخور

گمارل

گنده

گوتلکه

گوجر

گوره

گور

گورسال

گوسل

گوند

گوندی

## م

متمزه

مچانگه

مچکه

مخ توری

مخ ړونی

مخی

مخی

مرکچی (مرکزن)

مرکه

مرگ

مریی (غلام)

مړوښې

مړی

مړینه

مسافر

مل

ملا

ملاتړ

ملامت

ملك

مواد سنګ

موټ

مور

موره (موزنه)

مشر

مونجی

منکر

میږخ

میا نځګړی

میر

میرا

میراته

میردمنه

میړانه

میړه

میلمه

مینځه

مینه

## ن

ناغه

ناموس

ناوټ

نایک

نایی

نرخ

نرخیا ن

نرینه

نغری

ننګه

ننواتی

نوغی

نوم

نه‌گونه

نیکه

نیکڼ

نیکه

## و

واده

واښه په‌خوله کی نیول

واک

ورته

ورشو

ورکه

ولور

ولجه

وله—ولی

ونډه

وېرول

ویسا

ویشن

وینە

## ه

هەدیرە

هەڵ

هەڵپەهەڵکی

هەڵساتی

هود

## ی

یرغل

یرغمل

یرغمال

یرغمال

# سمون لیک

هیله ده چې ګران لوستونکی به د دغه قاموس څخه تر کتنې او استفادې مخ کې د کلماتو لاندې تصحیح په نظر کې ونیسي .

## په سریزه کې

د ( ه ) مخ ۱۳ لیکه پښتنو ناسم پښتو سم

د (ی) مخ په ۷ لیکه کې دې دا جمله داسې اصلاح شي .

« خو نفوذ یې په صنعتي ټولنه کې داسې دی لکه د سپین ږیري نفوذ په سنتي ټولنه کې »

## د کتاب په متن کې

| مخ | لیکه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۳ | ۱۵ | اصلاح | اصطلاح |
| ۶ | ۱۱ | نا رونو | نا ورو نو |

| مخ | لیکه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۳ | قلبيي | قبيلى |
| ۱۵ | ۱۸ | دپاپلمك استفهامیه علامه غلطه ده | |
| ۱۷ | ۱٦ | د۱۷ لیکی پاپلیك په ۱۵ مخ اړولری | |
| ۲۳ | ۱۰ | تری | تیری |
| ٦۳ | ۳ | د روند | درانده |
| ٦۵ | ۱۱ | دروند | درانده |
| ۷۰ | ۱۷ | وتوی | وتلی وی |
| ۸۹ | ۷ | پوره | سرپیره |
| ۹۵ | ۳ | کېږی | کیدی |
| ۱۱۳ | ۱۳ | چیث | حیث |
| ۱۱٦ | ۹ | پهلامه | پهلا مه |
| ۱۳۲ | ۸ | په گور | و گور |
| ۱۳۳ | ۷ | شر | شرم |
| ۱۳٦ | ۱٦ | کاول | گاوه |
| ۱۳۷ | ۳ | گیري | گید ی |
| ۱۳۹ | ۷ | گره کیږی کره ساتل کیږی | |
| ۱۵٦ | ۹ | یی | غویی |
| ۱۵۹ | ۹ | په خاطر | په خاطر دستقابل اقدام حق لری |
| ۱۱۹ | ۱۷ | موسی درویشی | موسی درویش |
| ۱٦۳ | ۷ | دلمکه خوده | دلمکه خوړ |

| مخ | ليکه | ناسم | سم |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱۷۰ | ۲ | جرگه وا لی | جرگه والو |
| ۱۷۰ | ۲۰ | کی | په ژوبله کی چی |
| ۱۷۲ | ۸ | په سوره | بر سیره |
| ۱۷۲ | ۱۲ | پخو | پا پخو |
| ۱۷۲ | ۱۳ | خوله | خواله |
| ۱۷۲ | ۱۸ | ډېری | سپین ډیری |
| ۱۷۳ | ۵ | قراتونه | قرا نونه |
| ۱۷۳ | ٦ | قراتونه | قرا نونه |
| ۱۷۹ | ۲۰ | ارشاد | ر شاد |
| ۱۸۳ | ۳ | بالبدیهه | فی‌البد یهه |
| ۱۸۳ | ٦ | کودمه | کورمه |
| ۱۸۳ | ۹ | بالبداهه | فی البدیهه |
| ۱۹۲ | ۵ | محرومو | محرمو |
| ۱۹۳ | ۲ | شوم | شرم |
| ۲۰٦ | ۵ | دله زاله | دله زاك |
| ۲۱۸ | ٦ | اوسی | روسی |
| ۲۲۷ | ۱٦ | وکړی | ونه کړی |
| ۲۲۹ | ۱٦ | ونه‌شی | و شی |
| ۲۳۳ | ۱۷ | وکو | گور |

| مخ | ليكه | نا سم | سم |
|---|---|---|---|
| ٢٣٣ | ٧ | زدراڼ | زر داڼ |
| ٢٤١ | ٢٠ | تبريك | تبرك |
| ٢٥١ | ١٥ | اصطلاج | اصطلاح |
| ٢٥٢ | ٢٠ | بخښل كيږي | نه‌بخښل كيږي |
| ٢٦٣ | ٢ | پښو | پيښو |
| ٢٦٣ | ٢ | اء | اغا |
| ٣٦٧ | ٣ | داودستلي | راوستلي |
| ٢٧٣ | ١ | | دنرخ عنوان مكرر راغلي دي |
| ٢٧٣ | ١٩ | څوك | څرك |
| ٢٨٠ | ٣ | پستون | پښتون |
| ٢٨٢ | ٥ | پښتو | پښتنو |
| ٢٨٢ | ٥ | خپلو | قبيلو |
| ٢٨٦ | ٨ | فتح | فاتح |
| ٢٨٧ | ٢ | دواله سركه | دوالك سركه |
| ٢٨٨ | ١٠ | | پرتك تيري تكرار راغلي دي |
| ٢٨٩ | ٨ | مخالف كاردي | مخالف كارنه‌دي |
| ٢٩٢ | ١١ | ځاى | ځان |
| ٢٩٣ | ١٣ | لوتو | لويوه |
| ٢٩٦ | ٣ | موارد وقتل كي | مواردو كي قتل |
| ٢٩٧ | ١٨ | هلي كي | هلوپه هلو كي |

*

په فیوډالی پړاوکی قبیلوی اړیکی په ځانګړی ډول په حقوقی باب دېرا خوځېږ او مواد لری او پردغسی مواد وکارنه یوازی دیـــوی ټاکلی ټولنی دیوی تاریخی مرحلی په پیژندنه کـــی مرسته کوی، بلکی په نړیواله توګه دانسان پیژندنی دپه هنی دلویو ځیړنولپاره په زړه پوری مثالونه برابروی .

پښتنی ټبردتاریخ په اوږدوکی دبیلابیلوتوسسو له پلوه تردیره ځایه پر پخوانی حال پاتـــی شوی دی اواوس دغه مؤسسه داقتصـــــادی او ټولنیزو پرمختیاوو له کبله له منځه ځی نو ډ دی مخکی چی دغه کړن (عملیه) سرته ورسیږی دمغی په کلتورکی ځیړنی او پلټنی خوراضروری کار دی

دهمدغـو اړتیـاوو پر بنسټ دپښتنی ټبرد حقوقی نظام په باب دلویو ځیړ او لپاره دغـــه قاموس برابر شو او هغه کسان په تری ډېره ګټه واخلی چی په دغه ځانګه کی ځیړنی کوی.

دقبیلی «ټبر» حقوقی او جزایی نظام چـــی پر ګودونو ډډه لګوی په دغه قـاموس کـــــی راوړل شوی دی اولیکوال یی هڅه کړی ده چی دغه نومونی (اصطلا حات) پخپله په سیمه کی وځیړی .

ځیړندود اودقبیلی ددودیزی (عرفی) قضایی مؤسسی په باب یوه ویـړه سریـزه کښـل شوی او بیا دقاموس اصلی متن پیل شـوی دی .

---

**دولتی مطبعه**
**د چا پ شمیر :۵۰۰ ټوکه**
**بیه: ۱۱۰ ـ افغانی**

۳۳۰

# Terminology of Pashtuns Tribal Customary Law and Usages

M. IBRAHIM ATAYEE

Afghanistan Academy of Sciences

International Centre for Pa shto Studies

Kabul, Afghanistan

1357 (1978)

Download from: aghalibrary.com